بسم الله الرحمن الرحیم

# د ملي وحدت شهید یادنامه

## د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د خلورویشتم کال په مناسبت

راټولوونکی: محمد هدایت
ژباړن: روح الله احمدي

تاریخ/ ۲۳

انتشارات بنیاد اندیشه
زمستان ۱۳۹۸

لیکوال: هدایت، محمد
د کتاب نوم: د ملي یووالي شهید یادنامه، د محمد هدایت په زیار.
د خپرولو ځانګړنې: لومړی چاپ، کابل، د اندېشه بنسټ انتشارات، د ۱۳۹۷ ژمی
د پاڼو شمیر: ۲۵۰
موضوع: تاریخ
شابک: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۳۵-۱۵-۹

**ISBN**: 978-9936-635-15-9

..........................................

**د ملي وحدت شهید یادنامه**

(د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د څلورویشتم کال په مناسبت)

راټولوونکی: محمد هدایت

خپروندی: د اندېشه بنسټ انتشارات

ژباړن: روح الله احمدي

ډیزاینر: محمدرضا قرباني

د چاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه

بیه: ۲۰۰ افغانۍ

قیمت: ۲۰۰ افغانی

شابک: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۳۵-۱۵-۹

**ISBN: 978-9936-635-15-9**

د ویشلو د مرکز لومړۍ پته: کابل، د دارالامان سړک، لومړۍ کوڅه، اووم کور؛

د اندېشه بنسټ، اړیکشمیره: ۰۷۸۸۳۱۱۵۲۴

د ویشلو د مرکز دوهمه پته: کابل، پُل سرخ، ملي مارکیټ، د اندېشه بنسټ انتشارات، اړیکشمیره: ۰۷۰۰۲۰۰۵۱۹

ټول حقوق په خپروونکي پورې اړوند دي.

# فهرست

سریزه ........................................................... ۱۱
د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري ژوند لیک ................. ۱۵

# لومړی فصل

یوه آرمان ته بیا کتنه ................................................ ۳۹
د شهید استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د شلم کال په مناسبت د جلالتمآب
استاد سرور دانش بیانیه .............................................. ۵۵
د ملي وحدت شهید او د فدرالیزم د فکر طرح.......................... ٦۵
د جمهوري ریاست له دویم مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش سره
د ملي وحدت شهید استاد عبدالعلي مزاري د درویشتم تلین په مناسبت
ځانګړې مرکه......................................................... ٦۵
د استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د یوویشتم کال په مناسبت د جمهوري
ریاست د دویم مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش وینا.............. ۸۱
د ملي وحدت د شهید، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د دوه ویشتم کال
په مناسبت د جمهور رییس د دویم مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش
وینا ................................................................. ۹۵
د اروابناد استاد عرفي په تلین کې د جمهور رییس د دویم مرستیال
جلالتمآب استاد سرور دانش وینا ........................................ ۱۰۹

د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند په سیاسي – مشورتي غونډه کې د جمهور
رییس د دویم مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش وینا .............. ۱۲۳
د یارانو یاد په لویه غونډه کې د جمهور رییس د دویم مرستیال جلالتمآب
استاد سرور دانش وینا ................................................... ۱۳۹

## دویم فصل

د جمهوري ریاست په ارګ کې شهید استاد عبدالعلي مزاري ته
د «ملي وحدت شهید» د لقب ورکولو د مراسمو رپورټ .............. ۱۵۵
د افغانستان د اسلامي جمهوریت رییس، جلالتمآب محمداشرف غني
په یوه فرمان کې شهید استاد عبدالعلي مزاري ته د «ملی وحدت شهید»
لقب ورکړ.................................................................... ۱۵۵
د افغانستان د اسلامي جموریت د رییس، جلالتمآب محمداشرف غني
د وینا متن ................................................................... ۱۵۷
د «ملي وحدت شهید» د لقب د ورکولو په مراسمو کې د جمهوري
ریاست د دویم مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش د وینا متن ...... ۱۶۱
د افغانستان د اسلامي جموري دولت د اجراییه رییس ډاکتر عبدالله عبدالله
د وینا متن ................................................................... ۱۶۷
................................................................... ۱۶۹
د افغانستان د عالي شورا د رییس استاد محمد کریم خلیلي وینا ........ ۱۷۱
د ملي وحدت حکومت د اجراییه رییس مرستیال استاد حاجي محمد محقق
وینا .......................................................................... ۱۷۳

## دریم فصل

د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درویشتم کال
د مراسمو رپورټ، چې په جمهوري ریاست ماڼۍ کې په رسمي ډول و
لمانځل شول........................................................... ۱۷۷
په ارګ کې د استاد مزاري د درویشتم کالیاد په مراسمو کې د افغانستان
د اسلامي جمهوریت د رییس جلالتمآب ډاکتر محمداشرف غني وینا.... ۱۸۳
د ملي وحدت شهید استاد عبدالعلی مزاري د شهادت د درویشتم کال
په مناسبت غونډه کې د جمهور رییس د دویم مرستیال جلالتمآب استاد
سرور دانش وینا........................................................... ۱۹۱
د ملي وحدت شهید استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درویشتم کال په
لمانځغونډه کې د مهاجرینو او راستنېدونکو د چارو د وزیر
سید حسین عالمي بلخي وینا ............................................ ۲۰۵
د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درویشتم کال
په لمانځغونډه کې د ښار او کورجوړونې وزیر، سید سعادت منصور
نادري د وینا متن......................................................... ۲۱۱
د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درویشتم کال په
مناسبت د جمهوري ریاست په ارګ کې لمانځغونډې ته د ولسمشرۍ
د ویاند د دفتر سرپرست، شاه حسین مرتضوي پرانیستونکې وینا..... ۲۱۵
د ملي وحدت شهید استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درویشتم کال په
مناسبت د افغانستان د اهل سنت هزاره ګانو د سراسري شورا پیغام چې
په ارګ کې د دې شورا د مشر غلام سخي پارسایي له خوا ولوستل
شو ...................................................................... ۲۱۹

## څلورم فصل

د استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د شلم کال په مناسبت د افغانستان
د اسلامي جمهوریت د رییس، جلالتمآب محمداشرف غني پیغام ...... ۲۲۳
د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د دوه ویشتم کال په
مناسبت د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رییس جلالتمآب محمداشرف
غني پیغام .............................................................. ۲۲۷
د ملي وحدت شهید د شهادت د درویشتم کال په مناسبت د افغانستان
د اسلامي جمهوریت د رییس جلالتمآب محمداشرف غني پیغام ....... ۲۳۱

## پنځم فصل

د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د مشرانو د څرګندونو په
هینداره کې.............................................................. ۲۳۳
په ارګ کې د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د کالیاد د درناوي
د سمینار او د شهید رهبر په مصلا کې د ولسي مراسمو
ځینې عکسونه ........................................................ ۲٤۳

# د خپرندویې ادارې خبرې

د « بنیاد اندیشه» خپرندویه اداره ویاړي چې « د ملي وحدت شهید یادنامه» په پښتو ژبه هم خپروي. په دغه کتاب کې د شهید استاد عبدالعلي مزاري له ژوند، هڅو او افکارو سره اشنا کېږئ او د افغانستان د معاصر تاریخ یوه خورا مهم باب ته له نوي لیدلوري کتلای شئ.

په افغانستان کې د تېرو څو لسیزو پېښو د خلکو په منځ کې یو په بل باندې شکونه او بدګومانۍ پیدا کړي دي او د دغو ناوړه شکونو یو لوی لامل په ټولنه کې د معلوماتو کمی دی. د افغانستان خلک که د یو بل له نظرونو، دردونو او ستونزو خبر شي، ځانونه به لا زیات یو موټی، متحد او په واحد برخلیک کې شریک احساس کړي.

د شهید استاد مزاري په هڅو او اندونو کې دوه ټکي ډېر بنیادي اهمیت لري: یو ملي وحدت او بل اجتماعي عدالت. د دوی په نظر که ملي وحدت ونلرو په سوله او ثبات کې ژوند نه شوی کولای او که اجتماعي عدالت نه وي، ملي وحدت ته نه رسېږو. هر افغان باید له بل افغان سره برابر وي او هیڅوک ځان تر بل چا زیات ونه بولي. دغسې حالت د اجتماعي عدالت سبب کېږي او چې اجتماعي عدالت راشي، د بېلو بېلو سیمو، توکمونو، مذهبونو او قشرونو خلک به ځانونه محروم نه احساسوي او بلکې ټول وطنوال به که هغه نارینه دي یا ښځې، د ښه ژوند او پرمختګ لپاره برابر فرصتونه لري چې په نتیجه کې دایمي سولې او ثبات ته لار پرانیستل کېږي. د استاد مزاري

د یاد په دغه کتاب کې دا مفکوره په تفصیل سره بیان شوې ده.

په دې کتاب کې د شهید مزاري په اړه د جلالتمآب جمهور رییس محمد اشرف غني په شمول د مختلفو شخصیتونو نظرونه مطالعه کوئ چې البته، د کتاب ډیره لویه برخه د جمهور رییس د مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش لیکنې او ویناوې تشکیلوي. استاد دانش« د ملي وحدت شهید» یو ډیر نژدې ملګری او د هغه د افکارو له مختلفو ګوټونو سره ډیر اشنا کس دی. موږ ویلای شو چې دغه ټولګه په « مزاري پیژندنه» کې یو بې ساري مجموعه ده. هیله ده چې قدرمن لوستونکی یې په دقت ولولي او د ګران افغانستان د خیر او سعادت لپاره ډیر څه پکې ومومي. له ښاغلي روح الله احمدي څخه مننه چې دا کتاب یې په لنډ وخت کې، په امانت او دقت سره وژباړه.

د بنیاد اندیشه خپرندویه اداره

کب ۱۳۹۸

# سریزه

شهید مزاري اوس په ملي کچه د هر ډول سیاسي او اجتماعي حرکت په معیار بدل شوی دی. د هغه نوم په اوسني افغانستان کې د خلکو په منځ کې تر بل هر چا عزت او حرمت لري. د ملي وحدت د شهید په توګه د شهید مزاري دا هومره لمانځنه او قدرَوَه، د هغه د غوښتنو او هیلو د حقانیت ښودنه کوي.

د شهید مزاري د ټولو غوښتنو د منځ ټکی اجتماعي عدالت و. کله چې ده د اجتماعي عدالت خبره کوله، معنی یې دا وه چې د هیواد تیر تاریخ له ستم او استبداده مالامال و او زموږ په هیواد کې نابرابري اوس هم موجوده ده. نو، عدالت د افغانستان د خلکو لپاره هم د پرون مساله وه او هم د نن او د سباني کهول مساله ده. ځکه چې عدالت لا تر اوسه تحقق نه دی پیدا کړی او عدالت ته تر رسېدو پورې اوږده لاره لا په مخ کې لرو. کله چې ویل کیږي چې شهید مزاري نه یوازې د نن او پرون د نسل لپاره بلکې د هیواد د راتلونکو نسلونو لپاره هم خبرې لري، دلیل یې دا دی چې عدالت یوه ناتمامه پروسه ده او د تاریخ تر سباګانو پورې به ادامه مومي او ان زموږ راتلونکي نسلونه به هم د هغه د تحقق لپاره مبارزه وکړي.

که څه هم شهید مزاري اوس د عدالت او عدالت غوښتنې په یوه بې بدیله اسطوره بدل شوی دی او هر څوک کوښښ کوي چې د ده له یاده او له نومه یو څه تر لاسه کړي؛ خو واقعیت دا دی چې د عدالت غوښتنې د بهیر ماهیت، چې د دې خاورې د تاریخ تر ګردو ستر سیاسی شاهکار دی، لا تر اوسه سم

نه دی پیژندل شوی. لا تراوسه داسې کسان شته چې د شهيد مزاري د عدالت غوښتنې جريان يو خاص قومي حرکت يادوي او ځينې نور بيا هڅه کوي چې د کرکې اچولو هر ډول حرکت په شهيد مزاري پورې وتړي. د مزاري ډيرو يارانو، يو ځای او مقام ته د ځان رسولو لپاره له هغه څخه د پوړۍ کار اخيستی دی، حال دا چې د دغه قدرمن شهيد په ارمانونو او ارزوګانو باندې هيڅ باور نلري. دغو ټول مسايل دا ښيي چې موږ اوس تر بل هر وخت زيات د شهيد مزاري د ارمانونو او غوښتنو بيا لوستلو ته اړتيا لرو.

زموږ د نن او سبا نسل ته له شهيد مزاري سره اشنايي له دې جهته مهمه ده چې دی زموږ د هيواد د تاريخ په داسې پړاو کې راڅرګند شو چې ډير مهم تغييراو بدلون پکې پيښ شو. دا له ستم منلو څخه د ازادي غوښتلو او عدالت غوښتلو په لور بدلون و. بې له شکه چې شهيد مزاري پخپله د دغه بدلانه بنسټګر و. د اجتماعي عدالت او ملي وحدت په څير مهم او قدروړ مفاهيم د شهيد مزاري لپاره يوازې شعارونه نه وو بلکې داسې مفاهيم وو چې ده ورته قرباني ورکړه او له سره ورته تېر شو. ځکه خو ويلای شو چې د شهيد مزاري نوم او ارمان به د وخت په تيرېدو سره نه يوازې پيکه نه شي بلکې لا به وځلېږي. همدا وجه ده چې په هره پلمه او مناسبت د مزاري په اړه خبره، د هغو خلکو د سترو ارمانونو په اړه خبره ده چې لا تر اوسه د عدالت او برابري د راتلو په تمه قرباني کيږي او مبارزه کوي.

په دغه ټولګه کې د شهيد مزاري په اړه هغه ويناوې راغلې او هغه هڅې بيان شوې چې په تيرو دوو کلونو کې د جمهوري رياست د دويم مرستيال، استاد سرور دانش په محوريت تر سره شوي دي. اوس د دغو ويناوو سره يو ځای کول، له يوې خوا د شهيد مزاري په ارمانونو باندې له ښه پوهېدلو سره مرسته کوي او له بلې خوا په دې اړه ځينې شوې کوښښونه په مکتبوب ډول خوندي کيږي.

د يادولو ده چې د دې ټولګې ټول مطالب يا له هغو ويناوو او فعاليتونو سره اړه لري چې د ملی وحدت شهيد د تلين په مناسبت تر سره شوي او يا

د ده له شخصیت سره تعلق لري. په دې ټولګه یوازې د استاد دانش دري ویناوې یعنې د مرحوم استاد قربان علی عرفاني د وفات په مراسمو کې، د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند په سیاسي مشورتي اجلاس او د یاد یاران په نوم مراسمو کې داسې مطالب دي چې د شهید استاد مزاري له شخصیت سره مستقیم تعلق نلري خو دا وینااوې هم په یوه ډول لا د شهید استاد له هدفونو او ارمانونو سره تړاو لري؛ ځکه دا ویناوې د ملي وحدت شهید د یارانو او هغه ګوند په اړه دي چې د هغه حکیم لارښود میراث دی او په مجموع کې د شهید مزاري د ارمانونو له بیا لوست سره تعلق نیسي.

محمد هدایت

بنیاد اندیشه

کابل، د ۱۳۹۷ کال منی

# د ملي وحدت شهيد، استاد عبدالعلي مزاري ژوند ليک[1]

**استاد سرور دانش**

بشري تاريخ چې د ماتو او بريو، خوږو او ترخو او لوړو ژورو مجموعه ده، د بنيادم د پټو وړتياوو او استعدادونو د ځرګنديدو او د داسې شخصيتونو، اتلانو، نوابغو او رجالو د ظهور ميدان يې هم بللای شو چې د خپل پياوړي هوډ، دقيق نظر، ټينګ ايمان، لويې حوصلې او خپلو اخلاقي او فکري ښېګړو په برکت، بشري ټولنه د ذلت له ټيټو د عزت او سعادت لوړو څوکو ته هدايتوي او غالبا دوی پخپله په دې لاره کې قرباني کېږي. دوی لکه ډيوه سوځي خو د بشريت محفل ته رڼا او تودوخه وربخښي.

الهي پيغمبران، ديني مشران، انقلابي ليډران، ملي اتلان او مخکښان، دوی ټول په همدې کسانو کې شامل دي. د هرملت او قوم په تاريخ کې غلبا دغسې ځينې کسان وينو چې خپلو خلکو او ولسونو په ډېره درنه سترګه ورته

۱. دغه لنډه بيوګرافي د جمهور رييس مرستيال استاد سرور دانش د شهيد استاد له شهادته دوې ورځې وروسته د ۱۳۷۳ لمريز کال د کب په ۲۵ نيټه وليکله، يعنې په هغو شيبو کې چې خلک د استاد مزاري په وير کې د غم په ټيلم ناست وو او وير يې کاوه او د استاد پاک مړی لا خاورو ته نه و سپارل شوی او له غزني څخه تر بلخه پورې د خلکو په اوږو لېږدېده. استاد دانش هغه وخت د حزب وحدت ملي افغانستان د فرهنګي چارو د کميسيون مشر و. دا ليکنه هماغه وخت يعنې د ۱۳۷۳ کال په حوت کې په مستقل ډول د (د اسلام د رشيد سردار، د حزب وحدت ملي افغانستان د عمومي منشي شهيد استاد عبدالعلي مزاري ژوند ته لنډه کتنه) تر عنوان لاندې په ايران کې د حزب وحدت اسلامي د فرهنګي کميټې له خوا چاپ شوه. دا د شهيد استاد لومړنۍ او شايد يوازينۍ ليکل شوې بيوګرافي وي چې دا دی له يو څه اډيټه وروسته يو ځل بيا خپرېږي څو په دې ډول لوستونکي په دې کتاب کې د شهيد استاد له افکارو سره د بلدتيا په ترڅ کې د هغوی د ژوند په اړه هم معلومات حاصل کړي.

کتلي او دوی هر يو په خپل وخت کې د ټولنې د تحول او تحرک او د خير او برکت سبب ګرځېدلي دي. په ټولنه کې د دغسې کسانو نقش دا دی چې پخپل ذات کې د هغې ټولنې د مثبتو او منفي حرکتونو محک او معيار ګڼل کېږي. داسې چې نيک او صالح کسان هم له هغوی الهام اخلي او د هغوی لخوا هڅول کېږي خو برعکس، فاسد او بې لاري کسان د هغوی له ويرې دا جراات نه کوي چې ټولنه بيخي له کنټروله وباسي او تعادل يې ورګډوډ کړي. ځکه خو ويلای شو چې په ټولنه کې د پياوړيو رهبرانو شتون د هغې ټولنې د تعادل او توازن د ساتلو او تحول او تکامل سبب ګرځي او په سمواو ناسمو دواړه ډوله کسانو باندې اثر پريباسي.

زموږ د هيواد افغانستان په تاريخ کې، خصوصا د دغه هيواد د شيعه وو او هزاره وو په ټولنه کې، د ستمګرو او ولس مخالفو رژيمونو له راز راز ستمونو، قتل عامونو، تخريبونو او يومخيزو وژنو سره سره، په هر دوراو زمان کې داسې شخصيتونو ظهور کړی دی چې په خپل خپل وخت کې يې خلکو ته د اعلی مثال حيثيت موندلی او د ټولنې د تحرک او خوځښت سبب شوي دي. که څه هم شاوخوا سل کاله پخوا د اميرعبدالرحمن خان له خوا د هزاره جات د خلکو د قتل عام له کبله، دا احتمال موجود و چې په دې ټولنه کې به په نژدې وختونو کې نور څوک مېړنی سر را پورته نه کړي او داسې مور به پيدا نه شي چې اتل وزېږوي خو څرنګه چې د الهي حکمت له سنتونو سره مقابله ناشونې ده نو وينو چې د دغو خلکو په مختلفو قشرونو کې تل، د مورخ او دانشمند فيض محمد کاتب، اتل محصل شهيد عبدالخالق، زړه ورمبارز ابراهيم خان ګاوسوار اوعلامه شهيد محمد اسماعيل بلخي په څېر ستر شخصيتونه راپيدا شوي دي. د همدغو سترو شخصيتونو د انقلابي حرکتونو په دوام کې په اوسني عصر کې، د اميرعبدالرحمن خان په لاس د هزاره جات له سقوط څخه پوره سل کاله وروسته، يو لوی انسان ميدان ته راوځي چې د يوه خواخوږي، انقلابي، مقاوم، نه ماتېدونې، سترګه ور او عاقل مشر په توګه خپلو خلکو ته شخصيت بخښي، د هغوی په زړونو کې

د امید مشالونه بلوي او هغوی ته د عزت، سرلوړي، عالي همت او مناعت درس ورکوي او د مقاومت او مبارزې لاره ورښیي.

دغه اتل شهید، حکیم لارښود، عاقل مشر، لایق بولندوی، تکړه سیاستوال، پوه انقلابي، ستر مجاهد، د افغانستان د اسلامي انقلاب نومیالی شخصیت، د وحدت اسلامي افغانستان ګوند عمومي منشي، حضرت حجت الاسلام و المسلمین استاد شهید عبدالعلي مزاري دی چې د ۱۳۷۳ کال د کب په دوه ویشتمه نېټه د طالبانو په نوم تازه راټوکېدلي او مشکوکې ډلې په لاس په ډېره ناوړه طریقه شهید شو. د ده قاطعیت، ټینګتیا، متانت، قناعت، تقوا، ژمنتیا، تدین، له خلکو سره مینه، زغم، مقاومت، ایمان او ټینګه اراده، هغه صفتونه وو چې دی یې په یوه پیاوړي انقلابي شخصیت او د خلکو لپاره د تکیې په ډاډمن ادرس بدل کړی و او همدا علت و چې ده ته زموږ مسلمانو خلکو په تېره بیا د افغانستان بېوزله شیعه وو د یوه ملي اتل او منلي مشر په توګه کتل.

د استاد مزاري فکري، اخلاقي او سیاسي ځانګړنې او د هغه د مبارزو روښانه کارنامې دومره زیاتې، پراخې او متنوع دي چې په دې لنډ فرصت کې یې د بېلابېلو بعدونو بیان مشکل دی او په همدې خاطر د استاد لویې او سپېڅلې اروا ته د عذر په وړاندې کولو سره، چې په موږ ټولو یې حق دی، په دې لیکنه کې د هغه د سیاسي او مبارزاتي ژوند یوازې ځینو څنډو ته اشاره کوو او لکه څنګه چې ښایي د هغه د حق د ادا کولو لپاره بحث به یو بل وخت ته پرېږدو.

د یادولو ده چې د دې مطالبو په برابرولو کې «د افغانستان د لیکوالو د فرهنګي مرکز» له آرشیف څخه استفاده شوې ده او په حقیقت کې د دې لیکنې اصلي مواد په نوموړي مرکز کې د تهیه شویو معلوماتو له مخې برابر شوي دي چې دلته د دغه مرکز له غړیو باید د زړه له کومې مننه وکړم.

## د ماشومتوب دوران او کورنی چاپېریال

شهید استاد عبدالعلي مزاري د حاجي خداداد زوی دی. په ۱۳۳۶ لمریز هجري کال کې د بلخ ولایت د چارکینت د «نانوایي» په کلي کې زېږېدلی

دی. ماشومتوب یې د دینداري کورنې په توده غېږ کې تیر کړ او څرنګه چې پلار او ورور یې په کرنه او مالداري بوخت وو نو دی له هماغه ماشومتوب څخه د ټولنې له ستونزو سره اشنا شو او د خلکو د ژوند سخت شرایط یې پوره احساس کړل.

حاجي خداداد له استاد مزاري پرته دوه نور زامن هم لرل. حاجي غلام نبي د استاد مشر او سلطان علي یې کشر ورور و. د هغه کشر ورور د جهاد په وخت کې له خلقي منفور رژیم سره په جګړه کې شهید شو خو پخپله حاجي خداداد بیا چې د سیمې یو سپین ږیری، مشر او متنفذ و، د انقلاب مخالفو کسانو له خوا په ۱۳۶۱ لمریز کال ونیول شو او له خپل زوی حاجي غلام نبي او خپل خوریی محمد اسحاق ایلاقي سره یو ځای په شهادت ورسېد.

د استاد د ماشومتوب وخت په افغانستان کې د محمدزو د استبداد او فاشیزم د حاکمیت له اوج سره همزمانه دی چې له یوې خوا، د هزاره جات خلکو په ګاوسوار مشهور ابراهیم خان شهرستاني په مشرۍ، په هزاه جات کې د رژیم د تالی څتو په خلاف لوی پاڅون تر سره کړی و او له بلې خوا شهید علامه بلخي له خپلو یارانو سره یو ځای وسله وال قیام پیل کړی و چې له بده مرغه د خیانت په وجه، د علامه نقشه افشا شوه او زنداني شو. د داوود خان د صدراعظمۍ د اختناق او استبداد په اوج کې دغه انقلابي لیوالتیا، بې له شکه، د استاد د انقلابي او مبارزه غوښتونکې روحیې په پالنه کې بې اثره نه وه.

استاد خپل لومړني تحصیلات د «نانوایي» په مدرسه کې پیل کړل او د تحصیل له هماغه لومړنیو شپېو یې د زیار، قناعت او مناعت په مټ د هدف په لور ګامونه واخیستل. دی به اکثره کلونه د رجب، شعبان او روژې په میاشتو کې روژه داره و او هغه هم داسې چې په ډیرو لږو او ناکافي خوړو به یې روژه ماتوله او پشلمي کې به یې څه نه خوړل. دغه عادت یې د عمر تر اخره پورې ورسره و او په روژه کې به یې په پشلمي کې خواړه ډیر لږ او کله کله خوړل.

له تقدس او تهجد سره اخښلې دغه لوړه مذهبي روحیه تر ډیره حده د ده د

کورني چاپيريال، سيمې او هغه مدرسې اثر و چې زده کړه يې پکې کړې وه. په تېره بيا د خپل پلار شهيد خداداد اثر وربانديې ډير و چې هم پخپله مذهبي او متدين سړی و او هم يې د خپل نفوذ په برکت، په سيمه کې له اخلاقي مفاسدو او انحرافاتو څخه پاکه فضا رامنځ ته کړې وه. همدا علت و چې شهيد استاد له ماشومتوبه لا، په ديني تکاليفو او مذهبي مقرراتو او دودونو پوره پابند و او په تيره بيا د شهيدانو د سردار، حضرت امام حسين (ع) د وير په مراسمو کې به يې د نوحه خواني، سينه زني، ويناوو او روضه خواني په چارو کې فعاله برخه اخيسته.

په دې لوړې معنوي روحيې سربيره چې د چاپيريال شرايطو او کورنۍ په شهيد استاد لوروليې وه، زړه ورتيا، جسارت او پرخاشګري د هغه نورې ځانګړنې وې چې د تحصيل له پيله د ده په شخصيت کې ليدل کېدلې. مثلا د نانوايي په هماغه مدرسه کې مسولينو ځيني امکانات لرل چې طلاب ورڅخه محروم وو. استاد د نورو بېوزلو طلابو په لمسولو سره د ګودام کولپ مات کړ او خواړه يې پر طلابو باندې وويشل. داسې مثالونه چې د هغوی دوستانو او عيني شاهدانو يې ذکر کړي دي، بيخي زيات دي.

داسې ښکاري چې شهيد استاد د ځوانۍ په پيل کې لومړني الهامونه له شهيد علامه اسماعيل بلخي څخه اخيستي دي. ځکه دا خبره يې بيا بيا کړې ده چې دی له بلخي سره په لومړني ملاقات کې د هغه تر تاثير لاندې راغلی او له هغه سره ليدنې يې سرنوشت بدل کړی دی. مثلا استاد به فرمايل:

«څو ورځې چې بلخي زموږ په کلي او زموږ په ميلمه خانه کې و، د هغه له خبرو مې ډير څه زده کړل. بلخي به د درس ويلو او عسکري ته تللو راته ويل.»

دا هم د استاد قول دی:

«زه د بلخي په هڅونه او غوښتنه عسکري ته لاړم. ده به ما ته ويل: که غواړې ملا شې نو مجتهد شه او که غواړې روضه خوان شې نو واعظ او خطيب شه. که غواړې غل شې نو بانک ووهه، نه چې خس دزد شې او

زوردې يوازې په کمزورو ورسېږي. او که غواړې سياستوال شې نو رييس او وزير شه، نه مامور او...»

دغه نصيحتونه په استاد باندې داسې ژور اثر کوي چې ټکي په ټکي په عمل ورباندې کوي. داسې چې کله درس وايي نو درس وايي، پوره کوښښ پکې کوي او چې کله د مبارزې ميدان ته راوځي نو لومړۍ کرښې ته ځي او د خلکو مشري او قومنداني په لاس کې اخلي.

د شهيد استاد اوعلامه بلخي ملاقاتونه د ۱۳۴۴ او ۱۳۴۷ کلونو تر منځ په مسلسل ډول تر سره کېږي. دغه دوه لوی روحونه کله په کابل او کله په مزار کې له يو بل سره ويني او خبرې کوي. طبيعي ده چې انقلابي فکرونو د شهيد بلخي په سحرګر بيان سره، له هماغه کلونو د شهيد استاد روح متلاطم کړ او خلکو ته د خدمت او مبارزې او مقاومت په سپېڅلې لار يې روان کړ.

## عسکري؛ تجربه، فکري تحول او په بهر کې د زده کړو ادامه

شهيد استاد مزاري د خپلې کورنۍ د غړيو او دوستانو د نظر برخلاف چې دی يې عسکري ته له تلو منع کاوه، فيصله وکړه چې هم د وطن د خدمت په خاطر او هم د حالاتو د مطالعې او په ژوند کې د نويو تجربو د حاصلولو لپاره عسکري وکړي او بې له شکه چې په دې برخه کې هم د شهيد بلخي نصيحتونه او ارشادات ورباندې بې تاثيره نه وو.

شهيد استاد په دې اړه داسې وايي:

«په ۱۳۴۸ کې مې پچه وختله. ځای مې د شبرغان په ژاندارمه کې ټاکل شوی و خو په مزار کې يې رشوت غوښت او ځرنګه چې ما ورسره جنجال وکړ نو کابل ته يې واستولم. خلکو به هڅه کوله چې زامن يې په خپله ولسوالي او ولايت کې عسکري وکړي، او د همدې لپاره يې بډې ورکولې چې لرې ځايونو ته يې وانه ستوي. زه چې يې کابل ته واستولم، د پراشوټ په برخه کې شامل شوم خوهلته يې هم اضافه بست کړم او خوست ته يې واستولم چې په هغه وخت کې يو ډير زيات ناوړه ځای و، ځکه ډير تود و، او سرشوخ عسکر به يې هلته جزايي لېږل. خوست کې چې د ژوند امکانات

نه وو، ژوند ډير سخت و. يو کال په خوست کې عسکر وم و او بيا ګرديز ته لاړم او بالاخره مې په ۱۳۵۰ کې ترخيص واخيست.

د عسکري دوره له ټولو سختيو سره سره د شهيد استاد په فکر کې د لوی تحول سبب شوه. دی دغه دوره د درس او عبرت او مکتب دوره بولي، ځکه چې په لومړي ځل د هيواد په لرې ګوټونو کې د واکمن رژيم له حقيقت او له عامو خلکو سره د مامورينو له چلند سره مخامخ کيږي. له دې وروسته يې له تحصيل سره مينه زياتيږي او فيصله کوي چې په هره ممکنه طريقه بايد نورې زده کړې وکړي او علم حاصل کړي. ده د عسکري خدمت په وخت کې هم له يوه مولوي څخه سبق اخيست، چې خپلې سيمې ته ستون شو، سمدستي يې د مزار شريف د شيخ سلطان په مدرسه کې چې هغه وخت ياده مدرسه وه، درس پيل کړ. خو دغو درسونو د استاد د روح تنده نه شوای ماتولی. ده د ۱۳۵۱ کال د پسرلي په پيل کې پاسپورټ واخيست او د زده کړو د ادامې لپاره بهر ته لاړ. څرنګه چې د قم له علميه حوزې سره يې خاصه علاقه پيدا کړې وه، نو عراق ته له سفر کولو او په نجف او کربلا کې سپېڅلو ځايونو ته له تلو وروسته ايران ته ستون شو او تر ۱۳۵۵ کال پورې يې په پرله او بې وقفې ډول د حوزې درسونو ته ادامه ورکړه.

د قم د انتخاب دليل، لکه څنګه چې استاد يې تل يادونه کوله، دا و چې قم يوازې د حوزې د درسونو ځای نه و بلکې قم او د زده کړې چاپيريال يې د پټو مبارزو يو مهم مرکز هم ګڼل کېده او د قم دې ځانګړنې شهيد استاد ته خاصه جاذبه لرله.

شهيد استاد عبدالعلی مزاري په قم کې له ديره کېدو وروسته، په ډير شوق او جذبه او زيار چې د ده د شخصيت برخه وه، په پوره جديت سره زده کړه پيل کړه او بې له دې چې يوه شيبه وخت ضايع کړي، د حوزې درس سطح په تر ټولو کم ممکن وخت يعنې پنځو کلونو کې ختم کړل، حال دا چې د درس سطح د بشپړولو متوسط وخت لس کاله دی. په د ومره لږ وخت کې د درس تماموول پخپله د دې ثبوت دی چې استاد د خپل ژوند له ټولو شيبو څنګه

بهترینه استفاده کوله.

د استاد د نژدې دوستانو او عیني شاهدانو په قول، د هغه ځینې تحصیلي حالات او ځانګړنې او فعالیتونه په دې ډول دي:

- استاد په ټول تحصیلي او غیرتحصیلي وخت کې په درس ویلو بوخت و. د درس په وخت کې به په حوزه کې و او د رخصتي په وخت کې به، معمولا د ګرمي په موسم کې، د هغې زمانې د جلاوطنه شویو انقلابي شخصیتونو یعنې آیت‌الله خامنه اي، آیت‌الله مشکیني او نورو ستروعلماوو د لیدلو لپاره چې په هغو وختونو کې یې د ایران د اسلامي نهضت چارې په غاړه وې، مسافرت کاوه او په تناوب سره یې د هغوی په حضور کې درس وایه.

- آیت‌الله مشکیني د استاد د مکاسب و رسایل کتاب په نښه کړی او غیرضروري ځایونه یې ورپه ګوته کړي او پاتې برخې یې ورته تدریس کړي دي.

- استاد د حضرت آیت‌الله مشکیني او حضرت آیت‌الله خزعلي د تفسیر له درسونو سره مینه وه او د هغوی د درس په جلسوکې یې ګډون کاوه. دغه راز د شهید آیت‌الله مطهري او آیت‌الله جوادي آملي له درسونو یې هم استفاده کړې ده.

- استاد د آیت‌الله جوادي د «سعادت» په مدرسه کې کوټه لرله او د تحصیل په څنګ کې یې کله کله د حوزې د درسونو ځینې کتابونه تدریس کړي هم دي.

- په موضوعي ډول د قرآن کریم د مبارکو آیتونو د حفظ او تمرین په غونډو کې، چې د جمعې په شپه به ځینو افغاني طلابو جوړولې، شهید استاد په ډیره لېوالتیا، په منظم ډول او جدیت سره برخه اخیسته.

- د تحصیل په موده کې یې د ځینو نورو طلابو په همکاري «د بلخ جوادیه کتابخانه» تاسیس کړه چې استاد د دې کار یو نوښتګر و. دغه کتابتون د افغانستان د اشغال په کلونو کې تر ۱۳۶۸ کال پورې تقریبا بند و. په وروستیو کلونو کې یو ځل بیا پرانیستل شوی دی.

-استاد به د تحصیل په وخت ځوانو طلابو ته اسلامي- انقلابي کتابونه او د مسلمانو مفکرانو آثار ورکول او هغوی یې مطالعې ته اړ باسل. دغه راز طلاب به یې د تبلیغي چارو ترسره کولو او د خلکو منځ ته ورتلو، ویناکولو او د اسلامي احکامو او افکارو بیانولو ته هڅول. ده به فرمایل چې دا کارونه د دې سبب کیږي چې د مختلفو اقشارو له روحیاتو سره اشنا شو او له خلکو سره د رابطې او چلند اغیزمنې طریقې تجربه کړو او بله دا چې په دې ډول د تبلیغ په فن کې هم د تخصص او مهارت خاوندان شو.

شهید استاد د خپلو زده کړو په اړه وایي:

«تر ۱۳۵۵ پورې مې بې وقفې سبقونه ویل. په درس کې مې هیڅ خنډ وځنډ نه راوست، خو له دې سره سره زما پلار په نوموړي کال له وطنه پیسې راواستولې چې له ورور سره مکې معظمې ته لاړ شم. زه د دې کار پلوی نه وم، ځکه درسونو ته مې صدمه رسېده او یو څه موده له درسونو لرې کېدم، خو چې د مسلې تپوس مې وکړ، معلومه شوه چې که چا ته پیسې استول شوي وي، حج وربانديې واجب کیږي. نو مجبور شوم درس پرېږدم او مکې ته روان شم. خو په سوریه کې یې د سعودي عربستان ویزه را نه کړه نو هماغلته پاتې شوم او ورور مې مکې شریفي ته لاړ. له سوریې څخه عراق ته راغلم او پس له څو ورځو، له یو شمیر کتابونو سره چې راغونډ کړي مې وو، ایران ته روان شوم. کتابونه مې ایسار شول او زه هم ونیول شوم. څلورمیاشتې بندي وم، بیا یې له ایرانه وشړلم. افغانستان ته راغلم او د مزارشریف او چارکنت په مدرسو کې مې له طلابو سره د یو لړ تربیتي برنامو بندوبست وکړ.»

## زندان او وطن ته ستنیدل

د قم په علمیه حوزه کې د تحصیل له بشپړولو وروسته او هغه هم په داسې کلونو کې چې په ایران کې اسلامي مبارزه د ایران د اروابناد مشر، امام خمیني په رهبري په پوره شدت سره روانه وه، د استاد مزاري فکري او سیاسي شخصیت، لا بشپړ او پوخ شو او په ټینګ عزم، جدي ارادې او په

پوره ډاډ او امید یې فیصله وکړه چې د افغانستان د خلکو د ژغورنې لپاره د سیاست صحنې ته راشي او جدي مبارزه پیل کړي. څکه یې نو عراق ته سفر وکړ، امام خمیني او یو شمیر نور مبارز ایرانیان یې ولیدل او د سیاسي حالاتو او مبارزاتي وظایفو په باره کې ورسره وغږېد. هاله بیا ایران ته راځي چې د ایران په سرحد کې نیول کېږي او بندي کېږي. په زندان کې له یوه مسلمان مبارز، شهید رجایي، سره له نژدې اشنا کېږي. ده په خپلو ځینو مرکو کې د دې آشنایي خاطرې بیان کړي دي. استاد په زندان کې د ایران د استخباراتو د ادارې (ساواک) له خوا سخت شکنجه شو او د هغو شکنجو داغونه یې تر ډیرو پورې په بدن کې ښکاره وو. استاد به ویل:

«یوه ورځ یې یو بل سګریټ په مخ باندې راکیښود. دوی په تمه وو چې اخ به ووایم خو تر اخره پورې چې سګریټ ایرې شو، ما هیڅ ونه ویل او بې صبري مې ونکړه چې د یوه افغاني طلبه شخصیت ونه ځبلای شي.»

استاد له بنده وروسته له ایرانه وشړل شو او په پرې پرې جامو او ژوبل ځان سره کابل ته راغی. له څو ورځو استراحته وروسته یې وپتېیله چې له جنرال سید میر احمد شاه سره، چې د رژیم په خلاف د کودتا د دسیسې په تور په زندان کې و، وګوري. استاد غوښتل چې د هغه د نیولو عوامل پخپله له جنرال څخه واوري خو د امنیتي شرایطو په وجه دا کار نه کېږي. نو د ځان له خوا یو بل څوک زندان ته استوي چې له جنرال سره وګوري.

شهید استاد په کابل کې له څه مودې اوسېدو او د کابل له مبارزو شخصیتونو سره له لیدو وروسته مزارشریف ته ځي او هورې یو کتابتون جوړوي څو په دې ډول طلاب او محصلان د اسلامي او انقلابي کتابونو مطالعې ته وهڅوي خو په تاسف سره، د ناوړه فرهنګي شرایطو په علت، د دې کار چندان هرکلی نه کېږي. استاد به په دې اړه ویل:

«د کتاب د مطالعې لپاره مو حتی پیسې په نظر کې نیولې وې او اعلان مو کړی و چې که هر چا یو کتاب ولوست، را دې شي او پیسې دې واخلي مګر اکثرو کتابونه ونه لوستل، او حتی په دروغو یې ونه ویل چې کتاب یې لوستی دی.»

له ستونزو او مشکلاتو سره سره، په مزارشريف کې د استاد روښانوونکې هڅې ګټورې تمامې شوې او ډېر کسان يې د مبارزې او سياست په لاره روان کړل. په شمال کې د وحدتِ اسلامي ګوند اوسنی مسوول، استاد محمد محقق، په دې اړه، په خپله يوه مرکه کې ويلي دي:

«عتباتو ته د سفر نيت مې وکړ. په ۱۳۵۵ کې د سفر د مقدماتو د برابرولو او پاسپورټ اخيستلو لپاره د بلخ مرکز مزارشريف ته لاړم. د خدای کړه وو چې د مجاهدينو زړه ور قافله سالار، عاليقدر استاد، عبدالعلي مزاري مې وليد او د خپل سفر له نيته مې خبر کړ. استاد مزاري د خلکو او هيواد وضعيت راته بيان کړ او په هيواد کې پاتې کېدو ته يې وهڅولم. زما همدا ملاقات، له سياسي مسايلو سره زما د اشنايي پيلامه شوه او له دې وروسته د سياسي کتابونو او نامتوعالمانو لکه حضرت امام خميني، شهيد استاد مطهري، مرحوم طالقاني، ډاکتربهشتي، ډاکتر شريعتي او استاد جلال الدين فارسي د آثارو د مطالعې فکر راپيدا شو.»

شهيد استاد مزاري په خپله يوه مرکه کې، په دغه پړاو کې خپلو فرهنګي فعاليتونو ته اشاره کوي او وايي:

«د چهارکنت او مزارشريف په مدرسو کې مې له طلابو سره د يو لړ تربيتي پروګرامونو بندوبست وکړ. زه په دغسې پروګرامونو بوخت وم چې د ثور د اومې روسي کودتا پيښه شوه. نور نو د کار ساحه را باندې تنګه شوه او بلکې زه هم تر تعقيب لاندې شوم. مجبور شوم چې له افغانستان څخه ووځم او په عراق کې نجف ته لاړ شم. امام خميني فرانسې ته لا نه وو تللی، يو څه موده په نجف کې پاتې شوم، بيا سوريې ته لاړم او هغه ځايه پاکستان او له پاکستانه افغانستان ته راغلم. کله چې کابل ته داخل شوم، اوضاع مې ډېره ساه ډوبوونکې احساس کړه. شديد تعقيب روان و. ګڼ روحانيون نيول شوي وو او يو شمير علما فراري وو. نو بيرته پاکستان ته ستون شوم او بيا ايران ته لاړم او له هغه وروسته د افغانستان اسلامي انقلاب زور واخيست. له هغه وخته تر اوسه پورې (۱۳۶۵ چې د دې مرکې کال دی) کله په داخل

او کله په خارج کې اوسم.

## منظمه سیاسي مبارزه

لکه څنګه چې وویل شول د استاد سیاسي فعالیتونه د پنځوسمو شمسي کلونو له پیله پیلېږي. په دغه لسیزه کې د ګڼو پېښو د واقع کېدو زمینه برابره شوې ده. شهید استاد په دې زماني پړاو کې د «افغانستان نصر سازمان» یو بنسټګر دی. دی پخپله وایي:

«نصر سازمان په ۱۳۵۱ کې تشکیل شوی دی. دغه مطلب د سازمان په خپروونه کې راغلی دی او په هغه اعلامیه کې ورته اشاره شوې چې د مرامنامې په سر کې په هغه وخت کې د نوم له ذکره پرته خپره شوې ده. په لومړي ځل د نصر سازمان هسته په۱۳۵۱ کال کې د «نوي روحا نیت» په نوم رامنځ ته شوه او بیا یې نوم «حزب حسیني» شو. په داخل کې د سازمان د لومړنۍ هستې له جوړېدو سره په یوه وخت په خارج کې هم د «روحانیت مبارز» په نوم هسته ایجاد شوه. په ۱۳۵۷ کې چې په ایران کې اسلامي انقلاب کامیاب شو او په ټول افغانستان کې هم مبارزې زور واخیست نو دا هستې سره راټولې شوې او سازمان نصر یې جوړ کړ چې وروسته یې بیا په ۱۳۵۸ کې موجودیت رسما اعلام شو.»

د ثور اوومې له روسي کودتا او د پردو ایجنټانو په خلاف د افغانستان د خلکو د وسله والو مبارزو له پیله وروسته، استاد مزاري د ۱۳۵۸ کال په پیل کې افغانستان ته راغی چې په داخل کې د خلکو د وسله وال قیام رهبري وکړي. دی د ۱۳۵۸ کال په اوړي کې د چهارکنت په پیاوړې جبهه کې د یوه مجاهد روحاني په حیث د لسګونو نورو ځوانو مجاهدانو په خوا کې راڅرګند شو او تر دې حده مخکې لاړ چې یو ځل یې خپله اوږه د مجاهدینو د مورچل دیوال وګرځوله چې د ماشیندار د مرمۍ د فیر په نتیجه کې یې د اوږېدا حس صدمه ولیده او له هغه وروسته ورته په اوږېدو کې یو څه مشکلات وو. شهید استاد په جبهو کې د خپل حضور په اړه وایي:

«د ۱۳۵۸ په دوبي کې چې په چهارکنت باندې نهه زره کسانو حمله

وکړه، زه هم په هغه جګړه کې وم. که څه هم غليم درې ستراتيژيکې سيمې نيولې او توپونه او هاوانونه يې هلته نصب کړي وو، ټانکونه يې د غونډيو سر ته خېژولي وو او دا ګومان نه کېده چې دا ځل به هغوی له غرونو راکوز کړای شو خو خلکو چې نه يې د چريکي جګړې زده کړه لرله او نه يې نظامي درس ويلی و، د خپلې بې سارې ميړانې په برکت، پوره دوه ساعته د پروت په حالت په سينه باندې د غليم د مورچو په لور پرمختګ وکړ او بې له دې چې دښمن خبر شي، په تياره کې يې د هغوی په قرارګاه باندې يرغل وروړ. څرنګه چې قرارګاوې له يو بله لرې وې، نو هرې قرارګاه ته د خلکو جدا ډله لاړه چې درې واړه قرارګاوې هممهاله ونيسي. خو د لارې د لرې والي په علت دريمه قرارګاه له پېښې خبره شوه. که څه هم توپ او هاوان يې لرل مګر د نورو دوو پايګاوو له نيولو وروسته دريمه هم د مجاهدينو له خوا ونيول شوه. په هغه شبخون او لاس په لاس جګړه کې دوه سوه کسه تالې څټې هلاک شول. يو شمير نور يې وتښتېدل. په دې ډول يو شمير وسلې او مهمات خلکو ته په لاس ورغلل. خلکو شپه په منځ کې بيا حمله وکړه او دا ځل حمله د «تخت خان» په غره باندې وه. دا ځل هم خلک د پروت په حالت کې پر مخ لاړل، د شپې يوه بجه وه چې هلته ورسېدل او د دښمن د توپکونو ميلونو ته يې لاس واچاوه او په لرګو او نورو وسايلو يې هغوی ووژل. يو ګڼ شمير غليمان يې له غره څخه لاندې راخطا کړل او ځينې نور يې د تيښتې په وخت له غره راولوېدل. په دې جنګ کې ټول ټال دوه زره ميله ډول ډول وسله مجاهدينو ته په لاس ورغله. دغه جګړه د تره کي له وژلو او د امين له قدرت ته رسيدلو (د وړي پنځه ويشتمه) سره په يوه وخت وه.»

له دې جګړې وروسته شهيد استاد د لازياتو امکاناتو او وسلو د تر لاسه کولو او له نورو لوريو او قوتونو سره د ارتباط او هماهنګي د ايجاد په منظور له چهارکنت څخه ووت او بيا يې ايران ته يو سفر وکړ. د ۱۳۵۹ کال په وروستيو کې وطن ته راستون او په «شاديان تنګي» کې دېره شو. له دې ځايه يې ګڼې او مختلفې کلتوري، نظامي، سياسي، عمراني او اقتصادي

طرحې پيل کړې چې په هغه ساحه کې د تحول لپاره ډيرې ګټورې ثابتې شوې او هلته کلتوري او روزنيز مرکزونه جوړ شول خو له بده مرغه د ۱۳۶۰ کال په وړي کې روسي او دولتي عسکرو د دې سيمې د نيولو لپاره سختې حملې وکړې او څرنګه چې د مجاهدينو تر منځ اختلافونه پيدا شوي وو نو دولتي قواوې په اسانۍ سره له شاديان تنګي واوښتل او د «نانوايي» فرهنګي پايګاه يې چې د استاد مرکز پکې و، محاصره کړه. استاد لکه څنګه چې پخپله وايي، يو پسه نذر کړ او ټولو فرهنګي ځوانانو ته يې وويل چې يوازې دولس کسه پاتې شئ، نور لاړ شئ، خدای مو مل شه. خو يوازې شپږ کسه له مزاري سره چې نور نو د ځوانانو په منځ کې بابه مزاري بلل کېده، پاتې شول. دغو اوو کسانو د ورځې له خوا په مدرسه کې مقاومت وکړ او چې شپه راغله، د غره په لاره ووتل.

هغه کسان چې په دې جګړه کې د «بابه مزاري» په څنګ کې پاتې شول، دا وو:

- رضا بخش چې وروسته ونيول شو او شهيد شو؛
- د استاد تروزری محمد اسحاق چې وروسته ونيول شو او شهيد شو؛
- حاجي موسی چې په جګړه کې په دواړو سترګو ړوند شو؛
- سيد سخي داد علوي چې شهيد شو؛
- د استاد د تره زوی محمد افضل چې له ۱۳۶۲ راهيسې مفقودالاثره دی؛
- او حاجي معلم چې وروسته بيا په پاکستان کې د موټر د ټکر په پيښه کې ومړ.

استاد تر ۱۳۶۰ کال پورې په سيمه کې په مختلفو سياسی، اجتماعي او نظامي فعاليتونو بوخت و. د دغه کال د ژمي په سر کې استاد د ځينو ستونزو او اړتياوو په اساس، په ناشناس ډول، خارج ته د سفر په نيت له سيمې ووت. په دغه سفر کې د استاد يو ملګری وايي: «په کومه و رځ چې مو غوښتل د الوتکې په ذريعه د کابل له هوايي ډګره هرات ته لاړ شو، زړه مو سخت درېږده چې هسې نه استاد وپيژندل شي. په همدې شيبه کې يوه سوداګر د خپل

مال یوه برخه استاد ته ورکړه، ورته ویې ویل: کاکا دا درسره واخله، ته خو بار نلرې، زما د اضافه بار کرایه به کمه شي. استاد چې خپلې جامې په یوه رومیال کې تړلې او تر تخرګ لاندې ټینګې نیولې وې، ورته وموسېده او دهغه د مال غوټه یې واخیسته.

استاد ایران ته لاړ او په خارج کې د مهاجرو، فرهنګي ټولنو او سیاسي ډلو په منځ کې د دوی د سیاسي فعالیت د پیل یو نوی دور شروع شو چې مختلف غبرګونونه یې لرل. دغه وخت د استاد نوم په لومړي ځل په نړیوالو رسنیو او مطبوعاتو کې مطرح شو. د دې پړاو د حوادثو بیان د دې لیکنې په محدود چوکاټ کې نه ځاییږي.

## هیواد ته سفر او د حزب وحدت اسلامي افغانستان تشکیل

د ۱۳۶۵ کال په سر کې استاد فیصله وکړه چې د هیواد په داخل کې د جبهو د لیدو او د سیاسي – نظامی حالاتو د بیاکتنې او د افغانستان د اسلامي انقلاب د موقعیت د نژدې ارزونې په منظور افغانستان ته لاړ شی، نو له ځینو نورو شخصیتونو سره هیواد ته روان شو. شهید استاد چې د جبهو اوضاع، د مجاهدینو روحیه، د روسي نیواکګرو قواوو موقعیت، د خلقي رژیم وضعیت او د پیښور مېشتو تنظیمونو د انحصار او برترۍ غوښتنې حالات ولیدل نو دې نتیجې ته ورسېد چې شیعه ډلې د خپل ژوند د ادامې او د خپلو خلکو د موقعیت د ساتنې لپاره له کامل سیاسی- تشکیلاتي اتحاده پرته بله هیڅ لاره نلري. نو همدې هدف ته د رسېدو لپاره یې ډیرې هڅې پیل کړې چې بالاخره، په پنجاب، لعل، بهسود او جاغوري کې د ګڼو غونډو، سیمنارونو او ناستو له جوړولو او د مسولینو، قوماندانانو، مجاهدینو او خلکو د نظرونو له اورېدلو وروسته، د افغانستان د ټولو شیعه میشتو سیمو د ټولو ډلو او ګوندونو د مشرانو او جهادي مسولانو تاریخي او برخلیک ټاکونکې غونډې د ۱۳۶۸ کال د سرطان په ۲۵ نیټه د بامیان په مرکز کې پیل شوې. دغه غونډې نهه ورځې روانې وې او برخه والو وروسته له شپاړلسو ناستو د ډلو د بشپړ اتحاد په اړه خپله وروستۍ فیصله وکړه او یوه کمیسیون ته یې دنده وسپارله چې

د «ميثاق وحدت» تر عنوان لاندې يو پريکړه ليک برابر کړي. دغه ميثاق ليک په شلو مادو کې چمتو شو او ټولو په يو لړ پرتمينو مراسمو کې امضا کړ، په قرآن کريم يې لاس کيښود او د خدای په نوم يې قسم وکړ چې مخکينۍ ډلې به ړنګوي او د نويو تشکيلاتو يعنې «حزبِ وحدتِ اسلامي افغانستان» په چوکاټ کې به کار کوي.

په ټولو دغو ستومانوونکو او درنوغونډو کې دا استاد مزاري و چې په قوي منطق، پياوړي استدلال، حوصلې او زغم سره يې دغه نوی حرکت د اصلي مقصد په لور يعنې د افغانستان د هميشه مظلومو شيعه ګانو او هزاره وو د واقعي اتحاد په لور روان کړ او زموږ د ژوبلې او بې وسه ټولنې جسم ته يې نوې ساه وبخښله.

په دې لړ کې د ۱۳۶۸ کال په پای کې د حزب وحدت اسلامي افغانستان له خوا يو لوړرتبه او تام الاختياره پلاوی له باميان څخه ايران ته روان شو د دغه پلاوي مشري هم استاد مزاري کوله او د ده په څنګ کې د پلاوي دوهم شخصيت، استاد شهيد صادقي و. دا لومړی ځل و چې د افغانستان شيعه مشرانو، خپل واقعي شخصيت وښود او د مزاري- صادقي په بڼه يې په ټينګ عزم، صادقو او صريح څېرو او خپلو هزاره ګي برکي چپنو سره، د هزاره او شيعه ملت د سيمبول په توګه، زموږ د خلکو واقعي هويت نندارې ته وړاندې کړ. په ايران کې ديره افغان مهاجرو او طلابو په تهران کې د دغه پلاوي بې سارې او تاريخي هرکلی وکړ او له هغې شيبې وروسته ټول پوه شول چې د افغانستان شيعه ټولنه د ويښېدلو په حال کې ده. البته، وحدت ته ډير خنډونه جوړېدل خو د پلاوي د غړيو په تېره بيا شهيد استاد مزاري او شهيد صادقي نيلي مقاومت او ټينګار او دغه راز د دردېدليو مهاجرينو او ځوانو طلابو بيداري اوهوښياري د دې سبب شول چې دغه ټولې دسيسې او خنډونه شنډ شي.

شهيد استاد مزاري د ۱۳۶۸ کال د کب په شلمه نېټه د پلاوي د وياند په توګه په خپله لومړۍ مرکه کې په دې سفر کې د پلاوي اهداف داسې بيان کړل:

۱- د ټولو رنګو شویو ګوندونو سره یو ځای کېدل او په خارج کې د حزب وحدت اسلامي افغانستان او مهاجرینو د چارو لپاره د واحدې نماینده ګي ټاکل؛

۲- د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند د دریځونو بیان؛

۳- د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند د خپروونې جاري کول؛

۴- د هیواد د داخل له حالاتو د مهاجرینو خبرول؛

۵- د حزب له مرکزي کدرونو غوښتنه چې داخل ته لاړ شي؛

۶- د مهاجرو د مرستو راټولول او د هیواد د داخل جبهو ته استول.

شهید استاد د خپل ساري هوډ، حوصلې او زغم په مټ، ټولو پاسنیو موخو ته د عمل جامه واغوسته. د حزبِ وحدت تشکیلات یې په ایران، پاکستان او ځو نورو هیوادونو کې په رسمي ډول پرانیستل او دا لومړی ځل و چې زموږ د خلکو بیلابیل اقشار په داخل او خارج کې د استاد مزاري له څېرې سره اشنا شول او د ده په وجود کې یې د داسې چا نخښې ولیدلې چې په پوره صداقت، شهامت، قاطعیت او ټینګار سره د یوه ملت د ژغورنې، عزت او سرلوړي داعیه بیانوي او د حق اخیستلو، اجتماعي عدالت تامینولو او د اسلامي او ملي اصیل هویت د احیا کولوخبره کوي. له همدې کبله و چې د ګوند د مشر او ویاند له ټاکلو سره سره، خلکو، که څه هم په غیررسمي ډول، د زړه له تله استاد مزاري خپل آیډیال رهبر ګاڼه او په ده پور یې هیلې غوټه کړې وې.

شهید استاد فیصله وکړه چې د یوه کوچني کاروان په مشري، له ځینو فرهنګي امکاناتو او وسایلوسره، د هیواد له جنوب لویدیځ څخه د حزب د مرکزي شورا مرکز یعنې لرغوني بامیان ته ستون شي. خو له بده مرغه دغه کاروان د مجاهد نما حرامیانو له کمین سره مخ شو او د استاد د ورک کېدو او نیول کېدو اوازه خپره شوه. دې حالت د ویرې او امید یوه مغشوشه فضا رامنځ ته کړه. په داسې حال کې چې د وحدت غلمیان او سیاسي حریفان له دې اوازې خوشحاله وو، مظلوم خلک او مهاجرین د ویرې، غم او نهیلی څپو لاندې کړي وو. د وحدت لیوالو او دوستانو د استاد د روغتیا لپاره نفلي روژې

ونيولې او سپين سرې او داغداره مور يې چې په پرديس کې د قم ښار په يوه ځنډه کې اوسېده، شپه ورځ سر په سجده وه او د تکړه زوی لپاره يې چې په کور کې به يې «شيخ» باله، دعاګانې کولې او ندز يې ايښی و چې که شيخ روغ وي نو پسه به قربانوي.

بالاخره دعاګانې ومنل شوې او له لټونه وروسته، استاد په سرحد کې د يوه سين په غاړه وموندل شو چې له خلکو لرې، په يوه ګوښه ځای کې، په سين کې کبان نيسي او ملګري يې ورته پخوي. دوستانو وړانديز ورته وکړ چې ايران ته دې ستون شي ځکه لارې خطرناکه او ناامنه وې خو ده پريکړه کړې وه چې خامخا به باميان ته ځان رسوي. استاد لا د هيواد د جنوب لويديځ په وچو، تودو او توفاني صحراګانو کې د هيواد زړه يعنې هزاره جات ته د لار موندلو په هڅه کې و چې د وحدت ګوند عمومي غونډه په باميان کې جوړه شوه او استاد يې په غياب کې د رايو په اتفاق د حزب وحدت اسلامي افغانستان عمومي منشي وټاکه. دغه انتخاب هم د استاد مزاري د ژوند لوری او هم د حزب وحدت تاريخي مسير بدل کړ. کله چې استاد له ستونزمن ځايه روغ راووت او هزاره جات ته ورسېد، خلک خوشحاله شول، ځکه مشر يې د مرګ له خطره ژغورل شوی و. له دې په هيسته باميان د خلکو خولو ته ولويد او د سياسي- نظامي مهمو پريکړه مرکز شو. باميان چې د بودا د مجمسې په څير د وطن په تاريخ کې غلی او چوپ و، په يو ځلي د رسنيو د خبرونو په سرخطونو کې ځای وموند. تر دې حده چې د ډاکتر نجيب د رژيم د ناراضي جنرالانو د تفاهم زمينه په باميان کې برابره شوه. ځکه په باميان کې د مرکزي شورا له تصويبه پرته، د شمال مسولينو نه شوای کولی چې له نوموړيو جنرالانو سره خبرې پيل کړي.

استاد په باميان کې د استوګنې په وخت، د حزب تشکيلات فعال کړل. د هيواد د آيندې او راتلونکو فيصلو بندوبست يې وکړ او حزب يې د رکود له حالته را وايست او ټول قوتونه يې رغنده فعاليتونو ته اړباسل.

## د مجاهدینو کامیابي او په کابل کې د شهید استاد استوګنه

په کابل کې د مجاهدینو له بري سره سم، استاد مزاري د مزارشریف په لاره له بامیان څخه کابل ته راغی. په مزار شریف او کابل کې یې خلکو داسې تود هرکلی وکړ چې د عیني شاهدانو په قول د دغو ښارونو په تاریخ کې یې ساری نه و لیدل شوی. د هیواد په پایتخت کې د استاد حضور او د حزبِ وحدت پر مجاهدینو باندې د هغه نظارت، په لنډ وخت کې د شیعه ګانو سیاسي- نظامي اهمیت هغو کسانو ته وروښود چې په کابل کې یې د شیعه وو د پیاوړي شتون تحمل نه درلود.

دا حقیقت ټولو ته روښانه دی چې د انحصاري سیاست په وړاندې د استاد مزاري پریکنده او نه تسلیم کېدونکی چلند د کابل د هغه وخت د حکومت ټولو پلویانو ته د زغملو نه و. ځکه نو کله چې یې په کابل کې د هزاره ګانو د شتون مخه ونه نیولای شوه، خطرناکه نقشه یې جوړه کړه او ویې غوښتل چې د جګړې له لارې خپل مقصد ته ورسېږي. دوی د ۱۳۷۱ کال د جوزا په دولسمه شپه پر حزبِ وحدت باندې لومړنی جنګ تحمیل کړ او له دې وروسته یې څه موده پس هر ځل د کابل په لویدیځ باندې جګړې تحمیلي کړې او بالاخره د ۱۳۷۱ کال د سلواغې په دوه ویشتمه نېټه د کابل د هغه وخت د حکومت له خوا لویه توطیه د حزب وحدت د مرکزیت د ختمولو او د استاد مزاري د شهادت په منظور اجرا شوه چې د «افشار» خونړۍ فاجعه پیښه شوه او د ترسره کوونکو په تندي باندې یې د شرم داغ د تل لپاره پاتې شو. په دې غمیزه کې که څه هم د غمیزې عاملان خپل اصلي مقصد ته چې د استاد مزاري شهادت و، ونه رسېدل خو دغه غمیزه له دوو جهتونو ډیره بده وه: اول دا چې زموږ مظلوم او مسلمان خلک یې په افشار کې قتل عام کړل. د دې فاجعې مستند او ثابت شوي نړیوال انعکاسات دومره زیات دي چې هیڅوک ورنه انکار نه شي کولای. بل اړخ پکې دا و چې په دې فاجعه کې د خپلو د خیانت لاس هم لیدل کېده او بلکې د فاجعې اصلي لامل ګڼل کېدل.

استاد مزاري په خپل ټول عمر کې چې په چغو چغو ژړلي دي، همدا د

افشار د فاجعې په خاطر و چې په کابل کې يې په يوه عمومي غونډه کې خلکو ته قول ورکړ چې تر هغو به ارام کښېنني چې څو پورې يې د دې فاجعې عاملان په دار خيژولي او د مظلومو خلکو بدل يې اخيستی نه وي.

دې غمجنوونکې پيښې په دې سربيره چې د بل هر جنګ غوندې د سر و مال تاوان درلود، زموږ خلکو ته دا نتيجه هم لرله چې له واحد، دلسوز، عاقل او قاطع رهبر څخه پرته خپل سياسی، اجتماعي اومذهبي ژوند ته ادامه نه شي ورکولای. څرنګه چې د حزب عمومي منشي په ډېرو سختو سياسي- نظامي شرايطو کې ميدان نه و پرې ايښی او د خلکو په خوا کې پاتې شوی و نو د خلکو د زړونو محبوب شو او د خلکو آيډيال رهبر شو. د «مزاري رهبر» شعار په لومړي ځل د کابل د خلکو په زړونو کې ازانګې وکړې.

همدا د کابل د لويديځ د مظلوم خلکو له حريم څخه جدي او صادقانه دفاع او مقاومت د دې سبب شو چې له شل کلن تحميلي جنګ او زهرجنو تبليغاتو سره سره، د استاد محبوبيت د خلکو په منځ کې، په مسلح قوتونو کې، د حزب په مرکزي شورا، ټولو ارکانو او تشکيلاتو کې لا زيات شو او له همدې کبله د حزب د مرکزي شورا په عمومي غونډه کې استاد د رايو په اکثريت يو ځل بياد ګوند عمومي منشي وټاکل شو.

د فکر او جهاد سړی، استاد زاهدي چې د شهيد استاد يار، همکار، همدرد او همرزم و، په دې اړه په کابل کې په خپله تاريخي وينا کې داسې وويل:

«کله چې مې د (مزاري رهبر) چيغه واورېده، له ځان سره غلی وژړېدم... مزاري رهبر يعنې څه؟ يعنې هزاره ګان دې ځای ته رسېدلي دي چې پر يوه کس باندې، په شعوري ډول، په پوهه، عالمانه او د نورو له فشاره پرته توافق وکاندي چې دا زما لپاره يو جهان ارزښت لري. نور که ومرم غم مې نشته... دا زما لپاره وياړ دی. په دې خاطر نه چې حضرت استاد مزاري رهبر کېده بلکې په دې دليل چې زموږ مقاوم خلک د ازادې او ملي ارادې څښتنان شوي وو. زه په دې وياړم او که ومرم هم، بله ارزو مې نشته. زما سترګې دې ووخي چې «مزاري رهبر» به نه منم... استاد ته اخلاص او ارادت لرم او که

دی امر وکړي چې کاتبي وکړم، مخالفت نه کوم او په غبرګو لېمو یې منم...»

لنډه دا چې د شهید مزاري تلپاتې کارنامې دومره ډېرې او پراخې دي چې په دې څو پاڼو کې یې د ځایېدو امکان نشته. د ده د بیوګرافي شرحه په حقیقت کې لږ تر لږه د شل وروستیو کلونو د څېړانده تاریخ شرحه او د جهاد د دوران او د دوو وروستیو خونړیو کلونو د پیښو او لوړو ژورو شرحه او بیان غواړي چې انشاءالله په مناسب وخت کې باید ولیکل شي.

## «شهادت» د استاد مزاري یوازینۍ هیله او د ده لپاره ویاړ و

څه موده مخکې چې د کابل حالت ورخ په ورخ خرابېده، د حزب وحدت اسلامی مرکزي شورا او قوماندانانوفیصله وکړه چې استاد مزاري باید د خپل اقامت ځای بدل کړي او له کابله بهر چیرته لاړشي او د کابل چارې یو شمیر قوماندانانو او مسولینو ته وسپارل شي. خو د دې فیصلې په اړه د استاد ځواب دا و:

«زه تر وروستۍ شیبې د کابل د مظلومو خلکو په څنګ کې یم او په اخرکې مې برخلیک یا اسارت دی یا شهادت.»

استاد په خپله دې ژمنه وفا وکړه او تر وروستیو شیبو پورې د خلکو په څنګ کې پاتې شو. خو کله چې د کابل د لویدیځ سیمه، له یوې خوا د وخت د حکومت د تیریګرو او کینه ناکو قواوو او له بلې خوا د طالبانو د مهاجمو، غدارو، خاینو او وعده ماتوونکو قواوو له لوري شدیده محاصره شوه نو استاد تر وروستۍ ساه پورې د خلکو د مقاومت رهبري وکړه او د طالبانو د وعده ماتوونکو قواوو په مقابل کې یې تر وروستۍ مرمۍ پورې بې امانه جګړه وکړه، خو بالاخره د ۱۳۷۳ کال د کب په یوویشتمه نیټه د طالبانو غدارې ډلې ونیو او یوه و رځ وروسته یې له خپلو ملګرو سره په ډیره ناوړه طریقه او ظلم سره چې لاس و پښې یې تړلې وې، د ماشیندار په ډزو وواژه او د شهادت لوړ مقام یې په نصیب شو.

که څه هم د استاد د شهادت د داستان په اړه مختلف روایتونه شته خو څو ټکي ډیر واضح او د پام وړ دي:

اول دا چې د د طالبانو ډلې او حزبِ وحدتِ اسلامی تر منځ یوه موافقه شوې وه چې د هغې په اساس طالبان د کابل په جنوب غرب کې دیره شول خو د خپل ناولي نیت له کبله یې خپلې ژمنې ماتې کړې او په داسې حال کې چې حزب وحدت اسلامي له حکومتي قواوو سره په سخته جګړه بوخت و، طالبانو د شا له خوا په ناخبری کې د حزب وحدت په مرکزونو باندې حمله وکړه. له دې وضعیته د کابل د حکومت قواوو هم استفاده وکړه او د کابل په لویدیځ یې له هر لوري برید وکاوه چې په نتیجه کې د شهید استاد مرکز او د کابل لویدیځ د دښمن له خوا ونیول شول.

دویم دا چې د دښمن په لاس د کابل د لویدیځ له نیولو وروسته، استاد مزاري له یو شمیر ملګرو سره دروهګرو او وعده ماتوونکو طالبانو اسیر کړ. دغه پیښه د طالبانو ویاند په رسمي ډول د راډیوګانو په ذریعه اعلان کړه. د انساني وجدان او نړیوال عرف غوښتنه خو دا وه چې طالبان د شهید استاد او د هغه د ملګرو ژوند ته خطر پیښ نکړي او مسولیت احساس کړي مګر د ټولو مقرراتو خلاف، طالبانو په استاد او ملګرو یې د وسلو ډزې وکړې، داسې چې ان د جنازو په پیژندلو کې ډیرې ستونزې پیدا شوې او دغه حقیقت د حزب وحدت اسلامي افغانستان د مشرتابه په مقابل کې د طالبانو کینه او بې غیرته چلند ښیي.

دریم دا چې طالبانو په خپل وروستي کار، په تیره بیا د استاد مزاري د شهادت په جبران نه کېدونکي عمل سره ثابته کړه چې د دوی د سولې او اسلامیت شعارونه دروغ دي او د پاکو شعارونو تر پردې لاندې ډیر ناوړه او ناسم نیتونه لري. دوی غواړي د دغو شعارونو په نوم ټولې ډلې بې وسلې او په افغانستان کې د منځنیو پیړیو او فاشیزم یو بل دوران پیل کړي. دوی خپل بدمرغه مقصد ته د رسېدو لپاره د دې پروا هم نلري چې ټول وطن تباه او د افغانستان ملي او اسلامي شخصیتونه او اتلان شهیدان او عام خلک قتل عام شي.

څلورم دا چې د کابل د حکومت سرانو هم د کابل په لویدیځ کې د خپل

جنایتکارانه عمل په ذریعه، د استاد له اسارته وروسته وښودله چې، بي بي سي راډیو ته د خپل یوه عسکر په قول، دغه حکومت دې ته تیار دی چې د هزاره ګانو وینې وبهوي، هر جنایت وکړي او د خلکو هستي او نیستي ولوټي او د استوګنې کورونه وران کړي. دا واقعا بې غیرتي ده چې یو څوک له ملکي بې دفاع خلکو، له ښځو، ماشومانو او بوډاګانو بدل واخلي او دا هغه عمل دی چې د حق غوښتونکو او ازادي پالو خلکو په مقابل کې د تاریخ ټولو جنایتکارانو تر سره کړی دی. دا هماغه عمل دی چې د ۱۳۷۳ کال د کب په دوه ویشتمه او درویشتمه نیټه په کارته۳، کارته۴، قلعه شاده، دشت ازاده ګان او د کابل د لویدیځ په نورو سیمو کې دولتي قواوو یو ځل بیا تکرار کړ.

پنځمه دا چې یو ځل بیا د افغانستان د تاریخ له مکررو تجربو باید عبرت واخلو چې د غلیم په قسم او قرآن او قول باید هیڅکله باور ونکړو. موږ پاک زړي او رشتوني کسان وو او یو چې بیا بیا دغسې ژمنو تیر ایستلي او د خپلو ژمنلیکونو په خوا کې قتل شوي او خپل ډیر ستر اتلان او میړني مو له لاسه ورکړي دي. نو تردې وروسته باید بیداره واوسو او پر غلیم هیڅکله باور ونکړو.

په هر حال، بې عزته دښمن د حجت الاسلام استاد اخلاصي جاغوري، استاد عید محمد ابراهیمي، استاد ابوذرغزنوي او استاد قایمي په څیر کسان له موږ واخیستل او دغه راز مجاهد، هڅاند او فداکار ورور سید علي علوي یې رانه واخیست چې د جهاد او انقلاب په کلونو کې، په سفر او حضر کې، په جبهو او مهاجرت کې، هر ځای د استاد مزاري په خوا کې و، هم یې محافظ و، هم یې یار او همکار او ملګری او ورور و، چې هیڅوخت له استاده بېل نه شو او بالاخره د شهادت په وخت هم د دوی روحونه ملکوت اعلی ته سره یو ځای والوتل.

اتل مزاري!

تا ته دې سلام وي. هغه ورځ چې ازاد او پتمن دنیا ته راغلی، هغه ورځ چې دې په میړانه پاڅون وکړ او یو ملت دې سرلوړی کړ، هغه ورخ چې

بيا هم په ميړانه د شهادت هركلي ته ورغلې، هغه ورخ چې په سرو جامو كې به په هسكه غاړه راپاڅې او په الهی پاک محضر كې به د خپلو خلكو پر مظلوميت او د خپلو غليمانو پر قساوت، نامردي او بې همتي باندې شهادت ووايې او جنايتكاران به رسوا او ردي كړې.

د افغانستان د اسلامي وحدت
گوند فرهنگي كميسيون، قم
د ۱۳۷۳ كال د كب پنځه ويشتمه

# لومړی فصل

## یوه آرمان ته بیا کتنه

**د ولسمشر دویم مرستیال، استاد سرور دانش[1]**

### شهید مزاري، د نن، برون او سبا تر منځ تړاو

تر هر څه له مخه د شهید لاربنود، د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري او د هغه د یارانو د شهادت د درویشتم تلین درناوی کوم او د دغه غمجن تلین په مناسبت د شهید ټولو یارانو او پیروانو ته تسلیت وایم. دغه راز د هرات د کب د ۲۴ نېټې د پاڅون د شهیدانو، د جهاد او مقاومت د وخت د ټولو شهیدانو او د وروستیو ترورستي پېښو د شهیدانو د تلپاتې یاد درنښت کوم.

د استاد مزاري د شهادت تلین د هغه شهید د شخصیت د ناسپړل شویو برخو د پېژندلو او د معاصر تاریخ د دغه ستر شخصیت د سیاسي افکارو د بیا لوستلو او له دغو افکارو څخه د خلکو د روا غوښتنو او د هیواد د اوسني حالت د شننې لپاره د زده کړې ښه فرصت دی. د شهید مزاري تفکر په حقیقت کې زموږ د ټولنې د نن، پرون او سبا تر منځ پیوستون پیدا کوي. داسې چې اوس خلکو د ده د فکر او حرکت په رڼا کې خپله لاره موندلې ده او د سبا لوری روښانه شوی دی.

---

۱. افغانستان ما ورځپانه، ۱۳۹۶ د کب ۲۳مه

په همدې وجه دغه لیکنه همدې موضوع ته او په دوو برخو کې بېلوم: یو د شهید مزاري د شخصیت ځانګړنې او دویم ننني وضعیت او د شهید مزاري د افکارو په رڼا کې د سبا لوری.

## اوله برخه؛ د شهید مزاري شخصیتي، فکري او سیاسي ځانګړنې

دغه ځانګړنې په دوو برخو کې د پاموړ دي:

### لومړی: شخصیتي ځانګړنې

شهید مزاري بې مبالغې ځینې داسې ځانګړنې لرلې چې په کاریزماتیک ډول او پرته له کوم ټولنیز تړونه یې له هغه څخه د خلکو یو لیډر جوړ کړی و. څرنګه چې د هغه په اړه نسبتا دقیقه او ژوره پېژندګلوی لرم نو دغه ځانګړنې به په هغه بڼه چې ما ته معلومې دي، تاسې ته بیان کړم.

شهید مزاري له شخصیتي او اخلاقي نظره او د شخصي کرکټر له اړخه ګڼې ځانګړنې لرلې چې دلته یې د نهو ځانګړنو په یادولو بسنه کوم:

۱ ــ یو مسلکي مبارز او په ټوله معنا یو سیاستوال و. ده خپل ټول وخت، خپل هدف ته ورکړی و. ما هیڅ وخت په داسې حالت کې ونه لید چې په بل څه بوخت وي. اصلا مزاري په خپل ژوند کې کوم شخصي کار نه درلود. نه یې د کورنۍ له اړخه او نه یې د شخصي اړتیاوو لکه د تفریح او استراحت او نورو انساني ضرورتونو له اړخه شخصي کارونه لرل.

۲ ــ هیڅوخت وزګار نه و او خپل وخت یې په بې ځایه او بې ارزښته چارو نه تېراوه. تل به یو پروګرام ورسره و. یا به یې مطالعه کوله، یا به یې سیاسي مسایل تعقیبول یا به د مراجعینو په چارو بوخت و او په سازماني چارو، ارتباطاتو او داسې نورو فعالیتونو به لګیا و.

۳ ــ دی به دې هیڅ وخت ستړی نه لیده. په واقعي معنا نه ستومانه کېدونکی انسان و. په شواروز کې یوازې پنځه یا شپږ ساعته ویده کېده او د پنځو، شپږو ساعتونو په اوږدو غونډو کې به د ستړیا نښې پکې نه وې. کله نا کله به تر نیمو شپو پورې په خبرو او ملاقاتونو بوخت و.

۴ – بې جوړې حافظه یې لرله. هر څه چې به یې اورېدلي یا لوستلي وو، تر ډېرو پورې به یې له جزییاتو سره په یاد وو. مشهوره وه چې د تلفون ټولې هغه شمېرې یې په یادو وې چې پکارېدلې یې. هیڅوخت یې د تلفون شمېرو ته کتابچه نه کتله.

۵ – د مطالعې سخت شوقمن و. اکثره تاریخي او سیاسي آثار او د اسلامي او غیراسلامي مشهورو لیکوالو د مختلفو موضوعاتو آثار یې لوستي وو او د هغوی په نظرونو یې بحث کاووه او کره کتنه یې وربانديې کوله.

۶ – په ساده او ولسي ژبه یې خبرې کولې. صریح او څرګند غږېده. په لفافه کې خبرې او د تکلف له مخې، ادیبانه او دیپلماتیکې خبرې یې بیخي نه خوښېدې.

۷ – د ځان او خپلې کورنۍ لپاره یې ثروت ټول نکړ. د ځان لپاره د سوکاله ژوند او تجمل په فکر کې بېخي نه و. هیڅ وخت مې له ده وا نه ورېدل چې د خوندورو خوړو یا نویو جامو په فکر کې دې وي. څرنګه چې په شرعي لحاظ یې استطاعت نه درلود نو په ټول عمر کې یې حج ونکړ. که څه هم د مهاجرت په وخت کې یې هر کال په سلګونو مهاجرین او مجاهدین د بیت الله شریف حج ته وړیا استول خو پخپله یې له دغو امکاناتو هیڅکله استفاده ونکړه. یوازې د ثور تر کودتا له مخه کلونو کې یو ځل پلار، ده او ورور ته یې، پیسې استولې وې چې حج ته لاړ شي خو په هغه کال یې هم د عربستان ویزه تر لاسه نه کړای شوه. شهید مزاري په دیني مدرسه کې د تحصیل په وخت هم، د شیعه علمیه حوزو د عرف او رویې برخلاف، له بیت المال څخه یعنې له خمس او سهمِ امام څخه استفاده ونکړه. پلار به یې پخپله د ده مصارف ورپوره کول.

۸ د شهید مزاري لپاره قوم، سمت، سیمه، خپل او کورنۍ بېخي مطرح نه وو. د ده تر ټولو نژدې یارانو او د راز ملګرو له ده سره هیڅ ډول کورنۍ خپلوي نه لرله. ده دایکندي ته په هماغه سترګه کتل چې بلخ، سمنګان، غزني یا میدان ته یې کتل او دغو ځایونو ته یې هماغسې درناوی کاوه لکه غور،

بامیان یا بادغیس او بغلان ته یې چې کاوه. د شیعه او هزاره په کور کې، هزاره ګانو ده ته هماغه ارزښت درلود لکه سادات، بیات، قزلباش یا سني هزاره ګانو او اسماعیله وو چې درلود.

۹ – دیني ارزښتونو او احکامو ته پابندي د استاد بله ځانګړنه وه. دی یو دیني او مذهبي شخصیت او یو دیني روشنفکر او عالم و او ان د کابل په درې کلنه موده کې هم چې جنجالونه زیات وو، د ده په ویناګانو کې دیني مفاهیمو او دیني او مذهبي ارزښتونو ته درناوی بیخي زیات وینو. په وروستي ځل هم چې له کارته سه څخه روان شو، اودس یې وکړ، لمونځ یې وکړ او بیا د دښمن په لور ورغی. ده هیڅ وخت سکیولر فکر یا دین مخالف فکر نه درلود. هغه کسان چې د دین اساساتو ته پابند نه دي، نه شي کولای چې د مزاري د واقعي پیروي ادعا وکړي.

## دویم؛ فکري، سیاسي او مبارزاتي ځانګړنې

په دې برخه کې هم نهه ټکي په ترتیب سره یادوم:

۱ – د مزاري او د هغه د یارانو مبارزه یوازې د ثور د اوومې له کودتا یا د شوروي لخوا د افغانستان په نیواک سره نه پیل کېږي او انګیزه یې یوازې له نیواکګرو سره مبارزه او د هیواد د خپلواکي له ګټلو سره تړاو نلري. که څه هم د جهاد په کلونو کې د دوی ټول وخت او امکانات د شوروي نیواک او ګوډاګي حکومت په خلاف ولګېدل خو د دې مبارزې هدف، انګېزه، ستراتیژي او اصلي خط مشي ډېر پخوا لا تدوین شوي وو. تاریخي بیوزلي او محرومیت، د استبداد او تبعیض څوسوه کلن حاکمیت او د عدالت او ازادي غوښتنې روحیه، د دغو مبارزو اصلي انګیزه جوړوله چې په هزاره ټولنه کې یې کلونو وړاندې د ابراهیم خان ګاوسوار او شهید علامه سید اسماعیل بلخي پاڅونونو یې بنیاد ایښی و. همدا علت دی چې دغه مبارزه د شوروي او کمونیستي حکومت له سقوطه وروسته، په شدت او جدیت سره ادامه مومي او په حقیقت کې خپل اصلي تاریخي مسیر مومي، یعنې عدالت غوښتنه او له محرومیت، تبعیض او انحصار سره مبارزه.

۲- د استاد مزاري له تاکید وړ بنیادي ټکو څخه تشکل او سازماندهي وه. تشکیلات پخپله هدف نه وي خو د سیاسي مبارزې د رهبري لپاره ډیره مهمه ذریعه ګڼل کیږي او له هغې پرته هیڅ یوه سیاسي هدفمنده مبارزه نه کامیابه کیږي. نن ورځ هم هزاره ګان یو پیاوړي سیاسي سازمان او عصري حزبي تشکیلاتو ته اړتیا لري. اوس زموږ ټولو لپاره د شهید مزاري د سیاسی میراث په توګه وحدت ګوند یو ویاړ دی او له همدې کبله موږ ټول باید د تداوم، تحرک او خوښت په فکر کې واوسو. یو ګوند باید د خپل وخت له غوښتنو سره سم فعالیت وکړي. شهید مزاري په یوه لویه تاریخي تجربه کې د ګوندي کار شکل او محتوا ته خاصه توجه کوله او د هغه وخت له سیاسی اړتیاوو سره سم یې د نصر سازمان او وحدت ګوند دوه بیل تشکیلات رامنځ ته او رهبري کړل.

۳ – شهید مزاري د یوه سیاسي حرکت په بري کې ټولنیز شعور، فرهنګ او فکر ته خاص اهمیت ورکاوه. د دې موضوع جزییات نه بیانوم ځکه ډیر وخت غواړی خو په لنډو کې وایم چې د نصر سازمان په دوران کې همدې روحیې ته په پام سره مشهوره وه چې د نصر ځوانان که ډیر لږ سواد هم ولري خو یوه بکسه ورسره وي چې د افغانستان د خبرونو او راپورونو د اورېدو لپاره یوه راډیو او مطالعې او نوټ اخیستلو لپاره څو کتابونه او مجلې پکې وي. همدا علت و چې د نصر مشران او اکثره کدرونه کتاب لوستونکي او کتاب لیکونکي وو او ډېرو یې په سلګونو مقالې تالیف کړي دي. استاد مزاري د دغه فرهنګي حرکت په سر کې و او د دغه انقلابي، پرخاشګر خو مفکر، قلموال او کتاب لوستونکي کهول مخکښ و. د ډیر ویاړ ځای دی چې د شهادت په دغه تلین کې د ابوذر غزنوي یادونه کوم چې پنځه زره مخه خاطرې، مقالې او یادښتونه ورنه پاتې دي. دغه زیرمه د ابوذر او زموږ د نورو یارانو او دوستانو د فرهنګي روحیې ښودنه کوي. توقع لرم چې د دوی پاتې آثار په وار سره او په مناسبه بڼه چاپ شي.

د وحدت حزب په دوران کې هم همدغه وضعیت په لا وسعت سره ادامه

ومونده. ځومره مقالې او کتابونه چې د حزب وحدت له تاسیسه وروسته د شهید مزاري او د ده د همفکرانو په هڅونه او ملاتړ خپاره شول، نه یوازې د هزاره وو په تاریخ کې بلکې د افغانستان په تاریخ کې سارى نلري.

۴ – شهید مزاري په فکري او سیاسي لحاظ منجمد او انعطاف نه منونکى نه و او هدف ته د رسېدو لپاره یې په خاص چوکاټ کې ځان نه ایساراوه. د خپلو مبارزو په دوران کې یې مختلف سیاسي او فکري پړاوونه کچ کړل. زموږ اوسني ځوان نسل چې مزاري له نژدې څخه نه دی لیدلی، ښه ده چې د هغه د فکر له ټولو ګوټونو او اړخونو سره بلد شي. زما په نظر د شهید مزاري فکري او سیاسي تحولات په دریو درونو باندې ویشل کېداى شي: اول د نصر سازمان دوره چې له ۱۳۵۷ تر ۱۳۶۸ پورې وه. بل د وحدت ګوند دوره چې له ۱۳۶۸ تر ۱۳۷۱ پورې وه او دریم د کابل په لویدیځ کې د درې وروستیو کلونو د مقاومت دوره وه.

په مختصر ډول باید ووایو چې شهید مزاري د نصر سازمان په دوره کې له سیاسي او فکري نظره یو ایدیولوژیک مبارز، د ارتجاع، خانانو او ښي لاسو او چپ لاسو ګوندونو مخالف، د ولایت فقیه ټینګ پیرو، د اسلام د نړیوال نهضت پلوى او د چین، امریکا او روسیې مخالف و. خو د وحدت ګوند په دوران کې استاد مزاري، که څه هم د هیواد د رسمي دین او د سیاست او تقنین د اصلي سرچینې په توګه، د اسلام نقش ته پابند پاتې شو خو له تنګو سیاسي او فکري پولو راووت او د قوم په منځ کې یې یو ډول پلورالیزم ته یې مخه کړه او د ټولو شیعه او هزاره ډلو اتحاد یې، بې له دې چې خاص سیاسي تمایلات په نظر کې ونیسی، خپل هدف وټاکه. دغه راز د ګوند مشري یې هم د ګوند دننه ازادو انتخاباتو په نتیجه کې لاس ته راوړه. ده د تیر وخت تېروتنې تصحیح کړې، تیرو سیاسي فعالیتونو او طریقو ته یې بیا کتنه وکړه او د یوه ټولشمول لید په اساس یې ټول منورین، د زده کړو خاوندان او لوی عالمان ګډ کار ته راوبلل. دغه راز له هزاره خانانو سره یې دوستي جوړه کړه او د لیبرال عناصرو په شمول یې له ټولو ډلو وغوښتل چې تر یوه سیاسي

چتر لاندې منسجم شي. ده دوی ته وویل چې که داسې ونه کړئ نو هیڅ مشروع حق به تر لاسه نه کړئ.

خو ده د کابل د لویدیځ په درې کلن دوران کې، هغو افکارو او اهدافو ته په پابندي سربیره چې د وحدت ګوند په دوران کې یې بنیاد ایښی و، دوه نورې مهمې ځانګړنې هم خپلې کړې: یو دا چې په دې دوران کې شهید مزاري د دولتی نظام د جوړولو لپاره د طرحې د ځښتن په توګه را څرګند شو. ده د نوي افغانستان د تاسیس او د هیواد د اینده لپاره خاص لید او د دولت داري لپاره خاص نظرات وړاندې کړل. دویم دا چې په دې دوران کې استاد مزاري نه یوازې د حزب د عمومي منشي او لاربنود په توګه بلکې د خلکو د رهبر په توګه مطرح شو او د افغانستان ټولو هزاره ګانو او شیعه وو او ان هغوی چې له وحدت ګوند سره یې هیڅ ډول تشکیلاتي رابطه نلرله، مزاري هم په سیاسي او هم په نظامي لحاظ خپل مشر او رهبر ومانه. همدا ټکی د ګوند په داخل کې د ځینو حسادتونو او اختلافونو سبب شو. ځکه ګوندي غړیو له مزاري توقع لرله چې په هر څه کې باید د دوی غوندې وي او د ګوند په چوکاټ کې فیصلو باندې عمل وکړي خو د خلکو توقع نوره وه، مزاري نه شوی کولای چې خلک له پامه وغورځوي او له ځانه یې بېل کړي.

البته، په ټولو دغو دورو کې لکه څنګه چې وویل شول، استاد مزاري دیانت ته خپله پابندي وساتله او دیني احکامو او ارزښتونو ته یې خپل درناوی درلود. دی نه سکیورلستي فکر پیدا کړ او نه یې دین مخالفه روحیه خپله کړه. دغه راز د ځینو کسانو د ګومان برعکس، ده هیڅکله د قوم ګروهنې روحیه نلرله. ده که د هزاره خلکو پر اتحاد باندې تاکید کاوه او ان که په کابل کې یې د ډیرو سختو قومي نښتو په اوج کې هم د هزاره قوم خبره کوله، منظور یې له تبعیض او انحصار سره مبارزه او د حق او عدالت غوښتنه وه. ده پر وروړګلوي او برابري تکیه کوله، نه پر قومي او نژادي برتري غوښتنې.

۵- لکه څنګه چې اشاره وشوه، د سیاسي قوتونو وحدت او د مختلفو سیاسي تمایلاتو او فکري ډلو د پلویانو اتحاد او د خلکو پیوستون، د شهید

مزاري لپاره ستراتیژیک هدف و. په همدې علت ده هڅه وکړه چې خپل ټول مخالفان وحدت ته راوبولي او ان پخپله هغو کسانو او ډلو ته ورغی چې د ده د پلار او ورور او کورنۍ قاتلان ګڼل کېدل. د ده په نظر د پلار د وژلو په خاطر مخالفت شخصي انګېزه لري او دا انګیزه باید د خلکو د لوړو ګټو د مخنیوي سبب نه شي.

د یادولو وړ ده چې د وحدت غوښتنې د بهیر په پیلولو کې د یرو نورو مشرانو لکه استاد عرفاني، استاد اکبري، سید عبدالحمید سجادي، آیت‌الله پرواني او داسې نورو ښاغلیو هم اساسي برخه لرله، خو که د استاد مزاري نه ستړې کېدونکې هڅې، همت او پیاوړی منطق، حوصله او متانت او زغم نه وای نو په هغه وخت کې وحدت ګوند جوړېدای نه شوی. تاسې ټول پوهېږئ چې وحدت ګوند په خارج او داخل کې سرسخته مخالفان لرل. په تهران کې د اته ګونې ایتلاف شورا او ان د کوربه هیواد او دولت خاص استازی دې ته تیار نه و چې وحدت ګوند د ایتلاف شورا ځای ونیسي. خو په کومه ورځ چې په تهران کې د افغانستان د شیعه یانو د مجمعې په غونډه کې د استاد مزاري د وینا په وخت، د خلکو پریکنده اوازونو او د الله اکبر پرله پسې چیغو، د غونډې تالار ولړزاوه، نو د کوربه هیواد په شمول د ټولو باور راغی چې کومه لاره استاد مزاري او یارانو یې خپله کړې ده، نه ستنېدونکې ده او رامنځ ته شوی وحدت نه ماتېدونکی دی او د ایتلاف شورا باید خپل ځای وحدت ته ورکړي چې همداسې وشول.

۶ - فکري او سیاسي استقلال د استاد مزاري د مبارزو او تفکر یو بل خصوصیت و. دی هیڅ ډول وابستګي او تحمیل او اجبار ته په تیره بیا د خارجیانو له خوا تیار نه و. موږ ټول پوهېږو چې هم د نصر سازمان په دوره کې او هم د وحدت ګوند په دوره کې، هیڅ غربي او اسلامی هیواد دې ډلې ته توجه نه کوله او هیڅ ډول مرسته ورسره نه کیده او ان په ایران کې چې د دې ډلې مرکز او دفتر پکې و، له ځینو کړیو پرته چې د ایران د نظام په داخل کې د مزاري پلوي یا نصري جناح پیژندل کېده، نور نو د نصر سازمان او

وروسته بیا د شهید مزاري په مشرۍ وحدت حزب، د ایران د ځینو مقتدرو کړیو له نظره چندان په زړه پورې ډلې نه وې او هیڅ ډول مرسته ورسره نه کېده. شهید مزاري واقعا د خپلې وطندوستي د روحیې، افغاني غرور او هزاره ګي پاکي او صداقت په اساس، هیڅ خارجي مقام ته اجازه نه ورکوله چې د دوی په سیاسي او تشکیلاتي فیصلو او داخلي چارو کې مداخله وکړی.
د نصر سازمان په دوران کې یو ځل د ایران د ډېر زیات لوړ سیاسي او مذهي مقام یعنې د رهبري د قایم مقام او د هغه د استازي سید مهدي هاشمي له خوا د سولې او اتحاد په پلمه یوه داسې طرحه مطرح شوه چې د هغې په اساس ټولې ډلې او سازمانونه ړنګېدل او په ځای یې داسې تشکیلات جوړېدل چې له ایرانیانو سره به تړلي او د هغوی په واک کې به وي. نصر سازمان او خصوصا استاد مزاري د دې طرحې په مقابل کې ودرید او ویې ویل چې دا شرعي مساله نه ده چې څوک موږ ته له خارجه فتوا را کړي. د افغانستان په سیاسي او مبارزاتي مسایلو موږ پخپله ښه پوهیږو. نورو ټولو موجودو ډلو د سید مهدي هاشمي په ملاتړ یو سند امضا کړی و خو نصر سازمان لاسلیک ته تیار نه شو. په هغه وخت کې شهید مزاري مجبور شو چې له ایرانه ووځي او له ١٣٦٥ کاله وروسته په افغانستان کې واوسي او د سازمان له ټولو کدرونو هم وغواړي چې د خارجیانو د مداخلو له تاثیره د ځان ساتلو لپاره خپل فعالیتونه د هیواد دننه متمرکز کړي.

د وحدت ګوند په دوران کې هم لکه څنګه چې یادونه وشوه، په ایران کې سخت مخالفتونه موجود وو خو شهید استاد مزاري د ټولو مخالفتونو په وړاندې ودرېد او خپل استقلال یې وساته. وروسته بیا د شهید مزاري له خوا د افغانستان د شیعه ګانو او هزاره وو د تقلید د مرجعیت طرح هم په همدې مقصد مطرح شوه چې زموږ خلک د مرجعیت او فتوا له نظره هم استقلال ومومي. د همدې طرحې برکت و چې دغه پوله ماته شوه او نن ورځ موږ په خپله ټولنه کې د څو کسه مجتهدانو، فقیهانو او د فقهي تلقلید د مراجعو د ظهور شاهدان یو.

د شهيد مزاري لاره د افغانستان لاره وه. ده په پوره فکري استقلال عمل کاوه او په وروستيو درې کلونو کې چې په کابل کې و، له ټولو فشارونو سره سره، په هيڅ وجه او هيڅکله دې ته تيار نه شو چې له هيڅ بهرني هيواد څخه ان له ځينو ګاونډيو هيوادونو څخه چې ټولو ګومان کاوه چې له ده سره دوستانه رابطه لري، حتى يو غيران مرسته واخلي. د ده لګښتونه او مصارف د کابل د خلکو او په خارج کې د مهاجرينو له مرستو تامين کېدل. شهيد مزاري يو نوښتګر کس و. ده په هماغه وخت کې د حکومت د رسمي پيسو په څنګ کې د نورو پيسو د چاپ طرحه جوړه کړه چې که څه هم خپله يې عملي نکړه خو وروسته بيا وحدت ګوند، جنبش ګوند او نورو ګوندونو په خپلو سياسي او نظامي فعاليتونو کې له هغو پيسو ډيره ګټه واخيسته.

۷ – د افغانستان د هزاره ګانو او شيعه وو د قومي، فرهنګي او مذهبي هويت احيا د استاد مزاري د سياسی حرکت يوه بله اصلي ځانګړنه وه. د شهيد مزاري د عدالت غوښتنې کرښه د ټولو هزاره وو او ان مخالفو هزاره ګانو شاخصه کرښه ده. مزاري چې هر څه غوښتل يوازې د خپل ولايت او ولسوالي د هزاره وو يا خپل ګوند د هزاره وو لپاره نه بلکې د ټولو هزاره وو او ټولو شيعه وو لپاره يې غوښتل. يو هغه شی چې استاد مزاري يې مزاري کړ او يو رهبر شو، همدا ځانګړنه ده.

۸ – پر ملي وحدت باندې تاکيد د شهيد مزاري د سياسي تفکر يوه بله ځانګړنه وه. د هزاره وو د فرهنګي او قومي هويت احيا هيڅوخت په دې معنا نه وه چې استاد مزاري د افغانستان له نورو قومونو څخه په جدا ټاپو کې يوازې د هزاره وو لپاره فکر وکړي. د مزاري لاره د افغانستان لاره وه. ده که هزاره وو ته حق غوښت، د افغانستان په نوم جغرافيا کې يې د هيواد د نورو سره ورونو قومونو په څنګ کې حق غوښت. ځکه خو يې په خپلو ويناوو کې ټينګار کاوه چې د قومونو تر منځ تفرقه يوه فاجعه ده. ده به ويل چې ملي وحدت زموږ لپاره يو اصل دی. څرنګه چې د ملي وحدت د عنصر او د هغه د الزاماتو په اړه مې بل ځای هم خبرې کړې دي، دلته په دې اړه

همدومره اشاره کافي ګڼم.

۹ – اجتماعي عدالت د شهید مزاري د تفکر یو بل مهم اصل دی. اصولا شهید مزاري په دې باور و چې د افغانستان د خلکو تر منځ ملي وحدت هغه وخت په واقعي او اغیزمن ډول ټینګیږي چې عدالت ته پام وشي. یعنې ټول قومونه او حتی ټول افراد اساسی حقونو ته او مشروع ازادیو ته په برابر او مساوي ډول ورسیږي. ځکه که تبعیض و محرومیت یا انحصار او استبداد وي نو هلته بیا د ملي وحدت خبره نه شو کولای. له اجتماعي عدالته پرته د ملي وحدت ادعا یوازې یو بې معنا شعار دی.

په دې اړه د تاکید وړ ټکی دا دی چې د ملي وحدت د اصل په مورد کې د افغانستان ټول خلک د مزاري مخاطبان دي. یعنې ټول باید کوښښ وکړي چې د افغانستان د خلکو ملي وحدت ته درناوی ولري خو د اجتماعي عدالت په اصل کې د مزاري مخاطب تر ډیره حده نور قومونه او خصوصا حکومتونه دي چې د هزاره وو په وړاندې دې په عدالت وچلیږي. دا ځکه چې هزاره وو په نورو باندې ظلم نه دی کړی چې د دغه شعار مخاطبان واوسي. هزاره وو نه قدرت درلود او نه ثروت. د افغانستان ټول ثروت او قدرت او امکانات له نورو سره وو. خو په ملي وحدت کې موږ مکلف یو چې د نورو په څنګ کې واوسو او په غم او ښادي کې یې شریک شو.

## دویمه برخه: هزاره ګان او د استاد مزاري په لیدلوریو کې پروني وضعیت او راتلونکی پیش منظر

### اول: د نن او پرون هزاره

هزاره ګان په خپل پرون کې له تاریخي نظره په ټولو سیاسی، فرهنګي او اقتصادي ساحو کې محروم وو او د افغانستان حکومتونو نه یوازې پام ورته نه دی کړی بلکې د تاریخ په یوه پړاو کې د دوی په خلاف داسې جنایتونه شوي دي چې نن ورځ نسل کشي یا بشري ضد جنایت بلل کیږي. د دغو خلکو څه باندې ۶۲ فیصده قتل عام شول، ګڼ شمیر یې یا له هیواده بهر او

يا د هيواد دننه د خپل ژوند او ژواک له سيمو په لرې سيمو کې اواره شول.

خو د نن هزاره ګان په جغرافيايي لحاظ، د هيواد په اکثرو ښارونو او ولايتونو او له ايران او پاکستان او هندوستان څخه نيولې تر اروپا او امريکا او استراليا پورې د نړۍ په مختلفو هيوادونو کې پاموړ حضور لري. له سياسي نظره نن هزاره ګان له پرونۍ انزوا او مرکز څخه لرې والي راوتلي دي او د هيواد د تاريخ په وروستي فصل کې له طالبانو وروسته نظام په بنسټګرو کې حسابيږي. له فرهنګي نظره هم ادعا کولای شو چې نننی هزاره ګان په افغانستان کې د پوهې او فرهنګ مخکښان دي. تحصيلي او تعليمي شميرې او د رسنيزو، تعليمي او فرهنګي مرکزونو تعداد راښيي چې د نن هزاره ګان يوه خوځنده، ځوانه او تعليم يافته بشري سرمايه لري. د اوسني هزاره مذهب، ژبنی هويت او فرهنګ جرم او قاچاق نه دی. اوسنی هزراه له بشپړې سياسی، فرهنګي او مذهبي ازادي برخمن دی. څومره ازادي چې په افغانستان کې يې شيعه ګان د خاصو مذهبي مراسمو د تر سره کولو لپاره په کابل کې لري، په اکثرو نورو هيوادونو کې نشته. د داعش او سلفيانو په نوم د يو شمير کسانو رخې، کينې او افراطي خصومتونه بايد د افغانستان له اهل سنت سره ونه تړل شي. نن ورځ په افغانستان کې شيعه او سني د يو بل په څنګ کې د ورورۍ ژوند کوي.

مدني او قانوني روښونو او علم او فرهنګ ته د مخه کولو له نظره د نن ورځې هزاره د استاد مزاري د مبارزو او افکارو مديون او پوروړی دی. که يې څوک مني يا يې نه مني خو ټولو او حتی د شهيد مزاری د فکر مخالفانو، له هغې فضا ګټه اخيستې ده او وده يې پکې کړې ده چې د استاد مزاري مبارزو رامنځ ته کړه.

## دويم: په ملي مناسباتو او قوم دننه اړيکو کې د هزاره وو ځای

د نن ورځې هزاره ګان تر بل هر څه له مخه، هم په ملي کچه د افغانستان له نورو قومونو سره او هم د قوم په داخل کې د هزاره وو د مختلفو سياسي او فکری ډلو په وړاندې، د سوله ييز او عقلاني ډيالوګ او ډيسکورس يوې

پروسې ته اړتیا لري. کیدای شی چې زما له دې نظره سره ځینې کسان په تېره بیا ځوانان موافق نه وي چې البته نظر ته یې احترام لرم خو ټول باید پوه شي چې تورلګول او ځان ځبل او نورو ته سپکې سپورې او احساساتي چلند هیڅ غوټه نه پرانیزي. ټول باید منطقي خبرو ته سره کښېنو.

هزاره ګان باید د هیواد له ټولو قومونو سره دوستانه رابطه ولري. زموږ سیاسي او فرهنګي ادبیات باید بدل شي. د نفرت او تعصب له ادبیاتو باید ډډه وکړو. موږ باید هیڅ قوم د ځان په مقابل کې ونه دروو. موږ د افغانستان په نوم مشترکه جغرافیا کې د پښتنو، تاجیکو، اوزبیکو او نورو قومونو په څنګ کې ګډ ملي هویت، ګډ فرهنګ او تاریخ لرو. موږ څه بېله جزیزه نه یو. که څه هم موږ خپل تاریخي محرومیتونه لرو او خپل قومي فرهنګ او هویت باید خوندي وساتو او خپلې قانوني غوښتنې او حقونه باید ولرو خو دا غوښتنې باید د ملي غوښتنو په چوکاټ کې مطرح کړو او عدالت، انکشاف، سوکالي او هوساینه ټولو ته وغواړو.

له بلې خوا موږ هزاره ګان پرته له لویې ملي کورنۍ له دوو نورو کورنیو سره هم تعلق لرو. لویه مذهبي کورنۍ یعنې د افغانستان ټول شیعه ګان او لویه قومي کورنۍ د افغانستان ټول هزاره ګان. په ټولو دغو سطحو کې باید شریک اړخونه وپلټو او له توپیرونو او تفاوتونو باید ډډه وکړو. موږ ولې له نورو سره له مشترکاتو د ځان لپاره استفاده ونه کړو؟ ولې د بدبیني او اختلاف په زیاتولو سره هم ځان ته او هم نورو ته تاوان ورسوو؟ ایا په اوسنۍ دنیا کې د دولتونو په کچه یو کامیاب سیاست دا نه دی چې د ټولو د ګټو د خوندي کېدو لپاره له ګډو ګټو او مشترکاتو کار اخیستل کېږي؟ دا سمه ده چې د ټولو قومي، فرهنګي او مذهبي ټولنو په منځ کې تفاوتونه موجود وي خو دغو تفاوتونو ته باید درناوی وکړو او د دغو تفاوتونو په څنګ کې مشترکات دومره زیات دي چې هیڅ عاقل کس ورباندې سترګې نه شي پټولی.

که څه هم په توکمیز لحاظ هزاره ګان یوه خاصه ډله ده خو له مذهبي او فرهنګي نظره له یوې لویې کورنۍ سره تعلق لرو او د ساداتو، بیات، قزلباش

او خليلي غوندې قومي ډلې په دې کورنۍ کې شاملې دي. دغه راز تاجيک شيعه يان، پښتانه شيعه يان، او اسماعيليه شيعه يان چې د پامور خلک دي، له موږ سره شريک برخليک لري.

د قومي کورنۍ په کچه سني او اسماعيليه هزاره ګان ټول د يوه وجود غړي او د يو بل متې دي. که څه هم نن ورځ په دې اړه د مختلفو لوريو له خوا شعوري يا غير شعوري ډيرې هڅې کيږي چې زموږ په منځ کې واټن پيدا کړي او ان اختلافونه رامنځ ته کړي مګر دا ارزو به ګور ته ورسره يوسي. خلک هوښيار دي او زموږ ناخبره او ناپوه کسان هم بايد هوښيار شي.

## دريم: د مبارزې په ستراتيژۍ او سياسي او اجتماعي سلوک کې د تغيير اړتيا

هغه څه ته په پام سره چې وويل شول ډيره اړينه ده چې د مبارزې ستراتيژي او خپل سياسي او اجتماعي فکر او چلند ته بايد بيا کتنه وکړو. هزاره ګان بايد په افغانستان کې له هيڅ حکومت سره مقابل واقع نه شي، مګر د خلقيانو غوندې يو حکومت سره چې د پردو لاسپوڅې او د افغانستان د خلکو د کرکې وړ رژيم يې درلود، که مخالفت کوي، طبيعي خبره ده. موږ بايد په داسې بهيرونو او پيښو کې چې عمومي او ملي بڼه نيسي، د نورو قومونو تر څنګ ودريږو او خپل ملي پيوستون وښيو. موږ بايد د اوسنۍ دنيا نوي ارزښتونه مطرح کړو او خپله حق غوښتنه او عدالت غوښتنه هم بايد يوازې د يوې سمتي او قومي غوښتنې په توګه نه بلکې د يوې ملي پديدې په توګه او د يوه ملي ضرورت په حيث، د اوسنۍ دنيا د نويو ارزښتونو په چوکاټ کې راولو. ځان بايد د نورو په څنګ کې د ملک مالکان او د تحولاتو مسوول وګڼو. موږ بايد د غير مسوول څارونکي په توګه د نورو ترحم ته منتظر ونه اوسو بلکې ځانونه د حق څښتنان او د هيواد د ټولو خلکو په ښو او بدو او غم او ښادۍ کې شريک وبولو.

له دې وروسته بايد توپک او خشونت نه بلکې يوازې قلم او کتاب او معاصره تکنالوژي او پوهه د هزاره ګانو وسله وي. افغانستان او په خاص

دول هزاره ګانو په کافي اندازه تشدد او توپک تجربه کړي او د هغوی تاوانونه يې د اميرعبدالرحمن خان له زمانې تر طالبانو او داعش پورې پوره پوره احساس کړي دي.

هزاره ګان بايد قبيله اي ناندرۍ پرېږدي. تر ټولو شرمېدلې او ناولې پديده دا ده چې سمتي او قبيلوي مسايل لکه دايزنګي او جاغوري او بهسودي او داسې نور مطرح شي چې خلک په قبيلوي تفکر مبتلا کوي او دا هاغه تفکر دی چې موږ يې کړولي يو او غواړو ټول وطن ورنه وژغورو.

د نسلونو او کهولونو او د نن او پرون د رهبرانو تر منځ پيوند يو بل ضرورت دی. د نسلونو تر منځ واټن رامنځ ته کول بې له تاوانه بله پايله نلري. خپل منځي پيوستون يو ضرورت او خپل منځي تفرقه يو خيانت دی. زموږ عزت او اقتدار او اتوريته زموږ په اتحاد او وفاق کې ده او دا د شهيد مزاري د غوښتنو او ارزوګانو په سر سر کې وه چې نن له بده مرغه اکثره مشران او سياسي، فرهنګي ډلې د وحدت په ځای د تفرقې تخم کري.

له بلې خوا هزاره ګان بايد عقدوي چلند ونکړي. عقدوي چلند غوټې نه پرانيزي. عقده سترګې ړوندوي او غوږونه کڼوي او ان انسان له عقلانيته پردی کوي او د ګټې او تاوان د پيژندلو وړتيا ورنه اخلي. له ترخې ماضي بايد يوازې عبرت واخلو او ترې واوړو. په تير تاريخ کې پاتې کېدل موږ هيڅ مقصد ته نه رسوي. که څه هم د امير عبدالرحمن خان په لاس د هزاره ګانو سرکوب بې حده وحشيانه او د قساوت اوبې رحمي له مخې و او داسې چارې يې کړې وې چې نن سبا هغه چلند ته بشري ضد جنايت او نسل کشي وايي او په دې حساب هزاره ګان حق لري چې د دغو جنايتونو بده خاطره يې وځوروي مګر بايد ووايو چې د يوه شخص او يوه رژيم جنايت بايد د يوه قوم جنايت ونه بولو او ټول پښتانه بايد د هزاره ګانو او هزاره ګان د پښتنو غليمان ونه بولو. له بلې خوا د امير عبدالرحمن خان ظلمونه دومره عمومي وو چې له شماله تر جنوبه او له شرقه تر غربه، په ټول وطن کې د ده کله منارونه ودرېدل. شهيد مزاري به په خپل تاريخي تحليل کې ويل: د اميرعبدالرحمن

خان جنايتونو ته بايد له ټولو پښتنو سره تړاو ورنکړو او د پښتنو او هزاره ګانو تر منځ د ميرڅې او دښمني سبب نه شو.

په خلاصه ډول ويلای شو چې هزاره ګان بايد د نن ورځې پوهه او تکنالوژي زده کړي او لازيات فکري او فرهنګي کار وکړي او په توليد او تجارت او اقتصادي فعاليتونو کې د هيواد دننه او بهر فعاله برخه واخلي. هزاره ګان بايد په دې پوه شي چې په نننۍ دنيا کې له علم او تخنيک او شتمنۍ او سرمايې پرته هيڅ مقصد ته نه شو رسېدلای. د ثروت او علم په څنګ کې د مدني او سياسي سوله ييزې مبارزې ادامه او د قانون تابع د شهروند په څېر ژوند کول او مدني چلند کولای شي چې زموږ له خلکو خپل مقصد ته په رسېدو کې او د درانه، معتبر او درناوي وړ شخصيت په لرلو کې مرسته وکړي.

د هغه څه په څنګ کې چې وويل شول، متوازن انکشاف، په عامه اداره کې عادلانه او متوازن مشارکت، د اداري واحدونو تعديل او د هزاره ميشتو سيمو د امنيت تامين هغه څلور لوی لومړيتوبونه دي چې په منسجم او هماهنګ ډول او له حکومت سره په تعامل کې بايد تعقيب شي څو په دې ډول هزاره ميشتې سيمې واقعا د طبيعت له محاصرې راووځي او د خلکو سر و مال خوندي شي او د خلکو شهروندي حقونه او ازادۍ هم تامين شي او د دې په څنګ کې په هيواد کې د سراسري سولې او له تروريزم، تندروي او قومي او مذهبي افراطيت سره په هر اړخيزه مبارزه هم تاکيد وشي.

والسلام

# د شهید استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د شلم کال په مناسبت د جلالتمآب استاد سرور دانش بیانیه[1]

## بسم الله الرحمن الرحیم

تر هر څه اول د شهید رهبر استاد مزاري او د هغه د یارانو د مظلومانه شهادت د شلم کال په مناسبت د افغانستان شریفو خلکو او د هغه عالي مقامه شهید همفکرانو، ملګرو او د عدالت غوښتنې د لارې لارویانو، په تېره بیا د حزب وحدت اسلامي د قدرمن مشر جلالتمآب استاد خلیلي، په خاص ډول د اروابناد استاد د کورنۍ غړیو، د هغه سپین سارې او ویرجنې مور بي بي او د شهید استاد یوازینې پاتې یادګار، د هغه لور زینب مزاري ته تسلیت وایم او د تاسې عدالت غوښتونکو خلکو له پرتمین حضوره چې د شهید استاد د درناوي په غونډه کې راټول شوي یاست، مننه کوم.

دغه راز د هیواد په څه باندې شلو ولایتونو کې په تېره بیا پنجشیرکې د وروستیو طبیعي پېښو د قربانیانو روح ته درود استوم او د دغو پېښو د ټولو قربانیانو او متضررینو له کورنیو سره خواخوږي څرګندوم. زموږ ملت په دې ورځو کې په طبیعي پېښو سربېره، د ترور، غلا او قطاع الطریقي له حوادثو هم کړېږي چې په دې لړ کې زموږ یودیرش کسه مسافر وطنوال په لاره کې راګرځول شوي او اسیران شوي دي.

حکومت تر اوسه پورې په دې اړه د خپلې قانوني دندې په اساس، د

1. د ۱۳۹۳ د کب ۱۵، د شهید مزاري مصلا، د کابل لویدیځ

وطنوالو د سرو مال د امنيت د ساتنې لپاره له هرې ممکنې وسيلې استفاده کړې ده چې په زابل کې زموږ د قهرمانو پوځي او امنيتي ځواکونو عمليات يې يو مثال دی. د ژغورنې په دغو عملياتو کې زموږ د ملي اردو يو زړه ور ځوان محمد ابراهيم اعتمادي شهيد شو. د اسيرو وطنوالو د ژغورنې په لار کې د هيواد د دغه زړه ور بچي د شهادت په مناسبت د افغانستان ټولو خلکو او په تېره بيا د هغه دردېدلي پلار علي حسين اعتمادي او د اعتماديانو ټولې کورنۍ ته او د دايکندي ټولو اوسېدونکو ته تسليت وايم. د شويو اقداماتو په نتيجه کې هيله لرم چې زموږ يوديرش تنه اسير شوي وطنوال د ترهه ګرو او غلو له منګولو راووځي او په لنډ وخت کې وژغورل شي.

قدرمنو وطنوالو، عزتمنو حضارو،

د شهيد استاد مزاري د شهادت له ډيرې غمجنې پيښې شل کاله تيرېږي. شهيد مزاري يو کس او يو شخص نه و چې په مرګ سره دې له منځه لاړ شي. هغه يو سياسي او فکري نهضت و. د شهيد مزاري د نهضت او مقاومت سياسي او فکري کربنه د هغه له شهادت سره ختمه نه شوه، بلکې د وخت په تېريدو سره دغه فکري او سياسي کربنه ورځ په ورځ لا زياته تثبيت کيږي او هره ورځ يې مختلف ګوټونه او اړخونه لا زيات روښانه کيږي.

د شهيد مزاري نهضت د افغانستان د سياست په مباحثه او ډيسکورس کې نوي اصول او معيارونه شامل کړل چې د افغانستان د هغه وخت د شرايطو په رڼا کې بېخي نوي او ابتکاري فکرونه وو. په دې غونډه کې د دغو اصولو او معيارونو د بيان لپاره وخت نشته خو په ډير لنډ ډول به څو محوري اصلونو ته اشاره وکړم:

لومړی محور: د شهيد مزاري منطق د افغانستان منطق و. د ځينو کسانو د تصور برخلاف چې په شعوري يا غير شعوري ډول هڅه کوي چې د استاد مزاري سياسي حرکت د قومي ناسيوناليزم په تنګ فکر کې محدود کړي، شهيد مزاري خپله سياسي مبارزه د يوې خاصې ډلې، خاص قوم، قبيلې يا خاصې ژبې او مذهب د پيروانو لپاره پيل نکړه. دغه مبارزه او دغه نهضت،

زمونږ د ګران هیواد افغانستان د استقلال، ازدي، عزت، سرلوړي او سوکالي لپاره پیل شو. د استاد مزاري له نظره افغانستان د هیواد د ټولو قومونو او مذهبونو شریک کور دی.

شهید مزاري په دې باور و چې د قومونو او ملیتونو ترمنځ دښمني یوه فاجعه ده او هر څوک چې د هیواد د قومونو تر منځ اختلاف پیدا کوي، یو ملي خاین دی. د ملي وحدت ساتنه یو اصل دی خو دغه ملي وحدت باید د ستم، تبعیض، محرومیت او د حذف د سیاست په اساس نه وي او په دې اساس باید نه وي چې په دې هیواد کې هزاره والی جرم او شیعه مذهب یو قاچاقي مذهب وګڼل شی، بلکې دغه ملي وحدت باید د عدالت او برابري پر اساس وي او ټولو قومونه او د ټولو مذهبونو پیروان باید په عادلانه ډول او مساوي حقونو سره په قدرت کې شریک وي او له ټولو امتیازونو او عمومي خدماتو او شهروندي حقونو په برابر ډول استفاده وکړای شي.

دویم محور: د شهید مزاري فکر علمي، حقوقي او سیاسي ژورتیا لرله. هغه خپلو ارزوګانو او مقصدونو ته د رسېدو لپاره یوازې شعار نه ورکاوه او یوازې یې له احساساتو او جذباتو کار نه اخیست، بلکې خپل مقصدونه یې په علمي چوکاټ او د قانون او حقوقو په اساس مطرح کول.

په همدې وجه یې، د افغانستان لپاره د اساسي قانون د طرحې تدوین ته دوه ځله اقدام وکړ. اول ځل د حزت وحدت اسلامي د جوړېدو په لومړي کال دوی مونږ ته هدایت وکړ چې یو شمیرعلما او حقوق پوهان موظف کړو چې د افغانستان د اساسي قانون د لومړۍ مسودې د برابرولو لپاره کار وکړي. وروسته بیا په ۱۳۷۲ کې چې په کابل کې د اسلامي دولت له خوا د اسلامي دولت د اساسي اصولو طرحه برابره شوې وه، د شهید استاد تر نظر لاندې د اساسي قانون یوه بله مسوده برابره شوه. د هغې اصلي نسخه یې ماته را واستوله چې له اصلاح وروسته یې خپره کړو او لا زیات بحث ته وړاندې شي. دغه مسوده مو د استاد مزاري له شهادته څو کاله وروسته په ۱۳۷۴ کې د افغانستان د اساسي قوانینو د ټولګې په ترڅ کې د افغانستان د لیکوالو د

فرهنګي مرکز د انتشاراتو له خوا خپره کړه.

دریم محور: د شهید مزاري منطق د ملي مدرن دولت منطق دی، نه د دودیزو او قبیلوي افکارو پر اساس دولت. د مدرن دولت په منطق کې اساسي ټکی دا دی چې د ملت د حاکمیت اصل او د خلکو د خوښې تمثیل او د سیاسي نظام او د قدرت د ارکانو تعین د ازادو او عمومي انتخاباتو له لارې دی او دغه راز د مدیریت او رهبري په ټولو سطحو او لویو ملي پریکړو کې د هیواد د ټولو قومونو عادلانه ګډون مطرح دی.

شهید مزاري او وحدت ګوند، د نجیب له سقوطه وروسته دوره کې، تر هر څه زیات، د یوازینۍ حل لارې او د ملي توافق او اجماع د رامنځ ته کېدو د یوازینۍ وسیلې په توګه په ټاکنو باندې تاکید کاوه. په همدې خاطر، هغه وخت د وحدت ګوند له خوا د استاد مزاري تر څارنې لاندې د تناسبي نظام او د ګوندونو د اساسي نقش په اساس باندې بهترینه انتخاباتي طرحه جوړه شوه چې موږ یې بشپړ متن په هغو کلونو کې د «میثاق وحدت» په نوم میاشتنۍ کې خپور کړ. هغه طرحه ان زموږ تر اوسني انتخاباتي نظام هم په ځلونو جامع او مترقي وه. هغه څه چې نن ورځ زموږ د اساسي قانون په ۸۳ ماده کې په هره انتخاباتي حوزه کې د وکیلانو شمیر د هغې حوزې د نفوسو په اساس ګڼي، هماغه خبره ده چې شهید استاد مزاريورباندې ټینګار کاوه.

خو اساسي سوال دا دی چې اوس د شهید استاد فکرونه او غوښتنې تر کومه حده عملي شوي دي؟ موږ اوس په کوم دریځ کې یو او د شهید مزاري د عدالت غوښتنې د نهضت اهدافو ته تر کومه حده رسېدلي یو؟ بې له شکه چې نن ورځ که په افغانستان کې د خلکو او ټولنې لپاره کومه مثبته بریا لرو نو هغه د استاد مزاري د عدالت غوښتونکو مبارزو او مقاومت او د هغه او د افغانستان د نورو شهیدانو د مظلومانه شهادت نتیجه ده. د شهید علامه بلخي په تعبیر «این آبر رخ را از همت آن لاله کفنان داریم».

نن ورځ د هیواد د تاریخ په نوي فصل کې او د هیواد د نوي سیاسي نظام په دې دیارلس کلنه موده کې چې هیواد اوس نوی اساسي قانون لري، د شهید

مزاري د نهضت غوښتنې په ځينو برخو کې په نسبي ډول عملي شوي دي. اوس لږ تر لږه د خلکو د برحقه غوښتنو د تحقق لپاره يو مناسب سياسي او حقوقي بستر موجود دی. جعفري مذهب خپل ځای موندلی دی او ټولې ژبې، فرهنګونه او هويتونه په رسميت پيژندل شوي دي. په قدرت او مديريت کې د ټولو قومونو د ګډون زمينه برابره شوې ده او د بيان ازادي او نورې عمومي ازادۍ د ټولو لپاره تامين شوې دي. ټاکنې هم د يو اصل په توګه منل شوی آر ګڼل کيږي.

له بلې خوا، د شهيد مزاري ټولو هدفونو ته تر رسېدو پورې، زياته لاره په مخ کې لرو. په افغانستان کې لا تر اوسه د ملي وحدت، ټولنيز عدالت او د قومونو د برابري ستنې مضبوطې نه دي. لا تر اوسه پورې د محروميت و تبعيض نخښې له يوې خوا او د انحصار او برتري غوښتنې آثار له بلې خوا د هيواد په ګوټ ګوټ کې ليدل کيږي. لا تر اوسه پورې د ښځو د حقونو او مقام په اړه خنډونه شته. لا تر اوسه پورې په محلي اداره کې او د اداري واحدونو د تعديل په برخه کې دقيق او هراړخيز اقدام نه دی شوی.

قدرمنو حاضرينو، د هيواد عدالت غوښتونکو خلکو!

له فرصته په استفادې سره، د شهيد مزاري د لوړو هدفونو د بيان په مقصد لازمه ګڼم چې د ځينو ورځنيو مسايلو په باره کې او د افغانستان د اسلامي جمهوريت د دريځ په اړه څو ټکو ته لنډه اشاره وکړم:

۱ – د جمهور رييس محمداشرف غني په مشرۍ د نوي حکومت د کدري او اداري سياست په اړه بايد ووايم چې دوه بنيادي اصلونه زموږ د پاليسي اساسي محورونه جوړوي: يو شايسته سالاري او بل د قومي توازن رعايت. هم ولسمشر، هم يې مرستيالان او هم اجراييه رييس او مرستيالان يې په دې سياست باندې پوره باور لرو او دغه دوه اصلونه د دولت په ټولو سطحو کې، له کابينې نيولې ترټولو دولتي ادارو پورې بايد تطبيق شي. خو ټول په دې پوهيږو چې دغه مقصد ته رسېدل، هم وخت غواړي او هم يې په مخ کې خنډونه شته. موږ به په ټينګ عزم له دغو ټولو ستونزو سره مبارزه وکړو،

ترڅو شایسته سالاري او د هیواد د ټولو قومونو متوازن او عادلانه مشارکت چې د استاد مزاري او زموږ د خلکو یوه اصلي غوښتنه ده، تامین شي.

٢ - د هیواد د یوه ملي پرابلم په توګه د کوچي او کلیوال د ستونزې د اواري لپاره حکومت خپلو وعدو ته ژمن دی. څه موده مخکې جمهور رییس یو پلاوی واستاوه چې په نتیجه کې یې د ١٣٩٣ د پسرلي د حوادثو په وجه راپیدا شوي مشکلات اوار شول. د دغه مشکل د اساسي او بنیادي حل لپاره به په نژدې راتلونکې کې د ولسمشر په فرمان یوه ملي جرګه رابلل شي چې د هیواد د قومونو او ولایتونو مشران او متنفذان به پکې ګډون وکړي. د دې جرګې د غړیو نومونه برابرشوي او په نژدې راتلونکې کې به اعلان شي. دغه راز د افغانستان د ځمکو مستقلې ادارې ته وظیفه سپارل شوې ده چې د کوچیانو د اسکان په مقصد د لازمو تدابیرو د کولو په اړه خپله بررسي پیل کړي.

٣- له فساد سره مبارزه د دولت یو لومړیتوب دی. د ملي وحدت حکومت په دې اړه د خپل کار له پیله په سرعت او قاطعیت اقدامات کړي دي چې په پنځه میاشتینۍ موده کې یې مشخص او محسوس نتایج هم لرلي دي. د کابل بانک موضوع ته رسیدګي شوې چې په نتیجه کې یې ګڼ دخیل کسان نیول شوي یا تر تعقیب لاندې دي. د پور اخیستونکو څخه د پیسو تر لاسه کول، د ځینو قراردادونو ختمول یا بیا کتنه ورته کول، د ملي تدارکاتو د نوې ادارې جوړول، د پغمان د دوسیې د متجاوزینو د اعدام د حکم چټکه اجرا، د اختطاف د تر ټولو لوی باند د مشر په توګه د رییس خدایداد اعدام، د ځینو والیانو، ولسوالانو او محلي مقاماتو برطرفي، په کابل کې د پولیسو د امنیتي حوزو د آمرانو بدلول او په دې برخه کې د اصلاحاتو تطبیق، د خارجه وزارت د ځینو دیپلماتانو او کارکوونکو، ځینو جنرالانو او د ملي اردو او پولیسو د افسرانو د تقاعد په اړه د اصلاحاتو د پروسې او د قانون د حکم تطبیق، د دولت په ادارو کې د اصلاحاتو د راوستلو او له فساد سره د مبارزې په برخه کې د دولت د ځینو پریکنده اقداماتو مثالونه دي. دغه بهیر به همداسې جاري وي.

۴ – یوه مهمه موضوع چې په دې ورځو کې د رسنیو او ټولو مدني، اجتماعي ډلو ورته ډېر پام کړی دی، د انتخاباتو او ټاکنیزو اصلاحاتو موضوع ده. زموږ په هیواد کې د ټاکنو پروسه په تیرو لسو کلونو کې همیشه له ستونزو او خنډونو سره مخ وه دغه خنډونه به د دې سبب نه شي چې راتلونکي کال پارلماني انتخابات وځنډیږي. د دولت ټینګه اراده ده چې په راتلونکي کال کې د ولسي جرګې او ولسوالیو شوراګانو انتخابات تر سره کړي. له بلې خوا په ټاکنیز سیستم کې د لازمو او ضروري اصلاحاتو د راوستلو لپاره مو په څو تیرو اونیو کې له ټولو مدني نهادونو، د ښځو شبکې، حقوق پوهانو، سیاسي ګوندونو، او ټولو سیاسي جریانونو او شخصیتونو سره مشورې کړې دي. په دې اړه اوس ټولې طرحې او وړاندیزونه چمتو دي او په نژدې راتلونکې کې به د انتخاباتي اصلاحاتو د کمیسیون جوړېدو ته اقدام وشي.

۵ – وروستۍ موضوع په هیواد کې د سولې مساله ده. پایښتي سوله زموږ د هیواد یوه ډېره ضروري او حیاتي مساله ده. د افغانستان خلک نن ورځ تر بل هر څه مخکې او ډیر سولې او امنیت ته اړتیا لري ځکه سوله د هیواد ټولو خلکو ته د لا ښه ژوند لپاره د فکر او ارام زمینه برابروي. جګړه که په هره طریقه او د هیواد په هره سیمه کې وي، تاوانونه یې ټولو خلکو ته رسیږي. د جګړې تاوانونه چې د خلکو ځاني او رواني امنیت ته او د هیواد اقتصادي او فرهنګي بنسټونو ته صدمه رسوي، په یوه سیمه او یو قوم پورې محدود نه پاتېږي. موږ په یوه شریک کور کې ژوند کوو. که د کور په یوه څنډه کې اور وي، لوګی یې د ټولو سترګو ته ورتلای شي.

۶ – زموږ زړه ور او عزتمن ملت، د څو لسیزو له تحمیلي جګړو سره سره، د جګړې له ایرو هر ځل سر اوچت کړی او په میړانه، قناعت از زغم سره یې د جګړې پر خرابیو د سولې، ګډ سوله ییز ژوند پیل کړی او د خشونت، وراني او مړینې په ځای یې د ژوند، سولې، روغې جوړې، ورورۍ او ابادۍ اواز اوچت کړی دی.

همدا وجه ده چې په تیرو کلونو کې د سولې پروسې ته د افغانستان

چارواکو او نړيوالې ټولنې توجه کړې ده. خو متاسفانه بايد ومنو چې له ډيرو هڅو سره سره، له تروريزم او افراطيت سره په مبارزه کې او د سولې او امنيت د بنيادونو په ټينګولو کې مو لويې برياوې نه دي لرلې. البته اوس د جناب جمهور رييس محمداشرف غني د هڅو په برکت د سولې په برخه کې هيلې پيدا شوې دي او ټاکل شوې ده چې بې څه شرطه مستقيم مذاکرات پيل شي.

موږ د دې مثبت تحول هرکلی کوو. بايد ټينګار وکړم چې هيڅ ډول اقدام او هيڅ ډول مذاکره د تاسې شريفو هيوادوالو له اطلاع او رضايته پرته ونه شي. د افغانستان خلکو د کلونو په اوږدو کې ډيرې سختې ګاللې دي او په عين حال کې يې سترې سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي برياوې او کاميابۍ په نصيب شوې دي چې دغه برياوې او کاميابۍ بايد له خطر سره مخ نه شي. د خلکو اساسي حقونه او د هغو په سر کې سياسی حقونه، يعنې انتخابات او د سياسي برخليک په ټاکلو کې د خلکو د ارادې نقش او دغه راز د بيان ازادي او نورې عمومی ازادۍ په هيڅ وجه د معاملې وړ نه دي. افغانستان به هيڅ وخت او هيڅکله تکې تورې ماضي ته ستون نه شي. موږ د داسې سولې پلويان يو چې د هيواد ټول وګړي، قومونه او سياسی ډلې د يو بل حقونو ته درناوی ولري، سوله ييز ژوند ولري او ټول د شهروندي له برابرو حقونو برخور وي او عزت او انساني کرامت يې خوندي وي.

په پای کې يو ځل بيا د شهيد مزاري د ستر نهضت له هدفونو او ارمانونو سره د ميثاق د نوي کولو په ترڅ کې، اعلام کوو چې موږ ټول د استاد مزاري د عدالت غوښتنې پر لاره هماغسې قاطع او ثابت روان يو او له هر ډول بې عدالتي، قانون ماتوونې او انحصار غوښتنې سره، چې که د هر چا له خوا وي، مبارزه کوو. موږ ستاسې شريفو خلکو په ملاتړ چې د شهيد مزاري د لارې لارويان ياست، په هغه لور روان يو چې د ستر رهبر لوړ هدفونه،

عالي فکرونه او ارمانونه ټکي په ټکي او ګام په ګام عملي کيږي. څو په دې ډول زموږ هيواد د خپلو ټولو اوسيدونکو اباد کور شي.

د عزت او عدالت د شهيدانو په سپيڅلو روحونو دې درود وي
د ستر مزاري د عدالت غوښتنې لار دې تلپاتې وي
السلام عليکم و رحمت الله و برکاته

## د ملي وحدت شهيد او د فدراليزم د فکر طرح

## د جمهوري رياست له دويم مرستيال جلالتمآب استاد سرور دانش سره د ملي وحدت شهيد استاد عبدالعلي مزاري د درويشتم تلين په مناسبت ځانګړې مرکه

پوښتنه: جناب استاد مننه چې مرکه مو راسره ومنله. غواړم د شهيد استاد له ډېر مهم فکر يعنې په افغانستان کې د فدراليزم د طرحې په اړه پوښتنه وکړم. دغه فکر په وحدت ګوند کې څنګه مطرح شو او شهيد مزاري په هغه وخت کې ولې د يوه مکانيزم په توګه مطرح کړ؟

ځواب: د ډېرې مهمې موضوع پوښتنه مو وکړه. بهتره ده چې ستاسې په ځواب کې د موضوع تاريخي بهير او د هغې مختلف اړخونه بيان کړم. په معاصر افغانستان کې د فدرال نظام د طرحې نوښتګر بې له شکه چې پخپله د ملي وحدت شهيد استاد مزاري دی. دغه طرحه د ۱۳۶۸ کال په سرطان کې په باميان کې د وحدت اسلامي ګوند له تاسيس سره همزمانه ده. زما په نظر د دغه سيستم د وړانديز اصلي انګيزه هماغه انګيزه ده چې په هغو کلونو کې د حزب وحدت د تاسيس سبب شوه او د افغانستان د شيعه ګانو او هزاره ګانو لس ډلې او ګوندونه يکې راټول شول. د توضيح لپاره لازمه ګڼم چې د هغه وخت د سياسي وضعيت يو عمومي او کلي تصوير وړاندې کړم. هزاره ګان که څه هم له اجتماعي نظره د افغانستان د خلکو يوه لويه برخه جوړوي او په

هغو کلونو کې له سیاسي نظره ډېر فعال وو او په لسګونو سیاسي او نظامي سازمانونه یې لرل او د افغانستان په جهاد کې یې ډېر فعال او مثبت نقش درلود، خو په عین حال کې، په هغو کلونو کې اووه ګونو تنظیمونو چې په پاکستان کې دیره وو، د هیواد د ټولو تحولاتو په اړه د فیصله کولو حق یوازې خپل ځان ته ورکاوه. لویدیځو او اسلامي هیوادونو هم چې د مجاهدینو ملګري وو، د هزاره وو سیاسي ډلو ته توجه نه کوله. د اووه ګونو تنظیمونو اتحادیه چې په پاکستان کې دېره وه، دې ته هم تیاره نه وه چې اته ګونی ایتلاف چې په تهران کې دیره و، د خبرو او مشورو لپاره خپلو غونډو ته دعوت کړي. له بلې خوا په هغه وخت کې شوروي نیواکګر پوځ ماتې خوړلې او له افغانستانه وتلی و. دغه حالت د دې سبب شوی و چې د افغانستان تحولات چټک شي. اکثرو دا نظر درلود چې د ډاکتر نجیب حکومت به په لنډ وخت کې ړنګ شي او په کابل کې به د مجاهدینو په لاس نوی حکومت قدرت ته ورسېږي.

په دغسې شرایطو کې د هزاره وو ځینې مخلص او خواخوږي قوتونه چې په سر کې یې استاد مزاري وو، دې نتیجې ته ورسېدل چې که شیعه ډلې، د هغوی ځینو سیاسي او فکري تفاوتونو ته له پامه پرته، ټولې، متحدې نه شي او یو منسجم، واحد او پیاوړی سیاسي قدرت ایجاد نکړي نو هیڅ لوری به پام ورته ونکړي. په دې اساس، حزب وحدت اسلامي تاسیس شو او په سیاسي ډګر کې د قدرت د یوه محور په توګه را څرګند شو. خو په عین حال کې، کله چې د ۱۳۷۱ د ثور په اتمه نېټه کابل د مجاهدینو لاس ته ورغی او د مجاهدینو حکومت جوړ شو، سره له دې چې حزب وحدت ان په کابل کې ډېر قدرت درلود او استاد مزاري پخپله له بامیان څخه کابل ته راغلی و او وحدت ګوند یې رهبري کاوه، بیا هم، په هغو کلونو کې اسلامي دولت د وحدت ګوند غوښتنو ته، چې د افغانستان د کابو ټولو شیعه وو او هزاره وو ممثل و، توجه ونکړه او بلکې د کابل پر لویدیځ او د وحدت ګوند په مرکزونو باندې تباه کوونکې جګړې تحمیل شوې چې د سر و مال ډېر تاوانونه یې واړول.

وحدت ګوند په ۱۳۶۸ کې د خپل تاسیس له وخته تر ۱۳۷۱ پورې، د

هغه وضعیت په اړه چې لنډه اشاره مې ورته وکړه، ډیر روښانه او په عین حال کې معقول او منطقي دریځ درلود او د وحدت ګوند د مشر په توګه شهید مزاري دغه دریځ په خپلو مرکو، ویناوو او خبرو اترو کې بیا بیا بیان کړی و. څرنګه چې زه هم په هغو کلونو کې له هیواده بهر د حزب د نشراتو عمومي مسوول وم او د ګوند اساسي دریځونه او د استاد مزاري نظرونه مې چې په ګڼو اعلامیو او بیانیو کې بیان شوي وو، خپرول، نو دا ویلای شم چې په هغه وخت کې زموږ اساسي او لویې غوښتنې په څو عمده محورونو کې خلاصه کېدلې:

١ ـــ د افغانستان د ټولو ګوندونو او قومونو د استازو په موافقه او مشارکت د اساسي قانون تدوین او د اساسي قانون پر اساس د سیاسي نظام تاسیس؛

٢ ـــ د حنفي مذهب په څنګ کې په اساسي قانون کې د جعفري مذهب رسمیت؛

٣- د اجتماعي عدالت تامین، د ټولو قومونو د قومي او فرهنګي هویت منل او په دولت یعنې کابینه، پارلمان، قضاء، او نورو ملکي او نظامي نهادونو کې د خپل نفوس په تناسب د ټولو قومونو په تیره بیا د پښتنو، تاجیکو، هزاره وو او اوزبیکو د څلورو لویو قومونو عادلانه مشارکت؛

۴ ـــ د انتخاباتو کول او د خلکو رایو ته د مرجعې له لارې د سیاسي نظام او واکمن ټاکل؛

۵ ـــ د خاصو جغرافیایي معیارونو او د نفوسو د شمیر او فرهنګي، اجتماعي شرایطو په اساس د ولایتونو او ولسوالیو په شمول د اداري واحدونو تعدیل؛

۶ ـــ د هیواد په مدیریت او ټاکنو کې د ښځو د حقونو تامین او په ټولو سیاسي، روزنیزو، کلتوري او ټولنیزو ډګرونو کې د هغوی د شتون تامین. په دې سربېره ځینې نورې غوښتنې هم وې خو هغه څه چې د نورو سیاسي ډلو او د مجاهدینو د دولت په رابطه مطرح کېدل، همدا شپږ موردونه وو چې هم اختلاف ورسره کیده او هم زموږ د غوښتنو اصلي ټکي وو چې په مختلفو

مناسبتونو کې مو مطرح کول.

خو متاسفانه دغه یوه غوښتنه هم چې هیڅ یوه غیرمعقوله او غیرمنطقي نه وه او ټولو ملي او تر قوم پراخ ماهیت درلود، نورو لوریو ونه مانه او ان په یو ډول تحقیر آمیز نظر یې ورته کتل او د کرکې او سپکاوي چلند ورسره کېده او ان کله نا کله وویل شول چې په دې هیواد کې د هزاره ګانو غرض نشته او هیڅ ډول حق پکې نلري او د پخوا غوندې دې رعیت شي او په لا بدتر تعبیر په خپل جوالیتوب دې قناعت کوي.

دغه وضعیت و چې د شهید مزاري په ذهن کې دا فکر پیدا شو چې په داسې حالت کې خو نه له چا سره د جګړې وس لرو او نه جګړه حل لاره ګڼو نو بهتره ده چې په افغانستان کې یو داسې سیاسي او اداري نظام جوړ شي چې ټول قومونه پکې د خپل حضور په سیمه کې یو ډول خپل اختیاري ولري، یعنې فدرال نظام دې جوړشي چې هر څوک په تېره بیا هزاره ګان او شیعه ګان له جنګ او خشونت او شخړې پرته په خپل ایالت کې د خپل مذهب مطابق ژوند وکړي او خپل ځایي حکومت ولري او د فدرال اساسي قانون مطابق له عمومي ازادیو برخمن واوسي. څرنګه چې په یوه فدرال نظام کې د ملي دولت او عام ملي هویت د ساتلو په څنګ کې، کوچیني قومی، ژبني، فرهنګي او مذهبي هویتونه هر یو په خپل ایالت کې یو ډول کورواکي لري او ان کولای شي چې خپل ایالتي حکومت ولري، نو د فدرال نظام طرح په دغسې حالت کې چې د هزاره ګانو حقوق د مقابلو لوریو له خوا نه منل کېدل، د مجبوریت په اساس، د کورنیو شخړو او جګړو د مخنیوي د یوې بهترینې حللارې په توګه وړاندې شوه. په دې اړه د ځینو منفي تبلیغاتو برعکس، وحدت ګوند او شهید مزاري د تجزیې یا له نورو قومونو سره د جوړ نه راتلو هیڅ انګیزه نلرله.

پوښتنه: دغه طرحه په دقیق ډول کله او څه وخت مطرح شوه او د فدرال اسلامي دولت د اساسي قانون طرح چا یا کومو کسانو برابره کړه؟

ځواب: لکه څنګه چې مې مخکې اشاره وکړه دغه طرحه د وحدت ګوند

له تاسیس سره هممهاله مطرح شوه او که لا دقیق ووایم نو کله چې د ۱۳۶۸ کال د حوت په وروستیو کې چې استاد مزاري د وحدت ګوند د یوه عالي رتبه پلاوي په مشري تهران ته راغی، په دې طرح باندې کار پیل شو. د ۱۳۶۹ کال په پسرلي کې چې استاد مزاري، شهید صادقي نیلي او د پلاوي نورغړي په ایران کې وو او د پخوانو ګوندونو او اته ګونې ایتلاف د شورا په ځای یې د وحدت ګوند دفترونه ایجادول، په یوه جلسه کې د فدرال بحث مطرح شو. دوی له ما وپوښتل چې ایا داسې څوک یا کسان پیژنې چې د اساسي قانون د طرحې او خصوصا د فدرال نظام په اړه معلومات ولري او له هغوی سره په دې اړه یوه لومړنۍ طرحه برابره کړې؟ ما په هغه شېبه کې څوک خاص کس معرفي نکړ، خو په همدې وخت کې دوی په څو پوهنتوني څانګو لکه حقوق او دولتي مدیریت کې د لوړو زده کړو د یوې موسسې د تاسیس موضوع هم مطرح کړه او تاکید یې وکړ چې د اړتیا په اساس باید د علماوو او طلابو یوه ډله باید په دغو څو څانګو کې زده کړه وکړي. په دې اړه د علي محقق نسب واعظ په نوم یو چا چې مخکې یې قضایي حقوق لوستي وو او یو څه قضایي تجربه یې هم لرله، چمتوالی وښود چې په دواړو موضوعاتو باندې به کار وکړي. ښاغلی محقق نسب هڅاند او زیارکښ بنیادم و چې اوس له بده مرغه په هیواد کې نه اوسي او په یوه اروپایي هیواد کې دېره دی. محقق نسب د شهید بلخي د لوړو زده کړو کمپلکس لومړنۍ اساسنامه او طرح ولیکله چې په قلم لیکلې مسوده یې تر اوسه پورې له ما سره شته. دغه کمپلکس چې لږ وروسته په همدغه ۱۳۶۹ کال کې جوړ شو او یوه دوره شاګردان یې په بریالیتوب سره وروزل، د شهید مزاري په نوښتونو او بریاوو کې راځي. په هغو وختونو کې د داسې موسسې ایجاد، هغه هم د مهاجرت په دنیا کې او په تش لاس او بې حد اقل تجربې، یک ناشونی کار ښکارېده او کله چې موږ د حقوقو له ځینو ایراني استادانو سره دا موضوع مطرح کړه او د هغوی مرسته او لارښودنه مو وغوښته نو ټولو وخندل چې د لوړو زده کړو د یوې موسسې جوړول خو اسانه چاره نه ده. خو دا کار واقعا وشو او ما، هم د دې موسسې

په فعالولو کې برخه لرله او هم مې په ایران کې د وحدت ګوند د نشراتي مدیریت او فرهنګي مسولیت په ځنګ کې، په دې تعلیمي موسسه کې حقوق ولوستل چې زما په علمي او فرهنګي کار کې د ډېر خیر او برکت سبب شو او زما فکري او علمي برخلیک یې په بل لوري سم کړ چې تر ننه پورې مې په دغه ساحه کې کار ته په ډېره مینه او شوق ادامه ورکړې ده او د استاد مزاري پاک روح ته دعا کوم.

ښاغلی محقق نسب د دغه کمپلکس د مدیریت په ځنګ کې د یوه فدرال اساسي قانون په اړه مطالعه هم پیل کړه او زه د استاد مزاري له خوا په دواړو موردونو یعنې هم کمپلکس او هم اساسي قانون کې د اسانتیاوو په برابرولو او د هماهنګي په ایجادولو بوخت وم او دا دنده هم راسپارل شوې وه چې په دواړو موردونو کې د نورو کسانو مرسته ترلاسه کړم. یو هغه څوک چې له موږ سره یې یو څه همکاري وکړه، شهید سید محمد سجادی و چې هغه وخت یې په تهران پوهنتون کې د حقوقو زده کړه کوله. په هر حال، ښاغلي محقق نسب خپل کار تر سره کړ او «د افغانستان د فدرال اسلامي جمهوري دولت د اساسي قانون مسودې» په نوم یوه طرحه یې په دوه سوه اویا مادو کې چمتو کړه. په دغه طرحه کې پنځه خپل اختیاره ایالتونه اټکل شوي وو: د هزاره جات مرکزي ایالت چې کرمان به یې مرکز و. د هیواد لویدیځ ایالت چې هرات به یې مرکز و. د شمال ایالت مزارشریف په مرکزیت، د جنوب ایالت د کندهار په مرکزیت او د کابل ایالت د کابل په مرکزیت مطرح شوي وو. دغه طرحه په خپل ځای کې ډېره مهمه او یو لومړنی ګام و خو تر ډېره حده د یوه کس کار و. دغه طرحه استاد مزاري ته هم وسپارل شوه او نوره تعقیب نه شوه. استاد مزاري څه موده پس بامیان ته لاړ او نور تحولات پیښ شول. وروسته بیا د ۱۳۷۲ په دوبي کې ښاغلی محقق نسب د فدرال اساسي قانون مسوده په هماغه نوم چې ذکر یې وشو، په قم کې د کتاب په بڼه خپره کړه.

پوښتنه: ایا د مجاهدینو له بري وروسته هم په فدرال طرحه کار وشو که نه؟ بله دا چې د دې طرحې لپاره تاسې پخپله کوم کارونه کړي دي؟

ځواب: هو، په تیره بیا د مجاهدینو له بري او په کابل کې د اسلامي دولت له تشکیل څخه وروسته په دې اړه بحث او مشورې په لا جدي بڼه دوام وموند،ځکه چې په کابل کې د جګړو په ډیرېدو سره فدرال نظام ته اړتیا لا زیاته احساسېده. مور د وحدت اونیزې په ۶۴ ګڼه کې (د ۱۳۷۱ کال د تلې د دویمې نیټه ګڼه)د شهید مزاري یوه مرکه خپره کړه چې یوه ایراني خبریال ورسره کړې وه. په دې مرکه کې استاد مزاري وویل: «د ثبات او د مرکزیت د ایجاد یوازینۍ لاره د فدرالي نظام جوړول دي او مور د افغانستان د ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا لپاره فدرال نظام یوازینۍ حل لاره ګڼو. د فدرالیزم یو اصل دا دی چې د مرکزي حاکمیت په څنګ کې ځو مختلف حاکمیتونه هم کار کوي چې دغه مورد له اوسني افغانستان سره سمون خوري. د افغانستان په مختلفو ولایتونو کې مختلف حاکمیتونه موجود دي چې باید قانع شي او د دوی د قناعت لاره یوازې فدرال سیستم دی.»

دلته وینو چې شهید مزاري په دې خبرو کې فدرالیزم نه یوازې د تفرقې او تجزیې سبب نه ګڼي، بلکې د مرکزي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي حاکمیت د ساتلو سبب یې هم بولي. او واقعیت هم همدا دی. که مختلفې ډلې ان د فدرالیزم په چوکاټ کې خپل وحدت ونه ساتلی شي نو حتما تجزیې ته مخه کوي، یعنې کله چې د توافق لپاره بله هیڅ لاره نه وي، د یوه هیواد د تجزیې د مخنیوي یوازینۍ چاره د فدرالیزم د سیستم منل دي. دغه راز په هغو کلونو کې د دوی په نورو مرکو او ویناوو کې دغه موضوع په تفصیل سره بیان شوې ده. د هغوی د ویناوو ټولګه مو د ۱۳۷۴ کال په ژمي کې د «احیای هویت» په نوم د افغانستان د لیکوالو د فرهنګي مرکز له خوا چاپ کړه چې تر اوسه څو ځله چاپ شوې ده. دغه راز د دوی مرکې مو د ښاغلي غفاري په زیار د «فریاد عدالت» په نوم کتاب کې چاپ کړې. د دغه کتاب دریم چاپ «بنیاد اندیشه» خپور کړی دی.

لا مهمه دا چې د استاد مزاري په هدایت او د دوی ترنظر لاندې په ۱۳۷۲ کې په کابل کې «د افغانستان د فدرال جمهوري اسلامي نظام اساسی

قانون» مسوده له نوي سره او له هغه څه ډېره متفاوته چې ښاغلي محقق نسب وربانديې کار کړی و، برابره شوه. دغه مسوده د استاد رباني د دولت د اساسي قانون له طرحې سره چې «د افغانستان نوي اساسي اصول» په نوم په ۱۳۷۲ کې برابره شوې وه، په یوه وخت تدوین شوه خو نهایی تصویب ته ونه رسېده. د وحدت ګوند د فدرال اساسي قانون طرحه ۱۶ څپرکي، ۱۹۳ مادې او په نورو اتیا مادو کې د فدرال اساسي قانون یوه ضمیمه لري. په دې طرحه کې افغانستان په شپږ ایالتونو ویشل شوی دی: غرجستان ایالت چې مرکز یې بامیان دی، بلخ ایالت چې مرکز یې مزار شریف دی، هرات ایالت چې مرکز یې هرات دی، کندهار ایالت چې مرکز یې کندهار دی، ننګرهار ایالت چې مرکز یې جلال اباد دی او کابل ایالت چې مرکز یې کابل دی. د قانون دغه طرحه چې په دقت ولولئ، وبه ګورئ چې هم د شکل او هم د محتوا له نظره ډېر کار وربانديې شوی دی. د هغې له متنه ښکاره ده چې د ادبیاتو او د موادو د انتخاب له نظره د افغانستان له ټولو مخکینو اساسي قوانینو پکې استفاده شوې ده. په دغه وړاندیزي قانون باندې په کابل کې د صاحب نظرانو او متخصصانو یوې ډلې کار کړی و. شهید استاد دغه طرحه د هماغه ۱۳۷۲ کال په ژمي کې ماته چې په تهران کې وم، له دې پیغام سره راواستوله چې نور کار هم وربانديې وکړئ او د علماوو، د پوهنتون د استادانو، فرهنګیانو او حقوقپوهانو نظرات هم وربانديې واخلئ چې لا پوخ شي او بیا یې کابل ته راواستوئ. دا د دغه قانون یوازینی نسخه وه چې خارج ته واستول شوه او خوندي پاتې شوه. ما په هیواد کې دننه د دې مسودې بله نسخه نه ده لیدلې. ما په هغو کلونو کې په ایران کې په دې اړه پخپله هم لا دقیق مطالعات وکړل او هم مې له کابل څخه را استول شوې مسوده له نورو پوهانو او متخصصانو سره شریکه کړه. خو له بده بخته په کابل کې سیاسي او پوځي حالات په داسې لور روان وو چې دغه کار ته یې هیڅ فرصت نه ورکاوه. په تېره بیا په ۱۳۷۳ کې په کابل کې په وحدت ګوند باندې د جګړې فشارونه دومره زیات او درانه وو چې نه په قانون باندې د کار کولو وخت و او نه له نورو لوریو

سره د هغه د مسودې د شریکولو فرصت. که څه هم پخپله استاد مزاري په ۱۳۷۲ او ۱۳۷۳ کلونو کې په خپلو ټولو مرکو او ویناوو کې بیا بیا د فدرال سیستم او د هغه د ښېګړو یادونه وکړه خو حقیقت دا و چې ورځ په ورځ د انحصار غوښتنې غوټې ته نورې غوټې ورلوېدې او وسله وال مخالفتونه زیاتېدل او د ټولو سترګې ړندې اوغوږونه کاڼه شوي وو. هیچا هم د استاد مزاري معقولو طرحو ته پام نه کاوه. هر چا د جګړې په اور تېل اچول، تر څو بالاخره هغه څه وشول چې باید نه وای شوي او د طالبانو تباه کوونکی سیلاب راشېوه شو.

که څه هم په ټولنه کې په عامه کچه د فدرالیزم د طرحې چندان هرکلی نه کېده او بلکې په منفی سترګه ورته کېدل خو موږ په هغو کلونو کې د فدرالیزم طرح د وحدت ګوند او د وحدت ګوند په پلوي خپروونو کې په پراخه اندازه مطرح کوله، په تېره بیا د «وحدت» په اونیزه کې او هغه مقالو او نشریاتو کې چې «د افغانستان د لیکوالو فرهنګي مرکز» چاپول، د فدرالیزم موضوع ډېره یادېدله. موږ دغه فرهنګي مرکز د ۱۳۷۲ کال د چنګاښ په لومړۍ نېټه په قم کې تاسیس کړی و او د دغه مرکز د خپرونو د لړۍ په لومړۍ کړۍ کې د «نګاهی به مساله قانون اساسی افغانستان» په نوم یوه کتابګوټي کې مو چې د ۱۳۷۲ په تله کې خپور شو، د اساسي قانون په اړه مختلف مسایل مطرح کړي او په فدرال نظام مو تاکید کړی و. دغه کتابګوټي ما لیکلی و.

دغه راز «د افغانستان د فدرال جموریت اساسي قانون» متن چې یوازینۍ نسخه یې له هیواده بهر له ما سره وه، د استاد مزاري له شهادته وروسته د ۱۳۷۴ په اوړي کې د افغانستان له نورو اساسي قانونونو سره یو ځای د «متن کامل قوانین اساسی افغانستان از ۱۳۰۱ تا ۱۳۷۲» په نوم د افغانستان د فرهنګي مرکز له لارې خپره کړه. په دې کتاب باندې ما یوه مفصله سریزه کښلې وه. موږ د استاد رباني د دولت وړاندیز شوی اساسي قانون چې «نوي اساسي اصول» نومېږي، هم په دغه کتاب کې چاپ کړي دي. دغه دوې طرحې تر هغه وخته پورې بل هیڅ ځای نه وې خپرې شوې. دغه راز د

دغه اساسي قانون بشپړ متن مې د (سراج) مجلې په دريمه او څلورمه ګڼه کې (د ۱۳۷۴ کال د پسرلي او اوړي ګڼه) چې دا مجله هم د ليکوالو فرهنګي مرکز له خوا خپرېده، چاپ کړ. ما او فرهنګي همکارانو او دوستانو مې په نورو خپروونو او نورو مختلفو مناسبتونو کې هم دغه موضوع په تفصيل سره مطرح کړې ده.

پوښتنه: ايا دغه طرحه له طالبانو را وروسته وخت کې، په تېره بيا د اوسني اساسي قانون د تدوين او تصويب په وخت کې هم تعقيب شوه؟ او که نه شوه ولې؟

ځواب: لکه څنګه چې اشاره وشوه، په کابل کې د مجاهدينو د دولت په زمانه کې نه يوازې د فدرال طرحې هرکلی ونه شو، بلکې هم دولت او هم په دولت کې شريکو ګوندونو پر نوموړې طرحې سختې نيوکې کولې او فدراليزم يې د هيواد د تجزيې سبب ګاڼه او د وحدت ګوند په منځ کې هم ځينې کړۍ وې چې د فدراليزم له طرحې سره يې يا مخالفت کاوه يا يې له جدي مخالفته ډډه کوله او يا يې لږ تر لږه عملي نه بلله. له وحدت ګونده پرته نورو شيعه ډلو هم د دې طرحې پلويتوب نه کاوه. په سياسي ګوندونو کې په هماغه کلونو کې يوازې د جنرال دوستم په مشرۍ جنبش ملي اسلامي ګوند په يوه اعلاميه کې چې «اهداف سياسی جنبش ملی اسلامی افغانستان» نومېده، له دې طرحې ملاتړ وکړ. جنبش ګوند په هغو کلونو کې واقعا د شهيد مزاري د فکر تر اثر لاندې و او د وحدت ګوند کلک ملګری و. خو د طالبانو په وخت کې چې د جګړو او خشونتونو زور و، په رسمي ډول د دې طرحې د وړاندې کولو هيڅ زمينه موجوده نه وه. که څه هم تر هغو چې د طالبانو رژيم ړنګ او د بن کنفرانس دايرشو، موږ دغه موضوع په پرله پسې توګه مطرح کوله. د بن په کنفرانس کې چې د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې جوړ شو، د فدراليزم خبره هيچا مطرح نکړه او تر ډيره حده د ټولو قومونو استازو او هغو سياسي ګوندونو چې د بن په غونډه کې يې برخه لرله، د يوې موقتې او انتقالي ادارې په جوړولو توافق وکړ. په موافقه کې تصريح شوه چې انتقالي

دولت باید د افغانستان نوی اساسي قانون تدوین او تصویب کړي.

د نوي اساسي قانون د تدوین په بهیرکې، چې زه یې د تسوید او تدقیق د دواړو کمیسیونونو او بیا د اساسي قانون د لویې جرګې غړی وم، د فدرال موضوع ته خاصه توجه ونه شوه. ما د تسوید کمیسیون د کار په لومړیو ورځو کې د وحدت ګوند د طرحې په شمول چې «قانون اساسی جمهوری فدرال اسلامی افغانستان» نومېده، د افغانستان ټول اساسي قوانین د تسوید د کمیسیون ټولو غړیو ته ورکړل، ځکه چې د تسوید په وخت کې چې ما د تسوید په کمیټه کې فعاله برخه لرله، ټول پخواني قوانین مطالعه کېدل او استفاده ورځخه کېده. په هغو مشورو او نظر پوښتنو کې چې زموږ ټولو له خوا له ګوندونو، ډلو او سیاسي، فرهنګي شخصیتونو سره وشوې، د فدرال موضوع هیچا په جدي ډول مطرح نکړه. د وحدت ګوند او د هغه د مشرتابه رسمي نظر هم دا و چې که زموږ د خلکو غوښتنو ته چې تر ډیره حده یې مخکې یادونه وشوه، په نوي اساسي قانون کې ځواب وویل شي نو د فدرال د بحث یادولو ته اړتیا نشته. د جمیعت اسلامي ګوند او زموږ تاجیک قوم هم په هیڅ وجه د دې موضوع د طرح کولو پلویان نه وو. دغه راز نور ګوندونه او سیاسي ډلې او دولتي او غیر دولتي شخصیتونه د فدرالیزم د طرح کولو پلویان نه وو. په هغه وخت کې یوازې د هیواد له شماله یو طومار راغی چې یو شمیر کسانو لاسلیک کړی او فدرال نظام یې غوښتی و. ما دا وړاندیز په کمیسیون کې مطرح کړ او د دغه طومار ټول متن مې په یوه کتاب کې چې په ۱۳۸۲ کال کې په کابل کې د «درآمدی بر: وضع و تصویب قانون اساسی جدید افغانستان» په نوم خپور شو، را اخیستی دی. ما په دغه کتاب کې چې د تسوید په کمیسیون کې د فعالیت په وخت مې لیکلی او د اساسي قانون د لومړني متن د تسوید جریان مې پکې بیان کړی دی، ویلي وو چې د افغانستان لپاره د فدرالي نظام طرحه د عدالت د تامین او د ټولو قومونو د حقوقو د تامین لپاره یوه بهترینه طرحه ده خو په دوو شرطونو: اول دا چې د دې طرحې د تطبیق زمینه او شرایط په دقیق ډول وسنجول شي او بل دا چې د ټولو قومونو

او سیاسي ګوندونو استازي يې په پامور اکثریت ملاتړ وکړي، ځکه داسې موضوع چې د هیواد د سیاسي او اداري نظام له ډول او اساسي حقونو سره تعلق لري، باید په اساسي قانون کې توافق وربانديږ وشي او تسجیل شي. کنه نو نه شو کولای چې په يو اړخیز ډول او یا يې د زور او خشونت له لارې عملي کړو. له بلې خوا، هزاره ولس او د هغوی اړوندو سیاسي ګوندونو هم په ۱۳۸۲ کال کې هغه ساختار چې په اوسني اساسي قانون کې راغلی، په خپله ګټه ګاڼه، هم له مذهبي نظره او د شیعه مذهب د رسمي کېدو له اړخه، هم له قومي نظره او په دولت او سیاسي فیصلو کې د یوه عمده قوم په توګه د هزاره ګانو د مطرح کیدو له اړخه، او هم د سیاسي نظام او هغه فرهنګي او اجتماعي ساختار له جهته چې په دغه اساسي قانون کې مطرح شوی دی. ځکه نو هزاره ګانو او شیعه یانو په ۱۳۸۲ کال کې د رایو په اتفاق د اوسني اساسي قانون ملاتړ وکړ.

په عمومي ډول باید ووايو چې لکه څنګه چې د «افغانستان در پنج قرن اخیر» په کتاب کې محمد صدیق فرهنګ کښلي دی چې د ۱۳۴۳ د اساسي قانون د تسوید په وخت کې له دې موضوع سره سطحي چلند وشو، د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون د تصويب په وخت هم همدا بې پامي ولیدل شوه او ان ځینو د فدرال طرحه په صراحت سره د ملي منافعو خلاف او بلکې د هیواد د تجزیې عامل ګڼله. د اساسي قانون د لویې جرګې په جریان کې، په دوه ویشت ورځو کې، د فدرالیزم لپاره ان يو اواز اوچت نه شو او په همدې خاطر د اساسي قانون د تصويب په کمیسیون کې د فدرال، بسیط متمرکز او بسیط غیرمتمرکز درې نظامونو په منځ کې ما پر غیر متمرکز باندې تاکید کاوه او فعلا هم د اساسي قانون په اتم فصل کې، د هیواد اداري نظام، په داسې نظام تنظیم شوی چې غیر متمرکزه روحیه لري. خو په عمل کې په دغو کلونو کې د ولایتي شوراګانو له جوړولو پرته چې هغه هم له خنډونو سره مخ دي، د تمرکز د کمولو هیڅ ډول بندوبست نه دی شوی. ما د افغانستان د اداري نظام په اړه د خپلو نظریاتو تفصیل (د افغانستان د اساسی حقوقو او د افغانستان د

اداري حقوقو) په کتاب کې راوړی دی.

پوښتنه: دغه موضوع په افغانستان کې ولې یو ځل بیا د ځینو کړیو د پام وړ ګرځېدلې ده؟ دې موضوع ته چې څه باندې دوې لسیزې پخوا وحدت ګوند مطرح کړې وه، ستاسې اوس په څه سترګه ګورئ؟

ځواب: نن ورځ، تر هغه ځایه چې زه کله کله اورم، په ولسي جرګه کې د بدخشان د خلکو محترم وکیل، ښاغلی لطیف پدرام دا موضوع یادوي او دقیقا هماغه دلایل یادوي چې موږ اته ویشت کاله پخوا یادول. خو هغه وخت زموږ فریاد هیچا وا نهورېد. کاشکې ده او د ده همفکرانو هماغه وخت یا په ۱۳۸۳ کې د دې مفکورې ملاتړ کړی وای. مخکې مې وویل چې د ۱۳۸۳ کال د اساسي قانون د تصویب په وخت د فدرالیزم په پلویتوب هیڅ موثر اواز اوچت نه شو.

زه په شخصي لحاظ دې موضوع ته په هماغه سترګه ګورم چې څو ویشت کاله پخوا مې ورته کتل یعني فدرالیزم په حقوقي او اداري لحاظ د نړۍ یو تر ټولو کامیاب نظام دی. خو دا چې نن ورځ په افغانستان کې د دې طرحې په اړه، په تېره بیا د دې طرحې د ملاتړو، مثلا وحدت ګوند او جنبش ګوند او یا د اوزبیکو، هزاره وو او نورو له خوا اواز نه اوچتېږي، شاید وجه یې دا وي چې ټولو د جګړو او خشونتونو ترخې تجربې یادې دي او ځکه خو د ۱۳۸۳ کال د اساسي قانون په نسبت چې د ټولو د توافق وړ یو ډول سیاسی نظام یې جوړ کړ، رضایت احساسوي،

په دې معنا چې دغه اساسي قانون لږ تر لږه د ټولو قومي او اجتماعي ډلو او ټولنو حقونه په رسمیت پیژندلي دي او که د قانون په تطبیق کې ستونزې دي، دا بېله خبره ده. دغه راز که په قانون کې په ځینو برخو کې نیمګړتیاوې وي نو یوه ورځ باید په قانوني طریقو او د اساسي قانون د لویې جرګې په لارې تعدیل شي.

هغه څه ته په پام سره چې وویل شول، زه فکر کوم چې که د وحدت ګوند اصلي غوښتنو ته چې مخکې د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې بیان شوې، توجه

وکړو نو ويلای شو چې د هزاره او شيعه ټولنې اکثره غوښتنې د اوسني نظام او اوسني اساسي قانون په سيوري کې پوره شوې دي. زما په نظر که شهيد مزاري هم ژوندی وای، د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون به يې په پوره رضايت مانه او د دغه قانون د برياوو ملاتړ به يې کاوه. د شهيد مزاري د سياسي کرښې ملاتړو سياسي جريانونو او د شهيد مزاري يارانو او همفکرانو لکه استاد خليلي، استاد محقق، استاد عرفاني او نورو مشرانو او دغه راز کابو ټولو هزاره سياسی ډلو، له طالبانو په راوروسته کلونو کې، تر ننه پورې د اوسني اساسي قانون او نظام په اړه رضايت څرګند کړی دی.

خو دا خبره هم بايد روښانه شي چې کومه ورځ که په افغانستان کې د قانون حاکميت نقض شي او د شيعه مذهب او د هزاره ګانو د قومي او فرهنګي هويت په رسميت پيژندلو باندې او په دولت کې د هغوی په عادلانه مشارکت باندې سترګې پټې شي نو، بيا به هم د فدرال نظام د مطرح کولو لپاره زمينه برابره شي. ځکه د فدرال نظام له طرح کولو هم مقصد دا دی چې عدالت تامين شي، کنه نو فدرال نظام په خپل ذات کې کومه خاصه معنوي سپېڅلتيا او برتري نلري او شهيد مزاري د فدرال نظام خبره يوازې عدالت ته د رسېدو په خاطر کوله او په هغه وخت کې اجتماعي عدلت ته د رسېدو نورې ټولې لارې بندې ليدې. که عدالت ته د رسېدو ټولې لارې يو ځل بيا بندې شي، بيا هم بايد د فدرال نظام خبره مطرح کړو.

پوښتنه: وروستۍ پوښتنه به د فدراليزم له موضوع يو څه بېله وي. لکه څنګه چې ټول پوهيږي، شهيد مزاري تاسې ته په خاصه سترګه کتل او په تاسې يې خاص باور درلود. د دغسې تعلقِ خاطر وجه څه وه؟ دغه راز شهيد مزاري ته ستاسې نظر هم خاص او استثنايي دی. څه شی د دې تعلق خاطر سبب ګرځېدلی دی؟ هغه کومه ځانګړنه ده چې دغه پيوند يې رامنځ ته کړی دی؟

ځواب: دغه پوښتنه د فدراليزم تر بحث هم مهمه ده او زيات تفصيل ته اړتيا لري خو په لنډو کې به ووايم چې استاد مزاري يوه استثنايي څېره او

بې ساری، غیرقابل تکرار شخصیت دی. بې له شکه چې له هغه سره زما د تعلق خاطر او هغه ته د درناوي او له هغه سره د خاصې مینې اصلي عامل د استاد هغه فکرونه اوارمانونه وو چې زموږ د ټول نسل فکرونه او ارمانونه وو او دی د دغه نسل مخکښ او د دغه نسل د ټولو ارزوګانو پوره څرګندوی و. دغه نسل پخپله هم یو ځانګړی نسل و چې نه تکراریږي. د دغه نسل او د هغو د مشر یعنې شهید مزاري ځانګړنې تشریح ته ضرورت لري خو د سیاسي افکارو او مبارزو په څنګ کې، یو بل مهم ټکی چې د شهید مزاري د ځلېدو او له هغه سره زما د لېوالتیا سبب ګرځېده، د هغه شخصي ځانګړنې، خویونه او خصلتونه وو. یو مخ صادق و. دروغ ویل، بې معنا ظاهرداري او خبره پېټول یې بېخي نه پیژندل. خپل ټول وخت او وس او امکانات یې هدف او مبارزې ته ورکړي وو. پرته له سیاست او مبارزاتي فعالیتونو یې بل کوم کار و مصروفیت نه درلود. لا مهمه دا چې ده هیڅ شی ځان ته نه غوښتل او شننې یې د شخصي ګټو په حساب نه وې. د سیاسی رهبرانو په شمول، موږ اکثرو ته شخصي ګټې اصلي ګټې دي یعنې هر شي ته له دې نظره ګورو چې زموږ ګټه پکې څه ده، که هغه مادي ګټه وي یا معنوي. خو هغوی هیڅوخت نه پخپله په شخصي ګټو پسې ګرځېده او نه یې د نورو کړو ته د خپلې ګټې له نظره کتل. د دوی لپاره د هر شي معیار، د خلکو په عمومي ګټو، د مبارزې او سیاسي جنبش او ګډ کار پر هدفونو باندې ایمان او باور و. زه د ده دغې ځانګړنې ډېر ورمات کړی وم او له دوی سره زما رابطه هم، چې اشنایي او همکاري مو د شپاړلس او اوولس کلونو وه، په همدې اساس وه. ما هم په دغو شپاړلس، اوولس کلونو کې هیڅوخت له دوی څخه کومه شخصي غوښتنه ونکړه او دغه شي زموږ اړیکو ته دوه اړخیز باور او خلوص بخښلی و. کله چې شخصي غوښتنه نه وي، ګیله او خپګان او تاویلې ما ویلې نه پیښیږي. له بلې خوا، زموږ په منځ کې هیڅ شی مبهم نه و. په هره پیښه او موضوع کې، بې له دې چې له دوی وپوښتم او یا کوم رسمي سند په منځ کې وي، پوهېدم چې د دوی دریځ څه دی او له موږ څه غواړي او زموږ دنده څه ده او موږ

بايد څه وکړو، ځکه چې هر څه زموږ د ګډو سياسي ګټو او شريکو نظرونو او ارمانونو په اساس ولاړ وو.

له تاسو مننه

# د استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د یوویشتم کال په مناسبت د جمهوري ریاست د دویم مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش وینا[1]

**بسم الله الرحمن الرحیم**

تر هر څه مخکې د شهید رهبر استاد عبدالعلي مزاري او د هغه د وفادارو یارانو شهید ابوذر، شهید اخلاصي، شهید ابرهیمي، شهید علوي او د دې دردوونکې غمیزې د نورو شهیدانو د شهادت د یوویشتم کال په مناسبت د افغانستان خلکو، په تیره بیا د هغه پیروانو او لارویانو، ټولو عدالت غوښتونکو او په تیره بیا د شهید مزاري یوازیني یادګار، زینب مزاري او د شهید رهبر نورو خپلوانو ته تسلیت وایم. دغه راز، د شهید استاد مزاري د مور بي بي سپېڅلي روح ته، چې څه موده مخکې وفات شوه او سږکال د استاد مزاري د شهادت په غونډه کې له موږ سره نشته، درود وایم او جنتِ فردوس ورته غواړم. هغه یوه صبرناکه او فداکاره میرمن وه.

دغه راز د استاد مزاري یو شمیر یاران او همفکران هم سږ کال زموږ په منځ کې نشته او د خدای د رحمت غېږ ته تللي دي، لکه استاد یوسف واعظي شهرستاني، استاد مصطفی اعتمادي، استاد قربان علي عرفاني یکه ولنګي او استاد سید عباس حکیمي. د دوی ټولو پاکو روحونو ته او د افغانستان د جهاد او مقاومت ټولو شهیدانو ته او د دوی ټولو په سر کې شهید استاد رباني، شهید

---

۱. د ۱۳۹۴ د کب ۲۱، د کابل لویدیځ، د شهید مزاري مصلا

احمد شاه مسعود، شهید عبدالحق، شهید سید مصطفی کاظمي، او خصوصا د هیواد د دفاعي او امنیتي قوتونو مظلومو او قدرمنو شهیدانو ته چې د هیواد د ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ د ساتنې په لاره کې، د دې خاورې او وطن له غلیمانو سره په مبارزه او مقابله کې له سرونو تېر شوي دي، درود وایم.

لازمه ده له ټولو هغو کسانو چې په خپله خوښه او له خپلې خوا یې د هیواد په داخل او خارج کې، د شهید رهبر لپاره لمانځغونډې جوړې کړې دي، قدرداني وکړم او په تېره بیا د دغو مراسمو د جوړېدو له ټیمه او تاسې شریفو خلکو چې په خپل تاوده حضور سره مو د غونډې پرتم زیات کړی دی، مننه کوم. دغه راز، د هغوی د وېناوو، اعلامیو او د استاد مزاري د تلین په مراسمو کې د هغوی د حضور په خاطر، د هیواد له سیاسی رهبرانو او شخصیتونو، په تېره بیا له جناب جمهور رییس محمداشرف غني، پخواني ولسمشر حامد کرزي، د ولسمشر له لومړي مرستیال جنرال دوستم، له اجراییه رییس ډاکتر عبدالله او نورو لوړپوړو مقاماتو او شخصیتونو مننه کوم. له جمهور ریس جناب محمداشرف غني ځخه خاصه مننه کوم چې زموږ وړاندیز یې ومانه او شهید مزاري ته یې رسما د «ملي وحدت شهید» لقب ورکړ چې رسمي فرمان به یې هم د جمهوري ریاست له خوا خپور شي.

قدرمنو وطنوالو،

اوس چې د شهید استاد د شهادت یوویشت کاله تېرېږي، لازمه ده د هغه فکرونو ته یو ځل بیا کتنه وکړو او د هغه د عدالت غوښتونکي فکر په مرسته خپله زمانه وارزوو او د خپلې راتلونکې لپاره لا بهتره لاره ولټوو. په دې اړه د شهید مزاري د نظرونو، ارزوګانو او تفکر د ځانګړنو په باره کې او د مزاري د پیروانو د هغه دریځ او مسولیتونو په اړه چې شهید استاد یې ارزو لرله، ځینې ټکو ته اشاره کوم:

د شهید استاد مزاري په تفکر او د هغه په عدالت غوښتنه او سیاست کې تر ټولو مهمه او لومړۍ ځانګړنه، په افغانستان کې د «د سیاست د انساني

کولو» او په همدې اساس د یوه مدرن دولت د تاسیس د مفکورې عنصر دی.
د سیاست له انساني کولو منظور دا دی چې اول باید د ملت او دولت لپاره له هر ډول ایډیولوژیکو چوکاټ جوړوَنو، او هر ډول دودیزو چوکاټونو او قومي، مذهبي، قبیلوي او توکمیزو کرښو ورها خوا، د هیواد اوسېدونکو ته د «انسان» په سترګه وکتل شي چې حقوق یې سره مساوي وي او جنسیتي، قومي، توکمیز، ژبنی، سمتي یا مذهبي توپیر پکې نه وي.

دویم دا چې د حکومت او دولت د مشروعیت میکانیزم باید پر عمومي انتخاباتو او د خلکو پر ازادې ارادې ولاړ وي، نه د زور، غلبې، خشونت یا کودتا پر اساس او یا حتی د بیعت او شورای حل و عقد او داسې نورو نظریو پر بنیاد، چې د اوسنۍ دنیا د شرایطو په رڼا کې په دغو نظریو کې عام ولس ته د پریکړو فرصت نه ورکول کېږي او یوازې د زر او زور خاوندان د خلکو په ځای د خلکو لپاره فیصلې کوي.

د سیاست د انساني کولو د نظریې درک اوس وروسته له دوه نیمو لسیزو ټولو ته ساده او اسانه دی خو د مزاري د عدالت غوښتنې د جنبش په دوران کې، د دغو مسایلو طرحه، نااشنا کار و او ان د یو ډول بدعت او له دیني او جهادي ایدیولوژیک تفکر څخه د پردي فکر په سترګه ورته کېدل. په همدې وجه پر شهید مزاري او د ده پر همفکرانو باندې تورونه ولګول شول چې جنګ غوښتونکي دي، یوازې یو قوم ته کار کوي او یا تر خپل حق زیات څه غواړي. د ځینو په اند خو ان یاغي و باغي و مهدورالدم وو.

د اجتماعي عدالت، ملي مشارکت، ملي وحدت، د ټولو قومونو برابرۍ، د تبعیض او انحصار او حذف سیاست ته نه ویل، پر ټاکنو ټینګار، د اداري واحدونو پر تعدیل او د نفوسو پر معیار ګرځولو ټینګار او داسې نور شعارونه د شهید مزاري په خبرو کې زیات اورېدل کېدل، چې دا ټول د سیاست د انساني کولو او د خلکو د رایې او ارادې د معیار ګرځولو له تفکر سره تړلي دي. د شهید مزاري له خبرو څخه څو جملې چې په مختلفو مناسبتونو کې بیان شوي دي، دلته را اخلم، څو دا وګورئ چې د شهید مزاري پیغام او تفکر

ځومره ژور، پیاوړی او په انساني قوي منطق ولاړ دی:

«موږ د ټولو ملیتونو حقونه غواړو. د ملیتونو حقوق د برابري او وروړګلوي معنا لري. که یو ملیت خپل حقونه او عدالت غواړي، دا د تجزیې معنا نلري. دا د خلکو طبیعي حق دی چې خپل حقونه او عدالت وغواړي. زموږ په اند راتلونکی دولت باید د مذهب او توکم پر بنیاد رامنځ ته نه شي. زموږ غوښتنه د افغانستان د خلکو په منځ کې د عدالت، برابري او وروړګلوي تامین دی. په هیواد کې د ټولو بدمرغیو جرړه په انحصار غوښتنې او د نورو د حقونو په نه منلو کې ده. په افغانستان کې د میلیتونو فاجعه لویه غمیزه ده. حق غوښتل د تجزیه غوښتلو معنا نلري. د خلکو دولت هغه وخت رامنځ ته کېږي چې انتخابات وشي او دا انتخابات ازاد وي او خلک په خپله خوښه رایه استعمال کړي. د حذف سیاست په افغانستان کې پای ته ورسېد او هیڅوک نه شي کولای چې کوم ملیت، ګوند یا مذهب حذف کړي. زه په صراحت سره وایم چې هر هغه څوک ملي خاین دی چې د ملیتونو د حذف او دښمنۍ خبرې کوي. موږ هرهغه څوک ملي خاین بولواو مخالفت ورسره کوو چې ملي تضاد پیدا کوي. چې اسلام د قومونو شتون منلی دی نو هزاره والی ولې جرم وي؟ موږ د تاریخ مظلومان وو، موږ نه غواړو په بل چا ظلم وکړو، موږ غواړو د ظلم له منګولو راووځو.»

قدرمنو وطنوالو،

د هیواد د سیاسي تاریخ په اوږدو کې، قومي لاسبري او انحصار غوښتنې او فرقه اي او قبیلوي تعصباتو ته لمن وهل، د ټولو بحرانونو، شخړو او بې ثباتیو بنیاد او اساس جوړوي. د شهید مزاري په قول، شعارونه تل مذهبي خو عملونه تل توکمیز وو. په اوسنۍ دنیا کې که څه هم، قومي کرکو او نفرتونو ته کار کول او توکمیز او قومي تبعیضونه د کرکې وړ، ناوړه او حتی جرم او د قانون خلاف ورزي ګڼل کېږي او د نړۍ ملتونه ورنه ورټ کوي، خو په اوسني افغانستان کې، له بده مرغه، هر څوک چې لازیات قومي شعارونه ورکړي او لازیات قومي نفرت وپاروي او تعصباتو ته لمن ووهي او پر نورو

قومونو او د هغوی پر رهبرانو وبلوسي، هغومره ډېر ستایل کېږي او قهرمان بلل کېږي، حال دا چې دغسې کس د شهید مزاري له نظره یو ملي خاین دی، ځکه ده د قومي او اجتماعي واټنونو او تضادونو زیاتېدا د افغانستان لپاره تباه کوونکې ګڼله.

زه شهید مزاري له نژدې پېژنم او له ۱۳۵۶ څخه د هغوی تر شهادته پورې، له هغه سره د ناستې پاستې او سیاسي او تشکیلاتي همکاریو اوولس کلن ویاړ لرم. د هغه له ټولو فکري او اخلاقي ځانګړنو سره بنه بلد یم او ځکه خو په قاطعیت سره وایم چې شهید مزاري د خپل سیاسي ژوند په ټولو دورونو کې د قومګرایي او قبیله ګرایي سخت مخالف و. په همدې وجه په جرات او جدیت سره وایم چې هزاره فاشیستان په هماغه اندازه له مزاري او د هغه له فکري میراثه لرې دي لکه تاجیک یا پښتون فاشیست یا بل هر قوم ګرا چې د افغانستان د ورونو قومونو تر منځ د کرکې او تفرقې زړي کري. نو په دې اساس، د ستر مزاري پیرو د هیڅ قوم مخالف نه دی، خو هیڅ ډول قومي برتري طلبي هم نه مني. د مزاري پیرو هیڅ شخړې ته قومي رنګ نه ورکوي.

مزاري غوښتل د افغانستان ټول قومونه، له یو بل سره وروڼه او له یو بل سره برابر وي. مزاري غوښتل چې هزاره ګان له ټولو قومونو سره ښې او د دوه اړخیز درناوي په اساس اړیکې ولري. نن ورځ هم موږ د خپل شهید رهبر، ستر مزاري په پیروي، هر ډول قومي، قبیلوي، مذهبي او سمتي تفرقه هیواد ته خیانت او خلکو ته فاجعه ګڼو او د هیواد د خلکو د ملي وحدت، او د قانون، عدالت، ازادي او ولسواکي د حاکمیت غوښتونکي او پالونکي یو او د هیواد ټولو قومونو ته د وروڼو په سترګه ګورو او درناوی یې کوو.

د شهید مزاري له نظره، هغه څوک چې د تاریخ په اوږدو کې تل ورسره ظلم او تبعیض شوی دی، پخپله باید په ظلم او تبعیض او تعصب ونه لړل شي. د شهید مزاري په قول: «موږ د تاریخ مظلومان وو، موږ نه غواړو چې په چا باندې ظلم وکړو، موږ غواړو د ظلم له منګولو راووځو.» یا د

شهید ضامن علي واحدي په قول چې په کابل کې د خلقي ظالمانو په واکمنۍ کې اعدام شو او په خپله دفاعیه کې یې وویل: «مورږ پرته له دې چې همیشه مو په تاریخ کې رسۍ په اوږو وې او اوس حق او عدالت غواړو، بل جرم نه دی کړی.» شهید ضامن علي واحدي د استاد مزاري یو یار او ملګری او یو زړه مبارز و.

که نن ورځ هم زموږ خلک اجتماعي عدالت او متوازن انکشاف خپل اصلي شعار ګڼي او د هزاره جات د جغرافیایي زندان د ماتولو خبره کوي او د هیواد په مدیریت او اداره کې عادلانه مشارکت غواړي، دا یو شی هم باید خودخواهي او تر خپل حق زیات غوښتنه ونه ګڼل شي. موږ یوازې دا غواړو چې د ظلم او بې عدالتي مخه ونیول شي او له ټولو سره د انساني او قانوني معیارونو په اساس چلند وشي.

نن ورځ ځینې کسان د شهید مزاري او نلسن ماندیلا تر منځ پرتله کوي چې په ځای مقایسه ده.ماندیلا هم د سیاست د انساني کولو او اپارتاید او توکمیز تبعیض په خلاف مبارزه وکړه او په کلونو یې په بند کې تیر کړل چې په جنوبي افریقا کې د رنګ توروالی جرم ونه ګڼل شي او سپین و تور دواړه له برابرو انساني حقونو برخمن شي. ماندیلا په خپله مبارزه کې بریالی شو. شهید مزاري هم په افغانستان کې د سیاست د انساني کولو او اجتماعي عدالت لپاره مبارزه وکړه چې هزاره والی نور جرم نه وي او د هیواد ټول قومونه مساوي حقونه ولري. خو توپیر دا و چې شهید مزاري په دې لاره کې خپل سر هم نذرانه کړ او غلیم اجازه ورنکړه چې دغه ستر لاربنود د خپلو هیلو پوره کیدل په خپلو سترګو وګوري.

د شهید مزاري د تفکر دویمه ځانګړنه دا وه چې مبارزې او سیاست یې علمي بېخبنا لرله او فکر او فرهنګ ته یې ډیر اهمیت ورکول کېده. شهید مزاري په دې اند و چې پوهنتون، مکتب، مدرسه او په مجموع کې علم او فرهنګ، په ټولنه کې د پرمختګ او ترقي اصلي عامل او سیاست او سیاسي مبارزې محرک او خوځوونکی ماشین دی. د علم او فرهنګ له څراغه پرته

سیاست کول، په تپه توره تیاره کې حرکت دی.

له فرهنګه پرته سیاست، له خپل اصلي مسیره بې لارې کېږي او د فکر وچوالی، خشونت او قشري توب یې انجام دی. شهید مزاري د خپلو سیاسي مبارزو له پیله لا، څومره چې خپلو مجاهدینو او مبارزانو ته وسلې او مهمات برابرول، په هماغه اندازه او بلکې په مراتبو زیات یې ورته فکري خواړه، کتاب او نور فرهنګي مواد تهیه کول. ده د ټولنې او هیواد په کچه د علمي، فرهنګي مرکزونو تاسیس او د کتابتونونو جوړولو او د مجلو او علمي، تاریخي آثارو خپرولو ته کار وکړ. د جهاد په دوران کې د افغانستان نصر سازمان، د هیواد په سیاسي کړیو او سازمانونو کې د یو تر ټولو منور او فرهنګي سازمان په توګه مشهور و چې یوازینۍ وجه یې دا وه چې استاد مزاري او همفکران یې کور په کور، کلي په کلي او ښار په ښار د فرهنګي موادو او عناصرو په موندلو او خپرولو پسې ګرځېدل او په دې لټه کې وو چې چیرته یو تحصیل کړی طلبه یا محصل یا روشنفکر ومومي او سازمان ته یې جذب کړي یا لږ تر لږه د علم حاصلولو او علمي، فرهنګي فعالیت ته یې وهڅوي.

شهید مزاري د وحدت ګوند د تاسیس په لومړیو ورځو کې دا درک کړې وه چې په دولت او حکومتولي کې د چمتووالي لپاره متخصص او تحصیل کړي کسان کم دي، نو لومړۍ پوهنتوني موسسه یې د «شهید بلخي د لوړو زده کړو موسسې» په نوم تاسیس کړه چې د استاد مزاري په هدایت، په تاسیس کې یې ما هم د همکارۍ ویاړ درلود او هم مې هورې حقوق ولوستل. شهید مزاري په همدې دوره کې د خلکو اړتیا ته په پام سره، لږ تر لږه د مرکزي سیمو لپاره د ښوونځیو د درسي کتابونو تدوین او تهیې ته اقدام وکړ. شهید مزاري د لسګونو نشریو په تاسیس کې مستقیمه برخه لرله او ما چې په هغو کلونو کې د اونیزو، میاشتینیو او درې میاشتینیو په شمول د څو نشریو مستقیم مسولیت په غاړه و یا مې له دغو نشریو سره همکاري لرله، په ټولو دغو کارونو کې د شهید مزاري له لارښوونو او هڅونو برخور وم.

شهيد مزاري د هيواد ليکوالو، فرهنګيانو، عالمانو، پوهانو او مستعدو او تحصيل کړيو ځوانانو ته ډير زيات درناوی کاوه او چې کله به يې واورېدل چې يو طلبه يا يو محصل د قلم او تحقيق سړی دی او مقاله ليکلی يا کتاب تاليف کولی شي نو پخپله به د هغه کوتې ته ورته، هڅاوه به يې او د آثارو د چاپ زمينه به يې ورته برابروله. دغه راز د کار کولو اويوه مسوليت اخيستلو لاره به يې ورته اواروله. له بده مرغه، په هغه وخت کې زموږ تحصيل کړي، فکري او فرهنګي کسان کم وو.

د وحدت ګوند د تاسيس په لومړيو کلونو کې زموږ د پوهنتونلوستو کسانو شمېر د لاس د ګوتو په اندازه هم نه و. له نيکه مرغه بايد ووايم چې نن ورځ د شهيد مزاري او د ده د ملګرو د ويني برکت دی چې يو ډير ښه او اميداروونکي ځای ته رسېدلي يو. اوس په سلګونو او بلکې په زرګونو ليکوال، څيړونکي، د پوهنتون او حوزې استادان او تکړه پوهان لرو. خو له بده مرغه اوس چې يو ستر فکري او علمي ځواک راسره دی، فکر او فرهنګ د سياست په بازار کې خپل ارزښت له لاسه ورکړی، پخوانی قدر يې نه کيږي او په مادي پروژو بدل شوی دی، له علماوو او فرهنګيانو هم د وسيلې کار اخيستل کيږي.

ځينې دولتي او غېر دولتي کړی، له علماوو څخه د درباري عالمانو، له فرهنګيانو او منورينو د سياهي لشکر او يا په انټرنيټ کې د مبلغانو او جارچيانو کار اخلي، حال دا چې شهيد مزاري به فکر او فرهنګ ته د ټولنې او انسان د شخصيت د قيمتي جوهر په سترګه کتل او له ليکوالو او مفکرانو يې هيڅ وخت د وسيلې په توګه استفاده نه کوله او د هغوی د فکر قدر يې کاوه او له هغوی يې يوازې دومره غوښتل چې د خپلو خلکو او ټولنې د تاريخ، هويت او تمدن د احيا او د هغوی د پوهولو او تنوير لپاره کار وکړي.

د شهيد مزاري د اند او روديې دريمه ځانګړنه دا وه چې له ولسي او سياسي اقتداره پرته يې په سياسي مبارزه او سياست کولو کې بری ممکن نه باله، خو دغه قوت او اقتدار يې د مادي تجهيزاتو او امکاناتو په لرلو کې نه

بلکې د سیاسي قوتونو په وحدت او د ټولنې له سیاسي مشرتابه سره د خلکو په پیوستون کې لټاوه. د افغانستان د شیعه ټولنې د هغه وخت د لسو خورو ورو ګوندونو او سازمانونو د یو ځای کېدو له لارې د وحدت ګوند تشکیل، د شهید مزاري او د هغه د یارانو د همدې فکر او پرله پسې هڅو او ایثار پایله او ثمره وه.

موږ ټول پوهېږو چې شهید مزاري د نصر سازمان یو اصلي مشر او یو داسې کس و چې په دغه سازمان یې د زړه له تله باور درلود او د هغه د تقویت لپاره یې هیڅ هڅه نه سپموله، خو کله چې پوه شو چې د نفاق، تفرقې او تیت و پرک والي په حالت کې د خلکو هیلې نه پوره کېږي او هدف ته نه رسېږو نو د سازمان ټولو پلویانو او موږ ټولو ته یې پیغام واستاوه چې ګوند او تشکیلات یوازې اصلی هدف ته د رسېدو لپاره د یوې وسیلې حیثیت لري، اوس چې په دې وسیلې باندې هدف ته نه شو رسېدلی نو پکار ده ټول هڅه وکړو چې د اصلي هدفونو او ارمانونو په ساتلو سره، خواره واره سیاسي قوتونه په یوه محوربانديې راغونډ شي او یو پیاوړی ګوند رامنځ ته شي، څو په دې ډول د هیواد له غلیمانو سره مبارزه وکړای شو او د خلکو د حقونو دفاع وکړو. له همدې کبله پخپله ټولو هغو کسانو ته ورغی چې د کلونو په اوږدو کې یې مزاري نه یوازې رقیب بلکې خپل غلیم ګاڼه. خو مزاري د خلکو د لوړو ګټو په خاطر هغوی ته د دوستي او درناوي لاس اوږد کړ چې بالاخره د افغانستان اسلامي وحدت ګوند تاسیس شو او په نتیجه کې مو هغه بې ساری او عالي ولسي پیوستون ولید.

هغه وخت وحدت اسلامي ګوند د ټولو امامیه شیعه هزاره ګانو، اسماعیلیه هزاره ګانو، سني هزاره ګانو، ټولو غیر هزاره شیعه ګانو لکه قزلباشو، ساداتو، بلوڅو، ایماقو، او ان پښتنو، تاجیکو، اوزبیکو، ترکمنو او نورو قومونو د ځینو ډلو لپاره، په یوه لوی سیاسي ظرفیت او پراخ محور بدل شو چې په ټول افغانستان کې یې یوه پراخه او پرتمینه ملي، وګړنیزه جبهه جوړه کړه. شهید مزاري په خپله یوه وینا کې وویل: «ما هیڅوخت د شیعه او سني

خبره نه ده کړې. له دې وروسته به يې هم ونکړم. د شيعه او سني خبره کول يوه لوبه ده.»

د همدغه عقلاني سياست او ټول شموله، وحدت غوښتونکي تفکر په سيوري کې و چې هم مزاري، مزاري شو او هم دغه عظمت او برم د هغه د عاقلانه مشرتابه د بريا په توګه تلپاتي او پاتېدونې شول. استاد مزاري په دې موفقې تجربې سره وښوده چې واقعا د يوه وړ او لايق لارښود ټولې ځانګړنې لري. فوق العاده کامياب مديريت، دقيقه پلان جوړونه، بشري ځواک ته بې ساری نظم ورکول، د مالي منابعو او امکاناتو برابرول او لا مهمه دا چې لوړ ظرفيت، پراخه سينه، ساده ژوند، زغم او مقاومت، ايثار او له ځان تېرېدا، پرېکنده والی او زړه ورتوب، د هغه د مشرتابه بې نظيره خصوصيات وو. دی دومره ستر، سترګور او د لوړ ظرفيت څښتن و چې د هيڅ لوی کس په وړاندې يې ځان وړوکی نه احساساوه او هيڅ وړوکي هم د ده په خوا کې ځان بې اهميته او بې وسه نه ليد، بلکې هر لوی د ده په خوا کې ځان وړوکی او هر وړوکي د ده په څنګ کې ځای لوی او باارزښته احساساوه، ځکه ده خپلو ټولو پلويانو او د شاوخوا کسانو ته په ځان باور او اميد ورکاوه او د مسوليت احساس يې ورباښه.

دی د حضرت علي د هغې معنا ډکې او ښکلې تشبيه څرګند مصداق و چې په شقشقيه خطبه کې فرمايي: «بنحدر السيل و لا برقی ال الطير.» هغه لوړ غر يم چې څپاند سيلاب رانه جاري دی او هيڅ بلند پروازه الوتکی مې د شخصيت لوړو ته نه شي رسېدای. او يا دی د هغه کلام څرګند مصداق دی چې مولا علي د خپل نامتو سردار مالک اشتر په اړه ويلي دي:

مَالِكٌ وَ مَا مَالِكٌ وَ اللَّهِ لَوْ كَانَ جَبَلًا لَكَانَ فِنْداً- أَوْوَ لَوْ كَانَ حَجَراً لَكَانَ صَلْداً- لَا يَرْتَقِيهِ الْحَافِرُ وَ لَا يُوفِي عَلَيْهِ الطَّائِرُ

يعنې قسم په خدای که غر وای له نورو غرونو زيات او ممتاز غر به و، که کاڼی وای، سخت او کلک کاڼی به و چې هيڅ تلونکی به يې د څوکې سر ته نه رسېده او هيڅ الوتونکی به يې پر سر الوت نه شوای کولی.

قدرمنو ورونو او خویندو،

وحدت اسلامي ګوند د شهید مزاري د ستر او پایښتونکي یادګار په توګه، زموږ د تکړه او پوه سیاستوال استاد محمد کریم خلیلي تر عاقلانه مشرتابه لاندې، په تېره بیا د استاد مزاري له شهادته وروسته، د مقاومت په دوران کې او هم د نوي فصل په وروستیو څورلسو کلونو کې، د ډېرو لوړو ژورو په کچ کولو سره، خپل مخکښ نقش په کامیابۍ او هسکه غاړه ادا کړی او د شهید مزاري او د هغه د یارانو د لوړو او عالي هدفونو د تحقق لپاره یې له هیڅ زیاره ډډه نه ده کړې.

نن ورځ د وحدت ګوند د شهید لارښود د شهادت د نېټې په مناسبت، د هیواد اوسنو حساسو شرایطو ته په پام سره او د وحدت ګوند د تاسیس د دورې له کامیابې تجربې په استفادې سره، یو ځل بیا د دغه ګوند له ادرسه او د دغه ګوند د عالیقدر مشر په څنګ کې، د هیواد له ټولو عدالت غوښتونکو قوتونو، په تېره بیا د شهید مزاري له لارویانو او پلویانو غواړم چې راځئ یو بل ته لاسونه سره ورکړو او د وحدت بې نظیره تجربه یو ځل بیا په خپل سیاسي او ټولیز ژوند کې تکرار کړو او خپلو خلکو ته امید او پر ځان باور وروبښو او باید پوه شو چې زموږ عزت او اقتدار زموږ په وحدت او یووالي کې دی.

قدرمنو هیوادوالو،

د شهید مزاري د لوړو هدفونو په اړه خبرو کې لازمه ګڼم چې د هیواد څو نورو خورا مهمو موضوعاتو ته څغلنده اشاره وکړم:

۱ ــ سوله او امنیت د شهید مزاري یوه پخوانۍ هیله او د افغانستان د خلکو د نن ورځ شدیده اړتیا ده. د خوشحالۍ ځای دی چې اوس د سولې شورا په مشرتابه پلاوي کې هم د عدالت غوښتنې د کرښې یوه وتلې څېره، ښاغلی استاد خلیلي حضور لري، هغه څوک چې تر بل هر چا زیات د سولې او جګړې، د سیاست، حکومتولي او ولسولي له ټولو لوړو ژورو سره بلد دی او کامیابه تجربه یکې لري. ټول پوهېږو چې موږ هیڅ وخت د خپلو خلکو د مبارزو ارزښتناکې بریاوې، ملي او اسلامي لوړ ارزښتونه او د خپل اساسي

قانون په بنسټ ولاړ نظام په بل هیڅ شي نه بدلوو. غلیمان او مسلح مخالفان که دغو ارزښتونو ته درناوی کوي، د افغانستان عزتمن ملت به هم دوی ته غېږه پرانیزي او کنه نو زموږ د خلکو مقاومت او ایثار او زموږ د امنیتي زړه ورو قوتونو مقدسه دفاع او جګړه به همداسې روانه وي. موږ په تېرو څه باندې شل کلونو کې د ترهه ګرۍ او افراطیت په مقابل کې مقاومت کړی دی. په لسګونو نور کلونه به هم مقاومت وکړو او د ګران هیواد د خپلواکۍ، ازادي او عزت دفاع به وکاندو.

باید پوه شو چې دا اوازې چې په نوي کال کې به طالب یا داعش د هیواد شمال ته د رسېدو لپاره مرکزي سیمې لاندې کړي، یوازې پروپاګند او د دښمن رواني جنګ دی. د مرکزي سیمو ځوانان او میړنی ولس به هیڅکله دښمن ته داسې اجازه ورنکړي. موږ خپلو خکو ته ډاډ ورکوو چې حکومت په ټول توان سره او د هیواد د دفاعي او امنیتي سرښندونکو ځواکونو په ذریعه، د هیواد له شماله تر جنوبه، له ختیځه تر لویدیځه او تر مرکزي سیمو پورې، د خلکو د سر و مال او د لویشتې، لویشتې خاورې دفاع او ساتنه کوي.

۲ – هر اړخیز اصلاحات یو بل څرګند ضرورت دی چې د ملي وحدت حکومت په را روان کال کې په ټول جدیت سره اقدام ورته کوي. اداري اصلاحت، اقتصادي اصلاحات،عدلي او قضایي اصلاحات، د قوانینو تعدیل اوتصویب، له اداري فساد سره مبارزه او تر هڅه مهم ټاکنیز اصلاحات زموږ د لومړیتوبونو په سر کې دي. په دغو ورځو کې چې جمهور رییس د ټاکنو په اړه تقنیني فرمانونه توشیح کړل، ژر به د غوراوي اووه کسیزه کمیټه خپل کار پیل کړي او ورپسې به په آینده کې د ټاکنو مستقل کمیسیون او د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون جوړ شي او په راتلونکي لمریز کال کې به د ولسي جرګې او د ولسوالیو شوراګانو ټاکنې ترسره شي.

۳ – د اجتماعي عدالت او متوازن انکشاف رعایت، د ملي وحدت حکومت د سیاست او پالیسي یو اساسي اصل دی. زموږ ټولې پروژې د درې معیارونو په چوکاټ کې طراحي شوې دي: ملي ګټې، اقتصادي موثریت او متوازن

انکشاف. په دې اساس په دغه کال کې چې په مخ کې يې لرو او راتلونکو کلونو کې، د برښنا، اوبو، لګولو، بندونو، مواصلاتي کربنو او کانونو لويې پروژې په هيواد کې عملي کيږي. د هزاره جات د جغرافيايي زندان ماتول د دغو پروژو يو اصلي هدف دی چې د خدای تعالی په مرسته به په څو راتلونکو کلونو کې عملي شي.

دلته د باميان، دايکندي، غور، ميدان وردګ، پروان او غزني د ولسواليو تر منځ د سړک جوړونې د لسګونو پروژو په څنګ کې څو مهمې پروژې يادوو:

۱ - د دره صوف – يکاولنګ سړک چې ۱۷۸ کيلومتره اوږدوالی لري، د دوه سوه ميليونه ډالرو په بوديجه؛

۲ – د دوشي – باميان سړک چې ۱۵۲ کيلومتره اوږدوالی لري، د سوه پنځوس ميليونه ډالرو په لګښت

۲ – د يکاولنګ - کندهار سړک چې ۵۵۰ کيلومتره اوږدوالی لري، تخنيکي او اقتصادي مقدماتي مطالعه؛

۳ – د ګردن ديوال سړک چې ۶۰ کيلومتره اوږد دی او څو نورې مهمې پروژې.

# د ملي وحدت د شهید، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د دوه ویشتم کال په مناسبت د جمور رییس د دویم مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش وینا[1]

## بسم الله الرحمن الرحيم

«وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَكِنْ لَا تَشْعُرُونَ»[2]

قدرمنو حاضرینو، عزتمنو مېلمنو، معظم جهادي مشر او د افغانستان د اسلامي دولت لومړنی رییس جلالتمآب حضرت صبغت الله مجددي، د افغانستان پخوانی ولسشمر جلالتمآب حامد کرزی، د جمهوري ریاست پخوانی مرستیال او د وحدت ګوند مشر جلالتمآب استاد خلیلي، د کابینې محترمو غړیو، د ملي شورا محترمو غړیو، علماوو، استادانو، د سیاسي حزبونو او فرهنګي بنسټونو مشرانو، د کابل شریفو خلکو، د رسنیواستازو، خویندو او وروڼو، السلام علیکم و برکاته

په سر کې د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د دوه ویشتم کال په مناسبت د افغانستان شریف ملت، تاسې قدرمنو حاضرینو، د عدالت او ازادي غوښتنې ټولو لېوالو او په تېره د شهید مزاري د عدالت د کرښې ادامه ورکوونکي او د شهید استاد یار او د سنګري ملګري استاد خلیلي ته تسلیت وایم او له ټولو دولتي او ولسي بنسټونو او شخصیتونو چې د شهید

1. د ۱۳۹۵ کال د کب شلمه، د شهید مزاري مصلا، د کابل لویدیځ.
2. (قرآن کریم: بقره سوره، ۱۵۴ آیت)

مزاري د یاد په مراسمو کې یې برخه اخیستې ده، او په دې موده کې یې په خورا مینه د مزاري یاد تازه کړی او د هغه د لارې، ارزوګانو، فکرونو او ارمانونو یادونه یې کړې ده، که د هیواد دننه دي یا په بهر کې، د زړه له تله یې مننه کوم. په خاص ډول له جلالتمآب جمهور رییس محمداشرف غني څخه مننه کوم چې په خپلو کالنیو پیغامونو کې یې د مزاري بهترین انځور وړاندې کړی او مزاري او د هغه دوستانو ته یې تر ټولوغوره درناوی وړاندې کړی دی.

دغه راز لازمه ګڼم چې د هغو سترو او ویاړلو نومونو یادونه وکړم چې له شهید استاد سره یو ځای شهیدان شول: شهید ابوذر غزنوي، شهید سید علي علوي، شهید ابراهیمي بهسودي، شهید اخلاصي جاغوري، شهید جان محمد ترکمني او شهید عباس جعفري لوماني او دغه راز د شهید مزاري همفکره او همسنګره ستر یاران چې د مبارزې او ایثار له درانه بار سره، د خلکو د حالت د بهترې لپاره وروسته له یو عمرخدمت او هڅې د حق حضور ته لاړل او له ابدیت سره یو ځای شول، لکه: آیت‌الله صادقي پرواني، استاد سید حسین حسیني، استاد سید عباس حکیمي، استاد قربانعلي عرفاني، استاد یوسف واعظي، شهید ضامن علي واحدي، استاد امان الله موحدي، سید عبدالحمید سجادي، سید محمد سجادي او مصطفی اعتمادي چې دوی هر یو د فکر، فرهنګ، جهاد او سیاست د ساحو روښانه ستوري وو. د شهید رهبر او د عدالت غوښتنې لپاره د مقاومت د دورې د ټولو شهیدانو یاد دې له عزت سره وي.

دغه راز د ملي وحدت شهید په دوه ویشتم کالیاد کې د هیواد د لویو شهیدانو لکه د سولې شهید استاد رباني، ملي اتل شهید احمد شاه مسعود، شهید صادقي نیلي، شهید سید مصطفی کاظمي، شهید حاجي قدیر، شهید عبدالحق، شهید احمد ولي کرزی او دغه راز مرحوم مارشال فهیم، مرحوم پیر سید احمد ګیلاني او د دې خاورې ټولو نومیالیو او نومورکو شهیدانو ته چې د هیواد د عزت او ازادي په لار کې له سرونو تېر شول، روحونو ته دعا کوم.

قدرمنو حاضرينو، عزتمنو وطنوالو،

د ملي وحدت د شهيد د فکر او شخصيت په اړه په مختلفو بعدونو کې کافي بحثونه او جامع تحليلونه شوي دي او ويناوالو په مختلفو سطحو کې د مزاري په اړه خبرې او د هغه په وړاندې يې د خپلې پيژندګلوي او درناوي مراتب څرګند کړي دي. په ټوله کې په تېرو دوه ويشت کلونو کې، د شهيد مزاري د شخصيت او کارنامې په اړه، ژور او پراخ فرهنګي او تحقيقي آثار، د يادغونډو، سمينارونو او علمي ناستو په بڼه، په خارج او داخل کې، په بشکلو او بې جوړې ادبياتو، په تېره بيا زموږ د استادانو، محصلانو او ځوانانو له خوا توليد شوي دي او دغه بهير به همدا شان ادامه ومومي چې د دغو ټولو هڅو په خاطر مننه کوم. هغه څه چې په دې اړه نن په دې پرتمينه غونډه کې غواړم ووايم، بيا هم د شهيد مزاري د فکر او پيغام له ځينو اړخونو او ګوټونو سره تعلق لري او دا چې د شهيد مزاري هدفونه او ارمانونه زموږ په هيواد کې تر کومه حده عملي شوي دي؟ دې پوښتنې ته به په دوو چوکاټونو کې ځواب درکړم:

اول: د شهيد مزاري او د هغه د فکر ځای په ملي کچه او د هيواد د قومونو په منځ کې؛

دويم: د شهيد مزاري او د هغه د ارزوګانو ځای د قوم په منځ کې.

په لومړي محور کې دوه اصلي پوښتنې مطرح دي: لومړی دا چې شهيد مزاري په ملي کچه او د افغانستان لپاره څه غوښتل او څه ارزوګانې او هدفونه يې لرل او نن ورځ د هغه ارزوګانې تر کومه حده پوره شوې دي؟ له بلې خوا د شهيد مزاري شخصيت په ملي سطح د هيواد د قومونو په منځ کې څه مقام لري؟

شهيد مزاري په ملي کچه او د افغانستان لپاره قومي، ژبنی، سمتي او ګوندي منطق نه بلکې يو جامع، ټوليز او د انساني منطق په اساس پيغام درلود. د هيواد د ناوړه وضعيت د سمون لپاره د هغه سياسي فکر، پر څو اساسي آرونو ولاړ وو:

۱ - د داسې اساسي قانون تدوين چې د افغانستان د بحران ځبلې ټولنې اصلي مشکلات په نظر کې ونيسي او د خلکو استازي يې تصويب کړي؛

۲ - د داسې سياسي نظام تاسيس چې د خلکو د حاکميت پر اساس وي او حکومت او پارلمان يې د عمومي ټاکنو له لارې ايجاد شوي وي؛

۳ – د ملي وحدت تامين او له هر ډول انحصار غوښتنې، د حذف له سياسته او له قومي، ژبنۍ او مذهبي تفرقې ډډه؛

۴ – د هيواد ټولو اوسېدونکو ته د ټولنيز عدالت تامين، متوازن انکشاف او برابر شهروندي حقوق؛

۵ - جګړه حل لاره نه ګڼل او په دې باندې ټينګار چې هر ډول اختلاف دې د خبرواترو، تفاهم او منطقي، معقول او منصافه تعامل لارې حل شي؛

۶ – د ټولنې د نيم وجود په توګه د ښځو د حقونو تامين.

دغه اصول او دغه منطق، زموږ ادعا، تحليل او برداشت نه دی، بلکې د هغوی په ټولو ويناوو، مرکو او پيغامونو کې او د هغه وخت د وحدت ګوند په خپرونو کې په کافي اندازه ليدلای شو؛

دغو اصولو ته په پام سره که څوک پوښتنه وکړي چې په ملي سطحه د شهيد مزاري هدفونه او ارمانونه پوره شوي دي، بايد ووايو چې افغانستان له شهيد مزاري وروسته ورو ورو هغه لور ته حرکت کړی دی چې شهيد مزاري يې ارزو کوله. البته، د هغو معيارونو له بشپړ تحقق څخه لا زيات لرې يو چې شهيد مزاري مطرح کړل او لا تر اوسه د بې عدالتي، محروميت، حق خوړلو او حق ضايع کولو او حتی په ځينو مواردو کې د يو ډول سيستماتيک تبعيض نښې ليدل کيږي.

بايد ووايو چې په ملي کچه د شهيد مزاري هدفونه په نسبي کچه د تحقق په حال کې دي. نو، که څه هم غليمانو اجازه ورنکړه چې شهيد مزاري د سياسي نظام په جوړولو کې فزيکي وجود ولري خو نن د هغه فکر زموږ په سياسي صحنه کې ژور او پراخ حضور لري او کولای شو ادعا وکړو چې زموږ اوسنی اساسي قانون او زموږ سياسي، ولسواک نظام چې د خلکو په

رایو ولاړ دی، د شهید مزاري د افکارو منعکس کوونکی دی.

موږ نن داسې نظام لرو چې پر اساسي قانون او د قواوو پر ویش ولاړ دی. پر ټاکنو، د خلکو پر مستقیمو رایو او د ټولو سیاسي او اجتماعي ډلو پر مشارکت ولاړ دی. د عمومي ازادیو تامین، د ښځو د حقونو تامین، د ټولو ملي ژبو په رسمیت پیژندل، د حنفي مذهب په څنګ کې د جعفري مذهب رسمیت او د شیعه ګانو د شخصیه احوال د قانون تصویب او په بامیان پوهنتون کې د شویو هڅو په برکت د جعفري فقه د دیپارتمنت تاسیس چې په ۱۳۹۶ کې به عملي کار پیل کړي، زموږ د اوسني نظام ځینې نورې جلوې دي.

دغه راز د ملي وحدت په حکومت کې د اجتماعي عدالت او متوازن انکشاف په منظور د هزاره جات په شمول په ټول هیواد کې لویې او اقتصادي پروژې د طرحې او تطبیق په حال کې دي؛ داسې پروګرامونه چې په ټول تاریخ کې ورته پام نه و شوی او اوس به درې تر پنځه کلنه موده کې د هزاره جات څېره بېخي بدله کړي. د دغو پروژو په سر کې د ختیځ او لویدیځ او دغه راز د شمال او جنوب دوې لویې لارې کولای شي چې هزاره جات د طبیعت له زندانه بېخي راوباسي. د هزاره جات د اداري واحدونو تعدیل چې د شهید مزاري غوښتنه وه، په تېرو کلونو کې تر یوه حده عملي شوې ده او تکمیلي برخې یې تعقیب کېږي.

د ملي هویت او هیواد د قومونو د هویت د تثبت لپاره او دغه راز د نفوسو د دقیقې احصاییې د ثبت او د نورو حقوقي او کلتوري ستونزو د حل لپاره، د الکترونیکي تذکرې د ویش طرحه ژر پیلېږي. دغه راز، انتخابات چې د دموکراسي د تحقق او د خلکو د ارادې د ښودلو لپاره بنیادي اهمیت لري او د شهید مزاري یو لوی ارمان و، د ملي وحدت د حکومت له خوا په مختلفو کچو، په تېره بیا د ولسي جرګې او ولسوالیو شوراګانو ټاکنې په نظر کې دي چې ترسره شي.

زه په دې باور یم چې د شهید مزاري ارزوګانې د قوم د منځ تر کچې په ملی کچه او د قومونو د منځ په کچه زیاتې تطبیق شوي دي. نن ورځ هزاره

ګانو ته، د حکومت، مدني ټولنې او د هیواد د سیاسي ګوندونو په شمول ټول قومونه درناوی کوي.ان طالبان هم دا مني چې د استاد مزاري په شهیدولو سره یې لویه او نه بخښوونکې تېروتنه کړې او خپله دوسیه یې توره کړې ده.

زه د افغانستان له ټولو سره ورونو قومونو مننه کوم، که هغه پښتون دی یا تاجیک، اوزبیک، ترکمن، بلوڅ، پشه اي، نورستاني، قزلباش، سادات او نور قومونه، چې دوی ټولو دا درک کړې ده او په دې یې باور راغلی دی چې افغانستان زموږ ټولو شریک کور دی. موږ د هر خپل او قبیلې او قوم خلک چې یو، د یوه ملت غړي یو او شریک درد، مشترک غم او ګډ فرهنګ او تاریخ لرو. دا هغه اړتیا ده چې زموږ هزاره خلک په تېره بیا زموږ ځوان او تحصیل کړی نسل یې هم باید تر پخوا زیات درک کړي.

افراطي هزاره توب تر بل هر چا زیات هزاره وو ته تاوان رسوي او د نورو قومونو په منځ کې د دوی مقام او شان را ټیټوي. هزاره یو محروم او بې برخې قوم دی چې تاریخ یې له غمونو، دردونو او ان یومخیزو وژنو او در په دریو ډک دی، خو که غواړو دغه محرومیت ختم کړو، نو د نورو قومونو همکاري، د عاقلانه تعامل مثبتې فضا او د یوه مضبوط او عقلاني سیاسي، حقوقي او فرهنګي بنسټ رامنځ ته کولو ته اړتیا لرو.

استاد مزاري به عدالت ته د رسېدو لپاره له ټولو تاکتیکونو استفاده کوله. ده جګړه او تشدد هیڅوخت عدالت ته د رسېدو ذریعې نه ګڼلې. جګړه پر هغه تپل شوې وه. د خبرواترو او له ټولو قومونو او سیاسي ډلو سره د تعامل منطق د ده د کار اصلي طریقه وه. ځکه خو نن ورځ د هیواد د ټولو قومونو او سیاسي ګوندونو لوی ملي شخصیتونه، شهید مزاري په ټولو غونډو او مراسمو کې په ښه نوم او درنښت سره یادوي او د ملي وحدت په حکومت کې شهید مزاري د هزاره ګانو د سیاسي سمبول او د «ملي وحدت شهید» په توګه تجلیل کېږي، دغه راز علامه فیض محمد کاتب د افغانستان د سیاسي قدرت په مرکز یعنې ارګ کې او په هغه غونډه کې چې ولسمشر یې کوربه و، د هزاره ګانو د علمي سمبول په توګه او «د افغانستان د تاریخ لیکنې د پلار» په

توګه یادېږي. په همدې ارګ کې شهید مزاري ته د «ملي وحدت شهید» لقب ورکول کېږي او او د علامه کاتب په نوم د مډال د جوړولو پریکړه کېږي. ایا دا هرڅه د هغه درناوي او همپالنې نښې نه دي چې شهید مزاري یې ارزو لرله؟ د هیواد د تاریخ په اوږدو کې دغسې څه نه وو شوي. زه دلته د جمهور رییس محمداشرف غني قدرداني کوم چې د هیواد د ټولو قومونو د همپالنې د تحکیم او د ملت پالنې د بهیر د پیاوړتیا لپاره یې هر اړخیزې هڅې کړې دي.

مزاري نن ورځ د خاص قوم نه بلکې یو ملي شخصیت دی. موږ باید مزاري د خپل تنګ لید او تورو سترګیو په ساحه کې محدود نکړو. مزاري یوازې هغه څوک نه دی چې زموږ ځینې یې انځوروي. مزاري ټول هغه څه نه دی چې زموږ ځینو په ذهن کې تېرېږي. په یوه کوچیني قالب کې د مزاري محدودول او په فردي سلیقې او خاص قومي ګروپ پورې د مزاري منحصر کول، د هغه په حق کې تر ټولو لوی خیانت دی. مزاري ته باید قومي بڼه ورنکړو. مزاري د افغانستان او د افغانستان د ملت لپاره فکر کاوه او د ملي وحدت، اجتماعي عدالت، ولسواکي، ازادي او مساوات لویې هیلې ورسره وې او دا داسې شعارونه نه دي چې د افغانستان په څېر هیواد کې دې یوازې د یوه قوم لپاره وي. عدالت باید د ټولو لپاره وي او ازادي، ولسواک، سوکالي او هوساینه هم د ټولو لپاره.

قدرمنو حاضرینو،

په دویم محور یعنې د قوم دننه مناسباتو په اړه اساسي پوښتنه دا ده چې مزاري د قوم په داخل کې د افغانستان هزاره ګانو او شیعه ګانو ته څه ارزوګانې لرلې او له مختلفو ډلو او اشخاصو سره یې په کوم منطق چلند کاوه؟ او نن ورځ د قوم د منځ په کچه د شهید مزاري هیلې تر کومه حده پوره شوې دي؟

زما په اند شهید مزاري او د هغه فکر د قوم د منځ تر کچې په ملي کچه او د قومونو تر منځ په بڼه ډول پېژندل شوي دي. مزاري د هزاره ګانو په منځ کې اوس هم ناپېژندل شوی او مظلوم دی. هغه مزاري چې نن سبا

انځورېږي، واقعي مزاري داسې نه و. نن ورځ هر څوک مزاري داسې انځوروي چې خپل زړه يې غواړي او د ګټو تقاضا يې ده. په دې اړه غواړم د څو ټکو يادونه وکړم:

اول: مزاري زموږ د نن، پرون او سبا د نسلونو د پيوستون ټکی او له زمانو ور هاخوا يو څوک دی. مزاري يوازې يو کس او ان يوازې يو ګوند نه دی؛ دی يو خط، د لار پيدا کولو يوه نښه او يوه ستراتيژي بايد وبولو. موږ بايد مزاري د خپلو شخصي او ډلو د رقابتونو وسيله ونه ګرځوو. دغه راز مزاري بايد د کابل په درې کلن مقاومت پورې محدود نکړو او د مزاري پيژندنه بايد د تجليل او ويرکولو په مراسمو کې ايساره نکړو. د مزاري پيروي هم بايد يوازې د سمبوليکو مراسمو جوړول او په غونډو کې منفي رقابتونه کول ونه بولو.

مزاري يو فکر او يو نهضت دی او د دې فکر د پيروي معنا دا ده چې دغه فکر ژوندی وساتو او عملي يې کړو. موږ بايد نه ځان او نه مزاري په تېر تاريخ کې ايسار کړو. په تاريخ او تيره فضا کې پاتېدل د رکود او جمود سبب کيږي. د شهيد مزاري پيغام په تاريخ کې د پاتېدلو نه بلکې له تاريخ څخه د عبرت، له تاريخ څخه د تېرېدلو او راتلونکې ته د کتلو پيغام و. له ټولو هزاره ګانو څخه د مزاري غوښتنه دا وه چې څنډې ته مه ځئ، ځانونه د تاريخ په دردونو او غمونو کې مه ايساروئ، له حکومتونو او دولتونو هميشه مه تښتئ، او هر څه ته او هر چا ته د کرکې، دښمنی او د توطيې تيوري په اساس مه ګورئ، بلکې په روانه زمانه کې حاضر واوسئ، په پيښو کې فعال ګډون ولرئ او له سياست، دولت او قدرت سره تعامل وکړئ.

دويم: د هزاره او شيعه ټولنې د ټولو سياسي او فرهنګي قوتونو اتحاد او پيوستون د شهيد مزاري يو بنيادي مقصد و چې دغه مقصد ته د رسېدو لپاره يې په ټول توان سره هڅه وکړه او د دې هڅې نتيجه يې د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند جوړېدل وو. موږ په خپلو سترګو ليدل چې شهيد مزاري د دې يووالي او وحدت د جوړېدو لپاره، په ډېر احترام، تواضع او درناوي د

خپلو خورا لویو رقیبانو لیدو ته ورغی چې پر یوه سیاسي محور یې راغونډ کړي.هیڅ مې نه هېرېږي چې د وحدت ګوند د جوړېدو په لومړیو ورځو کې، مرحوم آیت‌الله ابوالحسن فاضل ماته وویل چې زما دغه پیغام استاد مزاري ته ورسوه چې زه غواړم له وحدت ګوند سره یو ځای شم مګر تاسې تر ما نورو کسانو ته زیات پام کوئ.

استاد مزاري وویل: زما له خوا هغه ته بلنه ورکړه او ورته ووایه چې وحدت ګوند د ټولو ګوند دی او که تاسې په ګوند کې شامل شئ نو تر ګردو لوړ مقام یعنې د نظارت د عالي شورا غړیتوب درته منو چې بیا همداسې وشول. بیا سره یو ځای د ښاغلي فاضل د لیدو لپاره د هغه کور ته او د آیت‌الله محسني کور ته لاړو او له هغوی مو وغوښتل چې له وحدت سره یو ځای شی. دغه راز په هغه غونډه کې چې ښاغلی سید رحمت الله مرتضوي په خارج کې د وحدت ګوند د نماینده ګي د شورا ریاست ته وړاندیز شو، یو شمیر دوستانو مخالفت وکړ خو استاد مزاري څو دلیله راوړل او دا یې هم وویل: زه په دې دلیل ښاغلی مرتضوي وړاندیزوم چې دی په نورو ځانګړنو سربېره، د شورای اتفاق غړی دی، یعنې د داسې ګوند کس دی چې مخکې یې له نصر سازمان سره تر ټولو زیات اختلافونه لرل او د نماینده ګي د شورا ریاست ته د ده په غوره کولو سره به ټولو ته وښیو چې واقعا وحدت رامنځ ته شوی او په محور کې یوازې نصریان نه دي، بلکې ټول ګوندونه ګډون لري.

استاد مزاري د زغم، رواداري او له ځانه تېریدو دغسې روحیه لرله. نن ورځ په افسوس سره وینو چې د مزاري پیروانو د قوم د منځ په روابطو کې د مزاري دغه ستر فکر هېر کړی دی او کله کله خو ځان تخریبول او د کرکې خپرول پر ټولو هدفونو او ارمانونو زورور شي. زموږ ځینې خو ان د مزاري فکر ته له واقعي ژمنې او پر هغه باندې له واقعي باوره پرته، د مزاري له نومه یوازې د سیاسي کمپاین د وسیلې په توګه کار اخلي او د ځان د اتل ګرځولو او خپلو شخصي سیاسي مقصدونو ته د رسېدلو په تمه فاصلې او واټنونه زیاتوي.

که څه هم د مزاري درناوی د هر چا دنده ده او ډېره ښه ده چې په رسمي او ولسي کچه د ټولو سياسي او فرهنګي ډلو له خوا د ملي وحدت شهيد د تلين لمانځنه وشي او زه د زړه له تله د شهيد مزاري د تقديرولو او د هغه د افکارو د بيانولو لپاره د هر کس او هرې ډلې د هر حرکت د زړه له کومې ستاينه کوم، خو له دغو غونډو بايد شخصي او ګوندي ناوړه استفاده ونه شي او د تفرقې کار ورڅخه وانه خيستل شی، بلکې پکار ده چې زموږ د انسجام او د لا زيات پيوستون سبب وګرځي.

له بلې خوا موږ څنګه کولای شو چې شهيد مزاري «د ملی وحدت شهيد» وبولو، په داسې حال کې چې يو شمير کسان مو د ملي او ان قومي تفرقې اور ته پکی وهي او د حذف او واټن او شړلو خبرې کوي. ايا د مزاري فکر د نورو د حذف کولو او انحصار فکر و؟ هم په ملي کچه او هم د قوم په داخل کې، وحدت او عدالت د شهيد مزاري د ستراتيژي دوه اصلي ټکي وو. موږ که نن غواړو چې د شهيد مزاري واقعي پيروان واوسو نو خپله انرژي بايد د ډول، ډول سياسي او اجتماعي واټنونو په زياتېدو، بې ځايه سياليو او د يوبل په شنډولو ونه لګوو. وحدت او د زړونو نژدې کېدل بايد زموږ د ټولو سياسي پروګرامونو په سر کې وي.

له همدې کبله د شهيد مزاري د نهضت او فکر د پيروي له مدعيانو او د عدالت غوښتنې د کرښې له لارويانو په عاجزی سره غواړم چې په تيره بيا په اوسنو شرايطو کې چې د دغو خلکو غليمان زموږ د حذف او يومخيزې وژنې او د ټولو ارزښتونو او برياوو د ختمولو په لټه کې دي، له ځان ځبلو او انحصارغوښتلو پرته، د متفاوتو تمايلاتو په ساتلو او مختلفو او ډول ډول سليقو ته په احترام سره چې په خپل ځای کې يو ضرورت دی، د شهيد مزاري د همپالنې، زغم او وحدت غوښتنې روحيه خپل سياسي عادت وګرځوو او اجازه ورنکړو چې د دغه نهضت د بلې ډيوې روښنايي، چې د وحدت او پيوستون په برکت يې رڼا نوره هم زياته شوې وه، د نفاق او ميرڅی په تيارو کې صدمه ووينې او د دې لارې د غليمانو د خوشحالي سبب شو.

دریم: شهید مزاري یو دینداره سړی و. د دین ټولو ارزښتونو، اخلاقو او شریعت ته پابند و. د دیني معرفت په ساحه کې روزل شوی او په حقیقت کې یو دیني روشنفکر و. د ده فکر نه بې دیني او دین مخالف حرکتونه مني، نه دین د خلکو د غولولو وسیله ګڼي او نه د دین وچ او متحجرانه برداشتونه ورته د منلو دي. په دې اړه هم له بده مرغه کله نا کله افراط او تفریط لیدل کیږي.

ځینې کسان مزاري د یوه دیني عالم او جهادي لاربنود په نوم غندي او د ده فکر د سیاسي اسلام په نوم، وچ او د ولسواکي او ازادي مخالف ګڼي. ځینې نور بیا بېخي برعکس، مزاري یوه غیردیني او دین مخالفه څېره بولي. یو شمېر کسان چې د سکیولرتوب او له دین او مذهب سره د مخالفت برالا چیغې وهي او یا دیني شعایرو او ارزښتونو ته هیڅ پابندي نلري، بیا هم ځانونه ورته د شهید مزاري د لارې رښتوني پیروان ښکاري.

څلورم: د فرهنګ مینه، دعلم پالنه او د پوهې زده کولو او فرهنګي فعالیتونو ته د ځوانانو هڅول د شهید مزاري د سیاسي حرکت یوه بله ځانګړنه وه. دوی فکر، تخصص او علمي، فکري زمینې د ټولنې د ودې او پرمختګ اساس او د یوه سیاسي حرکت د بري عامل بلل. په همدې وجه یې هم خپله هڅه کوله چې د علم او فرهنګ له پراختیا او د مسلکي او متخصصو کسانو له روزنې سره مرسته وکړي او هم یې پوهانو، لیکوالو او د ادب او فرهنګ کسانو ته بې حده درناوی کاوه. په همدې علت د کابل په لویدیځ کې د مقاومت په دوره کې چې د مجاهدینو د حکومت د تاسیس دوران و او د ټولو ګوندونو او قومونو د مشارکت خبره کېده، دوی د بې تجربې او بې تخصصه ګوندي غړیو په ځای، هڅه وکړه چې رسمي او مسلکي پوستونو ته مسلکي او تحصیل کړي کسان معرفي کړي.

موږ هم که نن د شهید مزاري په لاره حرکت کول غواړو نو اول باید هزاره ګان او د افغانستان ټول اوسېدونکي د لا ډیرعلم او تخصص حاصلولو او د معارف او لوړو زده کړو پراختیا ته وهڅوو. دویم دا چې خپلوعلمي او

فرهنګي شتمنیو او خپل ځوان تحصیل کړي کهول او خپلو متخصصانو ته ارزښت ورکړو او هغوی ته فرصت ورکړو چې د هیواد په اداره، اجتماعی برخلیک، سیاسي او فرهنګي انکشاف او ګوندي تشکیلاتو کې برخه واخلي، نه دا چې هغوی رقیبان وګڼو او له صحنې یې وباسو.

البته، څومره چې ځوان نسل ته اهمیت ورکوو، خپل مشر نسل او خپلو علمي او سیاسي شخصیتونو ته هم باید درناوی ولرو، ځکه دوی د ټولنې ستنې دي او دا کټ مټ د شهید مزاري طریقه ده.

شهید مزاري دغسې ځانګړنې لرلې چې هم یې جاذبه قوي وه او هم دافعه. هم یې سرسخته غلیمان پیدا کړل او هم ډیر لیوال او مینان. بې له شکه چې د شهید مزاري جذابیت دومره و چې د هغه غلیمانو او رقیبانو له خپلو ټولو بې ځایه هڅو سره سره د میلیونونو انسانانو په زړونو کې د هغه مینه ذره قدرې هم کمه نکړای شوه او بلکې نن ورځ مزاري په یوه پیاوړي سیاسي محاذ او د انساني لوړو ارزښتونو په یوه قطب بدل شوی دی.

په پای کې له تاسو، د شهید مزاري له یارانو او عاشقانو مننه کوم او یو ځل بیا اعلام کوم چې موږ د ملي وحدت په منځ کې، د هیواد د سیاسي قدرت د یوې برخې په توګه، ویاړو چې په معتدل، عقلاني او سنجش باندې ولاړ سیاست سره، د ملي وحدت د شهید د عدالت غوښتنې کرښې ته ادامه ورکوو. د هغه شهید ارمانونو او ارزوګانو ته به وفادار یو. بې له شکه چې زموږ ستراتیژي او تګلاره د شهید لارښود ستراتیژي او تګلاره ده او د شهید لارښود دا وینا زموږ د خبرو اوعمل لارښوونکې ده: «موږ هغه چا ته د دوستي لاس ورکوو چې د خلکو حق په رسمیت وپیژني او د خلکو حقونو ته درناوی وکړي.»

یو ځل بیا د ملي وحدت د شهید او د هغه د شهیدو ملګرو او دغه راز د هیواد د دفاعي، امنیتي ځواکونو د شهیدانو یاد او خاطرې ته چې په وروستیو پنځلس کلونو کې یې د افغانستان د خلکو د غلیمانو او نړیوال تروریزم په وړاندې په میړانه مبارزه کړې او د شهادت جام یې څښلی دی، درناوی کوم.

دغه راز د بې ګناه ملکي خلکو د مظلومو شهیدانو چې د وطن په ګوټ ګوټ کې په تروریستي حملو کې شهیدان شوی دي، په تېره بیا په دهمزنګ کې د اسد په دویمه د روښنايي د شهیدانو، په باقرالعلوم جومات کې د حسینی اربعین د شهیدانو، د کابل د سخي مزار د شهیدانو، د سردار محمد داوود خان روغتون د وروستۍ حادثې د شهیدانو او د هیواد په ټولو ښارونو او ولایتونو کې د خونړیو حوادثو د قربانیانو ځای دې جنت او یاد دې تلپاتې وي.

درود پر شهید مزاري

ژوندی دې وي افغانستان

تل دې وی د افغانستان د خلکو وحدت او یووالی

والسلام علیکم

# د اروابناد استاد عرفي په تلین کې د جمهور رییس د دویم مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش وینا[1]

**بسم الله الرحمن الرحیم**

«مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا»

(قرآن کریم: احزاب سوره، ۲۳ آیت)

د اجراییه ریاست مرستیال جلالتمآب استاد محمد محقق، د کابینې غړیو، د ملي شورا غړیو، استادانو، علماوو، ځوانانو، قدرمنو حاضرینو، السلام علیکم و رحمت الله و برکاته.

په سر کې اول د مفکر مجاهد، فرهنګپال سیاستوال، منور او نوښتګر عالم استاد قربانعلي عرفاني د لومړي تلین په مناسبت د افغانستتان ټولو خلکو، د هغه دوستانو، همفکرانو او همسنګرانو او په تېره بیا د هغه مرحوم کورنۍ او مشر زوی محمد عرفاني ته تسلیت وایم او هغه مرحوم او د خدای د لارې ټولو شهیدانو او پاکو روحونو ته د الهي رحمت او غفران غوښتندوی یم.

دغه راز مناسبه ګڼم چې د استاد عرفاني د وفات د لومړي تلین د درناوي د

---

۱. دغه وینا د ۱۳۹۵ کال د لړم په اوومه، د جعمې په ورځ د کابل باقرالعلوم جومات کې د استاد قربانعلي عرفاني یکه ولنګي د لومړي تلین په مناسبت وه. په دغو مراسمو کې د جمهور رییس محمداشرف غني په پیغام سربیره، اجراییه رییس عبدالله عبدالله، د اجراییه ریاست مرستیال استاد حاجي محمد محقق، استاد محمد اکبري، د شهید احمد شاه مسعود ورور احمد ولي مسعود او قاسم زاده وفایي هم ویناوې وکړې.

غونډې په مناسبت د هغه مرحوم د ټولو يارانو او همفکرانو لکه د ملي وحدت شهيد، زموږ لاربنود استاد عبدالعلي مزاري او دغه راز د استاد يوسف واعظي، استاد سيد عباس حکيمي او استاد مصطفی اعتمادي چې دا ورځې د هغوی د تلين له نېټو سره هم برابرې دي، د ياد او خاطرې درناوی هم وکړم.

دغه راز د افغانستان د مسلمان ملت د لويو شهيدانو لکه د سولې شهيد استاد برهان الدين رباني، ملي اتل شهيد احمد شاه مسعود، شهيد عبدالحق، شهيد حاجي قدير او په دې ډول شهيد صادقي نيلي او شهيد سيد مصطفی کاظمي چې د هغوی د شهادت د نېټې په درشل کې يو، د ياد او خاطرې احترام کوم او د غور ولايت د دوه ورځې مخکې مظلومو شهيدانو او د هيواد د ملي، امنيتي ځواکونو د اتلو شهيدانو پاکو روحونو ته چې د خلکو د عزت او ازادي د ساتنې په لاره کې له سرونو تېر شوي دي، درود استوم.

عزتمنو حاضرينو،

له دې فرصت څخه په استفادې سره اجازه راکړئ چې د استاد عرفاني د شخصيت او بل د هيواد د ننني ملي لومړيتوبو په اړه تاسې ته ځينې خبرې ولرم:

## اول: د استاد عرفاني شخصيت

مرحوم استاد قربانعلي عرفاني چې پلار مرحوم يې ابراهيم نومېده او په «عادل» مشهور و، په ۱۳۲۱لمريز هجري کال کې د باميان ولايت په يکه ولنګ کې دنيا ته راغی او يو کال مخکې د ۱۳۹۴ کال د تلې په ديرشمه نېټه د درې اويا کلونو په عمر وفات شو. استاد عرفاني د خپل درې اويا کلن برکتي ژوند لږ تر لږه نيمه پيړۍ په فرهنګي، سياسي او جهادي فعاليتونو او تحقيق، تاليف او د خلکو په خدمت تېره کړه. زه وياړم چې کابو څلويښت کاله، له ۱۳۵۴ څخه چې زلمکی وم، د هغه مرحوم د ژوند تر وروستيو پورې ورسره ملګری وم او ارادت او خاص احترام مې ورته درلود.

زموږ لومړنی اشنايي له هغو کلونو پيلېږي چې دی به د يوه ځوان، تکړه او ژبوراو اهل قلم روحاني په توګه دعوت کېده چې د وينا او ليکوالي د تمرين

په غونډو کې، چې طلابو یې د یوه ښه دود په حیث پالنه کوله، برخه واخلي. بیا وروسته په ۱۳۵۸ لمریز کال کې زما لنډه او لومړنۍ مقاله چې تازه مې لیکوالي ته مخه کړې او په دې برخه کې تازه کاره وم، ده مرحوم د «پیام مستضعفین» مجلې په شپږمه ګڼه کې د ۱۳۵۸ کال په لړم کې خپره کړه. دا هغه څه وو چې زه یې د تل لپاره په قلمي کار او سیاسی، فرهنګي فعالیت پورې وتړلم او په فکر او برخلیک کې له شریکو، زړه ته نژدې یارانو، په تېره بیا استادعرفاني سره یې په منظم سیاسي او تشکیلاتي کار کې یو ځای کړم. ځکه خو په مختلفو سیاسي او فرهنګي ساحو کې به تل، د استاد عرفاني د مرستو او لارښوونو منتبار یم او د هغه د یاد احترام به کوم.

دې مځینې ته په پام سره، نن په ځان پور ګڼم چې د هغوی د شخصیت د بیلابېلو ګوټونو یوې وړې برخې ته ځغلنده اشاره وکړم:

## د استاد عرفاني مبارزاتي سوابق

د استاد عرفاني د مبارزو مخینه د پنځوسمو کلونو ابتدا ته رسېږي، هغه وخت ته چې دوی د عراق په نجف کې په دیني زده کړو بوخت ول او پر سیمه او افغانستان باندې واکمنو خاصو شرایطو ته ا و هغه درک او درد ته په پام سره چې دوی د افغانستان د ملت او ټولنې د برخلیک په اړه په ټول وجود سره احساساوه، د خپلو محدودو یارانو او همفکرانو په ملګرتیا، په هغه چاپیریال کې سیاسي او فرهنګي روښانوونکو فعالیتونو ته اقدام وکړ. په هغو کلونو کې په نجف کې ځو پیښې وشوې چې د دوی د دغه حرکت په رامنځ ته کېدو باندې یې ډېر اثر درلود:

لومړی د ځینو افغانو طلابو یو حرکت و چې په حوزه کې د ځینو مقاماتو او نهادونو له هغو تبعیضي اقداماتو سره یې مخالفت وکړ چې د افغاني او غیر افغاني طلابو تر منځ یې توپیر کاوه او په دغه حرکت کې د علامه مدرس افغاني او آیت‌الله محمد عیسی محقق او نورو شخصیتونو په څنګ کې استاد عرفاني هم مهمه ونډه لرله.

بل حرکت د «شباب الهزاره» په نوم د ویر د ډلې راڅرګندېدل وو چې د

عراق د خلکو په منځ کې د ویر د رایجو رسمونو او دودونو د تقلید په اساس و. په عراق کې د هرې سیمې او قبیلې ځوانانو په خپل، خپل نوم د ویر ډلې جوړولې. د شباب الهزاره د ویرډلې تاسیس په یوه خاص هویت او ځانګړنو سره د جمعي حرکت په مقصد د ځوانانو د احساساتو د تحریک او د هغوی د تشویق لپاره اغیزمن کار و چې استاد عرفاني دلته هم د حرکت یو باني او هڅوونکی و.

له بلې خوا د نجف د علمیه حوزې په هغه چاپیریال کې پخپله د امام خمیني او د ایران د شاهنشاهي رژیم په مخالفت کې د نورو مبارزانو شتون او د انقلابي او روښانوونکو کتابونو او نشریاتو خپرول، د ټولو هغو علماوو او ځوانانو په تحریک او منظم کولو کې لویه برخه لرله چې د استبداد او ستم په وړاندې د مبارزې ذهنیت ورسره و. په دې لړ کې د افغانستان ځینو مبارزو روحانیونو هم له دغو کسانو سره نژدې رابطه پیدا کړې وه.

له دغو پیښو سره په یوه وخت په کابل او ایران کې د افغانستان دعلماوو او روشنفکرانو مشابه تحرکات راپیدا شول او د پاکستان په کوټه کې د «نسل نو هزاره» په نامه د هزاره ځوانانو د «ذوالفقار» خپروونه راووته او د قم، نجف، کابل او وروسته بیا سوریې تر منځ تماسونه ټینګ شول.

په دغسې حالاتو او شرایطو کې، استاد عرفاني په لومړي ځل په ۱۳۵۳ کې د «روحانیت مبارز افغانستان» په نوم د افغانستان د مبارزو عالمانو له یوې ډلې سره چې شهید سید حسین حسیني، مرحوم عبدالحسین اخلاقي، سید غلام حسین موسوي او څو نور کسان پکې شامل وو، د «طلاب علوم اسلامي افغانستان» تر عنوان لاندې د هیواد د حالاتو او د وخت د حکومتونو خلاف یوه اعلامیه خپره کړه.

د دې دورې د فکري او فرهنګي پیښو په اړه باید ووایو چې استاد عرفاني لومړنی دیني مبارز عالم او افغان روشنفکر دی چې د هغه وخت په استبدادي چاپیریال کې یې قلم را واخیست او د انقلابي او تنویري فکر لومړنی کتاب او د اسلام د سیاسي فکر او تاریخ نوی برداشت یې په بلیغه ژبه او ښکلیو

ادبیاتو، د «امر به معروف و نهی از منکر» په نوم په ۱۳۵۵ کال کې په نجف کې تالیف او خپور کړ.

که څه هم دغه کتاب به په اوسنیو شرایطو کې شاید غیرعادي اثر ونه ګڼل شي خو په هغو ورځو کې یو بې ساری اقدام او په حقیقت کې زموږ په دیني علمیه حوزو او پوهنتوني محیط کې یو فکري او فرهنګي تحول و. د دغه کوچیني کتاب اهمیت، چې په جیبي قطع چاپ شوی و، د ډاکتر شریعتي او د هغه وخت د نورو مسلمانو مبارزانو او روڼ اندانو د آثارو په اندازه و او د افغاني او ایراني لوستونکو په منځ کې به لاس په لاس کېده.

په نجف کې د استاد عرفاني دغه فعالیتونه، په کابل او قم کې له نورو مبارزو کړیو سره د لا پراخو اړیکو د ټینګولو سبب شول چې کابل، ایران او سوریې ته په ۱۳۵۶ کال کې د هغوی سفر، په همدې کال کې سوریې او عراق ته د شهید استاد مزاري له سفر او سوریې ته د شهید ضامن علي واحدي له سفر سره، دغه ارتباطات په یو ډول تشکیلاتي او فکري رابطې بدل شول. بالاخره په ۱۳۵۷ کې د ثور په شرمېدلې کودتا سره او په ایران کې د اسلامي انقلاب په بری سره، سیاسي مبارزې نوي پړاو ته داخلې شوې.

پر دغه کال همفکر او همغږي کسان چې په مختلفو هیوادونو کې دیره وو، سره راټول شول او د افغانستان نصر سازمان یې تاسیس کړ چې د موجودیت د علام لومړنۍ اعلامیه یې د ۱۳۵۸ کال د وري په لومړۍ نېټه خپره شوه او هلته پکې د دغه سازمان د سیاست اصول او نظریات هم څرګند شوي وو. د نصر سازمان د مهالنۍ لومړۍ ګڼه د ۱۳۵۸ کال په چنګاښ کې د «پیام مستضعفین» په نوم خپره شوه.

د نصر سازمان موسسان او د مرکزي شورا غړي دغه کسان وو: شهید استاد عبدالعلي مزاري، شهید استاد سید حسین حسیني، اروابناد استاد قربان علي عرفاني، مرحوم استاد یوسف واعظي شهرستاني، مرحوم استاد سید عباس حکیمي، آیت‌الله صادقي پرواني، استاد محمد کریم خلیلي، استاد عزیزالله شفق، استاد خادم حسین ناطقي شفایي او استاد محمد ناطقي پنجاب.

دلته یو د یادولو ټکی دا دی چې د نصر سازمان په دوران کې استاد عرفاني له فکري او سیاسي نظره او ان د شخصي روابطو له نظره، استاد مزاري ته تر ټولو نژدې کس و او د دوی دواړو تر منځ یو ډول خاص احترام او باور او نه شلیدونکی تړاو موجود و.

ځرنګه چې د استاد عرفاني له فعالیتونو سره په وروسیتو کلونو کې ټول اشنا شوي دي نو د دوی د مبارزاتي سوابقو په اړه به په همدومره خبرو بسنه وکړم او د وخت د کمي په وجه به د هغوی د شخصیت ځینو ګوټونو ته هم یوازې څو اشارې ولرو:

## فرهنګي اړخ

لکه څنګه چې وویل شول استاد عرفاني خپل سیاسي فعالیت د فکري او فرهنګي پوهې له خپرولو سره پیل کړ او د کار دغه طریقه یې د خپل برکتي ژوند تر پایه جاري وساتله. د هغه د ژبې او بیان بلاغت کم ساری و. تل به یې په ټولوغونډو او ان سفرونو کې قلم او کتابچه له ځان سره ساتل، یادښتونه به یې اخیستل او ټولې صحنې به یې په جزییاتو او خوږه او جذابه ژبه بیانولې. د هغوی د سفر د یادښتونو ټولګه او دغه راز د دوی د لیکنو دوې نورې ټولګې مې په ۱۳۶۳ کال کې چې د «پیام مستضعفین» مجلې مسوول وم، د دې مهالنۍ په مختلفو ګڼو کې چاپ کړې. دغه راز د دوی «از کنګره تا کنګره» کتاب په ۱۳۷۲ کال کې، زما په ترتیب، سمون او سریزه، چاپ شو. دوی د دغسې کتابونو او مقالو په څنګ کې په کابل کې د باقرالعلوم او په یکه ولنګ کې د الزهرا موسسې هم تاسیس کړې چې دا ټول کارونه د دوی د فکري او قلمي وړتیا او ارزښتناکو فرهنګي خدمتونو ځرکندوی دي.

## اسلامی او انساني اخلاق

هر چا چې استاد عرفاني پیژانده، ښه پوهېږي چې د هغوی یو لوی امتیاز اسلامي او انساني خاص اخلاق او په دیني ارزښتونو او اخلاقي فضایلو د هغوی پابندي وه چې هر څوک یې ځان ته جذبول. په هر ډول پیښه کې او د خورا

ترخو چلندونو په مقابل کې د هغوی صبر، زغم او تواضع کم ساري وو.

## همپالنه او وحدت غوښتنه

استاد عرفاني د جهاد په کلونو کې چې د جهادي ګوندونو تر منځ ډېرې نانندرۍ او کشمکشونه وو، هيڅوخت په اختلاف او تفرقې راضي نه و او د جهادي ډلو تر منځ شخړو ځوراوه. په همدې علت يې په ۱۳۶۵ کې د استاد مزاري او استاد محمد ناطقي په ملګرتيا له ايران څخه وطن ته د سفر په وخت کې چې د مجاهدينواو جبهو حالات وليدل، اوضاع ورته د خلکو او ګوندونو په خير ښکاره نه شوه او له آيت‌الله پرواني، استاد شفق او نوروسره يې د سولې او په نهايت کې د جهادي قوتونو د اتحاد لپاره هڅې پيل کړې.

دغه هڅې په ۱۳۶۷ کې زياتې شوې. د وحدت غوښتنې لومړنی څرک، لکه څنګه چې د استاد عرفاني د «از کنګره تا کنګره» کتاب په لومړی فصل کې يې په تفصيل سره يادونه شوې، د استاد عرفاني، استاد محمد اکبري، ښاغلي حسين صابري او سيد عبدالحميد سجادي تر منځ له دوستانه جلسې وروسته په لعل و سرجنګل کې وليدل شو.

له هغه وروسته د مرکزي سيمو د مجاهدينو لومړنۍ عمومي کنګره د ۱۳۶۷ کال د سرطان په ۲۱ نيټه د باميان په پنجاب کې او ورپسې د نصر سازمان او پاسداران جهاد د مسولينو غونډه د ۱۳۶۷ کال د وږي په شپاړلسمه نېټه په لعل کې وشوه او د دواړو ډلو د اتحاد منشور لاسليک شو. په دې لړ کې نورې غونډې د ۱۳۶۷ کال د وږي په۲۲ په بهسود او د ۱۳۶۷ کال د ليندۍ په لسمه په جاغوري کې وشوې. بالاخره وروسته له دوو کلونو پرله پسې هڅو، په هغو غونډو کې چې د ۱۳۶۸ کال د چنګاښ په ۲۵ په باميان کې وشوې، د «ميثاق وحدت» په نوم پريکړه ليک امضا او د افغانستان اسلامي وحدت ګوند په رسمي ډول تاسيس شو.

په دې ډول استاد عرفاني د وحدت ګوند يو اصلي معمار او موسس ګڼل کيږي چې د مجاهدينو له بري وروسته په کابل کې د وحدت ګوند له رهبرانو او فعالانو څخه و او د محمد کريم خليلي په مشري په باميان کې د وحدت

ګوند د استقرار په دوره کې، دوی د ګوند د لومړي مرستیال په توګه فعالیت کړی او په وروستیو کلونو کې یې د «حزب وحدت اسلامی ملت افغانستان» په نوم د ګوند د یوې څانګې مشري په غاړه وه.

د استاد عرفاني د شخصیت او مبارزو په اړه ډیر څه ویل کېدای شي چې دلته د وخت د کموالي په وجه ترې تېرېږو. دغه تجربې باید نوي نسل ته ولېږدول شي او دوی په دې خبر شي چې په ماضي کې پر دغه هیواد او دغو خلکو څه تېر شوي دي، د حوادثو بهیر څنګه و، کومو کسانو سربښندنې وکړې او کړاوونه یې وګالل او موږ ته یې څه درسونه پرېښودل.

## دویم: زموږ ملي لومړیتوبه او د لارې خنډونه

قدرمنو حاضرینو،

د عرفاني او د ده په شان کسانو د زیار او مجاهدت په برکت نن د افغانستان خلک له کلونو تکلیفونو او زحمتونو وروسته یو داسې نظام لري چې دوی په خپله خوښه او رایه انتخاب کړی دی. زموږ ملت اوس د سیاسي ازادي، بیان ازادي، ولسواکي، اساسي قانون او داسې دولت له امتیازه برخور دی چې د درې ګونو قواوو مستقل والی پکې یو اصل دی. موږ ټول باید په دې پوه شو چې له داسې پیچلیو خنډونو سره مخ یو چې که غفلت وکړو او عاقلانه ګام وانخلو نو هر څه به په یوه وار له لاسه ورکړو.

له تاسې قدرمنو حاضرینو او دولتي او ولسي مشرانو اجازه غواړم چې نن په دې اړه دوو ټکو ته اشاره وکړم:

## سوله او امنیت

د پایښتي سولې تامین د افغانستان د خلکو پخوانۍ هیله ده. دا دی څو لسیزې وشوې چې د افغانستان ظلم ځبلي خلک په مختلفو نومونو او پلمو د جګړې له بلا سره مخ دي او هره ورځ په لسګونو او ان په سلګونو بې ګناه زاړه، ځوانان، ښځې، نارینه او ماشومان قرباني کېږي. هره سوله او شخړه بالاخره باید په سوله پای ته ورسېږي. د ملي وحدت حکومت په دې موده کې په دې

اړه هم په ملي او بين الافغاني سطحه اوهم په سيمه ايزه او نړيواله کچه او له دوستواو ګاونډيو هيوادونو سره په همکارۍ، صادقانه او زړه ور ګامونه اخيستي دي چې د ښاغلي حکمتيار له اسلامي ګوند سره د سولې د تړون لاسليک د بين الافغاني بريالي ديالوګ يو روښانه مثال دی.

ټول مسلح مخالفان په تېره بيا طالبان بايد پوه شي چې د جګړې له لارې هيڅوخت مقصد ته رسېدای نه شي. نن ورځ د دې خاورې زړه ور بچي، د هيواد د دفاعي او امنيتي ځواکونو په چوکاټ کې، په ټول قوت او بې ساري مقاومت، د دوی په وړاندې ولاړ دي او د هيواد په هر ګوټ کې يې ماتې ورکړې ده. نو، را دې شي او د اسلامي ګوند غوندې دې د خبرو لار غوره کړي او د افغانستان له حکومت سره دې مخامخ خبرو ته کښېني، خپلې غوښتنې دې د يوه سياسي سوله ييز فعاليت له لارې تعقيب کړي.

موږ د هيواد په هر ګوټ کې، له ټولو نخبګانو، ډلو، سياسي ګوندونو او د افغانستان له ټولو شريفو خلکو غواړو چې د امنيت په ټينګېدو کې له حکومت سره هراړخيزه همکاري ولري او د پردو تالی څټو ته اجازه ورنکړي چې په مختلفو سيمو او لويو لارو کې په انتحار، انفجار، اختطاف، يرغمل نيونې او ناامنيو لاس پورې کړي او ملکي بې ګناه کسان وځوروي.

په دې اړه د ميدان وردګ ولايت له خلکو او په تيره بيا د دغه ولايت له سياسي او جهادي شخصيتونو، ګوندونو، متنفذانو او شخصيتونو د زړه له تله مننه کوم چې د يو بل په مرسته او له ځايي او مرکزي حکومت سره په همکاری يې د بې ګناه يرغملو د خلاصون لاره اواره کړه او د مسافرو د تګ راتګ امکان يې برابر کړ. په ميدان وردګو کې دې زموږ خلک که پښتانه دي، يا تاجيک يا هزاره، بايد پوه شي چې دغه ولايت د دوی د ټولو مشترک کور دی.

د دغو سيمو خلکو په کلونو کلونو د يو بل په څنګ کې د ورورۍ ژوند کړی دی او د يو بل په غم او خوشحالي کې شريک پاتې شوي دي. پکار ده چې د يو بل په مرسته د خپلې سيمې او لارو امنيت تامين کړي او اجازه

ورنکړي چې له سيمې بهر ځينې کسان راشي او د دوی په منځ کې د نفاق تخم وشيندي او د يو بل په مقابل کې يې ودروي. نن ورځ هيڅوک او هيڅ قوم نه شي کولای چې په افغانستان کې په زور او فشار پر نورو حکومت وکړي. د عزتمن او کرار ژوند يوازينۍ لار دا ده چې خلک يو بل ته درناوی ولري او له يو بل سره همکاري ولري.

په دې اړه بايد په ډير تاسف او تاثر سره د غور د دوه ورځې مخکې پيښه ياده کړم چې ځينو بې ضميره او جنايتکاره توپکيانو، يو شمير بې دفاع ملکي وګړي چې ماشومان او زلمکي پکې شامل دي، يرغمل نيولي او بيا يې شهيدان کړي دي.

دغه له خدايه ناخبره کسان چې هيڅ معيار ته پابند نه دي او هره ورځ کله د طالب په نوم، کله د داعش په نوم، کله د يوه ګوند، کله د بل ګوند په نوم بشري جنايتونه کوي، د غور له شريفو خلکو سره يې هيڅ رابطه نشته. د غور شريف خلک بايد دا د شرم داغونه له خپلې لمن پاک کړي او اجازه ورنکړي چې يو شمير کسان د دوی په نوم د دوی اولادونه په خپلو وينو ولمبوي.

## د ملي وحدت ټينګښت او له قومي تفرقې ډډه

يو لوی خنډ او خطر او ان تر جګړې او نامنيو هم لوی خطر، په هيواد کې د هر څه قومي کول دي. نن ورځ له بده مرغه، د قوم په نوم حرکتونو يوې څپې د هيواد د خلکو ذهنونه پريشانه کړي دي. قومي کول د دولت جوړونې او ملت جوړونې په بهير باندې نه جبران کېدونکی ګوزار دی او د ولسواکي، د قانون د حاکميت، د عدالت د تامين او شهروندي حقونو د تامين په وړاندې خنډ دی.

دې روحيې له بده مرغه په وروستيو کې د ملی وحدت حکومت او د حکومتولي بهير ته هم صدمه رسولې ده. ځينې کسان چې ځانونه د حکومت ارکان هم ګڼي، خلکو ته په يو ډول سره بديلې طرحه وړاندې کوي. موږ د سياسي مشرانو له جنجال جوړوونکو او نهيلي کوونکو څرګندوونو خواشيني

یو. دغه ډول اختلافونه او څرګندونې د اساسي قانون له چوکاټه بهر دي او د ملت او نظام د کمزوري سبب کېږي، د اصلاحاتو د پروسې مخه نیسي او د هېواد لوی مدیریت له خنډ سره مخ کوي.

موږ باید په داسې چلندونو سره د افغانستان له ستر ملته بخښنه وغواړو. موږ باید داسې څه ونکړو چې ملت نهیلی او دښمن خوشحاله شي او د دفاعي او امنیتي فداکارو ځواکونو روحیه کمزورې شي. نن هم غلیم له دې حالت ناوړه ګټه اخلي او هم قومي افراطیان دغه اور ته پکې وهي او د کینې او کرکې تیل ورباندې اچوي او د دغه هېواد سره ورونه قومونه د یو بل خلاف پاروي. دغسې حالت د هیچا، هیڅ ډلې او هیڅ قوم په ګټه نه دی.

د دغه تباه کوونکي خطر په مقابل کې ټول مسولیت لرو، له جمهور رییس څخه نیولې تر معاونانو، تر اجراییه رییس او مرستیالانو پورې یې او زموږ ټول سیاسي او فرهنګي نخبه ګان او مدني فعالان په دې اړه مسولیت لري. جمهور رییس د اساسي قانون د ساتندوی او د دولت د ټولو ارکانو د رییس په توګه دنده لري چې د نظام مشروعیت، د هغه بقاء، د ملي وحدت ټینګښت او د وروړګلوي روحیه په خپلو لومړیتوبونو کې راولي.

موږ باید دې خبرې ته په دقت سره پام وکړو چې افغانستان کثیرالقومي هېواد دی او ټول قومونه د دې بڼ ښکلي ګلونه دي او له دې کبله دا طبیعي خبره ده چې هر څوک او ان حکومتي مقامات یوه خاص قوم ته تمایل ولري او دا تمایل له هر چا سره شته خو قوم ګرایي په دې معنا باید نه وي چې له نورو قومونو سره د دښمني او تقابل او د نورو د حقونو نه منل وګڼل شي.

زه له هغو کسانو چې افراطي قومي روحیه لري، که د هر قوم وي، هیڅوک وخت ملاتړ نه کوم او نه به یې وکړم. زه د هغه نژدې ارتباط او شناخت په اساس چې له جمهور رییس سره یې لرم، په جرات وایم چې جمهور رییس له افراطي قومي او توکمیز افراطیته پاک دی او په اصولو کې د هیواد ټولو چارو ته په پراخ تخنیکي نظر او شفافیت او وړتیا د معیارونو پر اساس ګوري او په یقین سره چې اجراییه رییس او زموږ نور شخصیتونه او ملی،

سياسي مشران هم تل د هيواد لوړې ګټې او سترې ملي منافع په نظر کې نيسي.

که له يوې بلې زاويې د هيواد تېر تاريخ او په افغانستان کې د ادارې عمومي جوړښت ته وګورو، په واضح ډول وينو چې ترخپل حق زيات څه غوښتل، انحصار طلبي او کله نا کله سيستماتيک تبعيض موجود و او په دوو اصلي برخو کې عدالت رعايت شوی نه دی: يو د تقرر او استخدام په برخه کې چې د قومونو په تېره بيا اقليتونو عادلانه مشارکت رعايت شوی نه دی. دويم، د متوازن انکشاف په برخه کې چې ټولې سيمې او ان د پښتنو سيمې د پرمختګ له نظره سره برابرې نه دي. دغه ستونزه يوازې د ملي وحدت د حکومت له دوران او رهبري سره تعلق نلري بلکې په خواشينۍ سره بايد ووايو چې د هيواد له تير تاريخه په ميراث پاتې ستونزه ده.

څکه خو نن ورځ د ملي وحدت په حکومت کې زموږ ټولو دنده ده او له ټولو توقع کيږي چې د بې ګټې رسنيزو بحثونو په ځای، راځئ له قومي او ګوندي انحصارغوښتنې جدا، د اساسي قانون په چوکاټ کې د يوه مناسب جوړښت د ايجاد په اړه، د قانوني او شفافو معيارونو پر رعايت تاکيد وکړو او د يوې رسمي او سيستماتيکې پروسې له لارې يو بل ته قناعت ورکړو او تفاهم او توافق ته ورسيږو.

له دې پرته بله لاره نشته. موږ بايد د تبعيضونو او نابرابريو د مخنيوي لپاره، د لياقت او شفافيت پر اساس د عادلانه مشارکت د تحقق لپاره او دغه راز په ټولو ولايتونو کې د متوازن انکشاف د رعايت لپاره او د نړيوالې ټولنې د ميلياردي مرستو د عادلانه استفادې لپاره او د هغه سيستماتيک تبعيض د مخنيوي په مقصد چې د دغه هيواد د سياسي تاريخ په اوږدو کې موجود و، د ملي باور د ايجاد لپاره او بالاخره د ملي وحدت د ټينګښت لپاره هيڅ ډول هڅه ونه سپموو.

موږ بايد نن پوه شو چې د دا ډول داخلي اختلافونو او بحثونو په ځای د خپل هيواد لپاره نور لومړيتوبونه لرو: جګړه او ناامني، د ټاکنو کول او د

خلکو ارادې ته د درناوي ضرورت، د اساسي قانون د رعایت او د قانون د حاکمیت اړتیا، د دولت او ملت جوړونې د بهیر پیاوړتیا، له فساد سره مبارزه، د مهاجرینو اوبې ځایه شویو ستونزه، د اقتصادي پروګرامونو تحرک، د مخدره موادو د پټې خولې بلا او نورې ستونزې.

د مخدره موادو پرخلاف د مبارزې وزارت او د ملګرو ملتونو د مخدره موادو په خلاف د مبارزې د ادارې (یو.این. او.ډي.سي) مشترک راپور چې څو ورځې مخکې اعلام شو، د مخدره موادو د تولید په سلو کې درې څلویښت زیاتوالی او د کوکنارو د کروندو د ختمولو په کار کې ناکامي څرګندوي. په همدې تناسب، په هیواد کې تر لرې لرې کلیو پورې د معتادانو د شمیر زیاتوالی، د هیواد انساني پانګه د تباهي له خطر سره مخ کوي. دغه وضعیت ښیي چې موږ له مخدره موادو سره په مبارزه کې ناکام یو او یا حتی دا چې دغه بوړنوونکي او تر تروریزم هم بد خطر ته لازمه توجه نه کوو.

په حکومت کې د یوه فرد په توګه، چې ټولو شخصیتونو، د دولت او حکومت ارکانو او د دغه هیواد ټولو شریفو خلکو او قومونو ته خاص درناوی لرم، زما عاجزانه تقاضا د هیواد له ټولو سیاسي نخبګانو او شخصیتونو دا ده چې موږ نن ورځ د یوه ملي تړون او میثاق تجدید ته اړتیا لرو؛ د پایداره سولې، ثبات او امنیت لرونکې ابادې، سوکالې او پرمختللې ټولنې د جوړولو په منظور د هیواد لوړو ګټو او ملي منافعو ته د وفادارۍ میثاق ته؛ د ملي وحدت د ټینګښت، د اساسي قانون د ارزښتونو او احکامو د رعایت، د خلکو ارادې ته د درناوي، ولسواکۍ ته، انساني کرامت ته، بشري حقونو ته، ټولنیز عدالت ته او د هیواد د ټولو قومونو برابرۍ او ورورګلوۍ ته د درناوي میثاق او تړون ته.

د داسې ورځ په هیله
السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

# د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند په سیاسي – مشورتي غونډه کې د جمهور رییس د دویم مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش وینا[1]

**بسم الله الرحمن الرحیم**

د اسلامي وحدت ګوند مشر او د جمهوري ریاست پخوانی مرستیال جلالتمآب استاد محمد کریم خلیلي، قدرمنو استادانو عزیزالله شفق، ناطقي شفایي، محمد یکه ولنګي، د ملي شورا او ولایتي شوراګانو استازو، علماوو، استادانو، مجاهدینو، د هیواد په مرکز او ولایتونو کې د اسلامي وحدت ګوند استازو، میرمنو، ښاغلیو، السلام علیکم و رحمت الله و برکاته!

تر هر څه لومړی له جناب استاد خلیلي، په کابل کې د ګوند له دفتر او موظف کمیسیون څخه چې په اوسنو حساسو شرایطو کې یې د هیواد د حالاتو د شننې او توضیح او د اسلامي وحدت ګوند د دریځونو د بیان لپاره دغه دوه ورځنۍ پرتمینه غونډه جوړه کړه، مننه کوم. دغه راز د اسلامي وحدت ګوند اروابښاد لاربښود، د ملي وحدت شهید، استاد مزاري او د هغه د یارانو پاکو روحونو ته لکه آیت‌الله پرواني، استاد سید عباس حکیمي، استاد قربانعلي عرفاني، استاد یوسف واعظي، استاد مصطفی اعتمادي، شهید ضامن علي واحدي، استاد امان الله موحدي، شهید ابوذر غزنوي، شهید اخلاصي، شهید

---

۱. د ۱۳۹۶ کال د ثور دوه ویشتمه، کابل

ابراهيمي او په لسګونو نورو سياسي، جهادي، فرهنګي شخصيتونو او د جهاد د لارې اتلانو ته درود استوم چې د دغه ګوند د ارمانونو او د ازادي او عدالت د تحقق په لاره کې يې مبارزه وکړه او له سرونو تېر شول. دغه راز د شعبان د پنځلسمې د رارسېدو په مناسبت چې په نړۍ کې د عدالت د خپروونکي امام مهديِ موعود ميلاد دی، د نړۍ ټولو عدالت غوښتونکو ته مبارکي وايم.

که څه هم نيت مې و چې نن به د دې غونډې په تناسب، په دغو تيرو کلونو کې د ګوند د برياوو او همدغه راز د حکومت د وضعيت او اړوندو فعاليتونو په اړه د رپورټ په شمول د مختلفو موضوعاتو په باب تاسې قدرمنو حضارو ته مفصل رپورټ وړاندې کوم خو د وخت د کموالي په علت او د دې لپاره چې د ټولو برخه والو له نظرونو لا زياته استفاده وشي، خپلې خبرې په لنډو کې او د جزيياتو له يادولو پرته بيانوم.

په سر کې بايد يادونه وکړم چې په دغه ګوندي غونډه کې زما خبرې تر ډېره حده له شيعه او هزاره ولسونو او د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند له غړيو او پلويانو سره تعلق لري او په دې اړه خپل ځينې نظرات، نه يوازې د اوسني وضعيت په اړه بلکې د يوې اوږدمهالې ستراتيژي او يوې پاليسي د عمومي کړښو او د آينده لپاره د يوې طرحې په توګه وړاندې کوم. توقع مې دا ده چې زما دا خبرې تاسې عزيزان تير تاريخ ته په کتو او سياسي تجربې ته په پام سره واورئ او پام ورته وکړئ.

که څه هم په ملي سطحه د جناب استاد خليلي پرونۍ خبرې هراړخيزې او جامع وې او موږ په دې برخه کې د استاد خليلي نظرونه لارپرانيستونکي، د کانې کرښې او د دولت، خلکو او وحدت ګوند لپاره بهترينه پاليسي ګڼو، خو د استاد د خبرو د بشپړولو په مقصد ځينې ټکي په لا صراحت او جزيياتو سره دلته مطرح کوم.

## لومړی: په ملي محور او بين الاقوامي اړيکو کې

نن ورځ په افغانستان کې موږ ټول يعنې د هيواد ټول سره ورونه قومونه، په

ډیرو حساسو او سختو شرایطو کې یو. د باثباته او پایدارې راتلونکې لپاره برخلیک ټاکل، زموږ په ننني‌و کړو او فیصلو پورې تعلق نیسي. موږ د نن ورځې په عمل سره کولای شو چې د ملت جوړونې بهیر د بل هر ملت په څېرد واحد ملت کېدنې، د یوه لوی ملي هویت د احیا او د سوله ییز، عزتمن تولیز ژوند په لور سوق کړو. او یا خو دا چې بیا هم تېرې تېروتنې تکرار کړو او قومونه او اجتماعي ډلې د یو بل غاړې ته واچوو او د قدرت او قومیت له یو بل سره غلیم ګڼ ټاپوګان جوړ کړو؟

په دې اړه څو اساسي ټکي چې د ټولو قومونو خصوصا هزاره ګانو مسولیت دی او دغه راز له نورو قومونو د هزاره ګانو توقع، مطرح کوم.

## ۱ – موږ یوازې په نظام جوړونې او دولت جوړونې سره هدف ته رسېدلای شو

بې له شکه چې د افغانستان د ټولو خلکو اصلي هیله او هدف د عدالت تامین دی خو عدالت هغه وخت واقعي معنا مومي چې د ټولو لپاره وي. یوازې د خاصې ډلې لپاره عدالت، او په داسې حال کې چې نورې ډلې له عدالته محرومې وي، عدالت نه دی، بلکې ښکاره ظلم او تبعیض دی. نو په دې اساس، موږ په افغانستان کې عدالت د ټولو لپاره غواړو او دغه هدف ته به داسې رسېږو چې دولت سازي او نظام سازي وکړو. د عدالت تامین د وګړي او فرد کار نه دی، موږ یوازې د اشخاصو په مرسته، که ډېر تکړه او ممتاز کسان هم وي، هدف ته نه رسېږو او د ملي وحدت شهید، استاد مزاري په قول، موږ باید د چا په رنګ میین نه شو.

موږ د دولت جوړونې او نظام جوړونې په مرسته عدالت ته رسېږو. موږ باید پر ملي، اسلامي ارزښتونو او پر ولسواکي او سیاسی، کلتوري او مذهبي پلوریزم ولاړ دولت ولرو، داسې دولت چې د قانون حاکمیت ته او د بشري حقونو او شهروندي برابرو حقونو رعایت ته ژمن وي؛ په قضایاوو او داخلي شخړو کې بې طرفه دولت؛ تکنوکرات دولت او په قومي، ژبنیو، سمتي او مذهبي مسایلو کې بې پلوه دولت.

## ۲ ــ موږ د جګړې او تشدد له لارې هدف ته نه رسيږو

جګړه، تشدد او تندوري که په هر رنګ، هره بڼه او هر ماهيت او فکري، سياسي هويت سره وی، په ننني نړۍ کې د يوه قوم يا سياسي ډلې برې تضمينولای نه شي. هر قوم، په تيره بيا هزاره قوم ته هر ډول قومي، مذهبي او ژبنۍ تندوري، خصاصا جنګ او خشونت، د ژوونکي زهر حيثيت لري او د تباهي سبب دی.

زموږ ستراتيژي بايد جګړه او افراط نه بلکې يوه مختلطه سياسي، مدني او فرهنګي ستراتيژي وي. موږ بايد له نورو قومونو سره مثبت تعامل ولرو او د دوه اړخيز درناوي په اساس چلند وکړو. په همدې خاطر موږ د هيواد په اوسنو شرايطو کې د هر هغه ګام هرکلی کوو چې هره ډله او هر څوک يې د سولې په لور اخلي، خو شرط يکې دا دی چې په رښتيا له جګړې او له پردو او تروريستي ډلو سره له تړاوه لاس واخيستل شي او د هيواد اوسنی اساسي قانون او د اوسني سياسي نظام پنځلس کلنې برياوې ومنل شي. په دې اړه له حزب اسلامي سره د حکومت د جوړجاړي چوکاټ د ټولو نورو حالاتو او موردونو لپاره يو مناسب او د منلو وړ مثال دی.

## ۳ ــ موږ له حکومت سره په تقابل کې هدف ته نه رسيږو

موږ بايد په افغانستان کې له هر حکومت سره چې هر ډول فکر او پروګرام ولري، په تېره بيا مشروع او منتخبو حکومتونو سره همکاره واوسو. سياسي انزوا، له حکومته لرې والی يا له حکومت سره مخالفت که په هر دليل وي، زموږ د خلکو په تاوان دی، لکه په ماضي کې چې مو له دې درکه تاوان کړی دی. موږ بايد په حکومت کې يو او په سياست او دولتداري کې فعال، مسولانه او مسلکي چلند وکړو، تجربه زده کړو او د حکومت د څرخ په مديريت او چلولو کې برخه واخلو، نه دا چې منفعل واوسو او د سيل بين نقش ولوبوو او ځان په څنده کې او نور د دولت مالکان تصور کړو.

البته، دولتداري په خپله سياسي مبارزه او سياست کول دي. هميشه يکې ستونزې، ګډوډۍ او لوړې ژورې وي او کله کله هم د سياسي شرايطو په

غوښته د حکومت د اپوزیسیون نقش لرلای شو، که څه هم اپوزیسیون اوسېدل د هزاره ګانو لپاره هیڅ سیاسي ګټه نلري. ځکه نو په هیڅ حالت کې باید له حکومت سره په تضاد او دښمني کې واقع نه شو او له ناخوالو سره سره باید د پېښو په متن کې، له حکومت سره او نورو قومونو او سیاسي ډلو سره په تعامل کې ځان د دې ملک مالک او د نورو په غم و خوشحالي کې شریک وګڼو.

اوسنی حکومت یعنې د ملي وحدت حکومت هم له ټولو ستونزو سره سره چې په مخ کې یې دي او د هغو په ځای یا بې ځایه نیوکو باوجود چې ځینې مشران او سیاسي ډلې یې ورباندې کوي، د افغانستان مشروع او منتخب حکومت دی چې د حکومتولي، انکشاف، عمومي خدماتو او خپل بهرني سیاست په برخو کې یې ډېر منظم، مسلکي او قانونمند حرکت کړی دی. همدا اوس په روان کال کې د بامیان او څنګلوریو ولایتونو لپاره یې یوازې د سړک جوړونې په برخه کې څلور سوه میلیونه ډالره بودیجه لرو او د نورو پروژو په څنګ کې د یکه ولنګ- دره صوف سړک د پروژې کار، د دوه څلور میلیونه ډالرو په لګښت، په لنډو ورځو کې پیلېږي. هغه څه ته په پام سره چې وویل شول، موږ له حکومت سره د تعامل او همکاري په حالت کې په ښه ډول کولای شوهم عدالت ته او هم ثبات او انکشاف ته ورسېږو.

## ۴ ــ هیڅوخت له هیڅ قوم سره د بل قوم په خلاف نه متحد کېږو

د تاریخ تجربو ښودلې ده چې هیڅ قوم او هیڅ ډله نه شي کولای چې له بل قوم سره د تل لپاره سیاسي او طبیعي متحد پاتې شي. دغه راز هیڅ ډله او هیڅ قوم نه شي کولای چې له بل قوم یا بلې ډلې سره د همیشه لپاره په تضاد او میرڅې کې واوسي.

د همدغه دوو تجربه شویو تاریخي ارونو په اساس، هزاره ولس له هیڅ قوم سره د بل قوم په خلاف لاس نه یو کوي او هیڅ قوم خپل دښمن نه ګڼي، بلکې د افغانستان له ټولو قومونو سره متحد دی او د ټولو په غم او خوشحالي کې ځان شریک ګڼي او ځان له نورو سره په برخلیک کې شریک بولي او

هر چا ته هغومره درناوی کوو چې موږ ته يې کوي.

## ۵ ــ موږ له پردو سره د دښمني تيوري نه منو

موږ له هيڅ پردي او بهرني هيواد سره صرف په دې وجه چې پردی او بهرنی دی، مخالفت او دښمني نه کوو. په اوسنی دنيا کې له پردو سره د مخالفت او ميرڅي تيوري د منلو نه ده. هر هغه هيواد او دولت چې د افغانستان له دولت سره مرسته او همکاري کوي او د افغانستان خلکو ته درناوی لري او د افغانستان په خلاف توطيه نکوي، زموږ دوست دی.

اصلي معيار، زموږ ملي ګټې او زموږ خپلواکی، ځمکنۍ بشپړتيا او ملي، اسلامي ارزښتونو ته درناوی دی. په همدې اساس، نړيواله ټولنه او لرې او نژدې هيوادونه چې نن ورځ د ترهه ګرۍ په خلاف جګړه کې د افغانستان د خلکو په څنګ کې ولاړ دي، زموږ متحد او د درناوي وړ دي.

قدرمنو حاضرينو،

هغه څه ته په پام سره چې وويل شول، پوښتنه دا ده چې د يادو مکلفيتونو په وړاندې له دولت او نورو څخه د هزاره خلکو توقعات څه دي؟ موږ د افغانستان له جمهور رييس جلالتماب محمداشرف غني څخه مننه کوو چې د معاصر او مدرن فکر په لرلو سره، د اجتماعي او تاريخي محقق او سياستوال په توګه، خپله ټوله هڅه د ښې او ولسواکې حکومتولي د ايجاد لپاره کوي او استبدادي، مطلقه حکومت له تېر وخت سره اړونده ښکارنده بولي چې نور زموږ په هيواد کې ځای نلري. خو د هيواد له زعيم او جمهور رييس څخه زموږ توقع دا ده چې د دولت جوړونې د هڅو په څنګ کې د ملت جوړونې او د ملي وحدت د ټينګښت لپاره هم همدومره کار وکړي. دغه دوه بهيره د يو بل بشپړوونکي دي او د ملي عالي اقتدار د ايجاد لپاره، د دولت جوړونې او ملت جوړونې دواړه بهيرونه بايد پياوړي شي.

هزاره ولس د يوه مطلقه او استبدادي حکومت له غضب سره مخ شول او د هيواد د ټولو مورخانو په قول، د هزاره ګانو تر شپيته فيصده زيات خلک قتل عام شول. دغه بوږنوونکی تاريخي جنايت له هماغې دورې او واکمنو

سره تعلق لري او د اوسنو سياسي شخصيتونو، ډلو او قومونو ورسره تړاو نشته. «و لا تزر وازرة وزر اخرى». خو د هزاره ولس توقع دا ده چې زموږ سياسي شخصيتونه او دولتي او غير دولتي رجال که د هر قوم او اجتماعي ګروپ وي، را دې شي او نن ورځ دې، د مورخانو په څېر، هغه تاريخي جنايت محکوم کړي.

موږ په افغانستان کې امنيتي او سياسي ناخوالو او ترخې ماضي ته په پام سره، ټول پر يو بل دا حق لرو چې يو بل وبخښو او له يو بله بخښنه وغواړو. هزاره ولس د هغه بوږنوونکي تاريخي جنايت په خاطر تر بل هر اجتماعي ګروپ او ولس د معذرت غوښتلو مستحق دی، څو په دې ډول ډاډه شي چې ترخه ماضي نوره تېره شوې ده او نه راګرځي.

د هيواد له ټولو نورو قومونو او سياسي، دولتي او غيردولتي شخصيتونو د هزاره قوم بله توقع دا ده چې دغه خلک له نورو هيوادونو او ملتونو سره د مذهبي، ژبنيو يا فرهنګي مشترکاتو په وجه بايد په هغوی پورې ونه نښلوي او د هغوی د سياستونو پيروان يې تصور نه کړي. دا نو څه منطق دی چې موږ د خپل وطن يو قوم يوازې په دې چې له بل هيواد سره مذهبي اشتراکات لري، په سياسي لحاظ له هغه هيواد سره په تړاو متهم کړو. ايا د هيواد نور ټول قومونه له نورو سره دغسې مشترکات نلري؟

موږ ټول له نورو اسلامي هيوادونو سره په لسګونو مذهبي او ژبني مشترکات نلرو؟ ايا دا سمه ده چې خپل ټول خلک د نورو د سياستونو پيرو او له هغوی سره تړلي وګڼو؟ هزاره ولس سياسي تړاو له هيڅ خارجي هيواد سره نلري او د هيواد د ټولو خلکو غوندې، د خپل هيواد د ملي ګټو پيرو او دې خاورې ته او د هيواد د ټولو قومونو ملي وحدت، وفاق او همپالنې ته وفادار دی.

په دې اړه د لويې جرګې په تالار کې د ښاغلي يونس قانوني له خبرو د زړه له کومې مننه کوم چې په افغانستان کې يې د تکثر او تنوع، د قومونو او ګوندونو د ځای، د يو بل د منلو، يو بل ته د درناوي کولو، ترخې ماضي ته د

نه ستنېدلو او راتلونکو نسلونو ته د لا غوره انتخاب لپاره د لار پرانيستلو په باب ځرګندونې وکړې. د هيواد له ټولو سياستوالو غوارم چې په داسې نويو، معتدلو او معقولو نظرونو سره د هيواد د پېښو او حالاتو شننه وکړي.

قدرمنو حاضرينو،

د شعبان مياشتې له دې مبارکو ورځو او بيا د دې مياشتې له پنځلسمې سره په يوه وخت، لازمه بولم چې د دغو نيکمرغه ورځو د تبريک په ترڅ کې، د انسانانو او قومونو د برابرۍ او د ديني او انساني ارزښتونو په اړه، خپلې خبرې په څو ډېرو معنا دارو او ښکلو متنونو ښکلې کړم: «يا أَيُّهَا النّاسُ إِنّا خَلَقْناكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَ أُنْثى وَ جَعَلْناكُمْ شُعُوباً وَ قَبائِلَ لِتَعارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقاكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ» ۱

دغه آيت شريف څو مهم ټکي لري:

۱ – ټول انسانان پرته له رنګ، قوم او توکمه سره برابر دي.

۲ – د قوميتونو او توکمونو تعدد او زياتوالی يوازې د دې لپاره دی چې يو بل وپېژني او ارتباط او تعامل سره ولري.

۳ – نر او ښځه هم د انساني ارزښتونو له نظره سره برابر دي.

د اسلام پيغمبر (ص) وفرمايل: «الناس سواسيه کاسنان المشط لا فضل لعربی علی عجمی انما الفضل بالتقوی»

که څه هم ويل شوي دي چې دغه روايت د سند له مخه ضعيف دی، خو محتوا يې کاملا له ذکر شوي آيت شريف سره ورته ده او فرق پکې دا دی چې د انسانانو برابري پکې په لا صراحت سره بيان شوې او دا برابري يې د يوې ږمنځې د غاښونو له يوشانوالي سره تشبيه کړې ده چې يوه ډېره دقيقه، بليغه او له معنا ډکه تشبيه ده.

امام علي (ع) فرمايي: وَ أَشْعِرْ قَلْبَكَ الرَّحْمَةَ لِلرَّعِيَّةِ وَ الْمَحَبَّةَ لَهُمْ وَ اللُّطْفَ بِهِمْ، وَ لَا تَكُونَنَّ عَلَيْهِمْ سَبُعاً ضَارِياً تَغْتَنِمُ أَكْلَهُمْ، فَإِنَّهُمْ صِنْفَانِ: إِمَّا أَخٌ لَكَ فِي الدِّينِ وَ إِمَّا نَظِيرٌ لَكَ فِي الْخَلْقِ.»

۱. قرآن کريم، حجرات سوره، ديارلسم آيت.

امام علي په دغو جملو کې انسانان په دقیق ډول ډلبندي کړې دي. انسانان یا له یو بل سره دیني ورونه او د یوه دین او فرهنګ پیروان دي او یا که په دین کې سره بېل هم دی خو په پنځ او خلقت او انسانیت کې سره یو شان دي. د دویمې ډلې خلک ممکن د یوه بل دین او مذهب پیروان وي او یا اصلا د دین او مذهب مخالف او ملحد وي، یا بې طرفه او سیکیولر وي، خو هر څه چې وي انسانان دي او انساني حقونه لري.

یوه بله جالبه خبره دا ده چې امام علي په دې جملو کې د حکومت وظیفه او دنده بیان کړې ده. د دې فرمان مخاطب مالک اشتر دی. ګواکې د حکومت دنده د بشري حقونو رعایت او د خلکو په حقونو باندې تجاوز نه کول دي، که دا خلک مسلمان او متدین وي، یا د اسلام او ان بل هیڅ دین پیروان نه وي یا بېخي ملحد او د دین مخالف وي خو حکومت باید د خپلو اتباعو په مقابل کې، په ایدیولوژیکو معیارونو نه بلکې په پوره بې طرفي سره د بشري او شهروندي حقونو له معیار سره سم چلند وکړي.

د موعود مهدي د میلاد یعنې د شعبان د پنځلسمې په مناسبت هم د قسط او عدالت د اهمیت په اړه یو حدیث نقلوم. د دغه روایت مطابق، د دین له نظره عدالت دومره مهم دی چې که د زمانې د عمر یوه ورځ هم پاتې وي، خدای پاک به دا ورځ اوږده کړي، تر هغو چې د اسلام د پیغمبر له اولادې یو شخصیت ظهور وکړي او دنیا ته نیاو او عدالت ورستون کړي. پیغمبر (ص) وفرمایل: «لو لم یبق من الدهر الا یوم واحد لطول الله ذلک الیوم حتی یبعث رجلا من اهل بیتی اسمه اسمی، یملاء الارض قسطا و عدلا بعد ما ملت ظلما و جورا.»

## دویم: د قوم دننه مناسباتو په محور کې

هزاره ولس شریف، قانع، متواضع، بافرهنګه او زیارکښ ولس دی چې د تاریخ په اوږدو کې نه یوازې د حکومتونو او سیاستوالو د اوږو پېټی نه و، بلکې تل یې په بشپړه وفا او امانت سره د دغه هیواد خدمت کړی دی. دلته په دې اړه چې هزاره ولس باید د حکومت او نورو قومونو په وړاندې کوم دریځ

ولري او يا حکومت او نور قومونه څه توقعات لري، په مختصر ډول مې ځينې ټکي بيان کړل. هغه څه چې دلته زياتول غواړم، دا دي چې د هزاره ولس په وړاندې زموږ د خپلو سياسي ګوندونو او سياستوالو دنده څه ده او دا چې موږ بايد په قوم دننه مناسباتو کې بايد په کوم چوکاټ کې او د کومو اصولو په اساس حرکت وکړو؟

په دې اړه اول څلور عمومي اصلونه چې عام لومړيتوبه دي او بيا د قوم دننه سياسي فعاليت لپاره عمومي چوکاټ په اختصار سره راړوم:

## الف. عمومي لومړيتوبونه:

### ۱ ــ د بيان ازادي او څو غړيزه ټولنه

ازادي لوی نعمت دی. ازادي هغه ارمان او ارزښت دی چې زموږ خلکو د هغې د حصول لپاره، اوږد انتظار وکړ او ډيرې قربانۍ يې ورکړې. نن ورځ، زموږ هيڅوک بايد که ګوندونه دي يا اشخاص، بايد د خپلې ټولنې د وګړيو د ازادي خنډ ونه ګرځو. د بيان او فکر ازادي ته، که مو شخصي تاوان هم پکې وي، بايد احترام ولرو.

يو غړيزه او استبدادي ټولنه يوه ايساره، وچه او د نه زغملو ټولنه ده چې لوی زندان ته ورته ده او د نوښت، خلاقيت او پرمختګ مخه نيسي. هزاره ولس بايد ازاد پريښودل شي او د دوی ټولنه دې څو غړيزه وي او د يو بل خبرې بايد پکې په زغم سره واورېدل شي. د قرآن کريم د تعبير په مصداق «يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُ»[۱]

### ۲ ــ د ځان له تخريبه ډډه کول

د بيان ازادي او د څو غړيزې ټولنې شتون ته له درناوي سره سره د ځان د تخريب مخنيوی پکار دی. دځان تخريب يو شی دی او نقد، انتقاد او څو غړه لرل بل شی. موږ د مختلفو فکرونو او نظرونو او حتی متضادو فکرونو او

۱. قرآن کريم، زمر سوره، اتلسم آيت

نظرونو له لرلو سره سره باید د یو بل درناوی وکړو او د یو بل د حقونو د ساتنې او رعایت خیال وساتو. که داسې نه وي نو ازادي خپل واقعي ارزښت له لاسه ورکوي او د ټولنیزې ګډودي سبب ګرځي او اجتماعي روابط به د خشونت، بې بندوباري او غیرانساني مناسباتو ښکار شي.

### ۳- لوړو زده کړو ته د ځوانانو هڅونه

لوړې زده کړې او لوړو علمي مرتبو ته رسېدل او د مسلکي او متخصصو کدرونو تربیت په ټولنه کې د ټولو کامیابیو او وړتیاوو ضامن او د پرمختګ تر ټولو مهم عنصر دی، ځکه چې ځواک او وس په پوهه کې دی او ناپوهي بې وسي ده.

د نړۍ د مخ تر ټولو بې وسه خلک هغه دي چې پوهه نلري. ځکه نو پکار ده چې ځوانان د پوهې حاصلولو ته وهڅوو او په بېلو بېلو څانګو کې د لوړو زده کړو لا ښه فرصتونه ورته ومومو.

### ۴ – د ټولنې د مالي او اقتصادي قدرت پیاوړتیا

له پوهې، تخصص او لوړو زده کړو وروسته د اقتدار تر ټولو مهم عنصر اقتصادي قدرت او د شتمنۍ نعمت دی. په دې لړ کې باید زموږ سوداګر او کسبګر وهڅول شي او متخصص او باتجربه کسان پروګرامونه جوړ کړي او د کارۍ فرصتونو په برابرولو سره د سوکاله اقتصادي ژوند زمینه برابره کړي او په دې ډول د هیواد په وده او پرمختګ کې هم برخه واخلي.

### ب د سیاسي فعالیتونو چوکاټ

د ذکر شویو اصولو په څنګ کې د سیاسي فعالیتونو لپاره د یوه چوکاټ ټاکلو ته هم اړتیا ده. موږ د نورو فعالیتونو په څنګ کې یوې پیاوړې دیپلماسي او د ځواکمنو ګوندونو او ځیرکو سیاستوالو شتون ته شدیده اړتیا لرو. خو په دې برخه کې هم که له یوه مشترک چوکاټه استفاده ونکړو، لکه د تیرو څلورو لسیزو تجربو چې وښودله، دسیاسي ګوندونو ډیروالی ممکن د بې ځایه جنجالونو او ان تباه کوونکو داخلي نښتو سبب شي. په دې اړه د شهید

مزاري او د هغه د يارانو سياسي حرکت زموږ د سياسي فعاليتونو لپاره د ډېر ښه مثال حيثيت لرلای شي.

زما په اند په دې اړه بايد موږ د خپلو سياسي ګوندونو لپاره د يو مشترک چوکاټ په توګه درې طرحې په نظر کې ولرو.

يو: په عمومي مسايلو کې د همغږۍ ايجاد او ساتنه او د خلکو عمومي ګټې سره کرښه ګڼل او له دغې سرې کرښې نه تېرېدلو ته ټينګه ژمنتيا. څرنګه چې په دې طرحه کې يو سياسي تشکيلاتي چتر نشته نو د اجرا ضمانت يې هم نشته، خو په هر حال، دا هغه لږ تر لږه کار دی چې بايد و يې کړو.

دوه: د هغو سياسي ډلو تر منځ د سياسي ايتلافونو جوړول چې شريک دريځونه او فکرونه لري، لکه د اته ګونو ګوندونو د ايتلاف شورا د جهاد په وخت کې.

درې: تر وسه وسه د ډېرو سياسي ګوندونو او سياسي قوتونو اتحاد او تشکيلاتي ادغام، لکه د شهيد مزاري په دوره کې چې وحدت ګوند رامنځ ته شو.

خو بايد زياته کړو چې د نويو شرايطو په رڼا کې، د وخت له غوښتنو سره سم او د ټولنې د څوغړيز والي د ساتنې اړتيا ته په پام سره، موږ بايد د نړۍ له تر ټولو اغيزمن او عام ګوندي ماډله استفاده وکړو. هغه څه چې نن ورځ يې په امريکا، فرانسه، انګلستان، جرمني، هندوستان او نورو هيوادونو کې نتيجه ورکړې ده، دوه ګوندي يا درې ګوندي سيستم دی.

د هزاره او شيعه ټولنې ټول سياسي ګوندونه او بهيرونه بايد د دوه يا درې فکري- سياسي محورونو شاوخوا راټول شي او دوه يا درې پياوړي ګوندونه جوړ کړي څو په دې ډول، هم تر وسه وسه ډېرو سياسي قوتونو تر منځ حد اکثر همکاري او همغږي رامنځ ته شي او هم په يوه ازاده رقابتي فضا کې د متفاوتو فکرونو او نظرونو د شتون لپاره زمينه برابره شي او هم د بې ځايه او بې ګټې، ډېرو خو کمزورو او کوچنيو ګوندونو د جوړېدو مخه ونيول شي.

د هغه څه په رڼا کې چې وويل شول، غواړم په دې اړه يوه ټکي ته اشاره

وکړم او هغه دا چې یو کال مخکې زموږ په ټولنه کې د جنبش روشنايي په نوم یو حرکت رامنځ ته شو چې په سر کې یې د یو ډیر ښه مقصد په لرلو سره، ټول سیاسي قوتونه او شخصیتونه ملګري شول خو د ځینو دلایلو په وجه دغه حرکت له خنډونو سره مخ شو او زموږ یو شمیر صادق او زړه ور ځوانان د تروریستي حملو ښکار او شهیدان شول. له دې فرصته په استفادې سره یو ځل بیا د دغو مظلومو شهیدانو روح ته درود استوم او خپلوانو او کورنیو ته یې تسلیت وایم.

دغه پیښه د دې سبب شوه چې د ځان تخریب او منفي رقابتونه او ان زموږ سیاسي ګوندونو او شخصیتونو ته سپکې سپورې پیل شي او د بې باوري او بې لحاظي ناوړه فضا جوړه شي، خو په هرحال، له ټولو هغو سپکاویو او سپکو سپورو سره سره چې له ځینو ناپوهه کسانو مو اوریدلي دي، باید ووایو چې د روشنايي غورځنګ واقعي پلویان او د دغه غورځنګ شهیدان او د شهیدانو کورنۍ، زموږ ټولو ورونه، اولادونه او همکاران وو او دي.

موږ هغوی ته درناوی کوو. موږ له هغوی سره شریک هدف او ارمان لرو او موږ ټول د عدالت غوښتنې د لارې لارویان یو. زما پیغام دغو ټولو دوستانو ته دا دی چې راځئ د ځان له لا زیات تخریبه لاس واخلو، معقول او منطقي فکر وکړو او په عقل او تدبیر سره پرمخ لاړ شو. د سیاسي مبارزې او خدمت لار ټولو ته پرانیستې ده او هیڅوک د هیچا مخه نیولی نه شي.

## دریم: په ګوندي محور کې

د افغانستان اسلامي وحدت ګوند د هیواد د عدالت غوښتنې د غورځنګ لوی میراث دی چې مځینې او د خلکو د ارمانونو د پوره کېدو په لاره کې بې شمیره قربانیو ته یې په پام سره، او په تیره بیا د دغه ګوند د بې بدیله مشر شهید استاد مزاري شخصیت ته په پام سره چې د ګوند د هدفونو د پوره کېدو په لاره کې له سره تېر شو، اسلامي وحدت ګوند د افغانستان یو ډیر پیاوړی او ځواکمن ګوند دی چې هم د شهید استاد مزاري په دوره کې او هم د ګوند د اوسني مشر جناب استاد خلیلي په دوره کې، په درې وروستیو لسیزو کې د

سياسي فيصلو يو اصلي رکن پاتې شوی دی.

خو د تشکيلاتو او د داخلي نظم له اړخه، په خواشينۍ سره بايد ووايو چې په وروستيو کلونو کې، په هغه اندازه چې زموږ د خلکو توقع ده، ګوند په لازمه اندازه فکري او سياسي تحرک او پراختيا نه ده لرلې. ان د شهيد مزاري په دوران کې هم په دغه سياسي او نظامي تشکيل کې نيمګړتياوې وې، داسې چې د شهيد مزاري يوه ارزو هم دا وه چې فرصت برابر شي او داسې وخت راشي چې ګوند په اوسني مفهوم په يو عصري سياسي ګوند بدل شي او پياوړي سياسی تشکيلات ولري.

اوس هغه وخت را رسېدلی دی چې د ګوند مشر جناب استاد خليلي او تاسې د ګوند فعالان او خواخوږي فيصله وکړئ او ګوند له نوي سره فعال کړئ او د هيواد او خلکو د اړتياوو او د وخت د غوښتنو مطابق يې تشکيلات ور نوي کاندئ. که داسې ونه شي نو هم به فرصتونه او هم به د کار کسان له لاسه ورکړو او په تشکيلاتي لحاظ به حالت لا ناوړه شي.

بې له شکه چې اړتياوې تر ما تاسې ته ښې معلومې دي او پوره صلاحيت هم د ګوند له مشرتابه سره دی چې په دغو حساسو سياسي شرايو کې تر څه حده کولای شي چې په دې اړه اغيزمن او جدي تصميونه ونيسي. زه له دې فرصته په استفادې سره او بې له دې چې جزيياتو ته لاړ شم، په هغو عمومي او کلي کرښو سربيره چې مخکې مې د قوم دننه او له قومه بهر مناسباتو په اړه ورباندې وغږېدم، د ګوندي او تشکيلاتي فعاليت د طرز په باره کې څو بنيادي موضوعاتو ته اشاره کوم:

۱ – حزب بايد بيا ورغول شي، د ګوند کنګره په ممکن ژر وخت کې جوړه او اساسنامې ته يې بيا کتنه وشي.

۲ – ګوند بايد غوره او تکړه کسان په ځان راټول کړي او د ټولو اجتماعي ګروپونو نخبګان په تېره بيا علما، استادان، تحصيل کړي، متخصصان او د فکر خاوندان ګوند ته جذب شي.

۳- ګوند باید د شخص نه بلکې د تشیکلاتو پر محور ولاړ وي څو په دې ډول د سلا مشورو له لارې د خپلو ټولو غړیو له تخصص او نوښته استفاده وکړای شي.

۴ – ګوند باید فکري او فرهنګي فعالیتونو ته اهمیت ورکړي او فکر وپنځوي او پوهانو، مفکرانو، د پوهنتون او حوزې استادانو، لیکوالو او علمي، فرهنګي بنسټونو ته خاص ځای ومني.

۵ – ګوند باید د ژر تېرېدونکو احساساتو او عواطفو نه بلکې منطق، اعتدال او عقلانیت تابع وي.

۶ – ګوند باید په سیاسی، فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي ټولو برخو کې، هم په ملي او هم بین المللي ډګر کې، د نوي عصر د غوښتنو مطابق پالیسي، ستراتیژي او اساسي کربنې ولري.

۷ – په ګوند کې باید د جهاد لومړي نسل او د مجاهدینو قوماندانانو او هغو کسانو ته چې د جهاد او مقاومت په سختو ورځو کې، د جهاد او مبارزې په سنګرونو او د هیواد په غرونو کې یې لوږې، تندې او سختۍ تېرې کړې او قربانۍ یې ورکړې، په هره ممکنه طریقه چې وي، درناوی وشي او وقدرول شي.

۸ – ګوند باید له مصرفي حالته راووځي او د ګوند د مالي اړتیاوو د پوره کولو لپاره پکار ده چې د قانوني اقتصادي فعالیت، پانګونې او منظم مالي نظام بندوبست وشي. د ګوند غړي باید د ګوند د یوه منظم پروګرام په چوکاټ کې، د ګوند په مالي او د ځان بسیا کېدو چارو کې برخه واخلي. د ډېر تاسف ځای دی چې د څو لسیزو په سابقې او حکمي، حقوقي شخصیت سره یو ګوند دې، هیڅ دوامداره مالي سرچینه او هیڅ ډول ثابت امکانات یا د دفتر ځای او تاسیسات ونلري.

له بلې خوا دا انصاف نه دی چې د ګوند ټول مالي بار په څو کسانو او په تیره بیا په مشرتابه باندې واچول شي. د نورو لومړیتوبو به څنګ کې د ګوند

د مالي وړتيا پياوړتيا هم د ګوند د فعالولو لپاره ضروري چاره ده. د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند د لا غوړېدا او د دې غونډې تاسې ټولو برخه والو ته د برې په هيله.

ولسلام عليکم

## د یارانو یاد په لویه غونډه کې د جمهور رییس د دویم مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش وینا

(دغه وینا د ۱۳۹۵ کال د تلې په دیرشمه نېټه د یادیاران په نوم لویه غونډه کې چې د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند د بنسټګر او د ملي وحدت شهید استاد عبدالعلي مزاري د نژدې یارانو، استاد قربانعلي عرفاني او استاد سید عباس حکیمی د لومړي تلین او د استاد واعظي شهرستاني او استاد مصطفی اعتمادي د دویم تلین په مناسبت شوې وه، واورل شوه. د یادولو ده چې د یارانو یاد په نوم دغه غونډه کې استاد دانش، استاد کریم خلیلي او استاد عزیز الله شفق چې درې واړه د شهید لاربښود درې نژدې یاران دي، ویناوې وکړې.)

**بسم الله الرحمن الرحیم**

«مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا»[1]

جلالتمآب استاد محمد کریم خلیلي د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند مشر او د جمهور رییس پخوانی مرستیال، قدرمن استاد شفق، د ملي شورا استازو، محترمو وزیرانو، علماوو، استادانو، ځوانانو او ټولو درنو حضارو السلام علیکم و رحمت الله و برکاته.

په ابتدا کې درود استوم د عزت او ازادي د لارې د ټولو پاکو شهیدانو

---

۱. احزاب سوره، درویشتم آیت

روحونو ته او په تيره بيا د روان کال د عاشورا د خونړيو پيښو شهيدانو او د هيواد د دفاعي، امنيتي قوتونو شهيدانو ته چې د خلکو د عزت او د هيواد د خپلواکي او ازادي د دفاع په لاره کې د پرديو د ډبرزړيو غلامانو له خوا شهيدان شوي دي.

دغه راز د يارانو د ياد درناوی کوم، هغه ياران چې کابو نيمه پيړۍ زموږ د خلکو د تاريخي مبارزو مخکښان او بيرغوال وو او خلکو او هيواد ته د عزت ګټلو لپاره په ټول توان سره ايثار او قرباني ته تيار شول. استاد قربانعلي عرفاني، استاد سيد عباس حکيمي، استاد يوسف واعظي او استاد مصطفى اعتمادي هغه ښاغلي مېړني وو چې د سرو شپو په زړه کې يې د دې خاورې د خلکو تل ساړه او تياره ژوند ته رڼا او تودوخه وبښله. سلام پر دوی، پر هغه ورځ چې دنيا ته راغلل، چې په لوړ سر يې له دنيا رخصت واخيست او پر هغه ورځ چې په عزت او هسکه غاړه به راپاڅي. د دوی د مړينې د تلين په مناسبت د دوی ټولو خپلوانو، کورنيو، دوستانو او اشنايانو ته تسليت وايم.

څرنګه چې د يارانو ياد لويه غونډه، په حقيقت کې د خدای د لارې د لارويانو او د ازادي د لارې د مبارزانو د قدرداني غونډه ده نو پر ځان لازمه ګڼم چې د خپلو څو نورو يارانو نومونه هم واخلم او د ياد درناوی يې وکړم؛ هغه مبارز او مجاهد شخصيتونه چې يا د غليم او ورانکارو ډلو له خوا شهيدان شول او له يو عمر هڅې او مبارزې وروسته په خپل مرګ ومړل او د حق حضور ته ورغلل؛ د دوی په سر کې زموږ د ټولو مشر او د يارانو لارښود، د ملي وحدت شهيد استاد عبدالعلي مزاري دی.

دغه راز شهيد سيد حسين حسيني چې د نصر سازمان يو مومن او مبارز مشر و او د افغانستان پولې ته نژدې د جهاد جبهې ته په لاره کې په ۱۳۶۶ کې ومړ؛ شهيد ضامن علي واحدي او دوه ملګري يې شهيد محمد اسحاق رضايي او شهيد انجنير غلام حسين اميني چې د روسي جلادانو په زندان کې د ۱۳۶۰ کال د غويي په ۳۱ نېټه په اعدام محکوم او شهيدان شول. همدا شان اتل شهيد حسين على ابوذر غزنوي، شهيد سيد علي علوي، شهيد خادم حسين

اخلاصي، شهید عبدالحکیم میثم، شهید عید محمد ابراهیمي، شهید سید محمد سعید واعظ، شهید قاسم شفق، حاجي محمد حسین محمدي مشهور په حاجي عبدل، شهید امان الله موحدي، امین الله امین، شیخ میراني، ابراهیم خلیلي اشترلي، سید عبدالله موسوي چې په موسوي سفید مشهور و، سید عبدالحمید سجادي، سید محمد سجادي، عبدالحسین مقصودي، سید یزدان شناس هاشمي، مرحوم قاسم اخګر، مرحوم علي بخش علي یار یکه ولنګي، مرحوم سعیدي یکه ولنګي، مرحوم مقدسي یکه ولنګي، مرحوم صدرالدین قرین، محمد موسی یاسین، مرحوم حاجیدولت حسین رفیعي بغلاني، مرحوم محمد نبي نوید، مرحوم حسین شفایي او په سلګونو نور نامتو شخصیتونه چې ژوند یې د نورو لپاره لوګی کړ او له فاني دنیا لاړل.

قدرمنو حضارو،

بخښنه غواړم چې د دې ټاټوبي د شهیدانو او مبارزو شخصیتونو د نومونو په اوږده لیست ستاسې وخت نیسم، خو لازمه وینم چې دغه کار وکړم، هغه هم په داسې شرایطو کې چې موږ ټول د وهمونو او خیالونو په بند کې، د بې ارزښته دنیا مال او متاع لیوال کړي یو او د خلکو لویې ګټې نه شو پیژندلی او یا د تنګ نظریو، ځان ماریو او له نورو څخه مَړو زړونو له کبله او یا د وخت د ناکردو له وجې، د تاریخ د حرکت عمومي بهیر او خپل تاریخي ویاړونه او خپل سیاسي، علمي مفاخر رانه هیر شوي دي.

زه نن سبا په رښتیا اندیښمن یم چې دغه وضعیت داسې خوا ته روان دی چې په لنډ وخت کې به او په اسانۍ سره، خپل اتلان او مخکښان هېر کړو. موږ ګواکې داسې کسان یو چې له خپل تېر سره تړاو نلرو او تل باید هر کار له صفره پیل کړو.

له همدې کبله پکار ده چې نور شخصیتونه هم یاد کړو، لکه مرحوم آیت‌الله سید علي بهشتي، شهید صادقي نیلي، شهید حاجي ناظرحسین شهرستاني، محمدکاظم افکاري شهرستاني، مرحوم حسین‌داد امیني اشترلي، شهید غلام‌نبي مشتاق، سید محمددین خلوصي، شهید سید محمدمصطفی کاظمي،

مرحوم عليجان زاهدي، مرحوم سيد حسين انوري او نور مشران چې د جهاد او مقاومت په کلونو او راوروسته وخت کې وفات شول.

دغه راز ځيني نور هم پر موږ حق لري چې ياد يې کړو او خاطره يې تازه وساتو، يعني داسې شخصيتونه چې په خپل علم او فکر سره زموږ د خلکو د سياسي او اجتماعي ژوند لارپرانيستونکي شول او يو عمر يې د حق کلمې د لوړاوي په لاره کې او د خلکو د حقونو د تامين لپاره هڅې وکړې او قرباني يې ورکړې. او يا د جهاد په کلونو کې يا تر هغه له مخه شهيدان شول، لکه زموږ د ټولو يارانو سرلاری شهيد علامه سيد اسماعيل بلخي چې په خپلو انقلابي افکارو او اشعارو او څورلس کاله زندان تېرولو سره يې، د مبارزې لاره يعنې د ژغورنې، ازادي او پت لاره پرانيستې پرېښوده. د هغه د رزم او زندان ملګری ابراهيم خان ګاوسوار، دغه راز ستر عالمان او پوهان لکه آيت‌الله سيد محمد سرور واعظ، استاد محمد اسماعيل مبلغ، شيخ سلطان ترکستاني، شيخ محمد امين افشار، سيد نادر بحر، سيد احمد عالم، سيد عبدالحميد ناصر، سيد محمد حسين مصباح، عوض علي بصير، استاد محمد يوسف بينش، استاد محمد حسين نهضت، سيد حيدر محمودي، شيخ رمضان علي شريفي او زموږ د هيواد په لسګونو بلکې سلګونو تنه نور عالمان، پوهان او نوميالي کسان چې د شوروي نوکر رژيم شهيدان کړل. يا هغه کسان چې د مبارزې په لاره کې او د خدمت په وخت وفات شول، لکه آيت‌الله محمد عيسی محقق خراساني، علامه محمد علي مدرس افغاني او داسې نور چې د خپلو خلکو د دريځ د بهترې لپاره يې زيات خدمتونه وکړل او د هجرت په ديار کې له حق سره وصل شول. د دوی ټولو ياد دې ژوندی او خاطره دې يې تلپاتې او روح دې يې خوشحاله وي!

قدرمنو حضارو،

اجازه راکړئ چې نن ورځ د خپلو څلور تنو پوهو، مجاهدو او مبارزو شخصيتونو د تلين په مناسبت (د استاد عرفاني او استاد حکيمي لومړنی تلين او د استاد واعظي او استاد اعتمادی دويم تلين) د ورځې له امنيتي، سياسی

پېښنو او د حکومتداري له مسایلو پرته پر یوه بله نسبتا مهمه او ضروري موضوع، چې په دغو کلونو کې ورته لږ توجه شوې ده او یا زموږ اوسنی کهول ډېر ورباندې خبر نه دی، خبرې وکړم، یو څه د هزاره ټولنې او د افغانستان د شیعه ګانو داخلي مسایلو ته تم شم. زموږ اوسنی نسل باید پوه شي چې د دوی د سیاسي نهضت مخکښانو څه فکرونه لرل او په څه طریقه یې خپله مبارزه پیل کړه او د هغوی د فکري کرښې او سیاسي مبارزو ځانګړنې کومې وې؟

## د یارانو د فکري کرښې ځانګړنې

دغه موضوع بې له شکه لا زیات بحث او غور غواړي او باید په یو بل فرصت کې بیان شي؛ خو نن له فرصته په استفادې سره او له دغه بهیره خپل شناخت ته په پام سره، چې له ۱۳۵۴ او ۱۳۵۵ کلونو رانیولې تر اوسه پورې یې ملګری پاتې شوی او له اول نسل مشرانو سره یې د کور د غړي په څېر نژدې وم، غواړم شپږ اصله د شهید مزاري او د ده د یارانو د سیاسي مبارزو او فکري کرښې د اصلي شاخصو او اصلي چوکاټ په توګه په لنډ ډول بیان کړم:

## فکري- فرهنګي چلند

زموږ د یارانو په سیاسي حرکت کې تر ټولو مهمه شاخصه د دوی د حرکت فکري او فرهنګي چلند و. دغه چلند ځکه مهم و چې هیڅ سیاسي او اجتماعي غورځنګ پر فکر او فرهنګ باندې له تکیې پرته نه شي کولای چې په ټولنه کې جرړې وغځوي او یا بریالی شي. له فکري فرهنګي چلنده منظور دا دی چې یو سیاسي حرکت باید:

لومړی: یوه داسې فکري کرښه ولري چې ټول غړي او پلویان یې سره وصل شي او انسجام ومومي او خلک په خاص فکري شعار سره په سیاسي او اجتماعي ډګرونو کې سره یو ځای کړي.

دوم: دې فکري کرښې ته د زده کړې، مطالعې او څېړنې په چوکاټ

کې دوامداره وده ورکړي او د وخت له شرایطو او د بشري تجربې او فکر له نوښتونو سره سم يې تکميل کړي، کنه نو رکود پکې راځي او له حرکته غورځي.

دريم: د هرې ځانګې پوهانو، ماهرانو، فارغانو او روڼ اندانو ته اهميت ورکړي او د هغوی د لا ودې لپاره پانګونه وکړي او د ټولنې فکري او فرهنګي کسان د سياسي حرکت د مديريت او مشري لپاره جذب او چمتو کړي.

څلورم: په ټولنه کې د فکري او فرهنګي کارونو پراختيا او د زده کړې عاملو او خپرولو ته متې راونغاړي څو په دې ډول د خلکو په فکرونو او ذهنونو کې تحول راولي او کنه نو سياسي شعارونه به يوازې شعار پاتې شي او د تغيير او اصلاح هيلې به د عمل جامه وانه غوندي.

په افغانستان کې د شهيد مزاري او د هغه د يارانو له خوا پيل شوی غورځنګ د وخت له شرايطو سره سم، له فکري – فرهنګي چلند سره پيل شو او ادامه يې ومونده.

څرنګه چې ما يوه نسبتا اوږده موده د دغه بهير د فرهنګي او نشراتي چارو مسوليت درلود او د فعاليتونو له جزيياتو هم خبر وم، په يقين سره ادعا کولای شم چې په نصرسازمان کې فرهنګي کار اول کار و او تر بل څه مو زيات پام ورته کاوه. د دغه نهضت مشرانو، سياست، قدرت، توپک، جبهې او جګړې ته تر توجه، فرهنګي فعاليت، فکري بيداري او د فرهنګيانو او تعليم يافته وو جذب او فرهنګي کار ته د هغوی هڅولو ته زياته توجه لرله. د دغه حرکت اکثره مشران متفکر، ليکوال، قلموال او د کتاب او مطالعې او تحقيق کسان وو او يا د ګڼو فرهنګي، نشراتي او علمي مرکزونو او بنسټونو موسسان وو چې د مثال لپاره به استاد عرفاني او استاد حکيمي ياد کړم چې نه هېرېدونکي شخصيتونه وو او په فرهنګي ساحه کې خدمتونه يې زيات دي.

## پر دين باور او اخلاقي ژوند

زموږ په تاريخي، فرهنګي او اجتماعي هويت کې د يوه مهم او اساسي عنصر

په توګه ديني باورونه او تعاليم او اسلامي اخلاق او ارزښتونه، د دغه حرکت يو بل خصوصيت و. د دغه حرکت رهبرانو او لارويانو خپلې لومړني تعليمات د اسلام د دين له غني فرهنګه تر لاسه کړي وو او پر اسلامي بيداري او د ديني تفکر پر وده يې ټينګار کاوه، البته په داسې طريقه چې سمونپالنې او عصري غوښتنو ته پکې پام وشي او ديني تعاليم له جهل، خرافاتو او عوام غولوونکو چلندونو لرې وي، هغه چلندونه چې جاهلو او عوامفريبو ډلو يې د ريا او تزوير په اساس تبليغ کاوه.

که د دغه غورځنګ ويناوو، ليکنو، نشرياتو او فعاليتونو ته وګورئ، په اسانۍ سره وينئ چې د دغه حرکت مشران، له شهيد مزاري رانيولې تر هغو يارانو پورې چې يې په ياد راټول شوي يو، ډېر دينداره او اخلاقي کسان وو او په ګوندي او سازماني ليکو کې يې د ديني او اخلاقي ارزښتونو او معيارونو پر رعايت او د هغو کسانو د نفوذ پر مخنيوي ډېر تاکيد کاوه چې دين مخالف تمايلات يې لرل او پر دين او ديانت يې باور نه و. دغو مشرانو د ښي او چپ لاس له ټولو فکرونو او قومي، نژادي او مذهبي افراطي تمايلاتو سره مبارزه کوله.

## عدالت محوري او ازادي غوښتنه (ورورى او برابري)

هغه حرکت چې زموږ يارانو يې بنياد کېښود، که څه هم د پخواني شوروي له نيواکګرو او د شوروي له لاسپوڅو رژيمونو سره په جهاد او مبارزه بوخت شو او له پردو او د هغوی له داخلي ګوډاګيانو سره د مبارزې او د استقلال په شعار سره معرفي او مطرح شو او په همدې بنه يې ادامه ومونده خو د دغه حرکت اصلي انګيزې له تبعيض، بې عدالتي، ستم او استبداد سره په مبارزه کې وې چې د افغانستان د تاريخ په اوږدو کې يې د دې وطن انسان همېشه کړولی او ځورولی او ژوند يې ورباندې تريخ کړی دی. نو، عدالت محوري، ازادي غوښتنه، برابري او ورورګلوي د دغه حرکت اصلي شعار او فکري تومنه جوړوله. له همدې کبله، د دغه حرکت تاريخي ريښې د پنځوسمو کلونو پيل او ان څلويښتمو کلونو او شهيد بلخي د پاڅون دورې او تر هغه مخکې

د ابراهيم خان ګاوسوار پاڅون ته رسي. که تاسې تر وحدت ګوند له مخه د نصر سازمان خپروونې وګورئ، وبه وينئ چې دغه حرکت څنګه له دغو شخصيتونو او د دوی له فکرونو او پاڅونونو الهام اخيستی دی.

«حزب حسيني»، «روحانيت مبارز» يا «شباب الهزاره» او داسې نورې ډلې چې د پنځوسمو کلونو په پيل کې په کابل يا له هيواده بهر تاسيس شوې، وروسته يې د «ګروه نصر» او «ګروه مستضعفين» په نومونو او ورپسې په ۱۳۵۸ کې د افغانستان د نصر سازمان په نوم ظهور وکړ.

بنا پر دې بايد پوه شو چې د دغه حرکت اصلي مقصد، له تبعيض، بې عدالتي او استبداد سره مقابله اود عدالت او ازادي د تامين لپاره مبارزه وه او دا يو داسې فکر دی چې تل به ژوندی او په خوځښت کې وي. دا د يوې سوکالۍ، ابادې ټولنې او حق محوره او انسان پاله دولت د جوړېدو لپاره پاک او سپېڅلی هدف دی.

## د شيعه ګانو او هزاره ګانو د حقونو تامين

په دغه حرکت کې چې د عدالت او ازادي پر بنسټ جوړ شوی و، د افغانستان شيعه او هزاره خلکو د دوو قومي او مذهبي ګروپونو په توګه خاص ځای درلود، البته، دا حرکت قومي او فرقوي حرکت نه و بلکې شيعه او هزاره ټولنه چې د افغانستان تر ټولو محرومه اجتماعي او فرهنګي ټولنه وه، دغسې حرکت ته جوړه وه. د دوی مذهب يو قاچاقي مذهب شمېرل کېده او شيعه په ماضي کې هميشه په تقيه کې اوسېدل او له قومي نظره هم له دوامدره ستم او تبعيض سره مخ و او ان د تاريخ په ځينو پړاوونو کې د خپل مذهب او توکم په تور په سيستماتيک ډول قتل عام شوي او په زور او جبر سره له خپلو اصلي ځايونو ايستل شوي او د دوی ځمکې نورو ته ورکړ شوي دي. دا د افغانستان د تاريخ يو نه انکار کېدونکی تريخ واقعيت دی چې پرون پېښېده، خو نن د علم او پوهې د پرمختګ په برکت په تېرو ظلمونو او ناروااوو باندې سترګې نه شي پټېدلی.

په همدې اساس به شهيد مزاري ويل چې: هزاره والی په افغانستان کې

جرم نه دی او د دغو خلکو بشري او شهروندي حقونه باید تامین شي او د دغه هیواد د تاریخ له توري پاڼې باید دغه اجتماعي جرم ګڼل پاک شي. ځکه نو د وحدت ګوند په دوره کې، د شیعه ګانو او هزاره ګانو په شمول د هیواد د ټولو قومونو د سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او مذهبي حقونو تامین او عادلانه مشارکت، دغه راز د جعفري مذهب په رسمیت پیژندل او له تکفیري بهیر او په تقیه کې اوسېدلو سره مبارزه، د وحدت ګوند رسمي او جدي دریځ و او د دغو هدفونو د تحقق په لاره کې یې ډېرې سختې تېرې کړې دي.

## پر اتحاد او همپالنې باندې تاکید

د شهید مزاري او د ده د یارانو د حرکت یوه لویه شاخصه، هم د افغانستان د شیعه او هزاره ټولنې په منځ کې او هم په ملي کچه او د افغانستان د قومونو په کچه، وحدت غوښتنه او د همپالنې روحیه او له بې ځایه داخلي ځان تخریبولو، تفرقې او تعدد څخه ډډه وه. که څه هم په خپګان سره باید ومنو چې د جهاد په دوران کې، د هزاره جات په شمول په ټول هیواد کې، د سیاسي ګوندونو تر منځ یو لړ بې ځایه او خونړۍ شخړې پیښې شوې چې یوه ستره تاریخي تېروتنه وه، خو دغو شخړو مختلف داخلي او بهرني عوامل لرل او په ناغوښتې ډول پر ټولو باندې تحمیل شوې وې. دا چې دغه شخړې ناغوښتې وې، روښانه دلیل ورته، د وروسي وخت وحدت غوښتونکې حرکت و چې په سرعت او موفقیت سره د ټولو ډلو د منحل کېدو او د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند د جوړېدو سبب شو. د اسلامي وحدت ګوند په تاسیس کې مزاري او یارانو یې، بې له شکه، اساسي نقش درلود او په دې لړ کې یې په پوره صداقت هڅې وکړې.

د وحدت ګوند د تاسیس او ظهور تاریخچه د استاد عرفاني په کتاب (از کنګره تا کنګره) کې ولولئ. دغه کتاب چې په تېرو کلونو کې د لیکوالو فرهنګي مرکز چاپ او خپور کړ، د وحدت ګوند د جوړېدو د څرنګوالي په باب له لومړي لاس منابعو څه دی.

استاد عرفاني او استاد واعظي او د دوی همفکران، د وحدت ګوند اصلي

او لومړني موسسان او معماران دي. دوی د اختلافونو د کمولو او د اتحاد او پیوستون د زمینې د برابرولو لپاره ټولې مرکزي سیمې غر په غر او کلی په کلي کچ کړې.

د دغو هڅو په برکت د هزاره خلکو په تاریخ کې تر ټولو لوی او اغیزمن سیاسی حزبي بهیر راڅرګند شو؛ داسې بهیر چې هم د استاد مزاري په مشري د کابل د لویدیځ د مقاومت په دوره کې، هم د استاد محمد کریم خلیلي په مشري د بامیان د مقاومت په دوره کې او هم په تېرو وروستیو کلونو کې، د هیواد په کچه د سیاسي تعاملاتو یو اصلي محور او د هزاره ګانو یو تر ټولو پیاوړی سیاسي ګوند پاتې شوی دی. دغه محوریت او اقتدار د سیاسي قوتونو د وحدت او یو لاس کېدو له برکته و چې پیلګر او بنسټګر یې استاد مزاري او د ده یاران وو او نن هم د دې لارې د ادامې لپاره له وحدت او یو لاس کېدو پرته بله چاره نشته.

## سیاسي او تشکیلاتي مبارزه

د شهید مزاري او د هغه د یارانو په مبارزاتي طریقه کې یو مهم ټکی د مبارزې تشکیلاتي او سازماني طریقه وه. یوه کامیابه سیاسي مبارزه له منظمو او منسجمو تشکیلاتو پرته ځای نه نیسي. په اوسنۍ دنیا کې هم په اکثرو هیوادونو کې سوله ییزه سیاسي مبارزه د سیاسي ګوندونو په چوکاټ کې کیږي. د جهاد په کلونو کې به کله کله ګوند مخالفو تبلیغاتو او تمایلاتو زور واخیست او ان ځینو به هڅه کوله چې د ځینو دیني مراجعو له خوا د شرعي فتواګانو په صادرولو سره حزبي او تشکیلاتي فعالیت تحریم کړي خو شهید مزاري او یارانو به یې استدلال کاوه چې په مبارزه کې تشکیلات داسې څه نه دي چې په ضرورت کې یې شک وشي یا په فتوا سره تحریم شي او که فتوا پکار وي نو د ضرورت فتوا یې باید صادره شي، نه د بندیز.

نصرسازمان په دغسې فکر سره په خپل وخت کې د یوه ګوند په توګه ډیر زیات منسجم تشکیلات لرل. دغه ګوند د صداقت، ژمنتیا، اخلاص، ایمان، نظم، اطاعت، ارمان ته وفاداري او د محبت، ورورګلوي او برابري

د روحیې په اساس کار کاوه او په همدې وجه یې تر ټولو صادق کسان وروزل. نصر سازمان په افغانستان او په تېره بیا هزاره ګانو کې تر ټولو کامیاب سازماني او تشکیلاتي ګوند و چې زموږ د ګوندي مبارزو په تاریخ کې یې تر اوسه پورې مثال نه دی تکرار شوی او بیا به هم تکرار نه شي. د نصر سازمان انحلال د تشکیلاتي نیمګړتیا او کمزورۍ په وجه نه و بلکې د خلکو د حقونو او ګټو د دفاع لپاره د سیاسي ځواکونو د اتحاد اړتیا د دې سبب شوه چې دغه سازمان له نورو سیاسي ډلو سره یو ځای شي او وحدت ګوند رامنځ ته کړي. وحدت ګوند که څه هم له تشکیلاتي او سازماني نظره د نصر سازمان په اندازه انسجام او استحکام نه درلود خو بیا یې هم مناسب ګوندي تشیکلات لرل او په تیره بیا د خپل عمر په لومړۍ لسیزه کې یې دقیق او منظم سازماني حالت وساته.

په ټولو دغو مواردو کې چې یادونه یې وشوه، ډېر څه ویل کېدای شي او دغه مباحث باید په تفصیل وشنل شي، څو په دې ډول زموږ تیر مهم حوادث لکه څنګه چې په واقعیت کې وو، راتلونکو نسلونو ته ورسېږي، خو په دې غونډه کې د خبرو محدود فرصت اجازه نه راکوي چې خبرې نورې هم اوږدې کړم. پاتې خبرې چې مې په حافظه کې دي، یو بل فرصت ته وساتم.

محترمو حضارو،

قدرمنو دوستانو چې نن مو د یارانو په یاد دغه پرتمینه غونډه جوړه کړې ده، زما خبرې یوازې د هغه فکري او سیاسي چوکاټ یوې برخې ته اشاره وه چې د پنځوسمو کلونو له پیله تر اوسه پورې یعنې کابو نیمه پیړۍ، د مبارزې د ستراتیژیکو اصولو او د لارې د نښې په توګه یې، زموږ خلکو ته جهت ورکړی او زموږ خلک یې رهبري کړي دي. اوس اصلي پوښتنه دا د ه چې له دې نیمې پیړۍ مبارزې باید څه زده کړو او دې سختې لارې ته باید څنګه ادامه ورکړو؟ ایا په دې زمانه او حالاتو کې، له کابو نیمې پیړۍ وروسته، بیا هم هماغه اصول وساتو او هماغه تګلارې او فکري او سیاسي شاخصو ته پابند پاتې شو؟

د هغې تجربې، مطالعې او ارزيابي په اساس چې زه يې لرم، دې نيمې پيړۍ مبارزې زموږ خلکو ته ډيرې لويې، ارزښتناکې او قيمتي برياوې لرلې او د شهيد بلخي په تعبير، موږ دا د نن عزت د هغو لاله کفنو له برکته لرو. په دغو هڅو او فداکاريو سره، نن ورځ زموږ د شهيدانو د هيلو او موخو يوه برخه پوره شوې ده او د ساه ايستلو لپاره يو مناسب فرصت او د اجتماعي، سياسي او فرهنګي کار او فعاليت لپاره يوه مناسبه زمينه برابره شوې ده. نور نو موږ د مذهب له قاچاقي والي او د قوميت له جرم والي راوتلي يو، خو ټولو موخو ته د رسېدو لپاره لا اوږده لاره په مخ کې ده. په همدې اساس، دغه حرکت ته بايد په ټينګ هوډ، صبر او متانت سره ادامه ورکړو. د مبارزې چوکاټ او ستراتيژيک اصول، هماغه اصول او شاخصې دي چې په تيره نيمه پيړۍ کې يې موږ ته

لاره ښودله او زموږ د ځينو سطحي فکرو کسانو برخلاف، موږ د مبارزې د اصولو، او سياسي او فکري کرښې بدلانه ته اړتيا نلرو.

خو هغه څه چې ورته اړتيا ده، د عصر په غوښتنو پوهېدل او د زمان او مکان له شرايطو سره ملګرتيا ده او دا چې د هيواد ملي ګټې او ملي پيوستون، د خپلو خلکو ځای او له حکومت، سياسي قوتونو، قومونو او د افغانستان له اجتماعي ګروپونو سره د مثبت تعامل ډول، سم درک کړو او په دې پوه شو چې افراط او تفريط مو کندې ته سيخوي. خپل کار بايد د تدبير او اعتدال او عقلانيت په ستنو ودروو او پر علمي، فکري، اقتصادي او فرهنګي وده تاکيد وکړو. په دې بايد پوه شو چې د مبارزې اصلي مقصد عدالت او برابري ته رسېدل او د داسې ټولنې جوړول دي چې انساني کرامت، ولسواکي، اجتماعي عدالت، برابري او متوازن انکشاف پکې وي او سوکالي، پلورليزم او پرمختګ يې ځانګړنې وي.

عزتمنو حاضرينو،

د مبارزې د تداوم لپاره او لوړو انساني موخو او ارمانونو ته د رسېدو لپاره، د حرکت د تسلسل او تداوم ساتل او د نن او پرون تر منځ پيوستون

راوستل او د تیر نسل له قیمتي تجربو څخه زده کول یو اساسي او جدي اړتیا ده. هغه څه چې نن سبا په ځینو کړیو کې، د نقد په نوم او د روښاندي او روشنګري په ادعا، له دودیزو رهبرانو د تېریدو او د نوي نسل رهبري ته د رسېدو په نوم مطرح کیږي، د پنځوس کلنې مبارزې له مسیره انحراف او ناسمې لارې ته د خلکو سیخول دي او بس.

لومړی: له دې جهته چې موږ نه شو کولای له پنځوس کلنې ویاړلې ماضي چې موږ ته یې سترې بریاوې لرلې دي، ځانونه بیل کړو او د خپل نن او پرون تر منځ واټن راولو او د دغو جنابانو په اصطلاح د «دودیزو» مشرانو خدمتونه له پامه وغورځوو.

دویم: که څه هم له یوه نسله بل نسل ته د رهبري لېږد طبیعي خبره ده خو په عین حال کې دغه لېږد خپل خاص فکري، اجتماعي، سیاسي او تشکیلاتي میکانیزم ته اړتیا لري او یوازې د ادعا او شعار په ذریعه او د سترګو په رپ کې او له سازمان څخه بهر، ممکن نه دی. له بلې خوا، د مثبت رقابت او خلکو ته د خدمت او فعالیت میدان ټولو ته پرانیستی دی او هیڅوک نه غواړي او نه کولای شي چې د نورو د فعالیتونو مخه ډب کړي.

له بلې خوا، که پرون شهید مزاري د دغو خلکو او دغه حرکت مشر شو او یا نن استاد خلیلی، حاجی محمد محقق او نورو شخصیتونو د خلکو مشري وکړای شوه، دا موږ او تاسې نه وو چې دوی مو مشران کړل او اوس چې مو څه ورکړي دی، هغه ورنه بیرته واخلو. هغوی په خپله هڅه، همت او ایثار او دغه راز د خپلو ملګرو په خدمتونو خلک د ځان خوا ته جذب او د خپلې لارې او رودې پلویان کړل او اوس دا میدان تاسې ته هم خوشي دی.

راځئ د صادقانه هڅې او خدمت په مټ او د ګوندي او سازماني بنسټونو او تشکیلاتو د تاسیس له لارې، خپل شخصیت خلکو ته معرفي کړئ او په یوه مثبت او دموکراتیک رقابت کې د ځان او خپل ګوند لپاره د خلکو رایې وګټئ.

ستاسې مخه چا نیولې ده؟ دې شي ته خو ضرور نه ده چې خپل تخریب شي، تورونه وربانديې ولګول شي او د خلکو په منځ کې تفرقه ایجاد شي. دا

باید ووايو چې له شهيد مزاري رانيولې تر اوسنو پورې ستاسې په اصطلاح همدا دوديز مشران وو چې مبارزه يې وکړه، ځوانان يې وهڅول، لاربښودنه يې ورته وکړه او د هغوی د فکري او سياسي ودې لپاره يې اوسني فرصتونه برابر کړل. په حقيقت کې د نننی نسل وده، تکامل او تحول د پروني نسل د هڅو او فداکاريو پيدوار دی.

البته، بايد تاکيد وکړو چې په هر حرکت کې ممکن تيروتنې هم موجودې وي او له همدې کبله بايد زموږ مشران ځانونه بې عيبه ونه ګڼي او نيوکو ته غوږ ونيسي. نن ورځ حالات بدل شوي دي او بايد د نن د تعليم يافته، وينښ او روښانه نسل ځای او د وخت اړتيا وپيژنو. هغه ځوان چې تر پرونه ستاسې تر منبر لاندې ناست و او شعار يې ورکاوه او تکبير يې وايه، اوس د دوکتورا سند لري او د پوهنتون استاد دی او د فکر، قلم، تجربې، پوهې او اوسنۍ تکنالوژي څښتن ورنه جوړ شوی دی. د هغه خبره بايد واورېدل شي او د هغه له طرحې او ابتکاره استفاده وشي. هغه ته بايد لاره اواره شي چې د ټولنې په مديريت او رهبري کې برخه واخلي.

د زړه له تله او د خواخوږۍ له مخې وايم چې ټول بايد د خپلو له تخريبه لاس واخلو. هيڅوک د بل چا ځای نه شي ډکولای. هر څوک خپل خاص شخصيت او ځای لري. موږ بايد د خپلو نسلونو تر منځ د بې باوري ديوال ونه دروو بلکې زموږ لوی مسوليت، د نسلونو وصل کول، يو بل ته د تجربو لېږدول، د پيوستون او همپالنې ايجاد او د يوې ملي او انساني مبارزې د سره ترلو کړيو تداوم دی. که موږ په خپل منځ کې زغم او رواداري ونلرو او يو بل ونه منو نو دا توقع به څنګه کوو چې نور دې موږ ته درناوی وکړي او له موږ سره د زغم او مدارا چلند وکړي؟

يا کله چې موږ د هيڅ ډول نقد او انتقاد تاب ونلرو او هر څه د ځان لپاره وغواړو نو د بيان د ازادي او انحصار ماتولو خبرې به په کومه خوله کوو؟ زموږ د ځوان او تعليم يافته نسل دنده دا نه ده چې ځانونه له نورو بيل او په خپلو کې ايسار کړي او يوازې د قوميت، سيمې او سمت ديوالونه تر ځان

راتاو کړي او د خپلې تولنې او تاریخ د حرکت کلیت ونه ویني. مونږ خو په ملي کچه یوه کوچینۍ کورنۍ یو چې یوازې د لوی ملی کور یعنې د افغانستان د ټول ستر ملت په څنګ کې کولای شو له مشکلاتو سره مبارزه وکړو، په ټولنه کې تحول راولو او امنیت او سوکالي ته ورسیږو.

د هغې ورځې په هیله چې د افغانستان د خلکو ازادي او عدالت غوښتنې مبارزه نهایي بري ته ورسیږي او په ګران هیواد کې د تبعیض، بې عدالتي او افراطیت په ځای، عقلانیت، اعتدال او انساني ارزښتونه واکمن شي.

د پت او عزت د لارې د ټولو شهیدانو او په تېره بیا د ملي وحدت د شهید استاد مزاري او د هغه د ملګرو پاکو روحونو ته بې پایه درود وړاندې کوم.

والسلام علیکم و رحمت الله و برکاته

# دویم فصل

## د جمهوري ریاست په ارګ کې شهید استاد عبدالعلي مزاري ته د «ملي وحدت شهید» د لقب ورکولو د مراسمو رپوټ

## د افغانستان د اسلامي جمهوریت رییس، جلالتمآب محمداشرف غني په یوه فرمان کې شهید استاد عبدالعلي مزاري ته د «ملی وحدت شهید» لقب ورکړ.

په هغو مراسمو کې چې په همدې مناسبت د ۱۳۹۴ کال د کب په ۲۱ نېټه د جمهوري ریاست په ارګ کې جوړ شول، ولسشمر غني د استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د یوویشتم کال په مناسبت د تسلیت ویلو په ترڅ کې وویل: ټول افغانان د یو بل ورونه دي او حکومت د افغانانو تر منځ د برابرۍ پر ټینګښت تاکید کوي.

جمهور رییس دا هم وویل چې: د مزاري په څېر شخصیتونه تاریخ جوړوونکي وي او ملی او تاریخي ارزښتونو ته بنه ورکوي. دوی زیاته کړه: د هیواد د ملي شخصیتونو د پیژندلو لپاره باید لا زیاته هڅه وشي.

جمهور رییس وویل چې شهید مزاري د ملي وحدت لپاره کار وکړ او د افغانستان د نن او سبا لپاره یې واضح پیغام درلود. د ده غوښتنه برابري وه

چې د افغانستان په اساسي قانون کې په وضاحت سره تسجيل شوې ده.

جمهور رييس تصريح کړه: شهيد مزاري د ټينګې عقيدې څښتن و او په افغانستان کې يې د سولې او ثبات په تامين باندې ټينګار کاوه. ده جګړه حل لاره نه بلله او د ده دغه پيغام به تلپاتې وي.

د هيواد جمهور رييس وويل: که څه هم د وخت شرايط ستونزمن وو خو شهيد مزاري د ښځو د نقش پر زياتيدو ټينګار کاوه او د دوی دې غوښتنې نن ورځ عملي بڼه خپله کړې ده. دوی تاکيد وکړ چې د شهيد پيغام بايد په واقعي بڼه درک شی، څو په دې ډول د پيوستون او وحدت د لا ټينګېدو لپاره واضح ليدلوری رامنځ ته شي.

په دغو مراسمو کې د ولسمشر دويم مرستيال جلالتمآب استاد سرور دانش د شهيد عبدالعلي مزاري د شخصيت او کارنامو په مختلفو اړخونو خبرې وکړې.

اجراييه رييس ډاکتر عبدالله عبدالله هم د شهيد مزاري د شخصيت او مقام په اړه وويل چې د هيواد د ملي شخصيتونو قدرداني دا فرصت برابروي چې د دوی ارزوګانې چې په هيواد کې سوله او امنيت وو، لا ښه وپيژندل شي.

د اجراييه رياست دويم مرستيال حاجي محمد محقق او د سولې عالي شورا مرستيال محمد کريم خليلي هم د شهيد مزاري د شخصيت ځانګړنې بيان کړې او په ملي پروسو کې د خلکو ګډون او عدالت غوښتنه يې د نوموړي شهيد موخې وبللې.

# د افغانستان د اسلامي جموريت د رييس، جلالتمآب محمداشرف غني د وينا متن[1]

## بسم الله الرحمن الرحيم

جناب محترم پیر صاحب ګیلانی، جلالتمآبانو ډاکتر عبدالله، استاد دانش، استاد خلیلي او استاد محقق، د کابینې قدرمنو غړیو، د ملي شورا محترمو غړیو ،علمای کرام، سیاسي مشرانو، د مدني ټولنې غړیو، ځوانانو، خویندو او ورونړو السلام علیکم و رحمت الله و برکاته،

د ملي وحدت د حکومت یو لوی کار د ټولو افغانانو تر منځ د هر اړخیز مساوات ټینګښت دی. نن ورځ چې تاسې کومه مننه او قدرداني کوئ، د هغې مستحق نه یو، بلکې مور، یوازې او یوازې خپله دنده تر سره کړې ده. مننه له هغه چا کیږي چې یو اضافي کار یې کړی وي. موږ یوازې او یوازې خپله ملي دنده ترسره کړې ده.

په سر کې زه د افغانستان یوې برخې ته نه بلکې ټولو خلکو ته د استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د یوویشتم کال په مناسبت تسلیت وایم. ولې وروسته له یو ویشت کلونو زموږ په زرګونو وطنوال تر سخت باران لاندې د شهید مزاري تجلیل کوي؟ نور کسان خو هم وو. دلیل دا دی چې شهید مزاري تاریخ جوړوونکی و. لکه څنګه چې ډاکتر صاحب او نورو مشرانو اشاره وکړه، داسې کسان مو لرل چې تاریخ یې بدل کړ. تر دې له مخه چې څه منل

۱. د کب یوویشتمه،۱۳۹۴ کال، د جمهوري ریاست ارګ.

شوي وو، يو لړ باورونه، ارزښتتونه او جوړښتونه وو. د تاريخ صحنې ته د دغو کسانو له راتلو وروسته ارزښتونو، او جوړښتونو بنيادي تغيير وکړ.

د استاد مزاري پيژندل کار غواړي ځکه چې د استاد مزاري په اړه خپور شوی لومړی تصوير د هغه د افکارو له عميق او حقيقت سره ډير زيات تفاوت لري. ما د دوی د مرکو او ويناوو يو کتاب ټول ولوست. څه مې پکې وموندل؟ دی يو داسې څوک دی چې د افغانستان پرون ته نه بلکې د افغانستان د نن او سبا لپاره دومداره پيغامونه لري. له نيکه مرغه د دوی يوه برخه هيلې عملي شوې او د افغانستان په اساسي قانون کې راغلي دي. زموږ په اساسي قانون کې له هر افغان سره د هر افغان د مساوات او برابري ذکر شوی دی چې د شهيد استاد يوه بنيادي هيله وه. د سباني افغانستان لپاره د ده پيغام ولې دوامداره دی؟ ځکه چې په واقعيت کې له يوه افغان سره د بل افغان مساوات تر اوسه پورې نه و تامين شوی او دا د دوی دوامداره پيغام دی.

دويم؛ د جګړې او ډيرو بدو جنګي شرايطو په حالت کې استاد مزاري پر سولې تاکيد کاوه او جګړه يې حل لاره نه بلله. مزاري سولې ته له ويرې نه بلکې د عقيدې له مخې ژمن و. که له ويرې وای نو د شهادت په ورځ يې د تيښتې سل لارې لرلې خو تيښته يې غوره نکړه او په ميرانه شهيد شو چې د افغانستان د ملي وحدت لاره دوام ومومي. نو دا يو دوامداره پيغام دی چې يو څوک د سولې د پيغام لپاره له سره تيرېدلو ته تيار دی.

دريم د ښځو نقش؛ په داسې حال کې چې جګړه، حمله او توپک د ورځني ژوند شرايط وو، استاد مزاري د ښځو پر نقش اساسي تاکيد درلود او دا يوه داسې ارزو ده چې نه يوازې يې پرون جوړه کړ او نن ته يې ښه ورکړې ده، بلکې د راتلونکې لپاره دوامداره پيغامونه لري.

ټول ستر شهيدان چې ذکر يې وشو، لکه استاد رباني، مسعود، عبدالحق، حاجي قدير او نور بايد مطالعه شي او درک شي. دوی ټول دوامداره پيغامونه لري. له نيکه مرغه، پير صاحب ګيلاني، استاد خليلي، استاد محقق او ډاکتر صاحب عبدالله چې د کار په راس کې دي او هره فيصله چې د ملي وحدت

حکومت کوي، نن، پرون او سبا په نظر کې نیول کیږي. له ماضي باید درس واخلو او د پرون هیلې باید په اوږدمهالو ارزوګانو بدلې شي یعنې دا چې ځنګه منفي فشارونو ته تسلیم نه شو او په آینده کې ځنګه واضح لید ولرو، څو په دې ډول پایداره سولې ته ورسیږو، د ښځو مساوي نقش ته ورسیږو او د دې وطن ټول اوسېدونکي، که نارینه دي، که ښځې، مساوي حقونه ولري.

موږ لازمه وګڼله چې دغه مراسم په رسمي ډول تجلیل کړو او له تاسې ټولو مننه کوم چې راغلئ. لازمه وه چې د استاد مزاري تجلیل یوازې د خلکو په زړونو کې نه بلکې د افغانستان د اسلامي جمهوریت په ارګ کې هم وي. خپل کور ته ښه راغلاست او له تاسې مننه چې دغه کور مو د څو ورځو لپاره امانت راکړی دی.

تل دې وي افغانستان

پاینده باد افغانستان

د افغانستان د ټولو شهیدانو او خصوصا استاد عبدالعلي مزاري چې نن یې لمانځنې ته راغونډ شوي یو، یاد او خاطره دې تلپاتې وي.

# د «ملي وحدت شهید» د لقب د ورکولو په مراسمو کې د جمهوري ریاست د دویم مرستیال جلالتمآب استاد سرور دانش د وینا متن[1]

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمد الله رب العالمین والصلات و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.

اما بعد، د افغانستان د اسلامي جموریت جلالتمآب جمهور رییس، د افغانستان د ملي وحدت حکومت اجراییه رییس ډاکتر صاحب عبدالله، جهادي شخصیت او د افغانستان د سولې د عالي شورا رییس پیرصاحب ګیلاني، د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند رهبر او د سولې د عالي شورا مرستیال جناب جلالتمآب استاد محمد کریم خلیلي، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اجراییه ریاست دویم مرستیال جناب استاد محقق، د کابینې محترمو غړیو، د افغانستان د ملي شورا محترمو غړیو، علماوو، استادانو، ملي او اجتماعي شخصیتونو، وروڼو او خویندو السلام علیکم و رحمت الله و برکاته.

جناب جمهوررییس له تاسې او ټولو قدرمنو حضارو او محترمو پوهانو اجازه غواړم چې خپلې خبرې په یوې حقوقي مقولې سره پیل کړم.

د سیاسي علومو او حقوقو پوهانو ویلي دي چې: دولت له څلورو عناصرو مرکب دی: خاوره یا قلمرو، نفوس یا ملت، حکومت او حاکمیت یا استقلال.

۱. د ۱۳۹۴ کال د کب ۲۱، جمهوري ریاست ارګ.

په دغو کې تر ټولو مهم ملت دی چې د یوه هیواد خلک جوړوي. یو ملت څنګه جوړیږي او یو ملي پیوند څنګه ایجادیږي؟ په کلاسیکو حقوي نظریاتو کې ویل شوي دي چې د ملتونو پیوند یا د مادي او فزیکي عواملو په اساس وي، لکه د وینې او توکم پیوند چې په جرمني تیوري مشهور دی، او یا معنوي پیوندونه وي چې فرانسوي تیوري یادیږي. د دې دویمې تیورۍ په اساس دا معنوي پیوندونه دي چې له ملته ملت جوړوي، یعنې کلتوري مشترکات، ایماني باورونه، تاریخي مشترکات او شریک برلیک د دې سبب کیږي چې یو شمیر خلک سره پیوند شي او د خلکو دغه ټولګه بیا ملت یادیږي. هغه تیوري او نظریه چې د عیني او تاریخي واقعیتونو له جهته د تایید وړ ده، دویمه تیوري او نظریه ده. یعنې په حقیقت کې ګډ کلتور، ګډ تاریخ، او ګډ برخلیک یو ملت جوړوي او یو ملي پیوند رامنځ ته کوي. د دغه پیوند په جوړولو کې بې له شکه دا ملي شخصیتونه دي چې د هغه ملت د فرهنګ او تاریخ سمبولونه دي. د یوه ملت او هیواد تاریخي شخصیتونه دوه ډوله دي: یو هغوی چې تاریخ لیکي او د یوه هیواد تاریخ او فرهنګ تدوینوي. موږ په افغانستان کې لوی فرهنګي شخصیتونه، شاعران او مورخان لرو، له علامه کهزاد، ملا فیض محمد کاتب، علامه عبدالحی حبیبي، غلام محمد غبار، میر محمد صدیق فرهنګ او استاد خلیل الله خلیلي رانیولې تر نورو شاعرانو، مفکرانو، فقیهانو او فرهنګیانو پورې چې د افغانستان فرهنګ او تاریخ یې ژوندی ساتلی، تدوین کړی او د هیواد د تاریخ د پاتېدو سبب شوي دي. دویمه ډله هغه شخصیتونه دي چې پخپله تاریخ جوړوي. دوی د ټولنې او هیواد سیاسي رهبران دي. موږ د افغانستان د جهاد او مقاومت په دوره کې او د خپل معاصر تاریخ په دوره کې لوی شخصیتونه لرلي دي چې یو شمیر یې شهیدان شوي او یا وفات شوي دي. دوی زموږ د هیواد تاریخ جوړوونکي دي.

شهید استاد رباني، شهید مسعود، شهید عبدالحق، شهید استاد عبدالعلي مزاري زموږ د معاصر تاریخ سمبولونه دي. د هیواد شخصیتونه که در هر

قوم وي او له هر مذهب او ژبې سره تعلق ولري، د ملي وحدت سبمولونه حسابېږي. ښاغلی جمهور رییس، له تاسې مننه کوم چې نن مو ډېر جامع پیغام را استولی و چې د شهید مزاري د شهادت د یوویشتم کال په مناسبت مراسمو کې ولوستل شو. ډېر جامع او له معنا ډک پیغام و چې هرې جملې یې زموږ لپاره خاص مفهوم او معنا لرله. له دې خاطره هم مننه کوم چې د هغه فرمان په صادرولو سره چې ولوستل شو، استاد عبدالعلي مزاري ته مو د ملي وحدت شهید لقب ورکړ. د دغو ټولو په خاطر له تاسې جلالتمآب څخه د ځان له خوا او د حاضرینو او د افغانستان د ټول ملت له خوا مننه کوم او کورودانی وایم.

زموږ د فرهنګي او تاریخ جوړوونکو شخصیتونو او شهیدانو تجلیل یوه دنده او مسولیت دی چې د دې په څنګ کې باید یادونه وشي چې د دغو شخصیتونو د ارزوګانو او ارمانونو پوره کېدل او عملي کیدل لا مهمه چاره ده. زما برداشت دا دی چې دغه هر یوه شخصیت په یو خاص مسیر کې فعالیت او کوښښ کړی دی او په خاصو شرایطو کې شهید شوی دی. شهید استاد رباني د افغانستان د سولې د لارې شهید دی او د پایداره سولې او امنیت د تامین په لاره کې شهید شوی دی، احمد شاه مسعود له هغو شهیدانو څخه دی چې یو عمر یې د هیواد د خپلواکۍ او د افغانستان د ارضي تمامیت د ساتلو په لاره کې مبارزه کړې ده. د شهید مسعود دا جمله مشهوره ده چې که د افغانستان یوه لویشت خاوره هم پاتې وي، زه به ترې دفاع کوم، پاتې کیږم او مقاومت جاري ساتم. شهید استاد مزاري د ملي وحدت او اجتماعي عدالت د تامین په لاره کې شهید شو. نو که خپل دغه درې تنه لوی شهیدان په نظر کې ونیسو، هر یو د یوه ستر ملي هدف په لاره کې قربان شوي دي چې د افغانستان د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا، په افغانستان کې د سولې اوامنیت د تامین او په افغانستان کې د اجتماعي عدالت او ملي وحدت د ټینګېدو دفاع وشي. زه غواړم ستاسې په اجازه په دې غونډه کې اعلام وکړم چې د

افغانستان د ملي وحدت حکومت، د لویو شهیدانو اهداف د خپلو پروګرامونو په سر کې راولي. شهید مزاري داسې شخصیت و چې تر ډیره حده پورې یې د هیواد د ملي وحدت تامین او د افغانستان د ټولو قومونو لپاره برابري، متوازن انکشاف او اجتماعي عدالت د سیاسی پروګرامونو او هدفونو په سر کې وو. که زیات وخت نه اخلي، د شهید مزاري یوازې یو څو جملې چې په مختلفو شرایطو کې یې په بیلابیلو ویناوو کې بیان کړې دي، دلته رانقلوم: موږ د ټولو ملیتونو حقوق غواړو، د ملیتونو حقوق د برابري معنا لري. که یو ملیت خپل حقوق وغواړي او د عدالت غوښتونکی وي، د تجزیه غوښتنې معنا نلري. دا د خلکو طبیعي حق دی چې د خپلو حقونو او عدالت غوښتونکی وي. زموږ په عقیده د افغانستان حکومت باید د توکم او مذهب په اساس جوړ نه شي. زموږ غوښتنه د افغانستان د خلکو تر منځ د عدالت، وروروګلوي او برابري تامین دی. په هیواد کې د ټولو بدمرغیو اصلي جرړه د نورو په حقونو سترګې پټول اوانحصارکول دي. د ملیتونو دښمني په افغانستان کې لویه غمیزه ده.حق غوښتل د تجزیه غوښتنې معنا نلري. د خلکو حکومت هغه وخت جوړېدای شي چې انتخابات وشي او دا انتخابات ازاد وي او خلک په خپله خوښه رایه ورکړي. په افغانستان کې د حذف لاره ختمه شوه او څوک نه شي کولای چې کوم قوم یا مذهب یا ګوند حذف کړي. زه په ډاګه وایم چې هر څوک د ملیتونو د حذف او دښمنۍ لپاره خبرې کوي، د افغانستان ملي خاین دی. هر څوک چې ملي تضاد رامنځ ته کړي، موږ یې ملي خاین بولو او مخالفت ورسره کوو. موږ د تاریخ مظلومان وو او نه غواړو چې په بل چا ظلم وکړو، موږ غواړو د ظلم له منګولو وژغورل شو.

جناب جمهور رییس، دغه ډیرې لنډې جملې په اختصار سره بیان شوې، د شهید استاد عبدالعلي مزاري د نظرونو او سیاسي تفکر ځینې برخې وې. توقع ده چې د افغانستان د منتخب حکومت په سیوري کې چې د افغانستان د خلکو د ارادې محصول دی، داسې لاره کچ شي چې په خپله ټولنه کې د

خپلو شهیدانو ارمانونو ته د عمل جامه واغوندو او په خپل هیواد کې پایښتي سوله او امنیت، د هیواد خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتیا او په هیواد کې اجتماعي عدالت او ملي وحدت ولرو.

# د افغانستان د اسلامي جموري دولت د اجراييه رييس ډاکتر عبدالله عبدالله د وينا متن[1]

الحمدالله وحده. الصلات و السلام علی نبیه؛ اما بعد اعوذ باالله من الشيطان الرجيم. بسم الله الرحمن الرحيم. اعدلوا هواقرب للتقوی. (قرآن کريم، مايده سوره، اتم آيت)، صدق الله العظيم.
د افغانستان د اسلامي جمهوريت جمهور رييس جلالتمآب محمداشرف غني، د افغانستان د سولې عالي شورا رييس جناب پير صاحب سيد احمد ګيلاني، استاد دانش صاحب، جناب استاد کريم خليلي، جناب استاد محقق، د کابينې محترمو غړيو، د ملي شورا محترمو غړيو، قدرمنو روحانيونو، عزتمنو علماوو، د قوم مشرانو،ځوانانو، د جمهوري رياست سلاکارانو، خويندو او ورونو السلام عليکم و رحمت الله و برکاته.

نن چې د ملي وحدت د شهيد استاد عبدالعلي مزاري د شهادت تلين په ټول هيواد کې ولمانځل شو او د افغانستان قدردانو خلکو يې ياد تازه کړاو په تيره يوه اونۍ کې مراسم جوړ شول او د دغه ستر شهيد قدرداني وشوه، په دې مناسبت زه د شهيد مزاري کورنۍ، دوستانو، لارويانو، ملګرو او همسنګرو ته او د افغانستان ټول ملت ته تسليت وايم او شهيد استاد ته جنت فردوس غواړم او د افغانستان ټولو شهيدانو ته دعا کوم. په عين حال کې له جناب جمهور رييس صاحب څخه مننه کوم چې د ملي وحدت شهيد د لقب د ورکړې

۱. د ۱۳۹۴ کال د کب ۲۱، د جمهوري رياست ارګ.

په ځای او په وخت اقدام يې وکړ او د هيواد يوه مشر ته يې دا لقب ورکړ چې عمر يې د هيواد د ازادي او عدالت په لاره کې مبارزې ته وقف کړ او د سيمې او افغانستان په سويه يو پيژندل شوی مجاهد و چې په خپله مبارزه کې يې يوه شيبه غفلت ونکړ او بالاخره شهيد شو.

هغه شخصيتونه چې يو ځای ته رسيدلي دي، هميشه يې خپل ځان او ژوند وقف کړی دی او قرباني ته تيار شوي دي چې اسان کار نه دی. د دوی ياد او لمانځنه د ملي وحدت د روحيې له پياوړتيا سره مرسته کوي، خپلو خلکو او نورو ته يې ورمعرفي کوي او داسې غونډې راتلونکي کهول ته يو زيری ورکوي او د هيواد آينده او موجود نسل ته يو پيغام لري؛ په دې معنا چې کله هيواد له ستونزو او بدمرغيو سره مخ کيږي، يو شمير کسان را وړاندې کيږي، د خلکو په څنګ کې او د خلکو په ملاتړ د خلکو په منځ کې ځای مومي، چې دغه مقام بيا له رسمي او تش په نوم مقامونو په مراتبو لوړ وي. دا خو روښانه ده چې د مجاهد او د مجاهدينو د قايد مقام ته الله تعالی په لوړه سترګه کتلي دي او خدای پاک د مجاهدينو او جهاد ارزښتونه واضح کړي دي. دغسې غونډې له يوې خوا يو فرصت راکوي چې د دغو مشرانو له ژونده او تجربو درسونه واخلو او دغه درسونه په خپل اوسني او سباني ژوند کې پکار راولو. ايثار، قرباني او د خدای او خلکو په لاره کې د ژوند وقف کول، يو وياړ دی چې دغه وياړ شهيد استاد عبدالعلي مزاري درلود او نن ورځ د دغه په ځای او مناسب لقب ورکولو په خاطر د افغانستان د خلکو استازيتوب د د دوی د کورنۍ غړيو، لارويانواو د افغانستان ملت ته مبارکي وايم. د هغو رهبرانو چې په تاريخ کې تلپاتې کيږي، يو خصوصيت دا دی چې هر څه د خلکو لپاره غواړي. نن ورځ هم د يو داسې شخصيت قدرداني کيږي او ياد يې کيږي او د تلپاتې درناوي په خاطر يې يو لقب ورکول کيږي چې ډيرې خانګړنې يې لرلې. د هغوی ځينې خبرې استاد دانش نقل کړې. دا خبرې د خلکو په منځ کې د دوی د عالي فکر، لوړې مفکورې، سبا ته پام او د دوی د فکر ژورتيا ښيي. له خدايه غواړم چې موږ ته هم د افغانستان د

شهیدانو او د خلکو د ارمانونو د تحقق په لاره کې چې د پایښتي او باعزته سولې تامین، د هیواد د امنیت تامین، د عدالت تامین او د خلکو سوکاله ژوند دی، توفیق راکړي. دا غوښتنې زموږ د خلکو په حقه غوښتنې دي.

زه یو ځل بیا له جناب جمهور رییس څخه مننه کوم او له دوستانو او مشرانو مننه کوم چې د ملي وحدت د حکومت دا اقدام ستایي. زه فکر کوم چې دا خو ستاسې قدرداني ده، کنه نو دا کار خو پخوا لا باید شوی وای. الحمدالله چې خدای نن دا توفیق راباخښه. انشاالله چې داسې اقدامات له موږ سره په اوږده لاره کې چې په مخ کې یې لرو، مرسته کوي.

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

# د افغانستان د عالي شورا د رييس استاد محمد کریم خلیلي وینا[1]

## بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان د اسلامي جمهوریت جلالتمآب جمهور رییس، د ملي وحدت حکومت اجراییه رییس جلالتمآب ډاکتر صاحب عبدالله، د جمهور رییس مرستیال قدرمن ورور دانش، د سولې عالي شورا رییس جهادي رهبر پیر صاحب ګیلاني، د اجراییه ریاست مرستیال قدرمن ورور جناب استاد محقق، د کابینې محترمو غړیو، ډېرو درنو حضارو، علماوو، سپین ږیرو، محصلانو، السلام علیکم و رحمت الله و برکاته.

جناب رییس صاحب، زه زیات وخت نه نیسم.دانش صاحب د خپل ځان او د افغانستان د ټولو خلکو له خوا، په تیره بیا هغو خلکو له خوا چې د شهید مزاري په مصلا کې راټول وو او د افغانستان ټولو قومونو کسان پکې وو، ډېر ښې خبرې وکړې. دوی هلته ستاسې ښکلی هم پیغام واورېد او شهید استاد مزاري ته چې ستاسې له خوا، د ملي وحدت حکومت له خوا او د حکومت د ټولو همکارانو له خوا کوم ښکلی لقب ورکړ شو، مننه کوم او قدردان یې یم. جناب رییس صاحب، نن ورځ ستاسې ځای تش و او د اجراییه رییس چې ډېر انتظار مو ورته وکړ، ځای تش و او سخت باران هم ورېده. موږ د شهید استاد عبدالعلي مزاري د یوویشتم تلین په مناسبت یوه غونډه لرله چې د

1. د ۱۳۹۴ کال د کب ۲۱، د جمهوري ریاست مانۍ.

افغانستان د ټولو قومونو خلک پکې وو او په عمل کې ستاسې د فرمان تمثیل کوونکې غونډه وه. زه له تاسې جناب او اجراییه رییس او د جمهوري ریاست او اجراییه ریاست له مرستیالانو مننه کوم چې د افغانستان د خلکو غوښتنې ته مو مثبت ځواب ووایه او استاد مزاري ته مو د ملي وحدت شهید لقب ورکړ. دا کار د افغانستان د خلکو د یووالي او د زړونو د نژدې کېدو په لور یو لوی ګام و. ما نن هم وویل چې شهید استاد مزاري له یوه قام، یوې ډلې او یو سمت سره تعلق نلري، شهید مزاري د افغانستان له ټولو خلکو سره تعلق لري او د ده لاره او فکر د افغانستان د ټولو قومونو او ملت لاره او فکر بللای شو. جناب جمهور رییس، ویاړو چې د ملي وحدت شهید لقب په خپله ستاسې له خوا او د ملي وحدت حکومت له خوا جناب استاد مزاري ته چې د ملي وحدت سمبول و، ورکړ شو. زه یو ځل بیا له تاسو، د ملي وحدت حکومت له مشرتابه او د افغانستان له ټولو خلکو مننه کوم. جناب جمهور رییس، د زړونو دغه نزدیکت چې تاسې استاد مزاري ته د ملي وحدت شهید د لقب په ورکولو سره رامنځ ته کړ، د افغانستان د خلکو د یووالي په لور یو لوی ګام دی او هیڅوخت به هیر نه شي. زه یو ځل بیا د افغانستان د خلکو د یوه کشر بچي په حیث له تاسو مننه کوم. دغه اقدام د افغانستان د شهیدانو لوړ مقام ته د ارزښت ورکولو او د افغانستان د ټولو مجاهدینو او مقاومت کوونکو ستر مقام ته درناوی دی. لکه څنګه چې جناب استاد دانش وویل، د دغو ارزښتونو د احیا په لور یو ګام دی. له تاسې او ستاسې له همکارانو مننه

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

## د ملي وحدت حکومت د اجراییه رییس مرستیال استاد حاجي محمد محقق وینا[1]

### بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدالله و الصلات و السلام علی رسوالله و علی آله و صحبه.

قدرمنو حضارو، د افغانستان د اسلامي جمهوریت رییس جلالتمآب ډاکترمحمداشرف غني، اجراییه رییس صاحب جناب ډاکتر عبدالله عبدالله، د جمهوري ریاست مرستیال، قدرمن ورور جناب استاد سرور دانش، د سولې د عالي شورا رییس جناب پیر صاحب سید احمد گیلاني، د افغانستان د سولې عالي شورا مرستیال قدرمن ورور ښاغلی جناب استاد محمد کریم خلیلي، د کابینې محترمو وزیرانو، د ملي شورا وکیلانو، علماوو، مشرانو، السلام علیکم و رحمت الله و برکاته.

خوشحاله یم چې خدای پاک په دغه ستر او عالي مجلس کې د برخه اخیستلو توفیق راکړ او د څو خبرو کولو فرصت مومم. زه په خپلو خبرو کې هم تسلیت وایم، هم تبریک او هم مننه. تسلیت د هیواد د عدالت غوښتنې د مخکښ، استاد عبدالعلی مزاري د شهادت د یوویشتم کال په مناسبت وایم چې یوویشت کاله پخوا، په یوه دردوونکې حادثه کې، په غیرانساني ډول او د ټولو نړیوالو معیارونو برخلاف شهید شو او زموږ گران ملت یې غمجن کړ. اوس

١. د ۱۳۹۴ کال د کب ۲۱، د جمهوري ریاست مانۍ.

چې پر هغې غمیزې یوویشت کاله تیریږي، بیا هم غمجن یو او د افغانستان ملت ته او د شهید کورنۍ او د سنګر ملګرو ته تسلیت وایو.

تبریک په دې خاطر چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت رییس نن شهید استاد مزاري ته د هغه د حق د ادا کولو لپاره دا لقب ورکړ او دا د مبارکۍ خبره ده چې هغه شهید ته حق ورکړ شو. شهید استاد مزاري په غیر رسمي ډول د ټولو خلکو په زړونو کې ځای لري، دا دی په رسمي ډول یې هم د افغانستان په تاریخ کې خپل مقام تر لاسه کړ. له جناب جمهور رییس او جناب اجراییه رییس څخه مننه کوم چې دغه موضوع یې زما او ښاغلي جناب استاد دانش په وړاندیز عملي کړه. موږ ته دا فکر پیدا شو چې د نوموړي مظلوم شهید په کالیاد کې د هغوی دغه حق ورکړ شي، نو یو وړاندیز مو وکړ او اجراییه رییس صاحب دا خبره ومنله او جناب جمهور رییس هم لطف وکړ او دغه فرمان یې صادر کړ. د ځان له خوا او ټولو هغه خلکو له خوا چې دې کرښې او لارې ته وفادار دي، د زړه له تله مننه کوم. خو ایا شهید مزاري ته چې دا حق ورکړ شو، دا یوازې یوه سیاسي ملاحظه وه، که یو حق و؟ زه غواړم په دې باره کې هم یو څه ووایم. لکه څنګه چې د افغانستان لوی شهیدان، لکه شهید احمد شاه مسعود، شهید استاد رباني او شهید استاد عبدالحق چې زموږ معاصر شهیدان دي او القاب ورکړل شول او وقدرول شول، شهید مزاري هم په دغسې کسانو کې و چې قدرول یې پکار وو. دوی له شخصیتي نظره او زموږ د هیواد په تاریخ کې د مقام له نظره، څو امتیازونه لري چې باید د ده درناوی وشي. لومړۍ ځانګړنه یې دا وه چې یو مسلمان، مومن، متقي او خدای ترسه سړی و او دا د دوی تر ټولو لویه ځانګړنه وه چې همیشه یې له اسلامي معیارونو سره سم ژوند وکړ او خپل برکتي ژوند یې د خدای په لاره کې تیر کړ. همدا وجه ده چې د میلیونونو انسانانو په زړونو کې ځای لري او کلونه کیږي چې د هغه محبت په زړونو کې ژوندی دی. الله تعالی فرمایي:

«إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَنُ وُدًّا»[۱]

هغوی چې په خدای یې ایمان راوړ او نیک عملونه یې وکړل، خدای یې د مومنانو په زړونو کې محبت پیدا کوي.

هغه د خپلې تقوا او سپېڅلي ژوند په خاطر، نن ورخ د د میلیونونو انسانانو په زړه کې ځای لري. د دوی دویمه ځانګړنه عدالت غوښتنه وه. دوی د افغانستان د ټولو خلکو لپاره عدالت غوښت. د ازادو انتخاباتو غوښتونکی و چې د افغانستان ټول خلک خپلو سیاسي حقونو ته ورسيږي. د ښځو د مشارکت پلوی و. ویل به یې چې ښځې نیمه ټولنه جوړوي او په خپل برخلیک کې باید دخیلې وي. په نظام کې د افغانستان د ټولو قومونو غوښتونکی و. په سیاسي فیصلو کې د مشارکت غوښتونکی و او دا هیڅ شی یې ځان ته نه غوښتل بلکې د افغانستان د ټولو خلکو لپاره یې غوښتل. د عمر تر اخره یې ځان ته هیڅ چوکی ونه منله او د افغانستان د خلکو د یوې برخې د سیاسی ژبې په څیر یې ژوند وکړ. موږ ټول پوهیږو چې عدالت د الله تعالی غوښتنه ده. عدالت د الهي پیغمبرانو هدف دی: «لَقَدْ أَرْسَلْنا رُسُلَنا بِالْبَيِّناتِ وَ أَنْزَلْنا مَعَهُمُ الْكِتابَ وَ الْمِيزانَ لِيَقُومَ النّاسُ بِالْقِسْطِ»[۲]

بشریت ته د رسولانو د را استولو او د کتابونو د نازلولو فلسفه دا ده چې الهي پیغبران د خلکو په منځ کې عدل راولي. شهید مزاري د عدالت منادي و. دی د هیواد یو عالم او دانشمند و. د پیاوړي ذهن او استثنایي حافظې څښتن عالم و. د هغه د پایښت یو رمز د هغه علم دی. په حدیث شریف کې راغلي دي چې: العلماء باقون و ما بقی الدهر؛ چې څو پورې دا دنیا وي، عالمان به پاتې وي. که یې جسمونه په خاورو کې پټ هم شي، دوی به د خلکو په ذهنونو او فکرونو کې باقي وي. د شهید استاد څلورمه ځانګړنه د دوی جهاد و. د ازادي او استقلال لپاره جهاد. ده ته دښمنان په غصه و، ځکه چې مجاهد،

۱. قرآن کریم، مریم سوره، ۹۶ آیت.
۲. قرآن کریم، حدید سوره، پنځه ویشتم آیت.

وطنپال او استقلا ل غوښتونکی شخصیت و او د افغانستان عزت او خپلواکي يې غوښته. ده له دغو ځانګړنو سره ژوند وکړ او اوس له موږ سره نشته. يو ځل بيا له جلالتمآب جمهور رييس څخه مننه کوم چې دغه فرمان يې صادر کړ او له جناب اجراييه رييس څخه مننه کوم چې دغه وړنديز يې ومانه او له ټولو هغو کسانو تشکر کوم چې په دې کار کې يې له موږ سره ملګرتيا وکړه.

السلام عليکم و رحمت الله و برکاته

# دريم فصل

## د ملي وحدت شهيد، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درويشتم کال د مراسمو رپورټ، چې په جمهوري رياست ماڼۍ کې په رسمي ډول ولمانځل شول[1]

د افغانستان د ملي وحدت ګوند د اروابناد رهبر، د ملي وحدت شهيد استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درويشتم کال ياد غونډه په جمهوري رياست ماڼۍ کې په رسمي ډول جوړه شوه. په دې غونډه کې د حکومت د مشرتابه پلاوي، د ملي شورا رييسانو، د سترې محکمې او لويې څارنوالۍ رييسانو، جهادي رهبرانو، سياسي شخصيتونو، د کابينې غړيو، عالي رتبه دولتي مقاماتو، مخکينو دولتي چارواکو، په ملي شورا کې د خلکو استازو، د مختلفو هيوادونو ديپلماتانو او استازو او پوهنتوني استادانو، فرهنګيانو، رسنيزو فعالانو، د مدني ټولنې غړيو، محصلانو او د ټولنې مختلفو اقشارو برخه لرله.

د استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د کالياد په مناسبت په خپله وينا کې جمهور رييس محمداشرف غني، د ملي وحدت شهيد او نورو شهيدانو پاکو روحونو ته درود واستاوه. ده د جمهوري رياست له مرستيال استاد دانش څخه د دې غونډې د جوړېدو په خاطر مننه وکړه، ويې ويل: «استاد دانش د استاد مزاري تجليل د دغه شهيد د فکر او شخصيت د مختلفو اړخونو په شننه بدل کړی دی.»

---

۱. د ۱۳۹۶ کال د کب درويشتمه، د جمهوري رياست ارګ.

جمهور رییس غني وویل چې ارګ زموږ د ټولو سره ورونو قومونو او خلکو مشترک کور دی او د ملي وحدت حکومت د خلکو تر منځ د وصل لپاره جوړ شوی دی. دوی د ملي وحدت شهید د عدالت غوښتونکو او روښانه کړنو او نظرونو د شننې په وخت وویل چې: «زموږ نظر دا دی چې پخوانې بد میراثونه او محدودیتونه بدل کړو او پای ته ورسوو.» رییس جمهور تصریح کړه: «موږ د ماضي درک ته اړتیا لرو خو د ماضي تکرار ته په هیڅ وجه اجازه نه ورکوو.»

جمهور رییس د اجتماعي عدالت د رامنځ ته کېدو لپاره د ملي وحدت شهید د ارمانونو تحقق ته په اشارې سره وویل: «هغه څه ته چې موږ اړتیا لرو،هغه لویه سیاسي حوصله ده. زموږ سیاسي غیږ باید پراخه وي. دغه غیږ چې هر څومره محدوده کړو، افغانستان به محدود شي.» دوی په دې اړه وویل چې د مرکزي سیمو جغرافیایي زندان ماتیږي او په هیڅ وجه به اجازه ورنکړو چې دا سیمې د طبیعت په بند کې پاتې شي.

ده شهید مزاري داسې سیاسي رهبر وباله چې د اجتماعي عدالت د تحقق په برخه کې یې د لارې روښانه نقشه انځور کړې ده. جمهور رییس وویل: «د حکومت وظیفه د خلکو د حقوقو ساتنه او د اجتماعي عدالت رعایت دی.»

د جمهوري ریاست مرستیال استاد دانش چې د غونډې لومړنی ویناوال و، د ملي وحدت شهید د شهادت د درویشتم کال په مناسبت د افغانستان ټولو خلکو ته تسلیت ووایه او په دې مناسبت غونډې له برخه والو یې مننه وکړه. ده له جمهور رییس څخه مننه وکړه چې د ملي وحدت شهید او د هغه د مبارزو او افکارو د قدرداني په منظور یې دغه غونډه را بللې ده.

ښاغلي دانش د هیواد په نوي سیاسي نظام کې د شهید مزاري د سیاسي تفکر او ارزوګانو د تحقق په اړه وینا وکړه او ویې ویل: «د شهید مزاري د سیاسي تفکر اصلي شاخصه د ملي وحدت او اجتماعي عدالت دوه ارونه جوړوي.» ده وویل: «دغه دوه اصلونه داسې پیغامونه او الزامات لري چې کله نا کله یې یو ځای کول مشکل شي، خو شهید مزاري خپل تیوري او عمل

د دواړو اصلونو پر بنا ودرول او د هغو د عملي کېدو لپاره يې هڅه وکړه.»

د جموري رياست مرستيال د ملي وحدت په تامين کې د شهيد رهبر د هڅو په اړه وويل: «استاد مزاري هڅه کوله چې د سياسي ډلو تر منځ وحدت ايجاد شي.» استاد دانش د سياسي بحرانونو د اواري لپاره د شهيد مزاري د نظر په اړه وويل چې ده ملي وحدت يو اصل او د ملي توازن محور باله او د هيواد د بحرانونو حللاره يې په ملي پيوستون کې لټوله. د استاد دانش په قول: «استاد مزاري لکه څنګه چې د کوچنيو هويتونو منل د لوی ملي هويت د جوړېدو وارمخکې شرط ګانه، دغسې يې د لوی ملي هويت د نفي يا کمزوری په بيه د کوچنيو هويتونو څلول هم نه منل.»

استاد دانش وويل چې استاد مزاري د کابل د جګړو په وخت «د قومونو تر منځ تعامل» د عملي حللارې په توګه وړاندی کړ. ده به نه خپل قوم ترنورو زيات باله او نه يې نور قومونه تر خپل قوم زيات بلل. د مذهبونو تر منځ تعامل کې يې هم لکه څومره چې له جعفري مذهبه هزاره ګانو سره تعلق ساته، تر هغه زيات يې د هيواد سني هزاره ګانو، اسماعيليه وو او نورو سني مذهبه خلکو ته احترام او درناوی درلود.»

استاد دانش وويل: «شهيد مزاري غوښتل چې هزاره والی جرم او مذهب يې قاچاق نه وي، اوزبيک والی پيغوراو بلوڅوالی مجازات ونلري او نن دا ټولې ارزوګانې پوره شوې او دغه هويتونه تثبيت شوي او نور ممکنه نه ده چې محوه شي. د جمهور رييس دويم مرستيال د شهيد مزاري په نظريه کې د اجتماعي عدالت په اړه وويل: «د دغه هيواد په تير تاريخ کې هيڅوخت عدالت تحقق نه و موندلی. له همدې کبله شهيد مزاري غوښتل داسې د داسې درد علاج وکړي چې د يوه ملت ټول شتون يې شړولی و.» ده تصريح کړه: «نه عدالت غوښتنه د باغيتوب په معنا ده او نه ملي وحدت ته پابندي د ظلم او بې عدالتي په وړاندې د سکوت او تسلمېدا معنا ورکوي.»

استاد هغه فرهنګي نهضت ته چې د کابل په لويديځ کې د مقاومت په وخت رامنځ ته شو، وويل: «مزاري هغوی ښه پيژني، درناوی يې کوي او د ده

اهداف تعقیبوي چې د ده په څنګ کې یې مبارزه کړې ده او د ده په وینو سور بیرغ یې د توپک او قلم په دواړو محاذونو کې رپولی دی.»

استاد دانش د ملي او اسلامی موازینو په رعایت سره اساسي قانون، د انتخاباتو پراساس د ولسواک نظام جوړېدل، د پلورالیزم او شهروندي حقونو تضمین، د شیعه ګانو لپاره د جعفري مذهب رسمیت، د اداري واحدونو تعدیل او د هیواد په مختلفو سیمو کې متوازن پرمختګ د شهید مزاري د ارزوګانو مهمې برخې یادې کړې چې په نسبي ډول عملي شوې دي. ده وویل ځینې مهم کارونه په مخکې دي. د جمهور رییس مرستیال دې ته په اشارې سره چې لا تر اوسه د هزاره جات سیمې د محرومیت په تاریخي اور کې سوځي، وویل چې په دې اړه اقدامات شوي او حکومت نیت لرې چې د دغه درد علاج وکړي.

د ده په قول، د ختیځ او لویدیځ دهلیز، د شمال او جنوب دهلیز، د بامیان- دوشي سړک، د دایکندي او غزني سړکونه، د بامیان او دایکندي د بریښنا پروژې او داسې نورې پروژې د تطبیق په حال کې دي چې په بشپړېدو سره به یې هزاره جات واقعا د طبیعت له زندانه راووځي.

استاد دانش د نظام په جوړښت کې د ټولو قومونو په مشارکت باندې تاکید وکړ او ویې ویل چې د قانوني تدابیرو په نیولو سره د اداري اصلاحاتو بهیر او د تبعیض مخنیوی چټک شوی دی. ده په دې برخه کې د جمهوري ریاست د چارو له ادارې او د اداري اصلاحاتو له کمیسیونه وغوښتل چې د افغانستان د ادارې په ټولو سطحو کې دې د قومونو د حضور فیصدي خپره کړي تر څو د افغانستان خلک پوه شي چې حقیقت څه دی.

استاد دانش د جمهوري ریاست په ارګ کې د شهید مزاري، فیض محمد کاتب هزاره او امیرالکلام امیرعلی شیر نوایي تجلیل او د کاتب او نوایي په نوم د رسمي دولتي مډالونو ضرب کول او استاد مزاري ته د ملي وحدت شهید لقب ورکول، د افغانستان د سیاسي اقتدار د مرکز په توګه د هیواد قومونو او ملی شخصیتونو ته د ارګ د درناوي نښه وبلله.

دغه راز په دې غونډه کې د هیواد اجراییه رییس ډاکتر عبدالله عبدالله وینا وکړه او د هیواد شهیدان په تیره بیا د ملي وحدت شهید یې وستایه. ښاغلي عبدالله، استاد مزاري په هیواد کې د ازادي اوعدالت بیرغوال وباله، ویې ویل: استاد مزاري د اجتماعي عدالت په لور مهم ګام واخیست چې د ټولو عدالتغوښتونکو له خوا به ادامه ومومي.

د افغانستان د سولې عالي شورا مرستیال او د جمهوري ریاست پخواني معاون استاد محمد کریم خلیلي هم په خپلو خبرو کې د شهید استاد مزاري شخصیت او کارنامه د اوسنیو شرایطو د مدیریت لپاره د لارې د څرګندې نقشې په توګه وبلل. استاد خلیلی وویل: «شهیدان له خپلو ټولو سربښندونو سره لاړل او د اوسنو شرایطو مسولیت زموږ په غاړه دی. په دې باید فکر وکړو چې د شهیدانو له روښانه نظرونو او تجربو څخه څنګه اوسنی وضعیت مدیریت کړو.» ده وویل: «د شهید مزاري یوه ارزو او هڅه دا وه چې په افغانستان کې پایښتي سوله راشي. ده جنګ هیڅکله د افغانستان د ستونزو حللاره نه بلله او په یو بل منلو یې تاکید کاوه.» استاد خلیلي وویل چې څو پورې یوې پایښتي او عادلانه سولې ته ونه رسیږو، هر ګام چې اخلو یې، ډاډمن به نه وي. استاد خلیلي په ټولنه کې د سوله ییز ژوند او یو بل منلو د درک لپاره په ټولنه کې علم یو مضبوط بنیاد وباله او زیاته یې کړه چې د ملي وحدت شهید د درویشتم کالیاد په مناسبت یې د نني نسل د لوړو زده کړو لپاره یوسلو پنځوس تحصیلي بورسونه اختصاص کړي دي.

د کار او اجتماعي چارو وزیر فیض الله ذکي هم په دې غونډه کې وینا وکړه. ده د ملي وحدت شهید د تلین په مناسبت د جمهور رییس د لومړي مرستیال جنرال دوستم د غمرازي د پیغام د اورولو په ترڅ کې شهید مزاري یو ملي او عدالت غوښتونکی شخصیت وباله او زیاته یې کړه چې د شهید مزاري تر ټولو غوره قدرداني دا ده چې د هغه د ارمانونو د تحقق لپاره مبارزه دوام وکړي.

د اهل سنت هزاره ګانو د سراسري شورا رییس غلام سخي پارسایي د

ملی وحدت شهید د شهادت په مناسبت غونډه کې د دې شورا پیغام ولوست. په دې پیغام کې د شهید مزاري د یاد او خاطرې د تجلیل په ترڅ کې د اجتماعي عدالت د پیغام په تثبیت کې د استاد مزاري د سیاسي نظریو پر نقش او دغه راز د نوموړي شهید د لارې د دوام پر ضرورت ټینګار شوی دی.

د کور او بهرنیو چارو وزیر سید سعادت منصور نادري د دې غونډې یو بل ویناوال و. ده په خپله وینا کې د ملي وحدت شهید او د عدالت او ازادي د لارې د نورو شهیدانو په لوړ مقام باندې درود ووایه. ښاغلي نادري شهید مزاري په افغانستان کې د عدالت غوښتنې بیرغوال وباله.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر سید حسین عالمي بلخي هم په دې غونډه کې وینا وکړه او د دغه شهید سپېڅلی مقام یې وستایه. ده شهید مزاري د افغانستان په تاریخ کې له کمسارو شخصیتونو څخه وباله او د هغه د لارې پر دوام یې ټینګار وکاوه. ده وویل چې شهید مزاري اسلامي او انساني ارزښتونو ته ژمن و او د اسلام په اړه وچ تفسیر یې په هیڅ وجه نه مانه.

عالمي بلخي ټینګار وکړ چې د مزاري شخصیت باید د کابل د لویدیځ په درې کلن مقاومت کې خلاصه نکړو. ده وویل چې مزاري یو نهضت دی او د مزاري د عدالت غوښتنې نهضت پراخ اوهمیشنی دی. ده تاکید وکړ چې مزاري په افغانستان کې په واقعي معنا اجتماعي عدالت او یو بل منل او په دې لاره کې یې ډیرې هلې ځلې وکړې. ښاغلي عالمي وویل چې د شهید مزاري د عدالت غوښتونکو هڅو په درناوي دې د ملي وحدت شهید په نوم یو مډال ضرب شي.

# په ارګ کې د استاد مزاري د درویشتم کالیاد په مراسمو کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رییس جلالتمآب ډاکتر محمداشرف غني وینا[1]

**بسم الله الرحمن الرحیم**

قدرمنو ښاغلیو، عزتمنو وروڼو استاد دانش او ډاکتر صاحب عبدالله، جناب حضرت صاحب، استاد خلیلي، د ولسي جرګې محترم رییس، د مشرانو جرګې محترم رییس، جناب فضیلت ماب قاضي القضات صاحب، جناب لوی څارنوال صاحب، د هیواد سیاسي مشرانو، د کابینې محترمو غړیو، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې محترمو غړیو، محترمو سفیرانو او دیپلماتانو، علمای کرامو، ځوانانو، خویندو، وروڼو السلام علیکم و رحمت الله و برکاته،

درود پر محمد و آل محمد و اصحابه اجمعین!

تر هر څه ړومبی د استاد مزاري د شهادت د درویشتم کال په مناسبت د حاضر مجلس ټولو غړیو او د افغانستان ملت ته تسلیت وایم. بل تسلیت مې د هرات د کب د څلورویشتمې د شهیدانو، د افغانستان د جهاد د شهیدو اتلانو او د امنیتي او دفاعي قواوو د اتلو شهیدانو په خاطر دی. د کب د اتمې نېټې پیښه دردوونکې وه چې زموږ امنیتي قواوو ځانونه قربان کړل، ورڅخه تشکر کوم. دغه راز په ځای ده چې دلته د افغانستان د مشروطیت د شهیدانو

---

۱. ۱۳۹۶ کال، د کب درویشتمه، د جمهوري ریاست ارګ.

يادونه وکړم. که استبداد زموږ د تاريخ يو اړخ دی نو په يوسلوڅلويښت کلنه موده کې زموږ د خلکو دوامداره ازادي غوښتنه بل اړخ دی. داسې خلک و چې د ازادۍ فضا لپاره د مبارزې په لاره کې په توپ والوتل. د دوی ياد دې تلپاتې وي.

خبرې مې په څلورو برخو کې دي:

اول: ټولو ته ښه راغلاست وايم. ارګ ته د افغانستان د ټولو سره ورونو او برابرو قومونو کور ته ښه په خير راغلئ. ارګ د خلکو کور دی او هر افغان له بل افغان سره برابر دی.

دويم: د اساسي قانون د تطبيق مرکزاو مقر ته ښه راغلاست. ستاسې د ملي وحدت د دولت او حکومت لومړۍ وظيفه د اساسي قانون تطبيق دی او اساسي قانون زموږ د ملي وحدت او اجتماعي عدالت د تامين ضامن دی. هر څوک که د افغانستان اساسي قانون لولي، د شهيد مزاري اثر پکې ويني. ارګ د خلکو د وصل ځای دی. د ملي وحدت حکومت د وصل لپاره جوړ شوی دی، نه د فصل لپاره. د تفرقې او واټنونو دوران تير دی. د همپالنې او ملي وحدت دوران دی او د اساسي قانون د تطبيق لپاره زموږ د ټينګ هوډ وخت دی. او په دې برخه کې خصوصا چې د سولې مذاکرات مو په مخ کې دي، زموږ د ملي وحدت د حکومت دنده، د افغانستان د ټولو خلکو، په تېره بيا د افغانستان د غيرتمنو ښځو د حقونو ساتنه ده. د دوی ټولو له فعال حضوراو نقش څخه مننه کوم.

دريم: غواړم مننه وکړم. لومړۍ مننه مې له هغه نسل څخه ده چې په دې تالار کې او په ټول افغانستان کې حضور لري، هغه نسل چې د ملي وحدت او اجتماعي عدالت مفکورې يې په بشري، سياسي او اقتصادي سرمايو بدلې کړې. نن ورځ هيڅوک ويلای نه شي چې د بشري ځواک نظره هزاره جات يا د هيواد بله سيمه ماضي ته ستنيدای شي. هغه وختونه لاړل. نن د افغانستان لويه پانګه د افغانستان خلک دي او هيڅوک نه غواړي چې ماضي ته رجعت

وکړي. زموږ لاره مخ په وړاندې لاره ده او نن ورځ د خدای په فضل هر اړخیزه بشري، اجتماعي، اقتصادي اوسیاسي سرمایه شته چې موږ قانون تطبیق کړو.

بل له استاد دانش څخه مننه کوم چې تجلیل یې په تحلیل بدل کړ. هغه تجلیل او لمانځنه چې اساس یې تحلیل او شننه وي، دوامداره اثر لرلای شي. قدرمن استاده، نن ورځ تاسې شهید استاد مزاري د افغانستان نوي او اوسني نسل ته یو ځل بیا، له یوې خاصې زاویې څخه چې دوی یې درک کړای شی، معرفي کړ او زما او ډاکتر عبدالله په خوا مې ستاسې له شپه ورځ هڅو او زحمتونو مننه کوم. دا مه هیروئ چې استاد دانش په درې نیم کلنه موده کې د قاضي القضات، لوی څارنوال، عدلیه وزیر او نورو مشرانو تر درې سوه زیات قوانین چمتو کړي دي او له ابراهیمي صاحب او مسلمیار صاحب څخه مننه کوم چې په ملي شورا کې یې د دغو قوانین د تصویب زمینه برابره کړې ده. له استاد دانش څخه د زړه له کومې مننه کوم.

دلته غواړم له جناب استاد خلیلي څخه هم مننه وکړم چې د افغانستان د ملي وحدت او د افغانستان د سولې ممثل او د شهید مزاري پیرو دی. جناب استاد خلیلي، زه دې دوست یم او په همدې وجه دې خاصه ستاینه نه کوم. خو د افغانستان د تاریخ د یوه شاګرد په توګه باور لرم چې د افغانستان د تاریخ راتلونکې مورخان به ستاسې نقش د انصاف له مخې بررسي کړي او تاسې به د تاریخ له ازموینې ډېر کامیاب راووځئ او خصوصا دا نوښت چې نن مو اعلان کړ چې د لمانځنې مراسم نوي نسل ته د سکالرشپونو په ورکولو بدل شي. امید دی دا یو مثال شي او د افغانستان ټول قومونه، سیاسي ګوندونه او شخصیتونه ستاسې د دغه اقدام پیروي وکړي. د لمانځنې بهترینه لاره چې په شننې ولاړه ده، دا ده چې زموږ په راتلونکي نسل باندې پانګونه وشي. زه غواړم له ورور او شریک، ډاکتر صاحب عبدالله څخه لا خاصه مننه وکړم. د ملي وحدت حکومت اسان کار نه دی خو د وخت غوښتنه او اړتیا ده او

توقع ده د افغانستان خلک دې ټکي ته متوجه وي چې ملي وحدت د افغانستان د سولې، سوکالي او ثبات بنسټونه بڼدي. زموږ سیاسي غېږ باید پراخه وي، نه تنګه. هر څومره چې ځان محدود کړو، هغومره مو د افغانستان حکومت محدود کړی دی. موږ له دې ستر فکر سره کار پیل کړ چې څنګه د افغانستان تاریخي بحرانونه اوار کړو، نه دا چې زیات یې کړو. ډاکتر صاحب کوردې ودان. دغه راز د افغانستان د اسلامي جمهوریت له لومړني جمهور رییس، د افغانستان د جهاد بنسټګر، د معرفت او طریقت مشال، جناب حضرت صاحب او ټولو جهادي او سیاسي مشرانو مننه کوم. حضرت صاحب په اسانه له کوره نه وځي او خصوصا دا چې په دوه ساعته غونډه کې یې ګډون کړی او تشریف یې راوړی دی، شهید مزاري ته د هغه د ځانګړی ارادت ښودنه کوي. د جناب حضرت صاحب په زړه کې د شهید استاد مزاري خاطره ژوندۍ ده. تاسې پوهېږئ چې شهید مزاري د حضرت صاحب په باره کې څه ویلي دي؟ شهید مزاري ویلي دي چې حضرت صاحب همیشه یوعادل شخصیت او د خلکو غمخور دی. جناب حضرت صاحب له راتلو مو مننه او دغه راز د ټولو همکارانو له راتلو.

دریمه خبره مې د لیډلوري په اړه ده. لومړی دا چې یو ولسواک نظام چې د رونې، ازادو او دوامدارو ټاکنو پر اساس او د خلکو په خوښه جوړ شي، زموږ د ملي وحدت او اجتماعي عدالت ساتندوی دی. ځکه هرې ټاکنې په ملي بحث او ډیسکورس بدلېږي او هیله ده چې د ۱۳۹۷ کال د ولسي جرګې او ولسوالیو شوراګانو ټاکنې او په ۱۳۹۸ کال کې ولسمشریزې ټاکنې د خلکو د غوښتنو او اساسي قانون پر بنسټ، زموږ د راتلونکې د معلومولو او د یوه ملي بحث وسیله وګرځي. لکه څنګه چې ډاکتر صاحب عبدالله وویل د ملي وحدت حکومت ژمنه دا ده چې د انتخاباتو د مستقل کمیسیون بشپړه او بې طرفانه ملاتړ به کوو څو په دې ډول د افغانستان خلک خپل برخلیک وټاکلای شي. موږ هر یو چې دلته یو، په تیره زه پخپله یوازې د خلکو د ارادې په اساس دلته یم. دا کور د ملت دی او موږ ته د څو ورځو لپاره امانت راکړ

شوی دی چې مالک یې د افغانستان ولس دی. د جمهوري ریاست ارګ نه د استبداد ځای دی او نه د چا شخصي مال. دا کور یوازې او یوازې د افغانستان له خلکو سره تعلق لري.

بله خبره مې دا ده چې د دردونو، ستونزو او محدودیتونو بد میراث چې راته پاتې دی، راځئ دا نور ختم کړو او تغیر پکې راولو. یو داسې څه په میراث پرېږدو چې د هغه په اساس زموږ خلک د اساسي قانون د غوښتنو مطابق ملي وحدت او اجتماعي عدالت ته ورسېږي. په دې لړ کې په وضاحت سره وایم چې د مرکزي افغانستان جغرافیایي زندان د ماتېدو په حال کې دی او هیڅ قدرت به دا وس ونلري چې مرکزي افغانستان یو ځل بیا په جغرافیایي زندان بدل کړي. موږ اجتماعي عدالت ته د رسېدو لپاره یوه متحول اقتصاد ته اړتیا لرو.

یوازې حاجي ګګ دوه سوه میلیارده ټنه اورسپنه لري. نو مرکزي افغانستان ولې اباد نه شي؟ او ولې افغانستان اباد نه شي؟ خبره دا ده چې خپلې خدای را کړې فزیکي پانګې پر مالي او اقتصادي پانګو بدلې کړو.

بله خبره د ملت جوړونې په اړه کوم. د دولت جوړونې او اقتصادي پروسې په اړه جناب استاد دانش یوه اساسي تجزیه او شننه کړې ده. لارې ورته ټاکل شوې دي، خو لکه څنګه چې ډاکتر صاحب عبدالله وویل، لاره اوږده ده. باید پر هغو اهدافو تمرکز وکړو چې وضعیت په اساسي ډول بدل کړي او په دې برخه کې د جناب قاضي القضات او لوی څارنوال صاحب له زحمتونو او نورو ټولو همکارانو مننه کوم. امید دی چې تاسې ته معلومه شوې وي چې د قضایي قضیو په اړه به مو له ما هیڅوخت څه نه وي اورېدلي. د قضاییه قوې د استقلال معنا دا ده چې قانون حاکم وي او خلک مجبور نه وي چې د خپلو اختلافونو د حل لپاره د یو بل خلاف را پاڅي بلکې محکمو او لویې څارنوالي ته مراجعه وکړي چې ستونزې یې په عادلانه شکل حل شي.

د ملت جوړوونې په اړه څو خبرې درته لرم. یو دا چې موږ د ماضي شننې او درک ته اړتیا لرو خو د ماضي د تکرار اجازه نه شو ورکولای. د

ماضي په اړه زموږ دردونه بايد له حال او راتلونکې څخه زموږ د استفادې مخه ونه نيسي. جناب استاد خليلي ستاسې فرمايش ډېر مهم دی چې که تاريخي درک ونلرو نو د افغانستان د خلکو د يوې برخې يا د افغانستان د ټولو خلکو د درد له درکه به عاجز يو. خو که درد ته تسليم شو او زموږ ليدلوری دې ته محدود شي چې په ماضي کې څه و نو خپله راتلونکې به قرباني کړو. وروسته له ځلوېښت کاله قرباني او شهادتونو موږ ضرورت لرو چې سبا ته مخ واړوو. بله خبره له حال څخه د استفادې ده. حال زموږ دی. حال يوازې د ځوانانو نه دی او دا هم سمه نه ده چې ځوانان يوازې د سبا ليډران وبولو. ځوانان د نننی افغانستان ليډران هم دي. موږ هر يو له ځانه د استفادې په اړه مسوليت لرو؟ له ځانه استفاده څه ته وايي؟ همدا غونډه يې يو مثال دی. که يو بل ته د غوږ اېښودلو وخت ونلرو او دا اراده راسره نه وي چې د ماضي دردونه په واضح ډول تحليل کړو نو سبا ته به څنګه متوجه کېږو؟ زموږ په تېر تاريخ کې هم وياړونه شته او هم دردونه او پکار ده چې راتلونکې د وياړونو په اساس وي او دردونه يې تکرار نه شي. نو له حال څخه د استفادې لپاره يو ستر اجتماعي بحث ته اړتيا ده.

په افغانستان کې بايد يو لوی ملي بحث او ډيسکورس جوړ شي او جناب استاد، سوله چې زموږ حياتي موضوع ده، په دې لوی ملي بحث او ډيسکورس کې خبرې ورباندې کېدای شي او دغه راز د راتلونکې په اړه بايد اجماع ته ورسېږو چې آينده بايد څنګه وي؟ لومړی ټکی دا دی چې اجماع بايد زموږ مشترک دردونه درک کړي. د افغانستان تر ټولو محروم لس ولايتونه د قوم په اساس نه دي بلکې په محروميت کې سره مشترک دي. د افغانستان معلولين له ټول وطن سره تعلق لري. بې ځايه شوي افغانان له ټول افغانستان سره تعلق لري. د افغانستان مهاجرين هم د وطن د ټولو سيمو دي. نو زموږ هره سيمه بايد بله سيمه درک کړي او هغه د پښتو متل دی چې که ته وايې چې زه يم او زه وايم چې زه يم، نه به ته يې، نه به زه يم خو که ته وايې چې ته يې او زه وايم چې ته يې، هم به ته يې، هم به زه يم. د همپالنې معنا دا ده چې موږ يوه شريکه آينده لرو.

د افغانستان په بهر کې زموږ ډیره خویندې او وروڼه د هیواد د اجماع یوه برخه باید وي. دوی په خپل وطن کې د ډیر عزت ژوند کولای شي. د مهاجرت درد خو به مو لیدلی وي؟ موږ چې مهاجر و په کومو کلمو به یې یادولو؟ موږ پدرسوخته نه یو. زموږ پلرونو ویاړونه رامنځ ته کړي دي او پنځه زره کلن تاریخ لرو. خو اوس ضرورت دا دی چې داسې نظر ولرو چې د وینو او جهاد په زور د دې تر لاسه کړې خاورې آینده د افغانستان له ټولو خلکو سره تعلق ولري او دغه شی زغم رابخښي. موږ افغانان لوی سیاسي زغم ته اړتیا لرو چې واقعا د یو بل خبره واورو او نتیجې ته ورسیږو او پر مخ لاړ شو.

بله خبره دا ده چې د تیرو دردونو په درک کولو سره د شریکې او متحدې آیندې په لرلو پوره باور ولرو. د دغو دردونو د غوځولو او د ملي وحدت او اجتماعي عدالت اهدافو ته د رسیدو لپاره د لارې نقشه جوړه او عملي کړو.

موږ د رغاونې لپاره یو جهاد ته اړتیا وینو. موږ د داسې ملت په مقابل کې مسوول یو چې دریمه برخه خلک یې د شپې وږي ویده کیږي. زموږ مسولیت دی چې لوږه او بې عدالتي په اساسي ډول ختمه کړو. په دغو مسایلو کې د شهید مزاري نظریات روښانه دي چې د مجاهدینو، مشروطه غوښتونکو او نورو هغو کسانو چې د قانون د حاکمیت لپاره یې لویې قربانۍ ورکړې دي، د نظریاتو په مرسته به ان شاالله خپلې راتلونکې ته د لارې نقشه جوړه کړو. ستاسې د یوه خادم، ستاسې د یو وطنوال او ستاسې د ولسمشر په حیث، باوري یم چې موږ او تاسې به پرستونزو غلبه پیدا کړو. موږ افغانان چې په شریکه یو هوډ وکړو نو بیا مو هیڅ شی خنډ کیدای نه شي. د یوه سوکاله، واحد، باثباته او ولسواک افغانستان په امید.

تل دې افغانستان

زنده باد افغانستان

يه شه سن افغانستان

تلپاتې دې وي د شهیدانو په تیره یا د ملي وحدت شهید استاد مزاري یاد

# د ملي وحدت شهيد استاد عبدالعلی مزاري د شهادت د درويشتم کال په مناسبت غونډه کې د جمهور رييس د دويم مرستيال جلالتمآب استاد سرور دانش وينا[1]

جلالتمآب جمهور رييس، جلالتمآب اجراييه رييس، جهادي رهبر او د افغانستان د اسلامي دولت لومړنی رييس جناب حضرت صاحب، د مشرانو جرګې رييس، قاضي القضات او د سترې محکمې رييس، د سولې د عالي شورا رييس او د ولسمشرۍ پخوانی مرستيال استاد خليلی، جناب لوی څارنوال، د ګوندونو مشرانو او سياسي او جهادي شخصيتونو، د کابينې محترمو غړيو، د ملي شورا او سترې محکمې محترمو غړيو، ديپلماتيکو استازو، علماوو، استادانو، ميرمنو، ښاغلو، السلام عليکم و رحمت الله و برکاته.

تر هر څه مخکې د ملي وحدت شهيد استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درويشتم کال په مناسبت د افغانستان ټولو خلکو، په تيره بيا، د هغه دوستانو، همفکرانو او پيروانو ته تسليت وايم او له جلالتمآب جمهور رييس څخه مننه کوم چې دغه پرتمينه غونډه يې د ملي وحدت شهيد په ياد او د هغه د مبارزو او افکارو د قدرونې لپاره جوړه کړې ده. د جمهوري رياست د دفتر او د جمهوري رياست د دويم معاونت د دفتر د مختلفو برخو له همکارانو او دوستانو هم مننه کوم چې په مخلصانه هڅو سره يې د دې لمانځغونډې بندوبست کړی دی. په دې مناسبت، د جهاد او مقاومت د ټولو شهيدانو

---

۱. د ۱۳۹۶ کال د کب درويشتمه، د جمهوري رياست ارګ.

پاکو روحونو ته درود استوم، په تیره بیا د هرات د کب د څلرویشتمې نیټې شهیدانو ته او د سولې د شهید استاد رباني، د ملي اتل احمد شاه مسعود، د شهید عبدالحق، د شهید مصطفی کاظمي او د هیواد د دفاعي، امنیتي ځواکونو د پاکو شهیدانو روحونو ته.

ستاسې قدرمنو میلمنو په اجازه، د دې نن ورځې له موضوع سره اړوند، غواړم په دوو برخو کې ځینې مطالب بیان کړم: یو دا چې د شهید مزاري د سیاسي تفکر اصلي محورونه او شاخصې څه وې او دویم دا چې د افغانستان د نوي سیاسي نظام په دوران کې د شهید مزاري ارزوګانې تر کومه حده عملي شوې دي او په دې اړه زموږ دنده څه ده؟

مخکې تر مخکې غواړم ټینګار وکړم چې هغه څه د استاد مزاري په باره کې وایم، یوازې یو تجلیل نه دی، او په هیڅ وجه مبالغه پکې نشته، بلکې د ملي مهمو مسایلو او مشکلاتو په اړه د شهید مزاري د نظریاتو یو تحلیل دی او دا شننه له هغه سره زما د څه باندې شپاړلس کلنې پیژندنې او د هغوی له افکارو او مبارزو سره د بلدتیا نتیجه ده. دغه راز باید یادونه وکړم چې په ټولو دغو واردو کې د استاد مزاري خبرې په مرکو او ویناوو کې راغلي چې اوس هم هغه ویناوې او مرکې لوستلای شئ خو د وخت د کمي په خاطر د هغوی د خبرو د متن له ذکرولو ډډه کوم.

استاد مزاري صریح کس و او سپینې خبرې یې کولې. کله نا کله یې خپل نظریات د ډیرو ترخو خبرو په بڼه مطرح کړي دي. په خبرو کې دغه تریخوالی د کومې شخصي ګټې په خاطر نه بلکې د هغو ترخو پیښو په وجه و چې له بده مرغه زموږ په تاریخ کې واقع شوې دي او په هغو کلونو کې موږ ټولو د زمان د جبر په اساس ډیرې ترخې او نیشدارې خبرې کړې، لیکلې او اورېدلې دي. خوشحاله یم چې هغه ترخه وختونه تېر شول او اوس په افغانستان کې داسې شرایط برابر شوي دي چې ټول د یو بل په درک کولو، وفاق او همپالنې باندې ټینګار کوو.

## لومړۍ برخه: د استاد مزاري د سیاسي تفکر اصلي شاخصې

د استاد مزاري د سیاسي او مبارزاتي تفکر په اړه باید ووایو چې د هغو اصلي شاخصه دوو ډیرو مهمو ټکو جوړوله: د «ملي وحدت» اصل او د «اجتماعي عدالت» اصل. دغه دوه اصلونه داسې پیغامونه او الزمات لري چې کله ناکله یې یو ځای کول هم ډیر مشکل ښکاري، په تیره بیا د افغانستان د سیاست په دنیا کې چې واقع بیني او جامع لید ته چندان تمایل نشته او همدا وجه ده چې زموږ سیاستوال هم لږ توانیدلي دي چې دواړو اصلونو ته په متوازن ډول پام وساتي او فکر ورباندې وکړي او د دغو دواړو اصلونو د الزاماتو تر منځ د ټکر په وخت د منځ او اعتدال لاره ولټوي. دوی اکثره په یو اړخیز ډول یا پر وحدت یا پر عدالت ټینګار کوي. خو شهید مزاري خپل نظر او عمل دواړه پر دغو دوو اصلونو بنا کړل او د دواړو د تحقق لپاره یې هڅه وکړه چې دلته به په لنډو کې د استاد مزاري له نظره د دغو دوو اصلونو شننه وکړم:

### ۱ ــ د سیاسي ډلو تر منځ هم لوري او همغږي

په لومړي سر کې د استاد مزاري ټوله هڅه دا وه چې د سیاسي ډلو تر منځ وحدت او نژدېوالی راپیدا شي. ده د دې مقصد لپاره وار په وار، په اسلامي نړۍ کې د ازادي بخښوونکو نهضتونو له وحدت او همغږي رانیولې په افغانستان تر ملي وحدته پورې، ګامونه واخیستل. شهید مزاري د جهاد په کلونو کې د هیواد په ګوټ ګوټ کې، له هرات، فراه، نیمروز او بادغیس څخه رانیولې د هزاره جات تر مرکزي سیمو او د هیواد تر شماله پورې حضور وموند او د زړه د نژدې کېدو هڅه یې وکړه. له لسو ګوندونو جوړ د افغانستان اسلامي وحدت ګوند، د جهادي ګوندونو د هم لور کول لپاره هڅه، د همغږي د عالي شورا تشکیل او داسې نور کوښښونه د وحدت د جوړولو لپاره د دوی د کوښښونو عملي مثالونه دي.

### ۲ ــ د ملي وحدت او ملي اقتدار اصل

په دویم پړاو کې، شهید مزاري ملي وحدت یو اصل او د ملي اقتدار محور باله

او د هيواد د سياسي او پوځي بحرانونو حللاره يې په ملي پيوستون کې لټوله او د يوه ملت د جوړولو لپاره يې د ټول افغانستان د کوچنيو قومي، مذهبي او ژبنيو هويتونو منل او د ښهروندي حقونو رعايت يو ضرورت باله. شهيد مزاري لکه ځنګه چې د کوچنيو هويتونو منل د لوی ملي هويت د جوړېدو وارمخکې شرط باله، د د لوی ملی هويت د نفي کولو او کمزورولو په بيه يې د کوچنيو هويتونو ځلول او غټول هم نه منل او د قومونو تر منځ تفرقه يې فاجعه بلله.

## ۳ ــ د حذف د سياست په ځای د قومونو تر منځ تعامل

شهيد مزاري په کابل کې د جګړو په وخت «د قومونو تر منځ تعامل» د يوې عملي حللارې په توګه وړانديز کړ. ده خپل قوم چې په تيرو وختونو کې د استبدادي او تبعيضي سياستونو ښکار شوی و، د حق غوښتونکې مبارزې په لور رهبري کړ او په پخوانو سياستونو يې د چليپيا کرښه وايسته، خو هيڅ وخت يې په خبرو يا عمل کې، له نورو هويتونو سره ميرڅي او يا په بله ژبه د نورو هويتونو حذف کول، نه منل او د حذف سياست يې د افغانستان لپاره فاجعه بلله. ده نه خپل قوم تر نورو بر باله او نه يې نور قومونه تر خپل قوم بر ګڼل، بلکې په ورورې او برابرې يې ټينګار کاوه او ويل يې چې حق غوښتل له چا سره د دښمنې معنا نلري.

## ۴ ــ د شيعه او سني وحدت:

د شيعه او سني په اړه او اړوندو حساسيتونو په باره کې چې کله نا کله به مطرح کېدل، استاد مزاري جالب نظر درلود. ده په خپله يوه وينا کې ويلي دي چې: «ما هيڅ وخت نه د شيعه خبره کړې ده، نه د سني او نه به له دې وروسته دا خبره وکړم. ځکه چې شيعه او سني او دا (ډول) مسايل هسې لوبې دي. دا د قدرتونو لوبې دي، کنه نو په دې هيواد کې هم شيعه وو او هم سني او دلته يې (شريک) ژوند کړی دی او هيڅ مشکل يې سره نه و.» په همدې وجه، ده چې څومره له جعفري مذهبه هزاره ګانو سره تعلق درلود، تر

هغه يې زيات سني او اسماعيليه هزاره ګانو او نورو سنيانو ته درناوی کاوه.

## ۵ ــ اجتماعي عدالت

عدالت د شهيد مزاري اصلي خبره وه. ځکه چې د دې وطن په تير تاريخ کې هيڅوخت عدالت نه و، نه سياسي جوړښت عادلانه و او نه اداري جوړښت او نه له ښهروندانو سره په عدالت سره چلند کېده. له دې کبله شهيد مزاري د يوه ولسي مشر په توګه وغوښتل د داسې درد علاج وکړي چې د يو ملت ټول وجود يې شړولی و. ده په دې لاره کې په ميړانه ګامونه واخيستل. د شهيد مزاري عدالت غوښتنه د هغه له وحدت غوښتنې سره په ټکر کې نه وه. ځکه چې شهيد مزاري له کوم خاص قوم څخه د انتقام په فکر کې نه و، بلکې د ده اصلي هدف د عدالت راوستل او د انحصار ختمول و. هر عاقل کس په دې پوهېږي چې له عدالته پرته او د تبعيض، انحصار او استبداد په وضعيت کې د ملي وحدت شعار بې معنا دی. واقعي ملي وحدت هاله جوړېدای شي چې عدالت تامين شي او ټول قومونه بلکې ټول افراد خپل مشروع او قانوني حقونه ولري.

## ۶ ــ د تاريخ واقعبينانه شننه

استاد مزاري د ملي وحدت او اجتماعي عدالت په برخه کې د تاريخ سمه شننه وکړه او له تاريخ څخه يې معقوله او منطقي نتيجه واخيسته. شهيد مزاري له تاريخه درس واخيست خو په تاريخ پورې يې ځان غوټه نکړ، بلکې د تاريخ له تيرو دردونو راووت او د راتلونکې لاره يې له تير تاريخ څخه په پند اخيستلو او آينده ته په ليدو انځور کړه.

له تاريخي نظره که څه هم د اميرعبدالرحمن خان له خوا د هزاره ګانو سرکوب بې اندازه وحشيانه او له داسې جرايمو سره يو ځای و چې نن ورځ هغو ته بشري ضد جنايتونه او نسل کشي وايي او له دې جهته هزاره ګان حق لري چې له دغو جنايتونو ډير دردمن وي، مګر شهيد مزاري باوري و چې نن بايد موږ د يوه شخص يا يوه رژيم جنايت د يوه قوم جنايت ونه بولو

او ټول پښتانه د هزاره او ټول هزاره د پښتانه دښمنان ونه ګڼو. له بلې خوا د امیر عبدالرحمن ظلم په افغانستان کې دومره عمومي و چې د ټولو تاریخي منابعو په قول، له شماله تر جنوبه، او له لویدیځه تر ختیځه په هر ځای کې د ده د وژلیو کله منارونه ودرېدل.

شهید مزاري به په خپلو ویناوو کې بیا بیا ویل، دا سمه ده چې د افغانستان د رسمي مورخانو په قول امیر عبدالرحمن خان دوه شپیته فیصده هزاره ګان له منځه یوړل خو دا کار عبدالرحمن وکړ او نه هغه قوم چې عبدالرحمن ورسره تعلق درلود.استاد مزاري د هیواد د ټولو قومونو په اړه همدا چلند درلود، یعني د ټولنې له واقعیتونو او حقیقتونو سره باید سم او منطقي چلند وشي او د یوه کس یا یوې ډلې کړنې او تیروتنې د ټول قوم او ټولو کسانو کړنې یا تیروتنې ونه بلل شي.

نو که اوس څوک راشي او ځان د مزاري پیرو وبولي او د شهید مزاري عدالت غوښتنه له قومونو سره مخالفت وبولي او د هزاره او نورو قومونو تر منځ د دښمني اور ته پکی ووهي، دغسې کس، په حقیقت کې د شهید مزاري فکر تحریف کړی دی. مزاري د هیواد د ټولو قومونو تر منځ تعامل یو ملي ضرورت باله. هر څوک چې په دغه اصل سترګې پټې کړي، هغه د شهید مزاري فکر سم نه دی پیژندلی او د هغه لاره ترې خطا شوې ده. دغه راز که یو څوک د مزاري د ملي وحدت شعار پلمه وګرځوي او د یوه قوم د عدالت غوښتنې هر اواز د ملي وحدت خلاف او باغیتوب وبولي، دغه کس هم غلط شوی دی. دغه دواړه کسان د تاریخي استبداد د وخت د فکرونو تر اثر لاندې دي، ځکه نه عدالتغوښتنه د باغیتوب په معنا ده او نه ملي وحدت ته پابندي د تسلیم کیدو او د هرې بې عدالتي او ظلم په وړاندې د سکون معنا لري.

## ۷ ــ د عدالت د تامین لپاره عملي طرحې

شهید مزاري به عدالت یوازې په ذهني او انتزاعي ډول نه مطرح کاوه، بلکې عدالت ته د رسېدو لپاره یې ګڼې عملي طرحې او حللارې وړاندې کړې. ده د اداري واحدونو د تعدیل خبره کوله او د شهروندي حق د رعایت او په ملي

لویو فیصلو کې یې د عادلانه مشارکت خبره کوله. ده پر مذهبي حقونو په ملي کچه د یو بل د منلو او دیني پلورالیزم د اصل په توګه ټینګار کاوه.

ده هغه وخت چې د هیواد په هر ګوټ کې بیل او موازي حکومتونه جوړ شوي وو او قومي او سمتي تضادونه اوج ته رسېدلي وو او د هیواد د یو کېدو هیڅ تضمین نه و، د نسبي عدالت د تامین او د هیواد د تجزیې د مخنیوي لپاره د فدرال نظام خبره وکړه خو کله چې نوې سیاسی ډلبندۍ او ایتلافونه جوړ شول، استاد مزاري د توافقي او مشارکتي نظام وړاندیز وکاوه. د دولت د جوړولو لپاره د لویو قومونو په استازیتوب د لویو سیاسی ګوندونو او جریانونو توافق، د وحدت ګوند ډېره مشهوره طرحه وه چې د څلور اړخیزې طرحې په نوم یادیدله.

شهید مزاري په اخره کې د خلکو د ګډون او ټاکنو په اساس دولت جوړول مطرح کړل او د ټاکنو لپاره یې له ځینو ګوندونو سره په همغږۍ یوه خاصه طرحه تدوین کړه چې هغه وخت خپره شوه. استاد مزاري په دې باور و چې دا خلک دي چې خپل برخلیک ټاکي.

## ۸ ـ جګړه حل‌لاره نه ده

که څه هم استاد مزاري په نه زړه جګړې او مسلحانه شخړو ته اړ شو خو د ده په ټولو خبرو کې په دې ټکي ټینګار کیږي چې په افغانستان کې جګړه حللاره نه ده او هیڅ قوم یا ډله د جنګ له لارې بل څوک نه شي ختمولای او د ژغورنې لار یوازې په سوله کې ده. دا هغه سم دریځ دی چې نن هم ورباندې ټینګار کوو او ټولو مخالفانو ته وایو چې تاسې به د جګړې له لارې په هیڅ وجه هدف ته و نه رسیږئ او یوازینۍ منطقي لاره دا ده چې خبرو او بین الافغاني مذاکرې ته غاړه کیږدئ.

په دې ډول استاد مزاري د یوه ملي دولت او یو ملت د جوړېدو په لټه کې و، داسې ملت او دولت چې خپلو ټولو وګړیو ته درناوی کوي او خپل ټول کوچیني هویتونه مني او له خپلو ټوټو واحد وجود جوړوي؛داسې ملت چې د

خپلو ټوټو د ختمولو په لټه کې نه دی او له خپلو کوچنیو ټوټو هم د لوی بدن د تباه کولو تبر نه جوړوي.

## دویمه برخه: د شهید مزاری هدفونه او ارزوګانې تر کومه حده عملي شوي دي؟

د شهید مزاري ځینې ارزوګانې د هغه د لارویانو په ورپسې اقداماتو سره عملي شوې. د شهید مزاري د یارانو په مشري د بامیان مقاومتونه او په تیره یوه نیمه لسیزه کې د دولت جوړونې په پروسه کې د هغوی عاقلانه او فعال ګډون، د شهید مزاري لارې ته تداوم ورکړ او د دې په څنګ کې هغه څپاند فرهنګي نهضت چې د کابل د لویدیځ له مقاومت سره په یوه وخت رامنځ ته شو، د استاد مزاري د لارې او ارمان سمه ساتنه وکړه او د هغه د هدفونو او فکرونو په تفسیر کې یې فعاله برخه واخیسته. اوسني کهول هم چې ځان د مزاري پیرو بولي، د همدغو دوو حرکتونو په ذریعه، یعنې د عدالت غوښتنې د مقاومت د دوام له لارې او د فرهنګي نهضت له لارې، مزاري پیژندلی دی. نو، د ځینو کسانو اغوا باید اوسنی کهول د جهاد او مقاومت د ویاړلي او پاتیدوني محاذ په مقابل کې ونه دروي. هغوی مزاري ښه پیژني او درناوی یې کوي او هدفونه یې تعقیبوي چې د هغه په څنګ کې یې مبارزه کړې ده او د هغه په وینو سور بیرغ یې د قلم او توپک په دوو جبهو کې لوړ کړی دی. نن ورځ د مزاري په اړه خبرې اسانې شوې دي ځکه چې د مزاري لاره او فکرونه د سګونو شهیدانو او یو شمیر مفکرانو او فرهنګیانو په زحمت سره بیان شوي او تفسیر شوې ده. نن ورځ له مزاري څخه غرېدل اود هغه د وفادارۍ تیره په سینه وهل او ځان د مزاري رشتونی بچی بلل، هر چا ته ګټه رسولای شي او هیڅ تاوان پکې نشته ځکه کلونه کیږي چې د مزاري د پیروي بیه پرې شوې ده.

زما په اند له طالبانو په راورسته نوي نظام کې، که څه هم د ټولو هدفونو تر پوره تحقق پورې اوږده لاره په مخ کې ده خو د شهید مزاري د ارزوګانو

یوه پاموړ برخه په نسبي ډول عملي شوې ده چې د مثال په ډول به ځینې مهم موارد یاد کړم:

۱ – د ټاکنو په اساس ولسواک نظام او په انتخاباتو کې د ټولنې د ټولو قشرونو مشارکت د شهید مزاري یوه اصلي ارزو وه چې نن یې تحقق پیدا کړی دی. انتخابات د نوي نظام اساسي رکن دی چې زموږ ټول ملي بنسټونه د هغه په اساس او په اساسي قانون کې د ټاکل شوي میکانیزم په اساس رامنځ ته شوي دي.

۲ – د ملي او اسلامي موازینو په رعایت سره مدرن اساسي قانون او د شهروندي حقونو او پلورلیزم تضمین د شهید مزاري یوه بله ارزو وه چې پوره شوې ده. په دې قانون کې جعفري مذهب هم په رسمیت پیژندل شوی دی چې د شهید مزاري یوه اصلي غوښتنه وه. زموږ اساسي قانون یو بهترین اساسي قانون دی. که څه هم په تطبیق کې یې نیمګړتیاوې شته او د تطبیق او ان تبیین لپاره یې لازم شرایط نه دي برابر شوي خو تطبیق نه کیدل د یو شي ارزښت نه شي کمولی.

۳ – د اداري واحدونو تعدیل هم د شهید مزاري یوه غوښتنه وه چې په دې برخه کې هم ګامونه اخیستل شوي دي او ځینې نور ګامونه به واخیستل شي چې په وار واراو شرایطو او امکاناتو ته په پام سره باید عملي شي.

۴ – د هیواد په مختلفو برخو کې د متوازن انکشاف په اړه ځینې کارونه شوي او ځینې په مخکې دي. د هزاره جات سیمې لا تر اوسه د تاریخي محرومیت په اور کې سوځي. البته زموږ دولت، هم د مخکیني حکومت په وخت کې او هم خصوصا د ملي وحدت حکومت په وخت کې، په دې اړه، اساسي اقدامات تر لاس لاندې نیولي دي او جدي اراده لري چې دغه ستونزه اواره شي. د تعلیمي، صحي او خدماتي پروګرامونو په څنګ کې لویې پروژې لکه: د ختیځ او لویدیځ دهلیز، د شمال او جنوب دهلیز، د دوشي بامیان سړک، د دایکندي او غزني سړکونه، د بامیان او دایکندي د برق پروژې او داسې نورې پروژې د تطبیق په حال کې دي چې په بشپړېدو سره

به يې هزاره جات واقعا د طبيعت له زندانه راووځي.

۵ ــ د نظام په جوړښت کې د ټولو قومونو مشارکت او د کابينې، قضا او پارلمان په شمول د فيصلو په مرکز کې حضور د هيواد په تاريخ کې يوه ډېره بې سارې پېښه ده او دا هم د مدرن او جامع اساسي قانون برکت دی چې د شهروندانو حقونه يې بې تبعيضه تضمين کړي دي او د مختلفو قومونو قومي هويتونه يې په رسميت پيژندلي دي.

په دې سلسله کې په اداره کې د ټولو قومونو متوازن ترکيب زموږ ټولو د تاکيد موضوع ده. د شايسته سالاري په اساس او د قومي توازن په رعايت د دولت د کارکوونکو استخدام، که څه هم ورو تر سره کيږي او د محرومو لړه کيو په وړندې اوس هم ستونزې شته خو له بلې خوا ډير کارونه هم شوي دي او په دې وروستيو کې د قانوني تدابيرو په نيولو او د شفافو ميکانيزمونو په خپلولو سره، د اداري اصلاحاتو په بهير او د تبعيض په مخنيوی او د شفافيت په چاره کې سرعت راغلی دی. زه په دې اړه، نن د جلالتمآب جمهور رييس په حضور کې، د جمهوري رياست د چارو له اداري او د اداري اصلاحاتو له کميسيونه غواړم چې د افغانستان په ټولو ادارو کې دې له لوړرتبه رانيولې تر ټيټ رتبه پورې د ټولو کارکوونکو قومي فيصدي خپره کړي څو په دې ډول د افغانستان خلک پوه شي چې حقيقت څه دی او که کومه ستونزه وی، هغه بايد لرې شي. موږ د ملي وحدت په حکومت کې نه غواړو چې هيڅ شی، که ښه وي با بد، که د حکومت په ګټه وي يا تاوان، له خلکو پټ کړو.

۶ ــ په دې اړه بله مساله د استاد مزاري له نظره د هيواد د قومونو د هويت مساله ده. شهيد مزاري غوښتل چې هزاره توب جرم نه وي او شيعه مذهب قاچاق نه وي. ده غوښتل چې اوزبيک والی پيغور نه وي او بلوڅ والی د مجازات سبب نه شي. نن ورځ له ځينو ستونزو سره سره، دا ټولې ارزوګانې پوره شوې او دا ټول هويتونه تثبيت شوي دي. نور نو ناممکنه ده چې هويتونه ختم شي. قومي هويت داسې څه نه وي چې وپلورل شي او يا يې بل څوک خريدار وي. دغه هويتونه نه په يې خبرې سره محوه کيږي او نه

په يوې کلمې سره تر خپل واقعي حد غټيږي. قومي هويتونه د خلقت په دينا کې موجود واقعيتونه دي. زموږ په اساسي قانون کې هم تثبيت شوي دي. نو بهتره ده چې له دغو هويتونو د خپلو سياسي مقصدونو لپاره استفاده ونکړو. نن ورځ په حکومت کې موږ ټول د يوه ملي بحث او ملي تفاهم پلويان يو او هيڅوک نه غواړي چې د هيواد ملي بنسټونه کمزوري شي، البته هر څوک حق لري چې په حکومت باندې نيوکه وکړي خو اعتراض بايد منطقي او حقوقي اساس ولري او يوازې د سياسي استفادې لپاره نه وي.

لوی ملي هويت او قومي کوچيني هويتونه له يو بل سره په ټکر کې نه دي. د افغانستان ټول قومونه د خپل قومي هويت په ساتلو سره، د افغانستان د لوی ملي هويت يوه برخه جوړوي او د تاريخ په اوږدو کې هم همدسې و. ايا يو جعفري يا سني يا اسماعيلي هزاره له دې پرته څه غواړي چې هم دې يې د سني يا جعفري يا اسماعيلي په توګه قومي او مذهبي هويت په رسميت وپيژندل شي او په عين حال کې دې د لوی ملي هويت په توګه هم وپيژندل شي؟ دغه راز يو پښتون، تاجيک، اوزبيک، ترکمن، بلوڅ، پشه اي، نورستاني، ايماق، قزلباش، عرب، قرغيز، ګوجر، براهوي، سادات، بيات او داسې نور قومونه له دې پرته بل څه غواړي چې هم يې قومي، مذهبي او ديني هويت په رسميت وپيژندل شي او هم ټول په شريکه د افغانستان د ستر ملت د چمن رنګارنګ ګلونه وي؟

قدرمنو حضارو!

نن ورځ د جمهوري رياست په ارګ کې د شهيد مزاري، فيض محمد کاتب او اميرالکلام امير علي شير نوايي تجليل او د کاتب او نوايي په نومونو د رسمي مډالونو ضرب او استاد مزاري ته د ملي وحدت شهيد لقب ورکول، د افغانستان ملي شخصيتونو او نورو قومونو ته د هيواد د سياسي اقتدار د مرکز په توګه د ارګ درناوی ښيي. جمهور رييس چا مجبور کړی نه دی چې دغسې غونډې جوړې کړي خو تر کومه ځايه چې ما له نژدې ليدلي دي، هغه ژور درک او جامع تحليل چې جمهور رييس يې د کاتب او مزاري

په اړه لري، موږ اکثره یې نلرو. زه دلته له خپلې خوا، له جلالتمآب جمهور رییس څخه مننه کوم چې د افغانستان د ټولنې او تاریخ په باب ژور درک او ښه نیت لري. دغه راز یادونه کوم چې اوس چې تاسې جلالتمآب دغه لاره پرانیستې ده نو د افغانستان خلک هم باید پوه شي چې موږ په دې حکومت کې ارګ، د افغانستان د ټولو خلکو او د افغانستان د ټولو قومونو ارګ ګڼو. له دې وروسته به په سلامخانې ماڼۍ کې د ټولو شخصیتونو او ملي سمبولونو او د افغانستان د ټولو قومونو د سترو رجالو تجلیل کیږي.

په پای کې غواړم چې د د مهمو ملي مسایلو په اړه د شهید مزاري د سیاسي تفکر په باره کې خپلې خبرې په څو جملو کې خلاصه کړم.

۱ – د شهید مزاري لاره د افغانستان لاره وه. ده په پوره فکري استقلال سره عمل کاوه او د خپل عمر په وروستیو درېو کلونو کې له ټولو فشارونو سره چې ورباندې راغلل، په هیڅ وجه له هیڅ هیواده، حتی له هغو ګاونډیو هیوادونو چې ټولو ګومان کاوه چې له دوی سره دوستانه روابط لري، ان یو غیران مرسته ترلاسه نکړه. له ده سره چې مرستې کیدې، ټولې د کابل د خلکو او په خارج کې د مهاجرینو وې.

۲ – د شهید مزاري لاره د کلمې په مدرنه معنا د دولت جوړونې او ملت جوړونې لاره، د شهروندي حقونو د تامین لاره او د لوی ملي هویت تر چتر لاندې ټولو قومي او مذهبي هویتونو ته د درناوي لاره وه.

۳ – د شهید مزاري لاره د قانون د پیروي او د اساسي قانون او ټاکنو پر اساس نظام لاره وه.

۴ – د شهید مزاري لاره د ملي وحدت، اجتماعي عدالت، د ټولو قومونو د عادلانه مشارکت او د هیواد د ټولو سیمو د متوازن انکشاف لاره وه او دا هماغه لاره ده چې زموږ په اوسني اساسي قانون کې تسجیل شوې ده.

په دې ډول شهید مزاري داسې لاره پرانیسته چې د افغانستان د ټولو خلکو لاره ده. د استاد مزاري شهادت د یوې کربنې د پای په معنا نه و بلکې د یوې لارې پیل و چې تر دې وروسته به د افغانستان ټول خلک ادامه ورکړي.

نن ورځ د افغانستان نوی سیاسي نظام په هماغه لاره روان دی چې د شهید مزاري په نظر کې وه او که ستونزې هم شته، چې طبعا شته، زموږ ټولو دنده ده چې د يو بل په مرسته، په دوستانه فضا کې او د وفاق او همپالنې په روحيه ورته حللارې ولټوو.

ستاسې له توجه مننه
السلام عليکم و رحمت الله و برکاته.

# د ملي وحدت شهید استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درویشتم کال په لمانځغونډه کې د مهاجرینو او راستنېدونکو د چارو د وزیر سید حسین عالمي بلخي وینا[1]

## مزاري، نه ستړی کیدونکی مبارز او د ملي وحدت شهید

بسم الله الرحمن الرحیم

وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ[2]

جلالتمآب جمهور رییس، جلالتمآب اجراییه رییس، د جمهور رییس جلالمآب مرستیال، فضیلت مآب حضرت صاحب، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې محترمو رییسانو، د سترې محکمې محترم رییس، استاد خلیلي، د کابینې غړیو، د ملي شورا محترمو غړیو، علماوو، استادانو، د جهادي – سیاسي ګوندونو او فرهنګي بنسټونو مشرانو، د دوستو هیوادونو سفیرانو، خویندو او ورونو السلام علیکم.

په سر کې د ملي وحدت شهید استاد مزاري د شهادت د درویشتم کال په مناسبت د افغانستان سرلوړي ملت ته، تاسې قدرمنو حضارو ته او د عدالت او ازادي د لارې ټولو لیوالو ته تسلیت وایم.

قدرمنو حضارو، خویندو او ورونو،

شهید مزاري د افغانستان د تاریخ یوه کمسارې څېره ده.د هغه شخصیت

---

۱. د ۱۳۹۶ کال د کب درویشتمه، د جمهوري ریاست ارګ.

۲. قرآن کریم، آل عمران، ۱۶۹ آیت.

مختلف بعدونه لرل چې د ټولو بیان زیات وخت غواړي خو اوس په دغه محدود وخت کې چې ما ته راکړ شوی، ځینو بعدونو ته اشاره کوم. امید دی د زده کړې وړ درسونه پکې وي.

## ۱ــ دین او دیني ارزښتونو ته پابندي

شهید مزاري زده کړه له دیني مدرسې پیل کړه. ده دیني علوم ولوستل او دین، دیني ارزښتونو، شرعي حدودو او د دیني معرفت د حوزې اخلاقو ته یې پابندي لرله. په حقیقت کې یو دیني روشنکفر و. د دین په اړه وچ برداشتونه یې نه منل. د هغه د عدالت لپاره مبارزو هم دیني سرچینه لرله. د هغه د مبارزې د لارې اعلی مثالونه الهي پیغمبران، پاک امامان، او د اسلامي تاریخ په مبارزو کې امام خمیني، سید قطب، حسن البناء او په افغانستان کې شهید علامه سید اسماعیل بلخي وو.

زه چې کله طلبه وم، په لومړي ځل مې په ۱۳۵۶ لمریز کال کې دی ولید او په داسې حالت کې ورسره اشنا شوم چې دی تازه له نجفه راستون شوی و او د دیني علومو طلابو ته به یې د زده کړې خرڅه ورکوله او په مزارشریف کې یې د دیني فرهنګ او پوهنو د ترویج او د اسلامي مبارزو د ترویج لپاره جوادیه کتابخانه جوړه کړې وه. مزاري باید د کابل د مقاومت په درې وروستیو کلونو پورې محدود نکړو. مزاري یو فکر او نهضت دی او د دغه فکر پیروي د دغه فکر د ژوندي ساتلو او دوام په معنا دی.

## ۲ ــ زهد، تقوی او له بیت المال څخه پرهیز

شهید مزاري دې ټکي ته په نجف کې د زده کړې په وخت لا متوجه و. که څه هم دیني مراجعو ان د شتمنو طلابو لپاره هم له سهم امام څخه استفاده جایزه ګڼله خو څرنګه چې د ده پلار شتمن و، نو له پلاره یې غوښتي وو چې د هغه د زده کړو لګښت له خپلې شخصي شتمني پوره کړي. کله چې د یوه سیاسي بهیر مشر شو او بیا د بیت المال ډیر امکانات ورسره وو، ساده ژوند ته یې ادامه ورکړه او له بیت المال څخه یې د ځان او خپلوانو لپاره استفاده

ونکړه. له ده څخه کومه مانۍ، شتمني او دارايي په میراث ته دي پاتې.

## ۳ ــ ملي او له قومونو ورها شخصیت

د مزاري په حق کې ډیر لوی ظلم او خیانت دا دی چې هغه په یوه تنګ فکري قالب کې ایسار کړو او د یوې خاصې قومي ډلې او فردي سلیقې په قالب کې یې واچوو. مزاري د افغانستان او د افغانستان د ملت لپاره فکر کاوه او د ملي وحدت، اجتماعي عدالت، ولسواکي، ازادي او برابري لویې ارزوګانې ورسره وې. ده به ویل: «موږ ملي وحدت یو اصل ګڼو.»

شهید مزاري د وحدت لپاره یوازې شعار نه ورکاوه، بلکې د سیاسی او فرهنګي ځواکونو د اتحاد، وحدت او پیوستون لپاره یې بې حده هڅه وکړه. د دغه مقصد د تحقق لپاره یې په ۱۳۶۷ کې د هزاره جات سیمې پلې کچ کړې چې په نتیجه کې یې په ۱۳۶۸ کال کې د افغانستان د ملي وحدت ګوند تشکیل شو. شهید مزاري د وحدت د راتلو په خاطر په پوره تواضع، خپلو ډیرو سرسختو رقیبانو او سیالانو ته د درناوي سر ټیټ کړ او څو، څو ځله ورغی چې په یوه سیاسي ټغر یې راټول کړي.

شهید مزاري د افغانستان د ټولو خلکو د اتحاد او وحدت په فکر کې و. په ۱۳۶۸ کې د همغږي د ایجاد لپاره د یوه لوړ پوړي پلاوي په مشري پېښور ته لاړ چې له اووه ګونو تنظیمونو سره خبرې وکړي او د هغو تنظیمي جنګونو مخنیوی وکړي چې وروسته بیا د نجیب د دولت په سقوط پسې پیښ شول. تر هغه هم ورپورته، شهید مزاري د اسلامي امت د وحدت په فکر کې و. نو، له جلالتمآب جمهور څخه مننه کوم چې دوی ته یې د ملي وحدت شهید ډیر مناسب لقب ورکړی دی او وړاندیز کوم چې د دوی په نوم دې هم د یو مډال ضرب منظور شي.

## ۴ ــ علم دوستي او فرهنګ پالنه

د علم زده کړې او فرهنګي فعالیتونو ته د ځوان کهول هڅونه د شهید مزاري یوه بله ځانګړنه وه. ده فکر، تخصص او علمي، فکري آرجوړښتونه د ټولنې

د ترقي او ودې سبب او د يوه سياسی حرکت د برې عامل باله او له همدې کبله يې پوهانو، ليکوالو او د قلم او ادب خاوندانو ته ډېر زيات احترام کاوه او هڅه يې کوله چې د علم او فرهنګ له پراختيا او د مسلکي او متخصصو کسانو له روزنې سره مرسته وکړي. شهيد مزاري د جهاد په دوران کې د هر پوځي مرکز په څنګ کې د مجاهدينو د دويم نسل د روزنې لپاره يو فرهنګي مرکز هم جوړ کړی و. د ايران په اسلامي جمهوريت کې د حبل الله د نشراتي فرهنګي مرکز تاسيس او د علامه سيد اسماعيل بلخي د لوړو زده کړو د مرکز ايجاد د دې سبب شول چې نن ورځ د ده په مکتب کې روزل شوي کسان د هيواد په ګوټ ګوټ کې، په مختلفو ساحو کې، اغيزمن شتون ولري.

## ۵ ــ قانونيت، وحدت او عدالت

شهيد مزاري په ملي کچه د ګوندي، سمتي، ژبنۍ او قومي ګټي په اساس نه بلکې د ملي ګټې په اساس يو عام او ټولشموله پيغام درلود او په همدې بنسټ دوی په خپلو سياسي مبارزو کې دغو اصولو ته رسېدل خپل هدف ګرځولي وو:

۱ ــ په هيواد کې له يوې نيمې لسيزې جګړې او ګډوډۍ وروسته، د ديني ارزښتونو او د حنفي مذهب په څنګ کې د جعفري مذهب د رسميت پېژندنې پر اساس د ولسواکي په چوکاټ کې د اساسي قانون تدوين؛

۲ ــ د ازادو، عادلانه او روڼو ټاکنو له لارې د خلکو د حاکميت تثبيتول؛

۳ ــ د ملي وحدت تامين او له هر ډول انحصارغوښتنې او مذهبي، لساني او قومي تفرقې ډډه کول او د خبرو اترو، تفاهم او منطقي او معقول تعامل له لارې د هر ډول اختلاف حل کول؛

۴ ــ د اجتماعي عدالت تامين، د اداري واحدونو تعديل، متوازن انکشاف او د هيواد اوسېدونکو ته د مساوي شهروندي حقونو تامين؛

۵ - د ملي هويت او د هيواد د ټولو وروڼو قومونو د هويت تثبيتول. د هغه خبره ده چې: «موږ په افغانستان کې د قومونو دښمني فاجعه ګڼو. موږ د افغانستان د خلکو په منځ کې د ورورۍ او برابرۍ پلويان يو.»

د همدې ځانګړنو په وجه ده چې نن په ارګ کې، د افغانستان د سياسي قدرت په مرکز کې، پخپله د جمهور رييس او دولتي مقاماتو، فرهنګيانو او خلکو په حضور کې د «ملي وحدت شهيد» په توګه د شهيد مزاري قدرداني کيږي.

عزتمنو حضارو!

د هيواد د اوسنو شرايطو غوښتنه ده چې ټول يو بل ته لاسونه سره ورکړو او د وحدت غوښتنې روحيه او د همپالنې ستراتيژي خپله کړو. تر ناوخته کېدو له مخه پکار ده چې د نفاق او شقاق د بوږنوونکي ظلمت د مخنيوي لپاره لاس په کار شو او خپل نظام شړيدو ته پرې نه ږدو. ناوړه حوادث بايد کنټرول شي او داسې څه ونه شي چې د دې وطن غلميان ورباندې خوشحاله او خلک ورباندې غمجن شي.

يو ځل بيا د «ملي وحدت شهيد» او د ده د يارانو د خاطرې او دغه راز د هيواد د امنيتي، دفاعي ځواکونو د شهيدانو د خاطرې درناوی کوم چې په تېرو پنځلس کلونو کې يې د افغانستان د خلکو د غيلمانو او د نړيوال تروريزم په وړاندې په ميرانه مقاومت کړی او د شهادت جام يې څښلی دی؛ روحونه دې يې خوشحاله وي.

السلام عليکم و رحمت الله و برکاته.

## د ملي وحدت شهيد، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درويشتم کال په لمانځغونډه کې د ښار او کورجوړونې وزير، سيد سعادت منصور نادري د وينا متن[1]

مرد نميرد به مرگ، مرگ از او نامجوست
نام چو جاويد شد، مردنش آسان کجاست

د لوی خدای په نامه

د هیواد د ټولو ویاړمنو شهیدانو په تیره بیا د ملي وحدت شهید روح ته درود استوم.

د افغانستان د اسلامي جمهوريت جلالتمآب جمهور رييس، د افغانستان د اسلامي جموريت جلالتمآب اجراييه رييس، د جمهوري رياست محترم مرستيال جناب استاد دانش، د اجراييه رياست محترمو مرستيالانو، د کابينې محترمو غړيو، د جهادي او سياسي ګوندونو محترمو مشرانو، په ملي شورا کې د خلکو محترمو استازو، د خبري رسنيو قدرمنو استازو، محترمو حاضرينو، السلام عليکم و رحمت الله و برکاته.

تر هر څه ړومبی غواړم چې د ملي وحدت د شهيد استاد عبدالعلي مزاري د زړه دردوونکي شهادت د درويشتم کال په مناسبت د ده کورنۍ، پيروانو او د افغانستان ټول مجاهد او پتمن ملت ته تسليت ووايم.

شهادت په اسلامي فرهنګ کې یوه تر ټولو ارزښتناکه کلمه ده او دغه لوړ مقام ته رسېدل، د انسان د کمال اوج دی. څکه خو د اسلام پيغمبر (ص)

۱. د ۱۳۹۶ کال د کب درويشتمه، د جمهوري ارګ رياست.

فرمايلی دي چې: شهادت تر ټولو غوره مرګ دی.

څرګنده ده چې د تيارو، بدرنګيو او نورو انسان دښمنه او تباه کوونکو مظاهرو په خلاف جهاد او مبارزه کې د شهيدانو پاکه وينه، د انساني ټولنو د بقا او د هغو سپېڅليو ارزښتونو د تلپاتې کېدو لامل دی چې انسانيت، شرف، عدالت او ازادي يې په رڼا کې ساه اخلي او ادامه مومي.

لکه څنګه چې په ټولو انساني ټولنو کې داسې ارزښتونه دي چې د هغو ټولنو د فرهنګ اصلي ستنې يې بللای شو، دغسې، زموږ په وياړلي ټاټوبي، افغانستان کې هم، د شهادت او سربښندنې په لوړ او متعالي فرهنګ باندې وياړېدل، يو ډېر لوی ارزښت ګڼل کېږي.

دغه ستر ارزښت د تاريخ په پوړيو کې خاص مقام لرلی دی او زموږ وياړليو شهيدانو د زمان په ځينو پړاوونو کې، په خپلو مقدسو وينو، د دغه ستر ارزښت ساتنه کړې ده.

يو ډېر ستر سياسي مذهبي شخصيت او د افغانستان د ازادي او اعتلا د غليمانو په وړاندې د افغان مجاهد او مومن ملت د ازادي غوښتونکې مبارزې او جهاد يو صديق او رښتونی سنګروال، چې شهادت يې زموږ په معاصر تاريخ کې د بدلانه ټکی و، د ملي وحدت شهيد، استاد عبدالعلي مزاري دی.

لکه څنګه چې د شهيد استاد مزاري د ژوند له روښانه هينداره ښکاري، هغه افغانستان د خلکو د برحقه جهاد د يو مخکښ په توګه، د خپل برکتي ژوند په اوږدو کې، د افغانستان د يووالي او زموږ د ملي او اسلامي ارزښتونو له پالنې ورهاخوا بل فکر نه درلود. د شهيد مزاري اواز د عدالت غوښتنې اواز دی چې د هغه په نتيجه کې د هيواد ټول اوسېدونکي مساوي شهروندي حقونو ته رسيږي.

ده يو وخت ويلي وو: «زموږ هدف په افغانستان کې د عدالت پر اساس ولاړ اسلامي، وګړنيز او پراخ بنسټه حکومت دی. موږ غواړو داسې ټولنه رامنځ ته شي چې د افغانستان ټول خلک، که د هر قوم او توکم يا هرې ژبې ويونکي وي، د ورورۍ او برابرۍ ژوند سره وکړي».

د شهید استاد مزاري په نظر په افغانستان کې د شته خنډونو د لرې کولو لپاره یوازینۍ لاره دا ده چې ټول قومونه د ورورګلوۍ او ملي وحدت په اساس تعامل سره وکړي. شهید استاد مزاري، چې خپل خلک او ټولنه یې ښه پېژندل، تل یې د ازادو ټاکنو په اساس او د اجتماعي عدالت پر چورلیز د هیواد د سیاسي نظام په جوړېدو باندې ټینګ باور درلود او ټاکید یې ورباندې کاوه. شهید مزاري په دې ټکي باندې په پوهېدو سره چې د شهادت ملت اسارت نلري، تر وروستۍ سلګۍ پورې د خپلو فکرونو د تحقق لپاره مبارزه وکړه. پوره باور لرم چې که د دغه ستر مېړني وحدتغواړي نظرونه او ملي فکرونه هر څومره وڅېړو، هغومره به ملي حدت ته د رسیدو او د زړونو د نژدې کیدو په اړه نوي څه پکې ومومو.

د استاد مزاري روح دې خوشحاله او د لارې دې له لا ویانو ډکه وي!

و من الله توفیق

# د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درویشتم کال په مناسبت د جمهوري ریاست په ارګ کې لمانځغونډې ته د ولسمشرۍ د ویاند د دفتر سرپرست، شاه حسین مرتضوي پرانیستونکې وینا[1]

بسم الله الرحمن الرحیم

جلالتمآب محترم جمهور رییس، د جمهوري ریاست محترم مرستیال استاد دانش، محترم اجراییه رییس ډاکتر صاحب عبدالله، د ملي شورا قدرمنو رییسانو، جناب قاضي القضات، لوی څارنول، جهادي رهبر حضرت صاحب مجددي، د سیاسي ګوندونو محترمو مشرانو، د سولې د عالي شورا محترم رییس، د کابینې محترمو وزیرانو، د ملي شورا عزتمنو غړیو، ټولو حاضرینو، اغلو او ښاغلو، د ملي وحدت شهید د شهادت د درویشتم کال مراسمو ته ښه راغلاست.

جلالتمآب جناب جمهور رییس او قدرمنو حضارو!

درویشت کاله پخوا د کب په دوه ویشتم ماښام یوې بوډۍ مور د مزاري د کوچینۍ لور لاس نیولی او یوه زیارت ته روانه وه چې د جهل د لښکرو له اسارته د خپل زوی د ژغورلو دعا وکړي. نه یوازې د دې سپین سارې مور

---

۱. د ۱۳۹۶ د کب درویشتمه، د جمهوري ریاست ارګ.

زړه بلکې بې شميره نور زړونه دربيدل او هغه چا ته يې د دعا لاسونه پورته وو چې د تاريخ لوری يې بدل کړ او خپل خلک يې له غربت او حاشيې متن ته راوړل او تاريخ ته وارد کړل.

خو نور ناوخته شوي وو. خبر لنډ و: «مزاري او ياران يې شهيدان شول.» قدردان خلک وارخطا نه شول بلکې تر بل هر وخت يې په پياوړي هوډ او روښو سترګو د همت ملا وتړله، د واورو او کنګلونو په منځ کې يې د مرکزي سيمو د غرونو په زړه کې ديارلس ورځې، کلي په کلي او بانډه په بانډه د ملي وحدت شهيد جنازه له غزني څخه تر بلخه پورې، په خاص برم او پرتم ورسوله. شايد تاريخ د جنازې د دومره اوږدې او بې سارې بدرګې ډير لږ مثال ولري.

د ملی وحدت شهيد د اوسني وخت يو تر ټولو زيات ولسي مشر دی. دی د اجتماعي عدالت، سياسي مشارکت، د تبعيض او انحصار نفي، ټاکنو، د اداري واحدونو تعديل، د نفوس سرشميرنه، انساني ازادي او کرامت، د ښځو د حقونو تامين او برابري او شهروندي په څير کلمو سره د سياست ميدان ته راغی.

د ملي وحدت شهيد، د جګړو په اوج کې پر سوله تاکيد وکړ. هيڅ وخت يې کوم قوم، سمت او ګوند ته د نفرت پيغام وانه ستاوه. د مليتونو دښمني يې فاجعه بلله او ورورګلوي او برابري يې حللاره. دی د بيت المال په لګښت کې لاسنيولی و. هيڅ مانۍ يا بانکي حساب ورڅخه نه دی پاتې. ده د جهاد تر څنګ پر فرهنګي مبارزې تاکيد کاوه. سراج، پيام مستضعفين او حبل الله مهالنۍ او د شهيد بلخي د لوړو زده کړه موسسه د ده فرهنګي ميراثونه دي.

د ملي وحدت شهيد د سمت، قوم او ځای ځايګي کندې ته ونه لوېد. ده د خپل نفوذ د حوزې له ټول بشري ظرفيته استفاده وکړه. هغه سياسي ګوند يې چې ده يې مشري کوله، د کورنۍ کچې ته راټيټ نکړ. د جګړو په اوج کې يې د ګوند د مشرتابه د تعيين لپاره انتخابات وکړل. د ده ډوډۍ د ده د سنګر د ملګرو تر ډوډۍ غوره نه وه. هيڅوخت يې د يوه اشرافي رهبر غاړه ونکړه.

په هغه زمانه کې چې ده د خلکو مشري کوله، په ټول سياسي جريان کې څلور کسه د سياسي علومو ليسانسه پيدا نه شول چې سفارتونو ته معرفي شي.

د خلکو او ټولنې لپاره د مزاري اصلي ميراث پوهه او شعور دی. اوس په هره کورنۍ کې تر څلور کسه زيات ليسانسه او ماسټر شته. ځکه خو په قاطعيت سره ويلای شو چې د مزاري د ميراث اصلي څښتنان همدا د پوهې په لاره روان نسل دی.

شهيد مزاري خلکو ته د عدالتغوښتنې نقشه تدوين کړه او د عدالتغوښتنې لاره يې مزل ته برابره کړه. د ده لاره او فکر په ټولنه کې د يو شاخص په توګه مطرح ده.

جلالتمآب جمهور رييس،

د يو شهروند په توګه له تاسې مننه کوم چې په تيرو فصلونو کې بند پاتې نه ياست. ارګ مو ټولو عدالتغوښتونکو او شهروندانو ته د عزت، کرامت او درنښت په کور بدل کړی دی. د فيض محمد کاتب لمانځنه مو وکړه، شهيد مزاري ته مو د ملي وحدت شهيد لقب ورکړ. نن مو په پوره برم د عدالتغوښتنې د ارمانونو لمانځنه وکړه. دغه اقدام مو د تاريخي دردونو، د پټو عقدو او د تيراو اوسني عصر د بې شميره ربړونو پر ټپونو باندې د ملهم حيث لري. ستاسې په دوران کې د طبيعي جغرافيايي زندان دنګ ديوالونه د نړېدو په حال کې دي. تاسې رڼايي ته د رسېدو هڅه کړې ده. تاسې د اداري اصلاحاتو له لارې استخدامونو سره د عدالت او شايسته سالاري مهم بنسټ ايښی دی. تاريخ به د ټولو د کارنامو په اړه قضاوت وکړي او دغه نوی باب به د برابري، عدالت محوري، د قانون او انساني ارزښتونو او کرامت پر اساس ټولنې او د زړونو د پيوند د يو فرصت په توګه ياد شي

# د ملي وحدت شهيد استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درويشتم کال په مناسبت د افغانستان د اهل سنت هزاره ګانو د سراسري شورا پيغام چې په ارګ کې د دې شورا د مشر غلام سخي پارسايي له خوا ولوستل شو[1]

د افغانستان د اسلامي جمهوريت رييس جلالتمآب محترم محمداشرف غني ته او په حاضر مجلس کې ټولو مشرانو او سياستوالو ته سلام او احترام! تر هر څه له مخه د عدالت او ازادي د لارې د شهيد، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درويشتم کال په مناسبت تسليت وړاندې کوو. هر کال د کب د ۲۳ نېټې په رارسېدو سره زموږ د ازاد فکرو او نياوغوښتونکو خلکو يوه لويه برخه، د هيواد دننه او بهر، د شهيد مزاري له سرو وينو او د هغه د نياو له کرښې سره ژمنه تازه کوي. د افغانستان په تاريخ کې ستر وياړنه د هغه اتل مجاهد ولس د ايثار او استقامت له برکته دي چې په خپلو وينو يې د اسلام نيالګي اوبه کړي او غوښتي يې دي چې خاطرات يې د حقيقت او عدالت بې بديله او ټينګه پشتوانه او يو معنوي ميراث وي. د هغو سترو مېړنو زحمتونه چې د خلکو په زړونو کې تلپاتې شول، د هغوی د ستر مقام او لوړ فکري دريځ ښووندوی دي. په داسې وخت کې چې د خلکو يوه لويه برخه له زرګونو ستونزو او دردونو سره لاسوګريوان وه، يو ستر شخصيت پکې

---

[1] ۱. د ۱۳۹۶ کال د کب درويشتمه، د جمهوري رياست ارګ.

ميدان ته راووت او د عدالت اواز يې اوچت کړ. د افغانستان د خلکو د يووالي ملي فکر يې په داسې جملو سره د هغه وخت سياسي ادبياتو ته داخل کړ چې «حق غوښتل له بل سره د دښمني معنا نه ورکوي او د قومونو دښمني فاجعه ده.» دی پخپله د دې نياوغوښتنې مخکښ شو. د کب د درويشتمې نيټې د پېښې په مناسبت مراسم په حقيقت کې له هغو لويو ارمانونو سره بيا ژمنه ده چې په مودو مودو يې د څرګندېدو فرصت ونه موند او د ظلم لاندې کسانو په زړونو کې پټ پراته وو چې بالاخره د شهيد مزاري په ژبه بيان شول. په دې اساس د شهيد مزاري تجليل د يوه کس تجليل نه دی. د يوه سياسي رهبر تجليل هم نه دی. د شهيد مزاري تجليل د عدالت، وروروګلوي او د يوه نسل د ارمانونو تجليل دی.

شهيد عبدالعلي مزاري له مختلفو جهادي ډلو او قومندانانو سره وليدل او خبرې يې وکړې چې ملي اجماع رامنځ ته شي. دی د دې اجماع په لاره کې ان له سره تېر شو او د افغانستان د خلکو په تاريخ کې يې يوه زرينه کرښه وايستله چې نور خلک ادامه ورکړي. شهيد استاد عبدالعلي مزاري يو کمساری شخصيت، ستر مجاهد او حکيم لارښود و چې د اجتماعي عدالت د تحقق او په سياسي قدرت کې د ټولو قومونو د ګډون او د قومونو د برخيک ټاکنې لپاره يې په کلونو مبارزه وکړه. دی د ولسونو د لوړو ارمانونو د پوره کېدو لپاره د خلکو په منځ کې پاتې شو او د دوی په خوا کې شهيد شو. د افغانستان په تاريخ کې د تثبيت شوي تبعيض د ختمولو لپاره د ملي وحدت شهيد نياوغوښتونکو ارمانونو او کړنو، د ملي وحدت د تامين، د اجتماعي عدالت د تحقق او د خپل برخليک د ټاکلو لپاره د افغانستان ستر ملت ته روښانه لاره پرانيسته.

د افغانستان اهل سنت هزاره ګان چې د هيواد په شمالي، شمال ختيځو او لويديځو ولايتونو کې اوسي، د يوه سيستماتيک ستم او تبعيض پر اساس، کابو دوې پېړۍ، په بل هويت کې ساتل شوي دي. دوی د جهاد او مقاومت په دوران کې نوموړکي سربازان او د ولسواکي په وخت کې د رايو صندوقونه

وو خو د حکومت په سیاسي او اجتماعي جوړښت کې یې څرک نه لیدل کیده او تل قدرت ته د رسېدو لپاره د نورو د لاس وسیلې وې. دوی هیڅ وخت په خپل هویت په ټولنه کې راڅرګند نه شول.

د وخت په دې پړاو کې د افغانستان اهل سنت هزاره ګان مدیریت ته اړتیا لري او د افغانستان د اهل سنت هزاره ګانو سراسري شورا د نیاوغوښتنې د رسا اواز په توګه، د خپلو خلکو شدیدې مذهبی روحیې ته په پام سره، اندیښنه لري چې مخالفو قوتونو او افراطي جریانونو ته جذب نه شي. دې شورا تر اوسه پورې د دې اندیښنې د لرې کېدو لپاره ډېره هڅه کړې ده.

د افغانستان د اهل سنت هزاره ګانو سراسري شورا د نیاوغوښتنې په انګیزې او د مشارکت پیدا کولو په شعار سره په داسې شرایطو کې رامنځ ته شوه چې د اهل سنت هزاره ګانو لویه برخه د تاریخ د جبر او ستم په اساس، له خپل هویته لرې شوی او کاذب او تحمیلي هویت ورباندې تپل شوی و او تر یوه حده په بل هویت کې حل شوي شوي وو او له دوی د وسیلې کار اخیستل شوی و. دې شورا د هویت له بحرانه د راوتلو لپاره د برابرې او ورورګلوي شعار ورکړی دی او ورځ په ورځ په پښو درېدلې ده. دې شورا د خپلو مقصدونو لپاره په مرکز او ولایتونو کې ګڼ کلتوري او اجتماعي پروګرامونه جوړ کړي دي.

د افغانستان د هزاره ګانو سراسري شورا د شهید عبدالعلي مزاري فکري کرښې ته په دوام ورکولو ټینګار کوي او د ملي وحدت تحقق، اجتماعي عدالت، په سیاسی قدرت کې د قومونو مشارکت، متوازن پرمختګ، ازادو، روڼو، عمومي ټاکنو، د مدني ازادیو ملاتړ او د هیواد هر تبعه ته د برخلیک حق ورکولو ته ځان ژمن ګڼي او د افغانستان د ټولو قومونو تر منځ په ورورګلوي او برابري باور لري.

د افغانستان د اهل سنت هزاره ګانو سراسري شورا د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د درویشتم کال په مناسبت د ننني پرتمینو مراسمو په خاطر د دې مراسمو له جوړوونکو، له جمهور رییس جلالتمآب

محمداشرف غني او د جموري رياست له دويم مرستيال جلالتمآب استاد سرور دانش څخه مننه کوي او د داسې افغانستان د راتلونکې لپاره چې بحران او تشدد پکې نه وي، د ملي اجماع او د ټولو د مسولانه هڅو په سيوري کې، سوله اوثبات ممکن ګڼي او په دې لاره کې پخپله هم مسولانه هڅه کوي.

په درناوي

د افغانستان د اهل سنت هزاره ګانو سراسري شورا، ۱۳۹۶، کال

# څلورم فصل

## د استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د شلم کال په مناسبت د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رییس، جلالتمآب محمداشرف غني پیغام[1]

بسم الله الرحمن الرحیم

قدرمنو وطنوالو، عزتمنو خویندو او ورونیو!

السلام علیکم و رحمت الله

شهید مزاري زموږ د وطن یو داسې سیاستوال و چې د تاریخ د حرکت لوری یې بدل کړ. بې له شکه چې هغه په سیاست کې یو اغیزمن شخصیت و. د هغه د شخصیت د اهمیت دلایل څه دي؟

ده د جګړې په شرایطو کې جګړه، حللاره نه بلله. دی په دې باور و چې افغانان په پوځي ساحه کې بې ساري دي مګر په سیاسي ساحه کې کمزوری لري. د ده برداشت دا و چې باید داسې سیاست مطرح شي چې سوله، ثبات، او دوامداره سوکالي تامین کړي.

ده پر ملي وحدت ټینګار وکړ او باوري و چې ملي وحدت به په هیواد

---

۱. د ۱۳۹۳ کال د کب ینځلسمه، د شهید رهبر مصلا.

کې د پایښتي ثبات اساس وي. د د ه یوه غوښتنه ولسواکي وه چې د خلکو د پراخ ګډون په اساس رامنځ ته شي. دغسې نظام په حقیقت کې د اجتماعي عدالت ضامن دی.

شهید مزاري په ټولنه کې د ښځو خاص نقش ته درناوی درلود. ده د افغانستان د خلکو په برحقه جهاد کې د ښځو نقش ستایه او د هیواد د سیاسي ژوند په ساحو کې یې هم د هغوی پر رغنده نقش تاکید کاوه.

افغانستان زموږ ټولو کور دی او موږ ټول باید د خپل برخلیک د ټاکلو حق ولرو. دا هغه اصل و چې ده ورباندې تاکید وکړ. دی د تاریخ له تکراره په ویره کې و.

نن ورځ موږ اساسي قانون لرو او دغه اساسي قانون ټولو دغو پوښتنو ته ځواب ورکوي. زما له نظره چې د منتخب ولسمشر په حیث د افغانستان د خلکو د خدمت ویاړ لرم، هیڅ افغان تر بل افغان نه زیات دی او نه کم. دا د اساسي قانون حکم دی. دغه باور له موږ سره مرسته کوي چې د نفاق، بې ثباتي او بې باوري پر تاریخ لاسبري شو.

زموږ د هر وطنوال ژوند زموږ لپاره حیاتي اهمیت لري او د هر بې ګناه افغان د سر د ساتلو لپاره به د قوې له مشروع استعماله ډډه ونکړو. موږ په خپلو پریکړو ژر او قوي عمل کوو. زموږ ستراتیژیک سکوت په عمل کې زموږ قوت ښیي او دغه حکومت نه بې پروا دی او نه به وي.

د نظر او عمل تر منځ وحدت او د تحول او تداوم تر منځ د انډول ایجاد، زموږ د بري کونجي ده.

د تیرو لسیزو میراث ستونزمن دی. ستونزې او خنډونه زیات دي؛ خو معاصر تاریخ شاهد دی چې هغه ملت چې په ملی وحدت باور لري، په ټینګه اراده او دقیقو برنامو سره کولای شي چې د تاریخ د تکرار مخه ونیسي.

له موجودو امکاناتو اواوسني وخته باید تر وسه وسه زیاته استفاده وکړو چې راتلونکو نسلونو ته روښانه راتلونکې ولرو او هغوی خپلې لرې او نژدې

ماضي ته په داسې سترګه وګوري چې غمونه او دردونه پکې وو، نه په داسې سترګه چې تکرار يې کړي.

# د ملي وحدت شهيد، استاد عبدالعلي مزاري د شهادت د دوه ويشتم کال په مناسبت د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رييس جلالتمآب محمداشرف غني پيغام[1]

بسم الله الرحمن الرحيم

قدرمنو وطنوالو، خويندو او ورونړو السلام عليكم و رحمت الله و بركاته

تير کال مې په دغو ورځو کې شهيد مزاري ته «د ملي وحدت شهيد» لقب ورکړ. دغه پريکړه د شهيد مزاري د افکارو د اساسي مولفو او فکري عناصرو له مطالعې وروسته وشوه.

د شهيد مزاري د افکارو مطالعه په ښه ډول ښيي چې ده د خپل ژوند او مبارزو په دوران کې په دوو مهمو عناصرو تر بل هر څه زيات تاکيد کاوه. د اجتماعي عدالت او سياسي عادلانه مشارکت اصل د شهيد مزاري د فکر او مبارزې اصلي ټکي وو.

شهيد مزاري اجتماعي عدالت د يوه قوم، سمت او خاص سياسي جريان لپاره نه غوښت. ده د افغانستان د ټولو خلکو لپاره عدالت غوښت او په همدې وجه ويلای شو چې دی د افغانستان د ټولو خلکو لپاره د اجتماعي عدالت منادي و.

د اجتماعي عدالت تامين او د ټولو لپاره عدالت د شهيد مزاري د افکارو

---

۱. د ۱۳۹۵ کال د کب شپاړسمه، د شهيد رهبر مصلا.

تر ټولو اساسي ټکی و. دی په یوه وینا کې په ټولنیز عدالت باندې په دومره صراحت ټینګار کوي: «زموږ مقصد د اجتماعي عدالت پر اساس اسلامي، ولسي او پراخ بنسټه حکومت جوړېدل دي.»

شهید مزاري د خلکو له منځه راپورته شوی رهبر و. ساده ژوند کول او ولسي ژوند کول یې د دې سبب شوي وو چې د دوه ویشت کلونو په تېرېدو سره هم د خپلو پیروانو په منځ کې خاص محبوبیت ولري. ده د خپل نفوذ ټوټې شوې ټولنه د یوه سیاسي جریان په چوکاټ کې منسجمه کړه او ملي وحدت یې د افغانستان د ټولو خلکو لپاره وغوښت. د شهید مزاري په افکارو کې ملي وحدت یو اصل او د ملیتونو تر منځ دښمني یوه فاجعه بلل کېږي.

ده دا خبرې د جګړو په اوج کې کولې. ده د سیاسي کړکیچ او نفاق په اوج کې هیڅوخت د کرکې پیغام وانه ستاوه. د مزاري پیغام د زړونو د نژدې کیدو، برابري او ملي وحدت باندې د تاکید پیغام و.

اوس هم د حالاتو غوښتنه ده چې زموږ خلک په دغسې فکرونو راټول شو او د وطن او خلکو د غلیمانو او تروریزم په مقابل کې په لازیاتې همغږۍ او اتفاق سره په یوه صف کې ودرېږي. د ملي وحدت شهید د یو بل منلو او تعامل د روحیې په اساس، د ټولو قومونو پر سوله ییز ژوند ټنیګار کاوه او د یو بل نه منل یې تل ردول.

شهید مزاري له هغو لږ شمیر مشرانو څخه و چې په پوره شجاعت سره یې د ښځو پر انساني او شهروندي حقونو ټینګار وکړ او د انتخاب کېدلو او انتخاب کولو اصل یې د ښځو یو اساسي او مسلم حق وشمېره.

ارواښاد مزاري د جګړو او ګډوډیو په اوج کې، په دموکراتیکو ارزښتونو او د مدرنې حکومتولۍ په اساس فکر کاوه.

ده د اداري واحدونو تعدیل، د نفوسو سرشمیرنه، د ټاکنو کول، سیاسي عادلانه مشارکت، او په ملي فیصلو کې د ټولو قومونو او ښځو ګډون، د مدرن او ولسواک افغانستان لپاره مهم ګڼل.

اوس د خدای په فضل او کرم او د خلکو په همت او ملاتړ، زموږ د شهیدانو هیلې زموږ په اساسي قانون کې تسجیل شوي دي. د ملي وحدت حکومت د ملت د شهیدانو د پیغامونو په سم درک سره، د قانون حاکمیت، متوازن انکشاف، هر اړخیز اصلاحات او له تروریزم او فساد سره مبارزه په خپلو اساسي او مهمو لومړیتوبو کې ګڼي.

د ملي وحدت حکومت په دوه کلنه موده کې په مختلفو ساحو کې مهم ګامونه اخیستي دي. په ارتباطي شبکو باندې پانګونه به د دې سبب شي چې ولایتونه له ایسار حالت څخه راووځي او ټول هیواد له منظمې ارتباطي شبکې سره وصل شي. لا مهمه دا چې د سیمې د هیوادونو بندرونو او ریل ته د افغانستان لاره موندل به په هیواد کې له برابر انکشاف او پایښتي پرمختګ سره مرسته وکړي.

همدا اوس د کابو یو میلیارد ډالرو په بیه د سړک جوړولو لړ تر لړه لس پروژې په مرکزي سیمو کې تر کار او ډیزاین لاندې دي.مرکزي سیمو ته د بریښنا په لیږد هم مقدماتي کار روان دی چې له ټاکل شوي پلان سره سم به دا پروژه هم بشپړه شي.

له دې فرصت څخه په استفادې سره یو ځل بیا د هیواد د شهیدانو روح ته، د امنیتي او دفاعي ځواکونو د شهیدانو او د ملي وحدت شهید روح ته درود استوم او د دغه شهید له پیروانو او لارویانو غواړم چې د ملي وحدت شهید د کالیاد په مناسبت د هغه د فکر په ګوټونو یو ځل بیا رڼا واچوي، څو په دې ډول زموږ نوی کهول له دغو فکرونو سره اشنا شي. شهید مزاري له ډیرو لږو رهبرانو څخه دی چې مادي میراث ورنه پاتې نه دی بلکې د ده ملي مفکورې به د معنوي میراث په توګه راتلونکو وختونو او نسلونو ته یادګار پاتې وي.

اوس چې د ملي وحدت شهید په شهادت باندې دوه ویشت کاله تېرېږي، پکار ده د خیریزو مرکزونو او بنسټونو، کتابتونونو، جوماتونو او موزیم په

جوړولو سره د شهید مزاري د افکارو بیان، معرفي او بیا لوستلو ته پام وشي.
ما د ملي وحدت شهید کتابتون ته د اړتیا وړ کتابونو د تامین مسولیت په غاړه اخیستی دی او په لومړني ممکن فرصت کې به اقدام وکړم.

# د ملي وحدت شهيد د شهادت د درويشتم کال په مناسبت د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رييس جلالتمآب محمداشرف غني پيغام[1]

د ملي وحدت شهيد او د هغه د ملګرو د شهادت د درويشتم کال په مناسبت تسليت وايم او له لوی خدايه د ملي وحدت شهيد او د افغانستان د ازادي، ځمکنۍ بشپړتيا او د عدالت د لارې ټولو شهيدانو ته جنت فردوس غواړم.

د ملي وحدت شهيد د کالياد لمانځنه په حقيقت کې د هغه د ملي فکرونو لمانځنه او د هغه د وطندوستي، ازادي غوښتنې، سوله پالنې او نياو غوښتنې د روحيې قدرداني ده.

شهيد مزاري د جګړو په اوج کې د جګړې او کرکې د پيغام په ځای د سولې، ورورګلوي او برابري پيغام او د قانون د حاکميت او د خلکو د خوښې په اساس جوړ شوي حکومت پيغام په هغو حالاتو کې د مسلط بحث او ډيسکورس په توګه وړاندې کړ.

د اجتماعي سوکالي په منظور د اداري واحدونو تعديل، د ښځو د حقونو تامين، د تعليمي مرکزونو پرانيستنه، پر دايمي سولې او د بې عدالتي او تبعيض پر ختميدو ټينګار او د سياسي هويتونو پر رسميت پيژندلو تاکيد د هغه مهم سياسي هدفونه وو.

شهيد مزاري راتلونکې ته متوجه و او د هيواد د ټولو اوسېدونکو او قومونو د ګډون او پراخو ولسي پايو پر بنسټ حکومت باندې يې تاکيد کاوه.

۱. د ۱۳۹۶ د کب اتلسمه، د کابل لويديځ، د شهيد رهبر مصلا.

ده د هیواد د نارینه وو او ښځینه وو د ارادې د واقعي تمثیل او د خلکو د خوښې د حکومت د جوړېدو لپاره، ټاکنې د حللارې په توګه وړاندیز کړې.
بې له شکه چې مزاري د اوسني وخت یو تر ټولو زیات ولسي رهبرو. دی د خلکو له منځه راپاځېدلی و، د خلکو درد او غم یې پوره پوره احساس کړی او د هغو د دردونو د غوځولو لپاره یې مبارزه پیل کړې وه. دی چې خلکو ته ژمن و، د ژوند په ډېرو سختو شیبو کې یې د خلکو خوا پرې نه ښوده او د ژوند تر وروستۍ شیبې پورې د خپلو خلکو په څنګ کې پاتې شو.
د ملي وحدت شهید په ټولو سیاسي مذاکراتو کې د ځان لپاره هیڅ ونه غوښتل او په هیڅ مذاکره کې یې د ملت او خلکو پر برخلیک سودا ونکړه. دی چې خلکو ته ژمن و، د نیاوغوښتنې د یو لوړ اواز په توګه یې تل، د یوې داسې ټولنې د جوړېدو لپاره مبارزه وکړه چې ظلم، تعصب او برتري طلبي پکې نه وي. ده باثباته او امن افغانستان د ټولو افغانانو لپاره غوښت.
په دې خوشحاله یم چې د دغه شهید ارزوګانې د هیواد په اساسي قانون کې په نظر کې نیول شوې دي او د ملي وحدت حکومت هم د عدالت، مشارکت، سوکالۍ او د امکاناتو د عادلانه و یش لپاره د هغه له ارزوګانو سره سم اقدامات کوي.
د ملي وحدت حکومت ویاړي چې په مرکزي سیمو کې یې د طبیعي جغرافیې خنډونه ختم کړي او د بامیان د بریښنا پروژې په منظورۍ سره او دغه راز د بریښنا د ویش په سیستم او سب سټېشن سره د افغانستان په مرکزي سیمو کې دیره وطنوالو ته د برق زیری لري.
د ملي وحدت شهید روح او د هیواد د دفاعي، امنیتي ځواکونو د ټولو شهیدانو روح ته درود استوم. د هغوی هر یو یاد او خاطره دې تلپاتې وي.

# پنځم فصل

## د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د مشرانو د ځرګندونو په هینداره کې

### برابرووںکی: عبدالله غفاري لعلي

که څه هم د ګڼو کسانو لپاره «مرګ» او «له دې نړۍ تلل» د ژوند پای دی؛ خو شته داسې کسان چې «مرګ» او «سور شهادت»ورته د لا لوی ژوند د پیلامې حیثیت لري. د ملي وحدت شهید، چې په خپل نسبتا لنډ ژوند کې د هیواد د ژغورنې لپاره او د هیواد د اوږدو ستونزو او خنډونو د حل لپاره کومې طرحې لرلې او د ستونزو او مشکلاتو د اواري لپاره یې چې کوم روښانه دریځونه درلودل، هغه اوس هم نوي ښکاري او خلاقیت او ابتکار پکې وینو. موږ چې هر څومره د هغه د شهادت له زمانې را لرې کېږو، هغومره د هغوی د ملي، حکیمانه او لارپرانیستونکو دریځونو باریکیو او عمق ته لا زیات متوجه کېږو. په دې برخه کې د شهید مزاري د افکارو، اندونو او دوراندیشي په اړه د ځینو ملي او بهرنیو شخصیتونو او سیاسي رهبرانو د خبرو غورچاڼ لوستلای شئ.

### د افغانستان د اسلامي جمهوریت رییس، محمداشرف غني

شهید مزاري اجتماعي عدالت خاص قوم، سمت یا سیاسي جریان ته نه

غوښت. ده د افغانستان ټولو خلکو ته عدالت غوښت او له همدې کبله ویلای شو چې دی د افغانستان د ټولو خلکو لپاره د اجتماعي عدالت منادي و.

د شهید مزاري په افکارو کې ملي و حدت یو اصل او د ملیتونو تر منځ دښمني یوه فاجعه ګڼل کیږي. دا خبرې به د جګړو په اوج کې بیانېدلې. ده چې لویه ملي روحیه او د وحدت غوښتنې مفکوره لرله، د جګړې په سختتو شرایطو کې، جګړه حللاره نه بلله. ده د سیاسي نفاق او کړکیچ د اوج په وخت کې هیڅ وخت د کرکې پیغام وانه ستاوه. د اروابناد مزاري پیغام تل، د وروږګلوي، برابري او پر ملي وحدت باندې د ټینګار پیغام و.

شهید مزاري زموږ د وطن یو داسې سیاستوال و چې د تاریخ لوری یې بدل کړ. بې له شکه چې دی په سیاست کې اغیزمن شخصیت و. د ده د شخصیت د اهمیت دلایل څه دي؟ ده د جګړې په حالاتو کې، جګړه حللاره نه بلله. دی په دې باور و چې افغانان په پوځي ساحه کې بې ساري خو په سیاسي ساحه کې کمزوري دي.

## د افغانستان مخکینی جمهور رییس، حامد کرزی

شهید استاد عبدالعلی مزاري د هیواد یو هغه وتلی او نامتو شخصیت دی چې د هغه د قدر وړ فکرونه، لا تر اوسه د ملي وفاق او د ټینګښت لپاره خاص ارزښت لري. شهید مزاري یو داسې څوک و چې د رهبري ځانګړنې له هماغه پیله د ده په اثرناک شخصیت او جسورانه عمل کې لیدل کېدلې. عبدالعلی مزاري څو بعدي شخصیت درلود. د ده د شخصیت یو اړخ په وحدت او یووالي باندې د ده ټینګ باور و.

د ده د ژوند مطالعه د ازاد منشي، د ظلم او بې عدالتي په وړاندې د درېدا او پر ملي وحدت باندې د ټینګ باور په اړه درسونه راکوي. موږ چې د دې هیواد د اوسني نسل خلک یو، دا دنده لرو چې د مزاري او ټولو هغو شهیدانو هیلو ته د عمل جامه واغوندو چې د باعزته افغانستان ارزو یې لرله.

## د جمهور رییس دویم مرستیال، استاد سرور دانش

شهید مزاري بې له شکه چې د افغانستان په معاصر تاریخ کې یوه استثنا او نه تکراریدونکې حادثه وه چې تاریخ به یې هېر نکړي. شهید مزاري د یوه لاربښود په توګه، خپلې خاصې ځانګړنې لرلې. شهید مزاري د هیواد د قومونو د ملي وحدت او د اجتماعي عدالت د منادي په توګه، داسې مسایل مطرح کړل چې تر ننه پورې زموږ د خلکو اصلي غوښتنې دي. د برابري، اجتماعي عدالت، ملي وحدت او د قومونو او لږکیو د مشارکت په څیر غوښتنې، داسې موضوعات وو چې اوس هم له حکومت څخه د افغانستان د خلکو د اصلي غوښتنو مفهوم او محتوا جوړوي. ځکه خو دی د کلمې په واقعي معنا «د ملي وحدت شهید» دی.

## د مجاهدینو د حکومت رییس او د افغانستان د اسلامي جمعیت رییس، شهید استاد برهان الدین رباني

مرحوم مزاري د حضرت سید الشهدا امام حسین یو صادق پیرو او لاروی و چې د سیاسي استبداد، اخلاقي انحراف او اجتماعي تضاد په خلاف یې پاڅون وکاوه. دی د افغانستان د ملت، د ستر جهادي او جهاني پاڅون یوه ځلانده څیره وه چې نه یوازې یې د شوروي د یرغل په وړاندې بلکې د هیواد په داخل کې د استبداد، د بې عدالتیو او ناسمو فکرونو او اخلاقي او فکري انحرافونو په وړاندې مبارزه وکړه او خپله مبارزه یې د شهادت تر شیبې پورې جاري وساتله.

## د مجاهدینو د موقت حکومت رییس او د مشرانو جرګې پخوانی مشر صبغت الله مجددي

مزاري د مسلمانانو د وحدت او په تیره بیا د افغانستان د مسلمانو خلکو د یووالي لپاره ډېرې هڅې وکړې او بالاخره په هیواد کې د ملي وحدت د تحقق په لاره کې شهید شو. په ما باندې شهید مزاري د زړه له تله ګران و ځکه چې د افغانستان د خلکو د نژدې کېدو او وحدت لپاره یې هڅه کوله.

مزاري يو زړه ور او وفادار کس او د جهاد ستر شخصيت و. ګڼ کسان داسې وي چې کله نه وي بيا يې په قدر لا زيات پوهيږو. ستر مزاري يې په غدر او خيانت سره شهيد کړ. له ده يې خواهش وکړ چې راشه چې د داخلي مسايلو په اړه خبرې سره وکړو، مګر شهيد يې کړ.

## د افغانستان د ملي وحدت حکومت اجراييه رييس، ډاکتر عبدالله عبدالله

د ملی وحدت شهيد يوه ځانګړنه په وينا او عمل کې صداقت او د خلکو د ارمانونو د تحقق په لاره کې استقامت و او دې ځانګړنې دی په زړونو کې ژوندی وساته. زموږ اوسني او سباني نسل ته د شهيد مزاري تر ټولو مهم درس دا دی چې د اجتماعي عدالت، د قومونو د عادلانه سياسي مشارکت، د انتخاباتو په اساس د برخليک ټاکنې د حق، د برابرو شهروندي حقونو او متوازن انکشاف په سيوري کې ملي وحدت ولرو چې د دغو موخو له تحققه پرته په هيواد کې سوکالي او ثبات ممکن نه دي.

## د افغانستان د جمهوري رياست لومړی مرستيال او د افغانستان د ملي اسلامي جنبش لاربنود، ستر جنرال عبدالرشيد دوستم

استاد مزاري په حقيقت کې د خلکو د سترو ارمانونو د لارې رشتونی لاروی، د ايثار، سربښندنې صداقت او ايمان واقعي سمبول او زموږ په جګړه ځپلي هيواد کې د استقلال او خپلواکۍ د دفاع او د ځمکنۍ بشپړتيا او اسلامي حاکميت د ساتنې په چاره کې د سرسختانه مقاومت او ميړانې او ځوانمردۍ ځرګنده بېلګه وه.

ده په ستر قهرمانانه اقدام سره، زموږ د راپاڅېدلي ملت د ميړانې او مقاومت په تاريخ کې نوې پاڼه پرانيسته او داسې نيک نوم يې پريښود چې زموږ د هيواد په روښان تاريخ کې به د نن او سبا نسلونو ته د حق غوښتنې د مبارزو لپاره تر ټولو ستر الهام وي.

## د افغانستان د اسلامي حزب مشر، ګلبدین حکمتیار

د استاد عبدالعلي مزاري ناځوانمردانه قتل یو نه هیرېدونکی تاریخي او جبران نه کیدونکی جنایت دی. زه نه پوهیږم چې د ده قتل څنګه توجیه کیدای شي. په کوم روایت کې داسې راغلی دي او په تیره بیا د پښتنو په منځ کې دا عمل څنګه توجیه کیږي.

شهید عبدالعلي مزاري خپل دیني او ایماني مسولیت په پوره شهامت او همت سره ادا کړ او د روسانو د نیواک په کلونو کې او له هغه راوروسته یې د یوه اسلامي حکومت د جوړېدو لپاره په جرات او میړانه صادقانه مبارزه وکړه. دی د افغانستان د تاریخ یو مثالي او صالح انسان و. له ده باید د میړانې درس زده کړو. په خپله ژمنه دربېدل، قاطعیت او صداقت د شهید مزاري د شخصیت ځرګندې ځانګړنې وې. زما تاکید دا دی چې د شهید مزاري د بدل اخیستلو لپاره باید د هزاره ورونو په ځای پښتانه ورونه راپاخي او د شرم دغه داغ له خپلې لمنې وڅندي.

## د افغانستان مخکینی صدراعظم، سلطان علي کشمند

استاد مزاري د تبعیض، ستم او استبداد په مقابل کې د هزاره ګانو د مقاومت یو سمبول و. د افغانستان د خلکو د ازادي او ژغورنې د غلیمانو په لاس د هغه شهادت ډیره ناوړه او دردوونکې پېښه ده. دی د افغانستان د ازادي غوښتونکو او دموکراتیکو قوتونو د پیوستون په یوه مظهر بدل شو.

## د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند مشر او د جمهور رییس پخوانی مرستیال، استاد محمد کریم خلیلي

استاد مزاري د افغانستان د خلکو لپاره یو ستر ملي عنصر و. دی باید د یوه ملي رهبر په توګه وپیژنو؛ ځکه ده چې کومې ځانګړنې لرلې او کوم هدفونه یې تعقیبول، د افغانستان په سطحه د ملی لاربنود ځانګړنې او موخې وې. دی د اسلامي نهضتونو په سطح هم د اسلام د جهاني نهضت یو ډیر پیاوړی او اغېزمن عنصر و. په هیواد کې د ده غوښتنه د خاص مذهب یا قوم لپاره نه وه.

هغه څه چې ما په ده کې ولیدل هغه ساده ژوند کول، ساده کار کول، د مصرف په چارو کې سختګیري او د نفساني هوسونو په مقابل کې سختیګري وه. د یوه فقیر او درویش غوندې به روان و او کار به یې کاوه. هم په اقتصادي مسایلو کې او هم په نورو مسایلو کې ما کوچینۍ تیروتنه پکې ونه لیده.

## د اجراییه ریاست دویم مرستیال او د افغانستان د خلکو د اسلامي وحدت ګوند مشر، استاد حاجي محمد محقق

شهید استاد عبدالعلي مزاري داسې څوک و چې د جهاد په میدان کې یې په خورا لږو امکاناتو مقاومت پیل کړ او کابو پنځه ویشت کاله یې د بهرنیو تیري ګرو خلاف د هیواد د ازادي او سرلوړي لپاره مبارزه وکړه. دی په عین حال کې چې د خارجي تیریګرو په خلاف د مبارزې یو سیاسي – پوځي عنصر و، یو ستر فکري او فرهنګي شخصیت هم و. ده چې به چیرته د مقاومت مرکز جوړاوه، په څنګ کې به یې د اعتقادي درس، د اخلاقو د درس او د سواد زده کړې پروګرامونه هم جوړول.

## د ولسي جرګې پخوانی رییس، محمد یونس قانوني

استاد مزاري به پر عدالت ولاړې ټولنې لپاره هم طرحه ورکوله، هم هڅه کوله، ځکه چې د مزاري حرکت د داسې ټولنې د جوړېدا لپاره و چې تعصب او تبعیض پکې نه وي. مزاري د افغانستان د خلکو د ورک شوي عدالت شهید و. ده غوښتل چې په افغانستان کې د قدرت جوړښت د خلکو د خوښې او ارادې په اساس وي.

د شهید مزاري په نظرونو کې داسې موارد په وضوح سره وینو چې د افغانستان د کشالې د اوارې لپاره فکر او طرح او عمل پکې و... که په افغانستان کې د مزاري د غوښتنو د تطبیق ارزو درسره ده نو د ده افکار یو ځل بیا ولولئ.

## د افغانملت ګوند مشر، ډاکتر انوارالحق احدي

مزاري يو رهبر و. داسې رهبر چې يوه ټولنه يې هدايت کړه او د رهبري اغيزې يې تر اوسه په خپل قوت پاتې دي.

## د افغانستان د ملي انسجام ګوند، ډاکتر صادق مدبر

زما په نظر د مزاري ليد د يوه ازادفکره او عدالتغوښتونکي انسان ليد و. ده په نورو لاسبري نه غوښته بلکې حق يې غوښت. ده غلامي نه غوښته بلکې د وروږګلوي او برابري تقاضا يې وه. ده مذاکره او مفاهمه د هيواد د ستونزو بهترينه حللاره بلله.

مزاري د ازادي او عدالت د غليمانو په لاس، په مظلوميت سره شهيد شو خو ده د خپلو خلکو په زړونو کې ځای وموند. په زرګونو ځوانانو او سپين ږيرو، د هغه تابوت له غزني تر مزاره پورې په اوږو يووړ چې په معاصر تاريخ کې يې مثال ډير کم دی.

## د افغانستان د اسلامي حزب مشر، عبدالهادي ارغنديوال

شهيد مزاري د دې خاورې يو صادق بچی و چې د عمر تر پايه پورې يې د خپل وطن د دفاع او د خپل وطن د خلکو د سوکالۍ لپاره مبارزه وکړه. دی دغو موخو ته د رسېدو په لاره کې شهيد شو.

## د لبنان ستر عالم، علامه سيد محمد حسين فضل الله

د افغانستان د جهاد صحنې د شهيد مزاري د حضور شاهدانې وې... و شهادت يې د اسلامي ټولنې او انسانيت په حق کې لويه بې انصافي ده.

## د افغانستان د اسماعيليه فرقې مشر، سيد منصور نادري

پوره باور لرم چې د هغه (مزاري) لاره به تر يوم القيامه پورې تعقيب شی؛ ځکه د اسلامي وحدت ګوند نيالګی يې چې په خپلو وينو اوبه کړ او په درايت او پراخ او مکتبي نړۍ ليد سره پاللی او لوی کړی دی، ورځ په ورځ يې ريښې ټينګيږي او غړي يې د وحدت له مينې ډکو زړونو او رسا قامتونو

سره، د نور او رڼا په لور او د فکر او عقيدې د پوره استقلال او ازادۍ په لور پرمخ ځي...

## د اهل سنت هزاره ګانو يو عالم، مولوي دوست محمد خان

شهيد استاد ټل هڅه وکړه چې په ټولنه کې تبعيض او برتري طلبي بيخي ختم شي او ځای يې ورورګلوي او برابري ونيسي. دی په همدې لاره کې شهيد شو خو هدف يې ژوندی دی.

## د افغانستان د قرلقو خلکو د شورى استازى، عبدالقيوم قرلق

شهيد مزاري د عدالت غوښتنې د لارې شهيد شو او راتلونکو نسلونو ته يې دا پيغام د تل لپاره پاتې شو چې مظلوميت او محکوميت که د هر قشر وی، جرم نه دی. د شهيد مزاري لاره په افغانستان کې د مليتونو تر منځ د يو بل منلو د روحيې او د اجتماعي عدالت لاره وه او دا چې د ازادي د لارې لارويان بايد په اول قدم کې پخپله ازاد وي او د ازادي لاره يوازې هغوی کچولای شي چې فکر يې ازاد وي.

## د افغانستان د ملي امنيت سلاکار، محمد حنيف اتمر

شهيد مزاري د افغانستان د مسلمان ملت د مقدس جهاد په دوران کې، د ډير سختو زحمتونو او کوښښونو په ګاللو سره، د هيواد د خپلواکۍ د دفاع په لاره کې، په هيواد کې د اجتماعی عدالت لپاره او د هيواد د ځمکنی بشپړتيا د ساتلو په مبارزه کې، زموږ خلکو ته خورا مهمې برياوې لرلې دي او په همدې وجه زموږ د هيواد پر خلکو لوی حق لري.


## د افغانستان د ملي اقتدار ګوند اروابناد مشر، سيد مصطفی کاظمي

شهيد مزاري په عقيدوي لحاظ، د يوه مومن انسان په توګه، په فکري او اعتقادي ارزښتونو باوري و. دی يوازې سياسي او مسلکي کس نه و، بلکې د خلکو په فکري او اعتقادي ارزښتونو يې سخت باور درلود. له بلې خوا، په سياسي لحاظ يې، د ملي وحدت او اجتماعي عدالت پر اساس يوموټي او متحد

افغانستان ټینګ یقین و. په دې لاره کې یې، هم د جهاد په کلونو کې او هم د نجیب د رژیم له نسکورېدو ورسته، ډېرې هڅې وکړې.

شهید مزاري ستم ته د غاړه ږدولو په ځای د ازادي غوښتلو او عدالت غوښتلو په لور حرکت وکړ او دی د دغه بدلانه یو لوی بنسټګر و. د ملي وحدت او اجتماعي عدالت په څیر مفاهیم یوازې شعارونه نه وو چې شهید مزاري ورکول، بلکې داسې مفاهیم وو چې دی ان له سره ورته تېر شو او په دې لاره کې یې قرباني ورکړه. په همدې وجه د مزاري نوم او ارمان، د وخت په تېرېدو سره نه یوازې هېرېږي نه، بلکې لا به ځلیږي. له همدې کبله د مزاری په اړه که په هره پلمه او مناسبت خبره کیږي، په حقیقت کې د هغو خلکو د سترو ارمانونو په باره کې خبره ده چې لا تر اوسه پورې د عدالت او برابري په هیله قرباني ورکوي او مبارزه کوي.

# په ارګ کې د ملي وحدت شهید، استاد عبدالعلي مزاري د کالیاد د درناوي د سمینار او د شهید رهبر په مصلا کې د ولسي مراسمو ځینې عکسونه






د ملي وحدت شهيد د شهادت د درويشتم کال په مناسبت سمينار پيل،
ارګ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۳مه




د ملي وحدت شهید د شهادت د درویشتم کال په مراسمو کې ولسمشر غني د وینا په حال کې، ارګ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۳ نیټه



د ملي وحدت شهید د شهادت د درویشتم کال په مناسبت سیمنار، ارګ، ۱۳۹۶ کال د کب ۲۳ نیټه




استاد دانش د وينا په حال کې، ارګ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۳ نيټه



استاد دانش په سمينار کې وينا کوي، ارګ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۳ نيټه



اجراییه رییس ډاکتر عبدالله عبدالله په سمینار کې وینا کوي، ارګ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۳ نېټه



استاد محمد کریم خلیلی د وینا په حال کې، ارګ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۳ نېټه



سيد حسين عالمي بلخي د وينا په حال کې، ارگ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۳ نېټه




سيد سعادت منصور نادري د وينا په حال کې، ارگ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۳ نېټه



غلام سخي پارسايي د اهل سنت هزاره ګانو پيغام لولي، ارګ، د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۳ نېټه



د شهيد استاد مزاري د شهادت د درويشتم کال په مناسبت د ارګ د سمينار يوه ځنډه



د جمهوري ریاست دویم مرستیال، استاد سرور دانش، د ملي وحدت شهید د شهادت د دوه ویشتم کال په مناسبت د شهید رهبر په مصلا کې وینا کوي، د ۱۳۹۵ کال د کب شلمه



د ۱۳۹۵ کال د کب په شلمه نېټه د شهید رهبر په مصلا کې د استاد مزاري د کالیاد د مراسمو یوه څنده